# تفسیر ایوبی حنفی

تالیف

علامہ عصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد الشہید الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

ناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ شال الدین کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احایث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کښې بې ساری په
زرګونو جديدو مسئلو باندې مشتمل

المسمی به ۱۸

# تفسير ايوبي حنفي

## تَبَارَکَ الَّذِیْ (۲۹) ❁❁ عَمَّ (۳۰)

تاليف او تصنيف


د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

## حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الکندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى



مکتبة القراءة والتجويد

کاسي روډ شالدره کوټه


Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم .......... تفسیر ایوبي پښتو اتلسم ټوک
مفسر .......... الحاج مولنا ابو الفضل محمد عبید الله
الایوبي الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي حفظه الله تعالی بفضله الوهبي
کمپوزر .......... حبیب الحق حقاني
ټایپ .......... حقاني کمپیوټر اداره
نشر کوونکې اداره .......... مکتبة القراءت والتجوید کاسي روډ کوټه
د چاپ ځای .......... لاهور

# یو نظر دې خوا

هیڅ یو مسلمان هم په قرآن مجید، احادیثو یا د فقهي په کتابو کې په قصده سره غلطي نه کوي، زموږ اداره تر خپله وسه پورې د کتابو تر لیکلو وروسته تصحیح ته زیاته پاملرنه کوي، چې له دې کبله زموږ کتابونه معیاري دي، خو بیا هم بنده بنده دی، یو نه یو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کې یا په یوه جمله کې ځني صادره سي، نو زموږ د ټولو ناظرینو څخه دا خواست دی چې که ستاسي تر نظر دا سي غلطي تېره سي لطفاً زموږ سره تماس ونیسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کې د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

## جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القراءة والتجويد كوئته باكستان

و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

**Copyright ©**
**All rights reserved**
**Tous droits reserves**

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat I waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.



الطبعة الاولى

۱۴۳۴ هجري - ۲۰۱۳ ميلادي

**مكتبة القراءة و التجويد**

شارع كانسي كوئته - بلوچستان

رقم الهاتف ۰۳۰۰۳۸۸۵۵۳۵

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0


بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ الْوَرٰى

**وبعد:** محترمو لوستونكو له ډېره وخته انتظار كونكو او د تفسير ايوبي واتلم ټوك ته سترګې په لارو ملګرو! ښكې هيلي او زيرى مي ومنئ.

الحمد لله ستاسو د دعاګانو او ارمانونو نتيجه همدغه ده ستاسو په مخ كي ده، الله تعالى دي ددي تفسير و مرتب حضرت علامه مولانا ابو الفضل محمد عبيد الله صاحب الايوبي كندهاري سليمانخيلي ته نور هم د دين متين خدمت ور په برخه كړي.

او الله تعالى دي ددي تفسير و چاپونكي اداري (مكتبة القراءات والتجويد) ته هم ترقي او حفاظت ور په نصيب كړي. آمين.

محترمو ملګرو! په زړګونو مسلمانانو دعاوي وكړي چي يا الله دغه تفسير ايوبي چي په تاريخ كښي اولني داسي تفسير دى چي مرتب يې پخپله مورنى ژبه پښتو ليكلى دى، او دا يوا ځنى د افغانانو وياړ او افتخار دى.

ولې چې موږ په افغاني تاريخ کې يو داسې ضخيم او پره پرو فقهي او جديدو مباحثو او پر علمي خزانو باندې مشتمل تفسير نه درلود.

الله الحمد چې ملګري را سره مله وه او د (۱۴۲۴) هجري قمري څخه دا لړۍ پيل شوه چې د خدای عزوجل په فضل په (۱۴۳۴) هجري کښې و تکميل ته ورسېدی يعني په (لس) کاله کښې.

مکتبه القرائت والتجويد په دې وياړي چې د قرآن مجيد ودې ستر خدمت ته يې ملا تړلې ده او د تجويد د کتابونو سره سره يې د علم تفسير، علم فقه او علم عقائد کتابونه هم چاپ ته سپارلي دي.

د الله تعالی څخه د دې تفسير د مقبوليت او د محشر په ورځې د دې تفسير د حجة لنا مصداق وګرځوي... آمين.

د نورو دعاګانو په هيله.

ورور مو

قاري فضل الحق حقاني

باني مکتبة القرائت والتجويد

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله حمدًا کثيرًا جزيلًا جميلًا طيبًا مبارکًا فيه و مبارکًا عليه کما يحب ربنا ويرضی والصلوة والسلام علی من دنی فتدلی فکان قاب قوسين او ادنی وعلی اله وصحبه البررة الاتقياء. اما بعد حان ان اشرع فی تفسير سورة الملک ويسمی تبارک الذی والمانعة والمنجية.

**درويش وايي:** چي تفسير د سورة الملک او په بل نامه سورة تبارک الذي نامزد دی په ثلث اخير کي د شنبې د شپې د جمادی الاول اخيري نېټه شروع سو، سنه (۱۴۳۳) هـ ق، اخيري د رب جل وعلا په علم او قبول کي دی او قبول يې هم د خدای پاک په علم شامل کي دی. لکن يو شاعر وايي:

همت بلند دار که نزد خدا و خلق..... باشد بقدر همت تو اعتبار تو

د رب جلت رحمته څخه د کامل صحت او عافيت خوښوونکی يم چي د قرآن عظيم الشان دا دوه اخيري جزء په خير او عافيت پای ته ورسوي، وما ذالک علی الله بعزيز، ولذا قال سبحانه اعونی استجب لکم.

**يوه سه:** چي الطبراني له ابن مسعود ﷺ څخه روايت کړی دی چي موږ دا سورت په زمانه کي د رسول الله ﷺ المانعة بولی، او ترمذي او نورو اصحاب السنن روايت کړی دی له ابن عباس ﷺ څخه چي بعض له اصحابو څخه د رسول الله ﷺ خېمه درولې وه پر يوه قبر باندي، دده ګمان دا نه ؤ چي دلته به قبر وي (يعني ځکه هموار وه د قبر نخښه نه وه) نو د شپې يو انسان چي تر خېمې لاندي د هغه قبر ؤ سورة الملک يې شروع کړی حتی چي پای ته يې ورسوی او د خېمې سړي هم اورېدی، نو هغه خېمې والا راغلی و نبي کريم ﷺ ته يې دا ټوله قصه وکړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل چي دا سورة مانعة دی او المنجية دی چي نجات ورکوونکي دی له عذاب القبر څخه (يعني دداسي چا لپاره چي په دنيا کی به يې ددې سورة تلاوت همېشه کاوه) واخرج الطبراني والحاکم وابن مردوية او عبد بن حميد فی مسنده عن ابن عباس ﷺ چي ده وويل يو چا ته: زه تا ته يوه تحفه د حديث درنه کړم چي ته به په خوشحاله سې؟ هغه سړي ورته وويل بلی يعني راېې



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه، قال اقرأ تبارک الذی بیده الملک یعني الی اخیره، او دا سورت ستا په اهل و جمیع ولدک (ستا په ماینه او په ټوله اولاد) او په کوچنیان د کور ستا او ستا په همسایه ګانو زده کړه، فانها المنجیة والمجادلة یوم القیامة په نبز د خدای ﷻ لقارئها، او دا سورت طلب کوي (یعني په لسان قال سره په قدرت د رب العزة) ان تنجیه من عذاب یعنی چې دی قاري ته نجات ورکړي له اور څخه وینجوبها من عذاب القبر (دا جلا جمله ده له ماقبل څخه)

**درویش وایي:** چې دا سورة مکیة دی علی الاصح کما فی روح المعاني والمظهري و روح البیان لکن روح البیان وایي چې آیتونه دېرش دي او مظهري هم وایي چې آیتونه یې دېرش دي او روح المعاني په نقل د بل ویلي دي چې آیتونه یو دېرش دي.

سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱﴾

تبارک مشتق دی له برکت څخه په معنی د زیادت مقتضي للکمال ده وعدم النقصان، هغه ذات لره چې په قدرت کي دده الملک دی یعني للعلویات والسفلیات.

(وهو علی کل شیئ قدیر) او خدای پاک پر هر شي باندي قادر دی.

**پوهه:** چې فقیر د ید ترجمه په قدرت سره وکړه لان الید الحقیقي متمنع علی الله تعالی لانه لیس بجسم کما تحقق فی موضعه.

**فائده:** نسبت د برکت یې و خدای ﷻ ته وکړی باعتبار تعالیه عما سواه فی ذاته لانه واجب الوجود ولیس في الموجودات غیره واجب الوجود کما برهن علیه فی علم الکلام وفی صفاته الجمالیة والجلالیة وافعاله کما هو من اجلي الالٰهیات واطلاق العالم والقادر وغیرهما علی غیره تعالی مجاز وقس علیه افعاله تعالی فافهم.

**پوښتنه:** تبارک خو پر وزن د تفاعل دی په دې کي تعدد د فاعل غواړي؟

**ځواب:** روح المعاني وایي چې صیغه د تفاعل د مبالغي لپاره ده، کما في امثاله ای المبالغة فی الخیر والبرکة فافهم.

**پوهه:** چې شیئ په اصل کي مصدر دی د شاء ویشیئ شیئًا ای اراد، دلته په



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنی د مفعول دی فالمعنی کل ماشاء نو ذات د خدای ځنې خارج دی وکذا الممنعات کاجتماع النقیضین وارتفاعها لانها لایتعلق بها مشیته تعالی لان مشیته تعالی یتعلق بما هو الممکن فی ذاته.

والحاصل چي هیڅ دفع د ما اراد الله تعالی نه سي کولای، نتیجه یې دا ده چي خوف او رجاء دي څوک نه کوي بېله خدای عزوجل...... بیت:

ټوله اندازه د خیر او شر بوله له خدایه څخه
کله پېښېږي نېک او بد له خپلې رایٔ څخه
خدمت او کن مگر شاهان ترا خدمت کنند
چاکـــر او باش تا سلطان ترا گردد غلام

**درویش وایي:** چي دا جمله معطوفه ده پر صله مقرره لمضون الصلة.

**پوه سه:** چي جمله د والله علی کل شيئ قدیر پر منزله د دعوی ده پر وجود د خدای او پر کامل قدرت د خدای او پر کمال د صفاتو د خدای، نو دي دعوې لره دلیل په کار دی، په وروسته آیتو کي خدای عزوجل دلائل راوړه بعض دلائل په انفسو کي د مکلفینو من خلق الموت والحیوة وفی السموات بلا تفاوت وخطور عطف تفسیر دی و خلق الارض وجعلها ذلولاً وما في الارض من الارزاق، والطیر صافات، او په مابین کي د دغو دوو دلائلو استطراداً عذاب د کافرانو ذکر کړی دی هم استطراداً ثواب د الذین یخشون ربهم المنتفعون بالحجج والبینات کل تلک الامور سیجیئ فی الآیات الآتیة، فقال:

## الَّذِىْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ

**پوه سه:** چي دا موصول یا له دې سببه چي بدل د موصول اول څخه دی یا خبر د مبتداء محذوفي دی ای هو الذي خلق آه مرفوع دی.

**فائده:** حیوة له صفاتو څخه د خدای عزوجل دی په خدای کي معنی دا ده چي صفة یستتبع (چي مستلزم دی) علم او قدرت وللارادة وغیرها من صفات الکمال لره، او خدای عزوجل دا صفت حیوة وېشلی دی پر ممکناتو وخلقها فیها علی حسب اراته تعالی او استعدادات د دې صفت د حیوة خدای ښکاره کړي دي په ممکناتو کي علی مراتب شتی (۱) په بعضو ممکناتو کي یې دا صفت داسي پیدا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی چي معرفت د ذات او د صفاتو د خدای کولای سي، وذالک بالقاء نور فی قلب العارف بالله، او دا قسم حیوة او مقابل د هغه چي موت دی په دې آیت کي مراد دی کریمه: افمن کان میتًا فاحییناه ای کان کافرًا منکرًا من وحدانیته تعالی فیلقی الله في قلب نور الایمان بوحدانیته تعالی في ذاته وصفاته کامثال المؤمنین الذین آمنوا وتابوا عن الشرک (٢) او په بعضو ممکناتو کي یې داسي حیوة پیدا کړی دی چي حس او حرکت ارادي په کولای سي چي هغه حیوة دی او مقابل د هغه موت دی او په هغه آیت کریمه کي اشاره ورته سوې ده (کنتم امواتًا) یعني نطفةً وعلقةً ومضغةً فاحییناکم ای نفخنا فیکم الروح فی رحم الام ثم یمیتکم علی الاجل الموعود ثم یحییکم عند النفخة الثانیة من اسرافیل الذی یعبر عنه بالبعث بعد الموت (٣) او په بعضو ممکناتو د حیوة او د مقابل د هغه چي موت دی داسي تعبیر خدای عزوجل کړی دی: یحیی الارض (یعني باخراج النباتات) بعد موتها (ای بعد یبسها) لکه په پسرلي او وروسته نباتات له مځکي را وزي وروسته تر دې چي په ژمي له نباتاتو څخه مځکه خالي وه.

**پوه سه**: چي دا دوه قسمه حیوة بنفخ الروح الانساني والحیواني والنباتي فی الاجسام الثلثة ای الانسان والحیوان والنبات، ولیس شيئ من الاقسام الثلثة فی الجمادات لکه ډبري، غرونه وغیرها، نو له دې سببه خدای عزوجل د مشرکانو د بتانو په باره کي داسي وایي: اموات غیر احیاء، لکن جماداتو لره نوع د حیوة سته قال الله تعالی: وان منها (ای من الاحجار) لما یحیط من خشیة الله.

وعن ابن مسعود رضي الله عنه کنا نطعم من القصعة ونسمع تسبیح الطعام والقصعة، وفی حدیث صحیح قال رسول الله ﷺ چي هغه ډبره اوس هم پیژنم چي زه به غار حرام ته تلم دې به ویل: السلام علیکم.

**پوه سه**: چي دا اخیر قسم د حیوة لازم د وجود سره لیس بشيئ کما قال الله تعالی وان (نافیه) الا یسبح بحمده (ای متلبسًا بحمد الله) یعني سبحان الله وبحمده لکن لا تفقهون تسبیحهم (لکن تاسي یې په تسبیح نه پوهیږئ یعنی الجمادات) او تقابل د حیوة او موت تر مابین ایجاب او سلب دی چي د موت معنی داده چي عدم الحیوة مطلقًا یا عدم الملکة ای عدم الحیوة عما من شانه الحیوة فافهم، او بعض علماء


Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

وايي چي موت صفت وجودية دی فتقابلها مع الحيوة تضاد دی، نو دوی وايي چي موت صفة و كيفية فی الاجسام مانعة عن العلم والقدرة.

**درويش وايي:** چي دا قول د دوی د بداهة او عقل څخه لېري دی لانا لاتجد فی الاموات صفة وجودية منضمًا الی ذواتها وشان الموت شان العمی فی الاعمی ينتزع من الاعمی ليس الا فتدبر.

**پوښتنه:** په بخاري او مسلم کي له ابن عمر ﷺ څخه روايت دی، وايي نبي کريم ﷺ وويل چي اهل نار چي نار ته داخل کړل سي يحاء بالموت حتی يجعل بين الجنة والنار ثم يذبح، بيا يوه ملکه ناره وکړي يا اهل الجنة لاموت ويا اهل النار لاموت، نو د اهل جنت خوشحالي زياته سي او د اهل النار حزن او غم زيات سي.

**درويش وايي:** چي ټول ورته حديثونه په رواياتو مختلفهٔ سره موجود دي نو ددې احاديثو معنی څه ده؟

**ځواب:** سلف صالحين وايي چي په ورته حديثو کي دي خوض او بحث نه کوي او ايمان دي پر وي وتفويض علمه الی الله تعالی کما في سائر المتشابهات الرحمن علی العرش استوی، يد الله فوق ايديهم يعني في البيعة الی غير ذالک وهذه المتشابهات كثيرة في القرآن العزيز وفي الاحاديث النبوية.

لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ۝

چي ستاسي امتحان واخلي.

**سوال:** خدای عزوجل خو په علم ازلي سره په ټولو احوالو خبر دی. نو امتحان ته څه ضرورت دی؟

**ځواب:** د آيت معنی داده چي ستا سي سره معامله د خير امتحان او اختيار وکړي ايها المکلفون بوضع التکاليف بالاوامر والنواهي.

(ايکم احسن عملاً) دا جمله معطوف ثاني ده د يبلوکم، کوم څوک احسن دی از روی عمل. البغوي په خپل سند سره روايت کړی دی له ابن عمر ﷺ څخه مرفوعًا (يعني الی رسول الله ﷺ) په معنی کي ددې آيت احسن عملاً ای احسن عقلاً و اورع عن محارم الله واسرع الی طاعة الله انتهی.

(وهو العزيز الغفور) او خدای غالب دی په انتقام کي د عصاتو او



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بخښونکی دی لمن شاء تاب ام لم يتب بعد کونه مؤمنًا.

**فائده**: ليبلوکم متعلق دی په خلق الموت والحيوة پوري يعني الحکمة في خلق الموت والحيوة ښکاره کول او جلا کول دي د مطيع الله عزوجل د عاصي څخه فان الحيوة مدار التکاليف والموت واعظ ساکت چي مکلف ته وايي چي ژوند غنيمت و بوله او زاد المعاد برابر کړه، ګويا مرګ په پټه خوله وايي چي وروسته تر ما بيا هيڅ عمل نشته، قال النبي ﷺ لعبد الله بن عمر رضی الله عنهما خذ من صحتک لسقمک (واخله له وخت څخه صحت خپل برخه د ناجوړی يعني په جوړ والي د خدای ج ډېر عبادت کوه چي که ناجوړی سې بيا د غومره عبادت نسي کولای) ومن شبابک لهرمک او د ځوانی له عمر څخه برخه واخله د وخت لپاره چي کلان ساله کېږې يعني په ځوانی د خدای ج ډېر عبادت کوه او په لهو و لعب ځواني مه تېروه، ولي چي زوړ سې زړه به دي عبادت غواړي لکن د هرم له سببه به عبادت کما حقه نسي کولای (ومن فراغک لشغلک) او د فارغت په وخت کي د شغل برخه واخله، يعني چي هر وخت دي ځان فارغه وليدی د خدای ج عبادت ډېر کوه ولي په يو کار که مشغول سوې بيا خو عبادت ډېر نسي کولای (ومن حياتک لموتک) يعني چي ژوندی يې د خدای ج عبادت ډېر کوه ولي چي مړ سې عبادت ختم کېږي (فانک لا تدري ما اسمک غدًا، ته نه) ته نه يې خبر چي ستا به څه نوم وي په آخرت کي (اسعيد ام شقي) وعن عمار بن ياسر رضی الله عنه مرفوعًا کفى الموت واعظًا وكفى باليقين غني.

## الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ۖ

**پوهه**: چي دا موصول بل خبر دی د هو يا صفت دی د الغفور يا بدل دی د موصول سابق.

**ترجمه**: هغه خدای ج چي پيدا کړي يې دي (يعني بېله مثال سابق) اووه آسمانونه، طباقًا صفت د سبع سموٰت دی وهو مصدر دی په معنی د فاعل، والمعنى مطابقة بعضها لبعض وسماء وفوق سماء چي پنډوالی د هر آسمان د پنځه سوه (۵۰۰) کالو لاره ده ومابين السمائين ايضًا مسافة خمس مائة عام حتى ينتهي الى الكرسي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا تَرٰى فِیْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍؕ فَارْجِعِ الْبَصَرَۙ

يا محمد (ﷺ) او ای مخاطب كان و كلمة ما نافية مفعول د ترٰى دى (فى خلق الرحمن) والاضافة للعهد اى ما ذكر من السموات السبع والاضافة الى الرحمن للتعظيم كما في بيت الله الكعبة (من تفوت) يعني فرق په دې معنی چې هر مخلوق ته رب جل وعلا هغه اعضاء ورکړي دي چې د هغه مناسب وي (فارجع البصر) ته په سترګو وګوره، جزاء د شرط محذوف ده اى ان زعمت ان يظهر لك التفاوت في خلق الرحمن بتكرار يعنی زه به بنه ورته وګورم ما ته به يې تفاوت ظاهر سي فارجع البصر بالتكرار.

هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ۝

آيا ته وينې په آسمان کې څيرې ځايونه، مشتق دى من فطره اذا شقه لامتناع الخرق والالتيام على السموات عند الفلاسفة ابداً وعند الاسلام امتناع الخرق الى ماشاء الله، قال اذا السماء انفطرت واذا الكواكب انتشرت وقوله تعالى والسماء منفطر به، وهذا فى قرب خراب الدنيا.

ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ۝

بيا واړوه سترګې دوه واره، راوبه ګرځي سترګي يعني د پيدا کولو د شقاق په آسمان کي سترې او بعيد له مطلوب څخه مع الذل (ينقلب) مجزوم دى چي جواب د امر دى (وهو حسير) دا بصر به سترى وي په سبب د كثرة المعاودة الى السماء، قال البغوي" روى عن كعب الاحبار السماء الدنيا يعني اول آسمان موج مكفوك څپې دى او بو ځاى پر ځاى ممنوع دى له نزول څخه، والثانية من درة البيضاء، والثالثة حديد والرابعة صفراء نحاس ژړ مس دي والخامسة فضة خالصة والسادسة ذهب والسابعة ياقوت حمراء، والله اعلم بحال مخلوقه.

**فائده:** مراد له کرتين څخه حقيقت تثنيه نه ده بلکې مراد تكثير د ارجاع دى يعني مرة بعد مرة كما قوله المحرم لبيك اللهم لبيك.

**فائده:** مقصود د استفهام د هل تقرير دى يعني حمل المخاطب على الاقرار.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

## وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ

**پوه سه:** چي لام موطئه د قسم محذوف دی ای والله په تحقیق موږ ښائسته کړی دی السماء الدنيا ای القربی الی الارض چي اول اسمان دی په څراغانو سره چي مراد ځني ستوري دي، مصابيح يې په دې وبلل چي مسافران د بر او بحر په دوی سره لار پيدا کوي، مظهري" وايي چي ظاهره د آيت پر دې دلالت کوي چي کواکب ټول په شمول د لمر او سپوږمۍ مرتکزه په اول آسمان کي دي، نو پر مظهري" که سوال وسي چي دا سبع سياره کواکب حرکت يې سرعة و بطوء او شرقًا او غربًا سره مختلف دی، نو څرنګه په يوه آسمان کي کېدلای سي؟ ده جواب ورکړی دی چي آسمانونه پر ځای ولاړ دي او دا ستوري حرکت پکښي کوي لکه ماهيان په اوبو کي نو ځيني ستوري چابک روان دي او ځيني کرار، او بعض ستوري شرقًا روان دي او بعض غربًا، او مظهري" دا هم ويلي دي وما زعمت الفلاسفة خذلهم الله امر لا دليل عليه الى اخيره او صاحب د روح البيان اول د مصابيح ترجمه کړې ده حيث قال: المصابيح جمع المصباح وهو السراج وتنكيره للتعظم والمدح، بيا يې ويلي دي بكواكب مضيئة بالليل من السيارات چي پنځه ستوري دي: القمر، والعطارد والزهرة، والشمس، والمريخ، او سيارات يې په دې بولي چي حرکت بالا دی تر ثوابت وان كانت الخمسة مختلفة في حركاتها، بيا يې ويلي دي والثوابت چي د هغو حرکت نهايت بطئ دی د سرې ګمان کېږي چي پر ځای ولاړ دي، بيا يې سوال کړی دی چي ستوري خو ټول په دې اول آسمان کي دي بلکې بعض يې په نورو آسمانو کي سي، القمر چي په اول آسمان کي ده، بيا يې جواب ورکړی دی چي آسمانونه چونکه شفاف دي واجرامًا صافية تترای وتظهر الكواكب كانت سيارة او ثوابت سواء كانت في سماء الدنيا لکه مظهري چي وويل، او في سموات اخرى كما هو التحقيق تلوح في سماء الدنيا فعلى التقديرين تكون سماء الدنيا مزينة بهذه المصابيح، بيا يې ويلي دي چي په مصابيح کي قمر هم داخل دی لانه اعظم مضئ بالليل انتهى.

**درويش وايي:** چي کلام د روح البيان په غايت تحقيق کي دی، والله اعلم بالصواب.



Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّیٰطِیْنِ وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِیْرِ ۝

موږ ګرځولي دي مصابیح (عبارت له ستورو څخه) ویشتونکي د شیطانانو (چي دوی د ملکو خبرو ته غوږ ونیسي) او موږ مهیا کړی دی شیطانانو لره عذاب د اوور یعني په آخرت کي.

**سوال:** ستوري د آسمان که پر شیطانانو را شوه سي، نو پر مځکه یې باید اجرام لیدل کېدلای ولیس کذالک، او بل دا چي دي ستوري به ډېر وطنونه خرابولای او ډېر خلک به یې هلاکولای؟

**ځواب:** جرم د کواکبو له خپل ځای څخه نه را جلا کېږي بلکي د هغه ستوري څخه یوه لمبه چي شهاب یې بولي جمع د شهب ده، نو دا را جلا سي (للشیاطین) چي دوی یو پر بل پورته سي ځانونه تر آسمانه ورسوي او د ملکو خبرو ته غوږ نسي، نو هغه شهاب دوی سره دربه دره کړي څوک مړه سي او څوک تېپیان سي.

**فائده:** چونکه په دمخه آیت کي یې ذکر د شیطانانو وکړی په راتلونکي آیت کي خدای پاک ذکر د عذاب د کفارو کوي، لکون الشیاطین من جملة الکافرین، او بل دا چي کفار د انس او جن اخوان الشیاطین دي.

وَلِلَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ۝

او هغه کسانو لره چي کفر کوي په رب سره د دوی، یعنی د الله عزوجل توحید نه مني بلکي بتان په عبادت کي ورسره شریک بولي، نو د داسي کسانو لپاره دی عذاب د دوږخ او دوږخ بد ځای دی د ورتګ، ولي چي وقودها الناس والحجارة او په هغه کي دوی ابدًا مؤبدًا وي.

اِذَاۤ اُلْقُوْا فِیْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِیْقًا وَّهِیَ تَفُوْرُ ۝

چي وغورځول سي کافران په جهنم کي.

**بوه سه:** چي ضمیر مؤنث راجع دی و جهنم ته چي دا لفظ مؤنث سماعي دی. (سمعوا لها) دوی به واوري له جهنم څخه (شهیقًا) یعنی یوه ناره لکه د خره، وان انکر الاصوات لصوت الحمیر، څوک وایي چي اور داغسي ناري وهي، او بعض مفسران وایي چي تر دوی دمخه چي و دوږخ ته داخل سوي وي پر هغو دغه ناري وهي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درويش وايي:** چي وهذا الوجه لايطرد في اول فرقة دخلوا النار فافهم، او بعض مفسرين وايي چي خپله داخلين به د خرو ورته ناري وهي، والله اعلم.

(وهي تفور) اى والحال چي جهنم ايشي په دوى سره يعني گاهي يې پورته کړي او گاهي يې کښته کړي لکه په دېگ کي چي غوښي وغيره واچوي او تېزاور ترلاندي کړي گاهي کښته لا قرار لهم اصلاً ابداً ما لا بد له (يعني دا وروسته خبره لابد منه ده دا صرف عنوان دى).

**پوهه:** چي طبقات په بل نامه درکات د دوزخ اووه (۷) دي (۱) جهنم (۲) لظى (۳) الحطمة (۴) السعير (۵) سقر (۶) الجحيم (۷) الحاوية، لکن هريو د دغو نومانو څخه پر بل يې اطلاق کېږي فيعبر عن النار تارة بالسعير وتارة بالهاوية وغير ذالک.

**پوهه:** چي په هره طبقه کي جلا جلا ډلي داخل کول کېږي (۱) عصات اهل التوحيد (۲) النصارى (۳) اليهود (۴) الصائبة (۵) المجوس (۶) المشركين (۷) المنافقين.

**پوښتنه:** شيطانان په کومه طبقه کي دي؟

**ځواب:** شيطانان وېشل کېږي پر دغو درکاتو پر مرتبو د اضلال د دوى فيدخل کل قسم، نو داخلېږي هر قسم د شيطانانو سره دده چي ده گمراهان کړي وه فکان دخوله اى الشيطان في کل درکة من الدرکات الست يعني غير درکة اهل التوحيد من العصات لانهم وان ضلهم الشيطان فى المعاصي لکن لم يضلهم فى الکفر والشرک.

**تنبيه:** د شيطانانو يو ځاى والى د من ضلوهم سره لپاره د زيادت د غيظ د کفارو.

تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ

قريب وي چي جهنم دى (تميز) تنشق (من الغيظ) متعلق دى په تميز پوري، والجملة حال من فاعل تفور چي جهنم دى او جمله د وهى تفور حال ده من ضمير لها، والمراد من الغيظ الغصة، وهذا الغيظ اما من الله سبحانه او غيظ ملائکة جهنم اى خزنتها واما غيظ النار نفسها على اعداء الله.

**سوال:** اوور خو له جماداتو څخه دى نو څرنګه نسبت د غيظ ورته صحيح دى؟

**ځواب:** اوور له شعور سته کما اثبتنا شعور الجمادات، او يا پر طور د مجاز دى، فافهم هداک الله تعالى.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كُلَّمَآ أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ

هر وار چي واچول سي په دوږخ کي يوه ډله د کافرانو سوال څني وکړي ساتندويان د دوږخ آيا نه وُ راغلی تاسو ته بېرونکی له عذاب څخه د خدای پر کفر باندي چي مراد څني رسول دی.

قَالُوا بَلَىٰ قَدْ جَآءَنَا نَذِيرٌ

دوی وواېي چي هو په تحقيق موږ ته راغلی وُ بېرونکی.

**پوښتنه:** دا سوال او جواب خو به په قيامت وي نو مناسب يقولوا به نه وای؟

**ځواب:** چونکه دا سوال او جواب متحقق الوقوع دی ځکه يې تعبير په ماضي څني وکړی چي دې ته مفسرين حکايت عن الحال المستقبلة واېي (قد جائنا نذير) دا جمله تقرير دی د معنی د بلی کمامر منا.

**سوال:** په اول آيت کي خو داسي وويل سول: کلما القی فيها فوج دا خو ټولو اقسامو ته د کفارو شامل ؤ او ټولو کافرانو ته خو يو نذير او يو رسول نه دی بلکي هر فوج ته جلا نذير ورغلی لکه قوم نوح ته نوح ﷺ ورغلی او قوم فرعون ته موسی ﷺ ورغلی او د نمرود قوم ته ابراهيم ﷺ وعلی هذا القياس فکيف استعمل صيغة المفرد ای نذير؟

**ځواب:** نذير د فعيل پر وزن دی صفت په معنی د جمع او يا نذير مصدر دی مضاف ورسره مقدر دی ای اهل الانزار فيشمل جميع المنذرين يا سلمنا چي نذير مفرد په معنی د واحد دی لکن معنی د آيت دا ده قد جآء کل واحد منا نذير ای الفرق يعني يوه فرقه واېي چي موږ ته نذير راغلی ؤ نو نذير په اعتبار د اقوامو د دوږخ متعدد سو.

فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ

موږ هغه نذير او رسول تکذيب وکړی (يعني چي ته را استول سوی د خدای د طرفه نه يې حتی وقلنا) چي نه دی نازل کړی خدای هيڅ شی له کتاب څخه او نه هيڅ شی له ارسال څخه د رسولانو.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه:** چي ظاهره دا يعني (ان انتم الا في ضلال كبير) د عبارت له كلام څخه د كفارو دى و رسولانو ته مبالغة في تلاهيهم بالتشبه الى الضلال الكبير او دا هم احتمال سته چي دا دي له جانبه څخه د خزنة النار وي چي زبانية يې بولي په تقدير د قول اى قالوا خزنة النار للكفار.

**درويش وايي:** چي پر هر تقدير ترجمه يې دا ده نياست تاسي مگر په لويه گمراهي كي، فكلمة د ان نافية ولهذا صح الاستثناء منه بالاثبات.

**وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١٠﴾**

او وايي (قالوا عطف دى پر قالوا سابق) كه موږ اورېدلى واى كلام د نذير يعني سماع د قبول من غير عناد و تكبر يعني نو ايمان به مو راوړى واى په ټوله ماجاء به النذير چي په دلائلو سمعيه د نذير له خوا موږ ته ويل كېدل (او نعقل) يا مو عقل درلود اى چي په آياتو يعني په معجزاتو كي د نذير مو فكر وهلى او دغه رنگه له عقلي دلائلو څخه مو كار اخستى واى چي هغه سبب د ايمان بالله بالوحدانية او د رسول بالرسالة گرځېدلى واى.

**نكته:** سمع يې تر عقل دمخه راوړه لكون الادلة السمعية اولى و احرى بالاتباع لقربها الى اصابة الحق من الادلة العقلية لما ان العقل يعارضه الوهم.

**تفريع:** په دې آيت سره دلالت دى پر دې چي عقل سليم مطابق للوحي المنزل كېداى سي، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار .... هر ورقى دفتريست معرفت كردگار

(ما كنا من اصحاب السعير) نو موږ به نه واى له اصحابو څخه د اوور (يعني د هغو په جمله كي به نه واى، دا جمله جزاء د لو كنا الخ ده)

**فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ فَسُحْقًا لِأَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١١﴾**

فَاعْتَرَفُوْا: هذا من قول الله او من قول الزبانية، عطف تفسير د قالوا دى عطف پر قالوا دى (بذنبهم) مراد له ذنب څخه كفر دى، والحاصل دوى اقرار وكړي په خپل كفر سره او پر كفر خپل يې اظهار د ندم وكړى لكن حين لاينفع الاقرار والندم. (فسحقا) دا جمله دعائيه ده او سحقا منصوب په فعل مقدر سره دى، والتقدير



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فاستحقهم الله سحقًا ای ابعدهم الله من رحمته العامة بعدًا فهذا التقدير من قبيل انبت الله نباتًا يعنى الفعل الناصب من المزيد والمفعول المطلق من المجرد وهو كثير في القرآن العزيز، وكلام العرب. نكته: تقدير د فعل لپاره د ايجاز دى.

إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١٢﴾

په تحقيق هغه كسان چي بېرېږي له عذاب څخه د رب د دوى بحذف المضاف اى لفظ العذاب باجماع المفسرين په پټه.

**پوهه:** چي د بالغيب څو معناوي مفسرينو كړي دي (۱) اى غائبًا عنهم چي دا عذاب غائب دى له دوى څخه كما يعاقبوا به بعد (۲) او غائبين عنه چي تر اوسه يې نه دى ليدلى (۳) او غائبين عن اعين الناس لا كالمنافقين (۴) او بالشيئ المخفي عنهم وهو القلوب.

(لهم مغفرة) دوى لره مغفرت دى د ګنهو د دوى او ثواب دى لوى چي هر لوى ثواب چي د سړي په زړه كي ور ګرځي هغه د خداى ثواب ته حقير دى. وهو الجنة ونعيمها لا مقطوعة ولا ممنوعة لان في الجنة ما لا عين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر. كما ورد في الحديث وهذه الجملة معترضة بين بيان احوال الكافرين چي په جمله كي خداى عزوجل احوال د مؤمنانو بيان كړى فى مقابلة بيان د عبيد الكافرين، او خداى پاک عنوان د حال د مؤمنانو خشية الله وګرځاوه اشعارًا بان الخشية من الله هي المقصود من الايمان كما قال رسول الله ﷺ رأس الحكمة مخافته تعالى، رواه الحكيم الترمذي عن ابن مسعود رض.

لاتخافوا مژده ترسنده است .... هر كه مى ترسد مبارک بنده است
خوف و خشيت حال دانايان بود .... هر كه درد دارد عوض درمان بود

قال فضيل بن عباس قدس سره چي ته له خداى څخه بېرېږې فاسكت ساكت جواب مه ورته وايه، ولي كه ته ووايه لا چي نه بېرېږم فقد اتيت بامر عظيم يعني دا خو ډېره بده خبره ده وان قلت نعم فالخائف لايكون على ما انت عليه يعني من العاصي.

ابيات

الٰهى يا الٰهى يا الٰهى .... ندارم جز اميدت تكيه گاهى



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زکن موجود کردی جمله عالم..... مرا از ذنب خود مکن عذر خواهی
ندارم طاعت مقبول درگاه...... بجز اشک ندامت آه آهی
ندارم توشه راه قیامت..... بجز شرمندگی و روه سیاهی
شفیع آورده ام روی محمدؐ..... کرم کن بر من گم کرده راهی
عبید را خاتمه بالخیر گردان..... بحق مصطفی و چهار یاران

قال ابن عباس رضی الله عنهما کان المشرکون ينالون رسول اللهﷺ (يعني بهتان به يې پر وايه يا نوري بدي خبري به يې دده په شان کي کولې په خپل منځ کي) فاخبره جبرئيلؑ بما قالوا. وروسته دوی دا مشوره وکړه چي په شان کي د ده به پټې خبري سره کوو ولي يسمع الله امر محمد (ﷺ) فنزلت هذه الآية.

وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۳﴾

**پوهه:** چي ظاهر د قرآن امر دی معنی يې اخبار دی يعني په پټه او کرار خبري کوئ او که په زوره او جهر سره خبري کوئ، يعني دواړه برابر دي په علم کي د خدای. په عبارت کي دالتفات دی له غيبت څخه و خطاب ته وفيه تهديد شديد. (انه عليم بذات الصدور) په تحقيق خدای په هغه شي خبر دی چي په سينو کي يعني په زړو کي وي قبل ان يتکلم بها سراً او جهراً.

**سوال:** کفارو خو اول جهر کاوه بيا اسرار ته نقل سوه او په جواب کي يې اسرار دمخه راوړي، نکته يې څه ده؟

**ځواب:** اسرار خو د دوی محبوب ؤ چي خدای يې نه واوري، نو دديې لپاره خدای اسرار دمخه کړی.

**نکته:** داسي خدای عزوجل نه وويل: فانه عليم بها د سببه دلالت پر دي چي په ذات الصدور چي خدای خبر دی تر تکلم دمخه نو وروسته تر تکلم که سراً وي او که جهراً په طريق اولی خدای په خبر دی.

اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۴﴾

آيا نه ؤ خبر په ذات الصدور سره (الاستفهام للانکار ونفی النفی اثبات. يعني خبر دی) چي چا پيدا کړي دي، الصدور وما فيها من قصد الخير والشر فهو



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاكيد لما سبق (وهو اللطيف الخبير) اى المتوصل علمه الى ما ظهر وما بطن. دا جمله حال ده له فاعل څخه د خلق. علماء وايي چي خدای عالم دی پر حرکت د نملة السوداء (تور میږی) على الصخرة الصماء (پر ښویه ډبره) فى الليلة الظلماء (په تکه توره شپه کي) وعلى هذا فقس علمه تعالى على مخلوقاته ذرة ذرة.

برو علم یک ذره پوشیده نیست .... که ظاهر و پنهان بنزدش یکیست

**درویش وایي:** چي په آینده آیتو کي خدای پاک تنبیه کوي پر غایت جهل د کافرانو په بیان سره د بدائع د صنعت خپل چي هغه دلالت کوي پر کمال علم او قدرت دده او تنبیه کوي پر نهایت قبح د صنع د دوی یعني کافرانو، که دد ي انعاماتو د رب جل وعلا دوی شکر ویلی وای او ایمان یې په الوهیت سره د خدای راوړی وای لکن دوی مقابله په کفره او شرک سره وکړه .... مصرع:

بدین عقل و دانش باید گریست

**هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا**

خدای هغه ذات مقتدر دی چي گرځولي یې ده مځکه (یعني في ابتداء الخلقة) ذلولا سهلا يمكن عليها المشي. یعني تګ د انسانانو لپاره او او چي بار پروړي لکه ابل وغيره (فامشوا فى مناكبها) اى الى جوانبها ومن يقال لجانبي الانسان المنلبين. وقيل المراد بالمناكب الجبال. بعض مفسرین وایي چي امر اباحة دی یعني واجب نه دی. بعض مفسرین وایي چي اخبار دی په صورت کي د امر یې راوړی دی.

**وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿۱۵﴾**

او خورک کوئ له رزق څخه د خدای. عطف دی پر فامشوا یعني طلب د رزق او د خدای د نعمتو طلب په مځکه کي. ولهذا المعنى قال السعدى الشيرازي:

ادیم زمین سفره عام اوست ..... بدین خوان یغما چی دشمن چه دوست

وفي مواضع آخر قال:

ای کریمی که از خزانه غیب ..... گبر و ترسا وظیفه خورداری

دوستان را کجا کنی محروم ..... تو که بادشمنان داری



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه:** چي تقديم د جار و مجرور په (واليه النشور) کي لپاره د حصر دی يعنى خاص و خداى ته رجوع ده في يوم القيامة. نو په هغه ورځ به ستاسي څخه پوښتنه وسي د شکر د ما انعم عليکم.

**درويش وايي:** چي هر وښتنه د انسان پر بدن ژبه وګرځي او په هغه ټولو سره شکر د خداى عزوجل و وايي لاهم به يې پاى ته نه ورسوي.. سعدي شيرازي:

عمرم تمام گشت و به پايان رسيد عمر .. ما همچنان در اول وصف تو مانده ايم

نو اظهار د عجز د خداى ته ډېره ښايسته لاره ده، بايزيد بستامي قدس سره وايي چي په سلطان العارفين سره شهرت لري:

چهار چيز آورده شاها که در گنج تو نيست
عــاجزى و مسکينى فقر و گناه آورده ايم

ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ

بالفارسية آيا ايمن شده ايد، وبالافغانية: آيا تاسي بېغمه ياست.

**پوه سه:** چي دا تهديد د کافرانو په بله وجه سره سره، او استفهام لپاره د توبيخ دی، نو اول همزه لپاره د استفهام دی، او دوهم همزه د نفس کلمه دی، او کلمه د من موصوله ده له في السماء څخه، بعض مفسرين ملائکه مراد بولي چي تدبير د عالم و دوى ته سپارل سوى دی، او بعض مفسرين وايي چي مراد څني الله عزوجل دی نه په معنى د مکان او جهت، لانه متنزه تعالى عن المکان والجهة، بل بتأويل من في السماء امره وقضائه. لکه دا قول د خداى عزوجل: وهو الله في السموات وفي الارض، فالمعنى امنتم خالق السماء والارض ومالکها وفي الاسئلة (چي د يو تفسير نوم دی) خص السماء بالذکر ليعلم ان الاصنام التي في الارض للمشرکين ليست بآلهة نه په دې معنى چي خداى پاک په يو جهت د جهاتو دی. لان ذالک من صفات الاجسام بل اراد فوقية القدرة والسلطنة انتهى.

قال صاحب روح البيان فانظر بما ثبت من هذه الآية وکن مع اهل السنة کذا في الکبريت الاحمر للامام الشعراني قدس سره انتهى قول روح البيان.

**پوښتنه:** خلک ولي په دعاء کي لاسونه د آسمان و خوا ته نسي؟

**ځواب:** له دې جهته يې نسي چي آسمان محل د برکاتو دی او قبله د دعاء دی کما ان



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الكعبة المباركة قبلة الصلوة وجناته تعالى قبلة القلوب، وقيل ان الظرفية باعتبار توهم المشركين حيث كانوا يزعمون انه تعالى في السماء، وفي فتح الرحمن والمظهري هذا المحل من المتشابه ولا تتعرض لمعناه بل نكل علمه الى الله تعالى، انتهى.

## اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ ﴿۱۶﴾

چي تاسي غيب كړي په مځكه كي (لكه قارون چي يې په مځكه كي خسف كړى په زمانه كي د موسى عليه السلام و قصته طويلة جدًا) نو هغه حركت كوي، دا جمله عطف ده على يخسف و كلمة اذا للمفاجات يعني مځكه ښوري او ستاسي اجساد كښته وړي.

**پوه سه:** چي څوك چي به او بو كي غيب سي هغه ته غرق وايي، او څوك چي به مځكه كي غيب سي هغه ته خسف وايي.

## اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ

ام منقطعه دى په معنى د بل آه دى، بل يې لپاره د انتقال من مخافة الى مخافة آخر او همزه لپاره د استفهام انكاري دى والمعنى آيا تاسي په امن ياست.

## اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ۭ فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿۱۷﴾

چي اوروي پر تاسي د بري (كما فعل بقوم لوط واصحاب الفيل) ژر دى چي تاسي به پوه سئ چي څرنګه ؤ انذار زما عند مشاهدتكم اهو شديد او ضعيف او په دي به هم پوه سئ چي لا خلف لوعيدي.

**پوه سه:** چي نذير او وروسته په آيت كي نكير دواړه مصدران دي او اصل يې نذيري و انكاري ؤ حذفت الياء لدلالة الكسرة عليه وفي برهان القرآن (چي د يوه تفسير نوم دى) دوى يې و ېرول اول په خسف سره لكونهم في الارض فالخسف اقرب اليهم من السماء ثم بالحاسب من السماء لكونه اشد من الخسف كما لايخفى.

## وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۱۸﴾

كلمه د لام جواب د محذوف ده، او په تحقيق تكذيب كړى د انبياء تر تاسي د مخه يا اهل مكة، نو څرنګه انكار زما پر هغو بانزال العذاب عليهم د من قبل څخه كفار د قوم نوح او قوم فرعون او كفار د ثمود او اضرابهم من الكفرة السابقين من اهل مكة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوهه سه:** چي همزه لپاره د استفهام دی و والواو للعطف على محذوف تقديره الم ينظروا ما خلقنا من السماء والارض وغيرهما ولم يروء دوی نه ګوري.

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ

**فائده:** لفظ د صَفّت حال دی له طير څخه چي په معنی د جنس دی ځکه يي صفت جمع راوړی او لفظ فوقهم ظرف د مقدم په ده صافات والرؤية بصرية. د صافات معنى داده چي دوی الوزي وزرونه وغوړوي في الجو التالي (اى البعيد) او د يقبضن معني دا ده چي وزرونه بيرته وځان ته راټول کړي لپاره د کومک پر حرکت باندي.

**پوهه سه:** چي يقبضن جمله فعليه او صافات يې اسم راوړی للدلالة على تجدد القبض وقتا بعد وقت، ولي چي اصل په طيران کي خو بسط الاجنحة او قبض د وزرو و جنبينو ته وقتا بعد وقت پيدا کېږي، ولي چي که همېشه يې باسطات نيولي وي خو وزرونه وچېږي يعني ستړی کېږي بيا چي ځان ته يې ضم کړي لږ وسا سي بيا يې څو زمانه خلاص نيولي وي لپاره د طيران في الجو. ولي که يې ډېره زمانه ضم ونيسي خو راشوه کېږي مځکي ته.

**درويش وايي:** چي حال د مرغانو په بسط او قبض کي عين حال دی د اوباز په اوبو کي، ولي هغه هم چي اوبازي شروع کړي لاسونه او پښې خلاصي ونسي چي ستړی سي بيا يې و ځان ته راټول کړي يوه دقيقه قدر بيرته يې خلاص کړي او پر مخ زور وهي.

مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ

نه دی خوندي کړی په جو کي او د طبع څخه د دوی چي ثقيل په هوا کي نه کېږي بېله خدايه چي دوی ته يې تعليم د طيران کړی دی په هوا کي، په تحقيق خدای پر هر شي دانا دی کيف يخلق الغرائب ويدبر العجائب.

أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ الرَّحْمَٰنِ ۚ

آيا څوک دی هغه ذليل چي هغه دي ستاسي لښکر او مانع سي له عذاب څخه بېله خدايه (همزه په ام من هذا کي لپاره د انکار دی يعني مانع له عذاب څخه چي نازل سي بل څوک نسته بېله الرحمن)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ۝٢٠

نه دي كافران مگر خطا وتلي او غولېدلي دي د شيطان له خوا څخه، ولي چي شيطان په زړو کي د دوی وسوسه وراچوي چي عذاب نه نازلېږي من غير ما يعتمد عليه.

**پوه سه:** چي دا كلام متصل دی بقوله تعالى اولم يروا په دې معنى چي دوی نه گوري په امثالو كي د صنائع عظيمهؤ د خدایٌ و فلم يعلموا قدرتنا على تعذيبهم بنحو الخسفه وارسال الحاصب او كه تاسي لره جند سته من دون الرحمن چي يدفع العذاب عنكم ان ارسل عليكم يعني مانع له عذاب څخه د خدایٌ بېله الرحمن څخه هيڅ څوک نسته.

**درويش وايي:** چي مراد د جند المشار اليه بهذا ففي هذه الآية وفيما بعد كي بتان د دوی دي التي زعموها آلهة من دون الله دي يعني الاصنام لايتصور منهم ان ينصروهم.

**درويش وايي:** چي له دې سببه ما په ترجمه كي لفظ د ذليل ووايه فافهم.

أَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ يَرْزُقُكُمْ اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ۚ بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ۝٢١

آيا هغه ذات والا قادر چي تاسي ته ايها الكفار رزق د ركوي كه چېري بند كړي رزق يعني بامساک المطر او نور اسباب د رزق لكه تجارت هغه كوټه كړي الى غيره من اسباب الرزق. والجواب افيرزقكم هذا المهين اى آلهتكم الاصنام (بل لجوا) يعني كفار نما او زيات وب كوي په ضلال كي او نفرت له دين څخه لجهلهم وتنفر طباعهم عن الدين الحق.

أَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖٓ

الاستفهام للتقرير اى حمل المخاطب على الاقرار بالحق.

**پوه سه:** چي كلمه د من مبتدا ده او اهدی يې خبر دی مكبًا حال دی له فاعل څخه د يمشي، د اكباب معنى سقوط دی پر مخ لازمي او متعدي دواړه دی عند صاحب القاموس دا مثال د مشرک او مؤمن لپاره د توضيح د حال د دوی، والمعنى افمن يمشي او دی هر ساعت پر مخي غځاربږي لتوعر الطريقة واختلال قواه اشد هداية الى المقصود.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِي سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ

يا هغه څوک چي تک کوي قائمًا په ولاړي يعني پر مخ نه غوځارېږي او پر سمه لار روان وي چي هيڅ کج و پيچ نه لري که دا اهدى د دې بل جواب نسته مګر چي قسم ثاني اهدى دى.

**درويش وايي:** چي تشبيه د مشرک په مکبًا على وجهه هر ساعت دا ده چي د مشرک خدايان خو ډېر دي، ګاهي لات ته پر سجده پرمخي پرېوزي ګاهي عزى ته پرمخي پر سجده پرېوزي، ګاهي منات ته الى غير ذالک، او د مؤمن خداى يو دى د هغه يو خداى وعبادت ته پر صراط مستقيم د دين الاسلام روان دى فهو اهدى سبيلاً.

**سوال:** اهدى خو صيغه تفضيل ده نو بايد په مفضل عليه كي مشرک دى هم هداى وي؟

**جواب:** په اسم تفضيل كي خو دا شرط نه دى چي په مفضل عليه كي هدايت على الحقيقة پيدا كېږي بل يكفى وجوده فرضًا وتقديرًا، وقال قتادةؒ في توجيه الآية ان من اكب على المعاصي (يعني يستمر على المعاصي) في الدنيا يمشي على وجهه مكبًا يوم القيامة والمؤمن يمشي يوم القيامة سويًا.

بخاري او مسلم چي په اصطلاح د محدثينو يې شيخان بولي له انس رضي الله عنه څخه روايت كړى دى چي د رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وكړه كيف يحشر الكافر على وجهه (اى ماشيًا على وجهه) قال ﷺ اليس الذى امشاه على رجليه في الدنيا قادرًا ان يمشيه على وجهه يوم القيامة.

**پوهه:** چي په آيت مذكور كي تشنيع آخر على الكفار.

**فائده:** له هغه قول څخه د خداى عزوجل: افمن هذا الذي هو جند لكم وقوله تعالى امن اهذا الذي يرزقكم چي مقصد ځني انكار د نصر او د رزق وُ من جند الكفار، دا سوال پيدا كېږي چي فمن ينصرنا ومن يرزقنا خداى په قول سره جواب وركړى.

قُلْ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ

(قل) ان من ينصركم ويرزقكم چي تاسي يې د كتم د عدم وعرصه ته د وجود را ايستلى ياست چي په دې انشاء كي حكمت د خداى دا دى چي تاسي خپل رب وپېژنئ



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي بتان هدايهٔ ددي انشاء تو ان نه لري نو د هغه عبادت و کړئ دون الاصنام، او تاسي ته يې پيدا کړې ده اوريده د خبرو او ليدل په عضو مخصوص او زړونه (الافئدة) جمع د فؤاد ده په معنى د زړه.

**فائده:** چونکه سمع مصدر ؤ او په مصدر کي مفرد او جمع برابر دي کما تقرر في النحو، نو ځکه يې سمع مفرد راوړه بخلاف الابصار و الافئدة.

**پوهه:** چي حکمت د خداى عزوجل په خلق السمع کي دا دى چي تاسي مواعظ د رسولانو وغيرهم په واورئ او په جعل الابصار حکمت د خداى دا دى چي مصنوعات عجيبه د خداى په وينئ من العالم العلوي والسفلي، او د افئدة په جعل کي حکمت دا دى چي تاسي په مصنوعاتو کي د خداى فکر وو هئ او شکر د خداى و واياست او عبرت واخلئ، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

برگ درختان سبز درنظر هوشيار ... هر ورقى دفتريست معرفت کردگار

قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۳﴾

(قليلًا) اى شکرًا قليلاً چي مفعول مطلق سي د وروسته فعل او زمانًا قليلاً چي ظرف سي د وروسته فعل، کلمه د ما زائده ده لپاره د تاکيد د قلت.

قُلْ هُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾

ته ووايه يا محمد، دا تاکيد دى د قل سابق، خداى هغه ذات قادر او توانا دى چي تاسي يې متفرق په مځکه کي پيدا کړي ياست، دا جمله بدل ده له جمله څخه د هو الذى انشائکم، تقديم د جار او مجرور په (واليه تحشرون) کي لپاره د حصر دى يا خاص و خداى ته حشر کبرئ يعني په ورځ د قيامت للجزاء باعمال الدنيا ان خيرًا فخير وان شرًا فشر.

**درويش وايي:** چي د غه عبارت په تفاسيرو کي ډېر مستعملېږي امکان لري چي مبتدي به يې په معنى نه پوهېږي او په اعراب هم، فاصل تقدير العبارة المذکورة ان کان عمله خيرًا فجزائه خير وان کان عمله شرًا فجزائه شر، مراد له خير څخه جنت دى او مراد له شر څخه دوزخ دى، اعراب يې دا سي دى کلمه د ان حرف شرط دى او کان ناقصه دى عمله يې اسم دى او خيرًا يې خبر دى او مجموع جمله



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شرط دی فجزائه مبتداء ده خبر خبر دی او مجموع جمله يې كلمه ده فا جزاء د ان شرطيه ده وقس عليه اعراب ان شرًا فشرًا فافهم.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾

او وايي مشركان (پر طور د انكار) كله ده دا وعده د حشر بعد الموت كه تاسي ياست ايها المؤمنون رشتيا وايا ست چي حشر بعد الموت واقع كيږي، جزاء د شرط له ما قبل څخه فهمېږي.

قُلْ إِنَّمَا الْعِلْمُ عِندَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾

ووايه (جمله مستأنفه ده گويا عليه الصلوة والسلام او مؤمنانو چي موږ دوى كافرانو ته څه جواب وركړو) په تحقيق وخت تعين وقت الحشر په نيز د خداى دى لاغيره ولو كان ملكًا مقربًا او نبيًا مرسلاً، او نه يم زه مگر بېرونكى ستاسي له عذاب څخه د يوم الحشر يعني په انذار كي شرط صرف علم دى پر وقوع د منذر منه لا العلم بتعين وقته.

فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيئَتْ وُجُوهُ الَّذِينَ كَفَرُوا

چي دوىويني دا موعود، اكثره مفسرين وايي چي مراد ځني عذاب دى يوم القيامة فالمعنى چي مشركان دا عذاب د آخرت او مجاهد" وايي چي مراد عذاب د يوم بدر دى والله اعلم.

**پوه سه:** چي زلفة مصدر دى په معنى د قرب حمل په حذف د مضاف اى ذا زلفة و قرب يعني له نژدې څخه دوږخ په ورخ د قيامت وويني، نو تور سي مخان سره د هر قباحت د هغه كسانو چي كفر يې كاوه يعني انكار د ورځي د قيامت او انكار د ثواب او عقاب يې كاوه.

وَقِيلَ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾

او وبه ويل سي (يعني د ملائكو د طرفه) دغه عقاب په اور سره هغه عذاب دى چي تاسي به يې طلب كاوه، نو تدعون مشتق دى له دعا څخه يعني كافرانو به مؤمنانو ته ويل چي ژر دى چي دغه عذاب النار پر ما نازل سي او يا مشتق دى له



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دعوی څخه یعني چي تاسي به یې په دنیا کي دعوی کول ان لا بعث ولا العقاب بالنار.

## قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ اللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوْ رَحِمَنَا

ووایه (یا محمد ﷺ) لمشرکی مکة چي دوی تمنی ستا د هلاک کوي، چنانچه مشرکینو به یو د بل سره ویل چي محمد (ﷺ) پر یږدئ یو څو ورځي به ژوندی وي اخیر به مړ سي موږ به څني خلاص سو) تاسي ایها المشرکون خبر راکړئ که هلاک کړي خدای ما او هغه کسان چي زما سره دي یعني المؤمنین، او یا پر موږ رحم وکړي بتأخیر آجالنا چي زموږ اجل وځنډوي. الاستفهام في ارئیتم لپاره د تقریر دی ای حمل المخاطب علی الاقرار والرؤیة علمیة.

## فَمَن يُجِيرُ الْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ

څوک به خلاص کړي کافران له عذاب درد ورکونکي څخه. الاستفهام للانکار ای لا احد یجریهم. والجملة جزاء الشرط یعني ان اهلکني الله. حاصل د معنی د آیت چي تاسي لره هیڅ فائده نسته په اهلاک کي زموږ حتی تطلبونه. بلکي ستاسي فائده په دې کي ده چي متابعت وکړی د هغه چا چي تاسي له عذاب الیم څخه خلاص کړي ولایتصور ذالک من الاصنام لکونها جمادات. بلکي خلاصونکی له عذاب څخه یوازي خدای عزوجل دی باید دا ده چي تاسي د خدای عبادت وکړی او ایمان راوړی.

## قُلْ هُوَ الرَّحْمَٰنُ آمَنَّا بِهِ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا

ووایه چي هغه څوک دی خلاصونکی له عذاب څخه چي موږ دلائل د وجود ده او دلائل د قدرت او سلطان ده په ماقبل کي درته ذکر کړه، هغه الرحمٰن چي موږ یې عبادت کوو او تاسو ته مو هم دعوت درکړی د ایمان پر هغه. ولي چي هغه ورکونکی د ټولو نعمتو دی او د خلاصون د عذاب الیم دی (آمنا به) پر هغه زموږ ایمان دی او پر هغه زموږ توکل دی یعني تفویض د خپلو ټولو مو هغه ته کړی دی لان الایمان یقتضی التوکل علی المؤمن به. نو دا جمله تاکید ده د مضمون د اولو دوو جملو چي د مخه تېري سوې.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٩﴾

ژر دی چي تاسي به پوه سئ (يعني يوم القيامة) چي څوک دی په ګمراهي ښکاره کي (يعني نحن او انتم، دا خبره دوی ته لوی تهديد او توبيخ دی)

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿٣٠﴾

ته ورته ووايه چي تاسي خبر راکړئ که وګرځي اوبه (يعني د څاهانو يا کاريزو وغيره يعني په مځکه کي کښته ولاړي سي چي آله د وصول و هغو اوبو ته نه وي، اصلي غور مصدر دی په معنی د غائر يا يې حمل مبالغةً دی) څوک به تاسي ته راتګ وکړي په اوبو سره چي ظاهري وي پر مځکه باندي.

**پوه سه:** چي معين يا مشتق دی د عين جارية څخه فالمعنی ماء جار چي بهېږي پر مځکه لکه د چيني اوبه يا مشتق دی من عين باصرة څخه يعني په سترګو معلومېږي، والحاصل چي دا خو بداهةً معلومه ده هر چا ته چي بتان د کافرانو خو دا طاقت نه لري چي دا کار دي وکړي، بلکي بتان خو پرېږده لايقدر عليه احد الا الله تعالی.

**مسئله:** مستحب ده قاري لره د سورة الملک چي اخير ته ورسېږي داسي دي وايي: الله رب العالمين يأتينا بماء معين، جلال الدين السيوطي" وايي چي هکذا ورد في الحديث، تاريخ وايي چي يو سړي په مسجد کي سورة الملک وايه دي آيت ته چي را ورسېدی فمن يأتيكم بماء معين، يو يهودی په کوڅه کي تېرېدی دا آيت يې واورېدی، نو استهزاءً يې داسي وويل: بالكند و المعين يعني په کولنګ او يامه به يې را وباسو اوبه، نو مابښام چي يهودي بيده ؤ يو سړي پر دواړو سترګو په چپلاخه وواهه د سترګو اوبه يې توی سوې په دواړو سترګو ړوند سو، او هغه سړي ورته وويل چي دا د سترګو اوبه دي په کولنګ او يامه سره را وباسه. نعوذ بالله بالاستهزاء بآيات القرآن او دا معجزه وه د قرآن عظيم الشان.

له ابو هريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل چي يو سورت دی د قرآن چي دېرش آيته يې دي شفعت لرجل حتی غفر له وهي تبارک الذي بيده الملک، رواه احمد و ابو داؤد والترمذي والنسائي وابن ماجه وابن حبان والحاكم.



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وروى البغوي ؒ بسنده په داسي روايت سره ان سورة من كتاب الله ما هي الا ثلثون آية شفعت لرجل فاخرجته يوم القيامة من النار وادخلته الجنة وهي سورة تبارك الذي الى اخيرها، وعن ابن عباس ؓ قال رسول الله ﷺ هى (اى سورة الملک) المانعة (منع کونکی د عذاب دی یا معنی دا ده چي منع کونکی د قاري دده له فجور څخه والله اعلم) هي المنجية من عذاب الله (یعني نجات ورکونکی دی) رواه الترمذي، او له جابر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ تر هغو نه بيدېدی چي تلاوت د سورة الم السجدة او تبارک الذي بيده الملک يې نه وای کړی، رواه احمد والترمذي والدرمي، وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

**درويش وايي:** چي په فضائلو کي د سورة الملک احاديث صحيحه کثيرة وما نقله، مشت نمونه خروار (چي يو مقوله فارسيه ده)

**درويش وايي:** چي زه فارغه سوم له تفسير څخه د سورة الملک بتوفيقه تعالى په ورځ د دوشنبي غرمه يوه بجه وحرمت على النوم والاستراحة لخدمة القرآن المجيد ۱۲ تخميناً د جمادى الآخير، يو شاعر وايي:

بقدر الكد تكتسب المعالى ..... طلب العلى سهر الليالى
تروم العز ثم تنام ليلاً ..... يغوض البحر من طلب اللآلى

يو بل شاعر وايي:

همت بلند دار که نزد خدا و خلق .... باشد بقدر همت تو اعتبار تو

**درويش وايي:** چي زه فخر نه کوم بلکي وايم: يا الله جلت قدرتک وعم فضلک منک واليک، ستا عاريت ؤ وتاته مي وسپاری.

الحمد لله رب العالمين



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة القلم مكية وهي اثنتان وخمسون آية وفيها ركوعان بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رب يسر ولا تعسر وتممه بالخير والعافية

**پوهه:** چې مظهري^ره^ دا سورة القلم ياد کړې دی او روح المعاني په نامه د سورة العلم ياد کړې دی، او روح البيان په نامه د سورة نٓ ياد کړې دی. والكل صحيح، او آيتونه د سورة د روح المعاني په نقل د جمال القرآن اثنتان و خمسون (۵۲) آية بللي دي او روح البيان وايي چې آيتونه يې (۵۲) دي، اما مظهري وايي چې آيتونه يې اثنتان وعشرون (۲۲).

**درويش وايي:** چې عدد د (۲۲) كما وقع في المظهري لاشك انه سهو من الكاتب لان التفاوت بين (۵۲) كما في روح المعاني او روح البيان چې دعوی د اتفاق يې هم کړې ده، وبين (۲۲) كما في المظهري كثير جداً.

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ﴿۱﴾

**درويش وايي:** چې اظهره دا ده چې (نٓ) له حروف مقطعهؤ څخه دی او تفصيل د حروف مقطعهؤ په اول کې د سورة بقره يعني عند قوله تعالى: الم تېر سو، او روح البيان وايي چې نٓ نوم د دې سورت دی حيث قال هذه سورة نٓ او بحق نٓ وهي هذه السورة وروسته روح البيان ويلي دي اقسم الله بها على سبيل التاكيد انتهى.

**درويش وايي:** چې په دې توجيه کې حذف د فعل قسم غواړي او کلمه د باء الجارة تقديره اقسم بنون اى هذه السورة، نو دا ډېر محذوفات به مفسرين نه کړي خوښ والله اعلم.

**پوهه:** چې دا سورت په قول د روح المعاني له اوائلو څخه د ما نزل دی كما روى عن ابن عباس رضي الله عنهما دی وايي چې تر ټولو سورتونو دمخه اقرأ باسم ربک نازل سوی دی ثم هذه السورة ثم سورة المزمل ثم سورة المدثر، انتهى ما قال ابن عباس رض او مظهري نورې توجيهات کړي فارجع اليه.

**پوهه:** چې کلمه د واو په (والقلم) کې لپاره د قسم ده، او مراد له قلم څخه هغه لوح محفوظ يې نوشته کړی دی كما روى عن عبادة بن الصامت رض قال قال



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسول اللهﷺ اول ما خلق الله القلم فقال له اكتب قال ما اكتب قال الله تعالى اكتب القدر، فكتب ما كان وما هو كائن الى الابد رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب، قال البغوي هو قلم من نور طوله ما بين السماء والارض آه. او دا هم احتمال سته چي مراد جنس د قلم وي، نو خداى عزوجل چي په جنس قلم قسم واخستى لكثرة فوائده.

**درويش وايي:** چي په نٓ و القلم كي دومره اختلاف د مفسرينو دى خصوصًا روح المعاني، وروح البيان فلا فائدة في نقلها الا وجع رأس المتعلمين وفيما ذكرناه كفاية لذوى العقول. (وما يسطرون) چي نوشته كوي.

**پوښتنه:** قلم په معنى اول سره اى ما كتب على اللوح المحفوظ خو يو قلم ؤ، نو يسطرون يې جمع ولي راوړى؟

**ځواب:** لپاره د تعظيم او پر معنى ثاني چي مراد جنس قلم سي كما مر، نو جمعيت يې ظاهر دى، لكن سوال دا واردېږي چي په معنى ثاني سره خو د ذوى العقول څخه نه دى نو جمع د ذوى العقول ولي ورته وايي يعني يسطرون؟

**ځواب:** دا اقلام يې ودرول په ځاى كي د ذوى العقول تعظيمًا لها او يا ضمير د يسطرون راجع دى و اصحابو ته د دغو اقلامو او يا ضمير راجع دى وغير مذكور ته لدلالة الكلام عليه اى الحفظة الذين يكتبون اعمال بني آدم من خير وشر يا ضمير د يسطرون راجع دى و هغو علماؤ ته چي يكتبون علوم الدين فتدبر غاية التدبر.

مَآ أَنتَ بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ بِمَجۡنُونٖ ۝

ته نه يې متلبسًا په نعمت د خداى چي پر تا يې كړى دى (۱) اى النبوة (۲) والمروة (يعني كامل غيرت) (۳) وكمال العقل (۴) المعجزات المباهرة كشق القمر وغيره (۵) جلال الفضل (۶) و انواع المكارم (۷) نزول القرآن المعجز، والعامل في الحال اى متلبسًا معنى النفي في كلمة ما، او بعض مفسرين وايي چي عامل يې مجنون دى.

**سوال:** په مابين كي د عامل چي مجنون دى خو كلمه د باء واقع ده مع انه لايجوز الفصل بين العامل والمعمول؟

**ځواب:** كلمه د باء خو زائده ده فلاتكون مانعًا من العمل. البغويؒ وايي چي دا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قول د خدای جواب دی د هغه قول د کافرانو، يا ايها الذين نزل عليه الذكر (اى القرآن يعني بزعمك والا فالكفار منكرون من نزول القرآن عليه) بمجنون، ته لیونی یې.

**درویش وايي:** چي فهم وکړئ و غباوت ته د کافرانو چي دا دومره کمال عقل چي عليه الصلوة والسلام درلودی حتی چي قبل دعوی النبوة مکي والو دی امين مکه باله، اوس چي يې د نبوت اعلان کړی اوس يې مجنون باله؟

مصرع:.... ببين تفاوت راه از کجا تا کجا.

وانما قالوا ذالك، چي بعيد باله دوی رسالت د عليه الصلوة والسلام من جانب الله، كما يدل عليه قولهم انزل عليه الذكر من بيننا يعني چي موږ اشراف د مکي موجود یُو نو څرنګه وحي د خدای و یتیم ته د ابو طالب راغلي ولا يدرون ان النبوة والوحي تفضل من الله يعطيه من يشآء على حسب استعداده لذالك. او بل اعتراض د دوی دا وُ چي مخالفت د ټولو خلکو څخه وکړي في ادعاء توحيد المعبود مع ان اهل مكة يوازي درې سوه څه بالا معبودان لري او چونکه دغه مستقراً قويًا في زعمهم اكدوا قولهم بانك لمجنون چي یو يې لام د قسم راوړی وزيادة الباء في الخبر وزيادة الباء للتاكيد النفي، وعلى هذا اكدا الله نفي الجنون عنه بتلبسه بنعمه ليكون هذا القيد دليلاً وبرهانًا على نفي الجنون عنه ﷺ. ولي هغه څوک يعني عليه الصلوة والسلام په داسي درجه د عقل او علم او کمال وي كما ذكرنا نو دعوی د جنون دده سفسعة ده لا يقول به الا من هو ابلد من الحمار واحمق من ابن جنقة.

په صحيح روايت کي راغلي دي چي هغه وخت چي حليمة السعدية د عليه الصلوة والسلام رضعي موروه چي دواړه پر يوې خرې سپاره سوه سجد الآتان الى الكعبة المباركة درې واره. وقالت الآتان بنطق فصيح على ظهري خير النبيين وسيد المرسلين وخير الاولين والآخيرين وحبيب رب العالمين ﷺ كذا ذكر في المواهب الدينية في حديث طويل (دا دیو معتبر کتاب نوم دی) فثبت ان الكفار ابلد من الحمار.

**درویش وايي:** چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام چي غار حراء ته آمد و رفت شروع کړی چي دده په نکاح کي ام المؤمنين خديجة الكبرى ﷵ وه، يوه ورځ عليه الصلوة والسلام چي کورته راغلی له غار حراء څخه خديجه ﷵ يې مخ ته وکتل مخ يې متغير وُ بلا غبار عليه. نو خديجه ﵂ سبب د تغير د



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخ مبارک ځني و پوښتی فقال لها نزل جبريلؑ فقال اقرأ ما ورته وويل ما انا بقارئ، ثم غطني، بيا جبريلؑ زه په ځان پوري ټينګ ونيولم بيا يې راته وويل اقرأ ما ورته وويل ما انا بقارئ فغطني حتى بلغ مني الجهد فقال اقرأ باسم ربك الذي خلق فهو اول ما نزل من القرآن وقال رسول اللهﷺ لخديجةؓ لقد خفت على نفسي وقالت خديجةؓ كلا تخزيك الله. فذهبت خديجةؓ بهﷺ الى ورقة بن نوفل وهو ابن عمها وكان قد خالف دين القريش في عبادة الاوثان او په دين د نصارىٰ ؤ چي په خپل زمانه كي حقه دين ؤ يعني نصرانيت، وكان كبير السن په سترګو ړوند ؤ، نو خديجهؓ ورته وويل اسمع من ابن اخيك (عليه الصلوة والسلام خو يې د وروروزوی نه ؤ لكن عادت د عربو دا دى چي مشر سړي ته وای كاكا) ورقه ورته وويل ما ذا تراه يا ابن اخي، عليه الصلوة والسلام قصه ټوله ورته وكړه او دا يې هم ورته زياته كړه چي قد خفت على نفسي، ورقة ورته وويل چي كلا هذا جبريل الذي انزل التوراة على موسىٰؑ والانجيل على عيسىٰؑ. ورقه ورته وويل هل هذا امرك بدعوة الناس الى توحيد الله، عليه الصلوة والسلام ورته وويل لا؛ ورقه ورته وويل لئن بقيت الى وقت دعوتك لانصرنك نفرًا موزرًا اى قويًا فلما لبث ان مات ولم يبلغ الى وقت الدعوة.

**درويش وايي:** چي ورقة بن نوفل ته په اسلام كي موحد الجاهلية وايي يعني چي د جاهليت په وخت كي موحد ؤ.

وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ﴿۳﴾

په تحقيق تا لره تنكير د اجر دده لپاره د تعظيم دى چي تا برداشت د ډېرو سختيو او ازار د كفارو كړي دی پر تبليغ د توحيد او د قراتو د خلكو نو له دې سببه تا لره لوی اجر او ثواب دی. د (غير ممنون) معنى يا دا ده چي غير مقطوع چي قطع كېږي نه يا منون به من الناس دی چي خلګ دي پر تا احسان واچوي فان الله يعطيك اجرًا جزيلاً بل على الناس منتك حيث تعلمهم طريق النجات من عذاب الدنيا والآخرة. وهذه معطوفة على جواب القسم.

وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴿۴﴾

ته يا محمد (ﷺ) پر لويو اخلاقو يې فانك تحمل من قولك ما لا تحتمل امثالك. قال رسول اللهﷺ ما اوذى احد مثل ما اوذيت في الله يعني په تبليغ كي د



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

توحید و مشرکینو ته په مثل د ازار د کفارو و ماته هیڅ څوک دومره نه دی ازار سوی، رواه ابو نعیم في الحلیة عن ابن انس وابن عساکر، وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال قیل یا رسول الله ﷺ ادع (ښیرا وکړه) علی المشرکین قال انی ما بعثت تطعانا انما بعثت بیانونکی او نه ښیرا کونکی وانما بعثت رحمة رواه مسلم، والکفار لما رموه بالجنون ینبغي اني لایرد ﷺ سوال ابي هریرة رض لو لا انیکون له خلق حسن، نو دا دوي جملې علی سبیل العطف تاکید لما سبق من نفی الجنون عنه ورد لقول الکفار علی ابلغ الوجوه فافهم. او ابن عباس رض او مجاهد وايي چي مراد د خلق عظیم څخه دین عظیم دی، ولا دین احب الی الله ولا ارضی عنده تعالی من دین الاسلام هو آداب القرآن، په یوه روایت کي راغلي دي چي یو چا سوال وکړی له حضرت عائشي رضی الله عنها څخه عن خلق رسول الله ﷺ قالت کان خلقه القرآن (ای العمل بالقرآن) دې ورته وویل چي تا دا آیت نه دی ویلی: قد افلح المؤمنون الی اخیرها رواه مسلم واخرجه البخاري في الآدب المفرد، وقال الجنید الخلق العظیم ان لایکون همته غیره تعالی، وعن اسامة بن شریک في شرح السنة قالوا یا رسول الله ما خیر ما عطی الانسان؟ قال رسول الله ﷺ الخلق الحسن. ښه اخلاق.

وعن معاذ رض کان اخیر (چي رسول الله ﷺ د تبلیغ لپاره یو خواته استاوه) اوصاني رسول الله ﷺ چي ما پښنه په رکیب کي د آس کښېښول ان قال یا معاذ احسن خلقک للناس، رواه مالک.

وعن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ ان من احبکم الي احسنهم اخلاقا، رواه البخاري، وعن عائشة رضی الله عنها قالت سمعت رسول الله ﷺ ان المؤمن لیدرک بحسن خلقه (چي مؤمن رسېږي په ښو اخلاقو سره) درجة قائم اللیل وصائم النهار (درجي ته د هغه چا چي قیام اللیل (یعني صلوة اللیل کوي) او چي روژه یې وي د ورځي) رواه ابو داؤد، وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لاصحابه رض اتدرون ما اکثر ما یدخل الناس الجنة قالوا الله ورسوله اعلم، قال فان اکثر مایدخل الناس الجنة تقوی الله وحسن الخلق، رواه الترمذي وابو داؤد.

وعن ابی الدرداء رضی الله عنه عن النبي ﷺ اثقل شیئ یوضع في المیزان للمؤمن یوم القیامة خلق حسن الی اخیر الحدیث. رواه الترمذي وقال حسن صحیح.

ترجمه: هغه ډېر دروند شی چي په ترازو کي ایښوول کېږي د مؤمن لپاره په



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورځ د قیامت خلق حسن دی، وعن جبیر بن مطعم رضي الله عنه چي په هغه وخت کي چي زه روان وم د رسول الله ﷺ سره چي د حنین په لاره کي صحرایان مسلمانان ولاړ وه، نو اعراب پر راجمع سوه د مال سوال یې څني کاوه، علیه الصلوة والسلام یې مجبور کړی الی سمرة (یوې ځنګلي درختي ته) په درخته کي د علیه الصلوة والسلام پټو بند سو، اعرابو هغه پټو حمله کړی، نو علیه الصلوة والسلام ودرېدی اعرابو ته یې وویل چي زما پټو راکړئ که زما سره وای په مثل د درختو ددې ځنګله اوښان لقسمت بینکم ثم لاتجدوني بخیلاً ولا کذوبًا ولا جبانًا (بزدل) رواه البخاري، وعن عائشة رضي الله عنها لم یکن رسول الله ﷺ فاحشًا (بد ویونکی ویو چا ته یعني بنکنځل یعني بالطبع) ولا متفحشًا (یا بد ویونکی تکلفًا) ولا سخابًا في الاسواق (نه یې لوی لوی ناري وهلې په بازارو کي) او چا ته یې په بد ویلو جزاء په سیئه سره نه ورکول ولکن یعفو ویصفح.

**درویش وایي:** چي احادیث صحیحه په حسن خلق کي د علیه الصلوة والسلام لا تکاد تحصٰی (مشت نمونه خروار، مقوله ده)

فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ﴿٥﴾ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ﴿٦﴾

ژر به ته وویني (یا محمد ﷺ، السین للتحقیق) دوی یعني کفار به هم وویني یوم القیامة چي څوک مجنون دی، الباء زائدة، وایکم مبتدا ده والمفتون بمعنی مجنون خبر دی.

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۖ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿٧﴾

په تحقیق رب ستا دانا دی په هغه چا سره چي واوړي له حق لاري څخه (یعني الکافرین، فهم نو دوی لېونیان دي علی الحقیقة فان مقتضی الجنون العدول عن الطریق الحق وهو دین الاسلام الثابت بالمعجزات) او خدای خبر دی په هغو کسانو چي پر هدایت وي وهم المؤمنون، هو ضمیر فصل دی للتاکید، (اعلم آه) متعلق دی با علم.

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٨﴾

او ته اطاعت مه کوه د هغو کسانو چي ستا او د مؤمنانو تکذیب کوي، وهم کفار مکة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوهنه:** چي کلمه د فاء لپاره د سببيت ده يعني اذا ظهر انک على الهدى والمكذبين على الضلال فلا تطعهم.

وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ﴿٩﴾

خوښه ده د مشركانو (دا جمله حال ده له المكذبين څخه په تقدير د قد كما هو القانون النحوي في الماضي الذي وقع حالا) كلمه د لو لپاره د تمنى دى بيان د وداد دى، ادهان مشتق دى له دهن څخه چي په پښتو يې معنٰى غوړه مالي ده. يعني كه ته نرمي وكړې له دوى سره چي د دوى بتان په بد نامه ياد نه كړې مثلاً چي دا بتان جمادات له خدايه سره په معبوديت كي هيڅ ځاى نه لري، يا مثلاً چي دا بتان نه نفع رسولاى سي چي څوک يې عبادت كوي او نه ضرر چي څوک يې عبادت ونه كړي (فيدهنون) نو دوى هم غوړه مالي ستا سره كوي او د نرمۍ څخه به كار اخلي. والفاء للسببية والمداهنة يكون من الجانبين لكن د دوى دا خوښه وه چي ادهان ستا دي دمخه وي وروسته به دوى هم ادهان كوي. والادهان من جانب رسول الله ﷺ دا دى بترک نهيهم عن الشرک او يا موافقه د دوى سره احياناً په بعض امورو كي، او مداهنت د دوى له خوا دا دى چي طعن په قرآن نه وايي يا موافقت ستا سره په بعضو امورو كي.

**مسئله:** مداهنت په امورو شرعيه ؤ كي د كافرانو سره حرام دى بالاجماع لكه د يهودانو چي دا عادت ؤ.

وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ﴿١٠﴾

تخصيص بعد التعميم دى، قتاده وايي چي دا آيت په وليد بن المغيرة كي نازل سوى دى، او بعض مفسرين وايي چي په اخنس بن الشريق كي نازل سوى دى، او بعض وايي چي په الاسود بن عبد يغوث كي نازل سوي دى.

**درويش وايي:** چي صحيح دا ده چي مراد له دې شخص څخه وليد بن المغيرة دى لدلالة ما بعد هذا يعني قوله تعالى ان كان ذا مال وبنين. ولي تاريخ صحيح وايي چي د وليد بن مغيره لس زامن وه وكان الوليد بن المغيرة موسر غاية اليسر في ذالک الوقت چي نهه (٩) آلاف فضة يې درلوده او يو باغ يې په طائف كي هم درلودى او ده به خپلو زامنو او اقرباؤ ته ويل من تبع منكم محمداً لا انفعه بشيئ ابداً.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(کل حلاف) دا صیغه د مبالغې ده یعني ډېر قسمونه اخلي په حق او باطل کې به سبب د جهل ده په عزت سره د اسم الله وعدم مبالاته بالحنث (که په قسم کې حانث سي باک یې نه په کېږي) فتوی: علماء وایي چي ډېر قسمونه مکروه دي (مهین) ای حقیر الرائ والتدبیر، ولي چي ده عظمت د خدای ته دی پېژندلی والا لم یختلف به کثیراً.

هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ ﴿١١﴾

عیب ویونکی دی د خلګو او غیبت یې هم کوي، وقیل هو من یشیر بعینه وحاجبه الی عیوب الناس (مشاء بنمیم) صیغه د مبالغې ده یعنی تګ کوي په شیطانت په ماین کي د خلګو د یوه خبره وبل ته کوي چي په شر او جنګ یې سره اخته کړي.

مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾

ډېر منع کونکی دی یعني منع کوي نور خلګ له خیر څخه کالایمان والاسلام، یا منع کونکی د انفاق او عمل صالح څخه (معتد) متجاوز تر حد په ظلم کي (اثیم) یعني کثیر الاثم.

عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾

(عتل) قال الکاشفي سخت روی وزشت خوی انتهی، وفي القاموس الاکول (یعني ډېر خورک کوي) الجافي، غلیظ القلب (بعد ذالک) وروسته تر دغه مذکور رزائلو خویو چي په ده کي موجود وه او خدای پاک ذکر کړی یو بل شی هم په ده کي سته (زنیم) ملحق بالنسب في قوم ولیس منهم چي په عربي یې دعی بولي، او روح البیان وایي الذي تبناه احد (یعني په زوی ګلوي یې بولي یو څوک) ولیس بابن له في النسب في الحقیقة کما قال الله تعالی وما جعل ادعیائکم ابنائکم ذالک قولکم بافواهکم، وفي القاموس الزنیم هو المتهم في النسب انتهی، وهذا المعنی هو الانسب لان الولید المذکور وکان الولید ابن المغیرة قد اعاه ابانه بعد ثمانی عشرة من من ولادته یعني د مخه تر (١٨) کاله المغیرة ولید خپل زوی نه باله یعني ولد الزنی یې باله چي په پښتو یې ارموني بولي، اتلس کاله وروسته مغیره ولید خپل زوی و باله تر دي وختې یې ولد الزنی باله، وقال ابن عباس رضي الله عنهما المراد به ولد الزنی، وروی ذالک عن عکرمه وانشده هذا البیت زنیم لیس یعرف من ابوه یعني الام ذو جیب فیهم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درویش وایي:** چي تر ټولو تفسیرو تفسیر د ابن عباس او عکرمه‌ؓ ښایسته دی، ولي چي د ولید نور اوصاف او احوال چي تر زنیم د مخه ذکر سوه ددې تقاضا کوي چي دی ارمونی ؤ چي دغه اخلاق په ارموني کی یو ځای کیږي، او رب جل وعلا د هیڅ یو کافر دومره بدي نه ده ذکر کړې لکه د ولید بن المغیرة حتی د فرعون الامة یعني ابوجهل یې دومره بدي نه ده ذکر کړې، له دې څخه دا معلومه سوه چي ولید اخبث الکفرة ؤ عند الله عزوجل، والله اعلم.

اَنۡ کَانَ ذَا مَالٍ وَّ بَنِیۡنَ ﴿۱۴﴾

فالتقدیر ان کان متعلق دی په نهی سره في لاتطع، یعني د عمومي خلګو خو دا عادت وي چي اطاعة د اصحاب مال والثروة کوي خصوصًا اذا کان ذوبنین کما الولید بن المغیرة، ولکن ته یا محمد (ﷺ) دده اطاعت مه کوه.

اِذَا تُتۡلٰی عَلَیۡهِ اٰیٰتُنَا قَالَ اَسَاطِیۡرُ الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۱۵﴾

چي تلاوت وکړل سي پر نامورې سړي یعني الولید بن المغیرة د آیاتو زموږ یعني آیات القرآن دی وایي (په حذف د مبتدا، ای هذه) قصې د پخوانیو خلګو دي.

**پوه سه:** چي اساطیر جمع د اسطورة ده چي د دروغو قصو ته وایي، نو دده خبیث مراد دا ؤ چي د قرآن آیتونه د پخوانیو خلګو د دروغو قصې دي یعني من عند الله نه دي، لکه قصه د فرعون سره د قوم ه غرق سوه او د نوح په طوفان کي ټول انسانان غرق سوه الا اصحاب السفینة الی غیر ذالک.

سَنَسِمُهٗ عَلَی الۡخُرۡطُوۡمِ ﴿۱۶﴾

ژر دی چي موږ به علامه ورکړو دده پر پزه دده.

**پوه سه:** چي خرطوم د فیل یا د خنزیر پزې ته وایي، نو ولید یې مشابه کړی د فیل یا د خنزیر سره او پزه دده یې مشابه کړه د خرطوم سره.

**درویش وایي:** چي دا آیت جمله مستأنفه ده بالوعید والتهدید، قال الفراء اللغوي چي مراد له خرطوم څخه ټوله مخ دی، ولي چي بعض د شي لکه دلته خرطوم چي پزې ته وایي تعبیر د کل څخه چي وجهه ده روا دی په عربیت کي، او ابو العالیه او مجاهد وایي چي مخ دده به تور وي او دا به دده علامه وي په آخرت



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كي، وهذا التفسير ليس كما ينبغي. ولې چې په ورځ د آخرت كې خو د ټولو كافرانو مخان تور وي. او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې دا پېزې نخښه پر پېزه د وليد په ضرب ما سبقه سره وسي و فعل الله ذالک يوم بدر.

**درويش وايي:** چې وهذا التفسير اولى و احراء دى بالقبول من الاول كما ذكرنا.

**درويش وايي:** چې صاحب الكشف وايي: وهذا اى العلامة على انف الوليد په غزاء كې د بدر ضعيف لان الوليد مات قبل يوم بدر، فلم يكن فلم يوسمه بعلامة يبقى في انفه الى وقت موته انتهى.

**درويش وايي:** چې زه حيران يم چې د سيد المفسرين ابن عباس رضي الله عنهما چې هغه وايي سنحمله بالسيف وفعل ذالک يوم بدر انتهى. په قول عمل و كړم او كه د صاحب الكشف په خوله. مطالعه كونكو د تفسير ايوبي فتوىٰ تاسو راكړئ چې د چا يعني د رئيس المفسرين عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما خبره قبوله كړم او كه د صاحب الكشف خبره ومنم؟.... مصرع: زما ايمان دى پر خبره د صحابي ابن الصحابيؓ.

## إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ

يعني اهل مكه بالقحط والجوع كما دعى رسول الله ﷺ (چې ښېرا وكړه) و اهل مكه ته. وقال اللهم اجعل عليهم سنين (يعني د كاختى كلونه بعدم المطر عليهم وعلى الواردين لهم بالطعام) كسبع يوسفؑ، چې قصه يې مشهوره ده او په خپل ځاى كې د تفسير مذكوره ده. نو داسې لوږه پر اهل مكه خداىؑ مسلطه كړه چې هډوكي به يې خوړل. دا آيت جمله مستأنفه ده استيناف بياني في جواب سوال مقدر يعنى ما فعل بهم (اى اهل مكة) حين كذبوا النبي ﷺ وقالوا مجنون. فاجيب انا بلوناهم الى اخيره.

**پوه سه:** چې كاف لپاره د تشبيه دى او كلمه د ما مصدريه ده او الف و لام په الجنة كې لپاره د عهد دى يعني يو معين باغ چې بيان به يې راسي ان شاء الله تعالى. وتقدير الكلام لكه ابتلاء د خاوندانو د باغ.

**درويش وايي:** چې په باغ كې اختلاف دى چې باغ چېرې وُ. روح المعاني وايي چې المعروف خبرها (مشهوره خبره د دې باغ) په نېز د مفسرينو كانت بارض اليمن بالقرب فيهم (اى اهل يمن قريبًا من صنعاء اليمن يؤدى حق الله اى العشر)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فمات صاحبها وورثها ثلثة ابناء فمنعوا خبرها (اى خبر صرامها) عن الناس،
واخرج ابن المنذر وغيره عن ابن جريج كانت بارض اليمن يقال لها صروان بينها
وبين صنعاء ستة اميال، واخرج ابن ابى حاتمؒ عن بن عباسؓ هم كانوا من الحبشة
كانت لابيهم جنة وكان ابوهم رجل صالح وكان يطعم المساكين فمات فقال بنوه انه
كان ابوهم لاحمق اذ حيث يعلم المساكين وقت صرامها فاقسموا كما سيجيئ في
القرآن وفي رواية السهيلي هي جنة بصروان على مراسخ من صنعاء، وفي فتح
الرحمن الجنة بستان يقال له الضروان وكان اصحاب هذا البستان بعد وقع
عيسى ؑ بيسير وكان صاحب البستان وهو رجل صالح يأخذ منها قوت سبعة
ويتصدق بالباقي وكان ينادي الفقراء وقت الصرام فيأتون بلكې په دې باغ کې د
کښت مځکه هم وه او هغه وريې چې د منجل څخه به خطا سوه هغه د فقراؤ وه، او د
خورماؤ تر درختو لاندي به کمبلي اواري وې چې خورماوي يې پر راشوه کولې،
که به خورما د کمبلي څخه خطا سوه هغه هم د فقيرانو وه، نو په دې طريقه سره به
فقراؤ ته ډېر مال تېول سو، نو د صالح سړي زامنو ووېل چې دا کار چې زموږ پلار
کاوه عيال يې لږ وه او مال يې ډېر ؤ، اوس خو عيال ډېر سو نو د پلار پر نقشه موږ
نسو تلای، فتحالوا بينهم كما حلى الله عن ضعيهم.

إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ۝ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ۝

چې دوی قسم سره وکړی چې موږ به پرې کوو مېوې د باغ په وخت کې د
سپېدو يعني د مخه تر دې چې مسکينان راخبر پړي (ولايستثنون) حال دى من
فاعل اقسموا يعني قائلين انشاء الله، نو معنى د انشاء الله عمومًا دا ده افعل
الفعل كذا ان شاء الله ولا افعل الا ان شاء الله، نو چې لفظ الا پکښې راغلى به دې
سبب ان شاء الله ته استثناء وايي فافهم.

فَطَافَ عَلَيْهَا طَائِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَائِمُونَ ۝

نو وګرځېده پر دې باغ بلا (يعني بلا پر نازله سوه بالليل، وهو نار نازل من
السماء چې د باغ درختې يې تولې وسوځولې) له جانبه څخه د خدای ، او حال دا ؤ
چې دوی يعني په وخت کې د نزول د طائف دوی بيده وه.



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ﴿٢٠﴾

وګرځېدې باغ (کالصريم) فعيل دی په معنی د مفعول دی ای البستان کالذي صرم (ای قطع ثمارها بحيث لم يبق فيها) او يا معنى دا ده لکه شپه باحتراقها واسوادها من قرط البيض، وقال الحسنؒ ای صرم منها الشجر فليس فيها شيئ، وقال ابن عباسؓ لکه توري ايرې په لغت د خزيمه (چي د يو قوم نوم دی د هغه په لغت کي صريح تورو ايرو ته وايي)

فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَارِمِينَ ﴿٢٢﴾

يو د بل سره يې نارې کړې چې د سپېدو وخت داخل سو (ان) مفسر دی د دوی د قول اعني تنادوا، له حرث څخه مراد باغ دی، که تاسي مېوې د باغ جمع کوئ يعني دمخه تر خبرېدو د فقراؤ.

فَانْطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ ﴿٢٣﴾ أَنْ لَا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ مِسْكِينٌ ﴿٢٤﴾

نو دا درې وروڼه راهي سوه پټ پټ سره ګډ وه، د دې سببه چي نه سي داخل و باغ ته پر تاسي نن ورځ يو مسکين، ولې چي مسکينان تر اوسه بيده دي، ولي چي عادت زمونږ د پلار داؤ چي په سپينه ورځ به يې صرام د باغ کاوه، نو مسکينان پر هغه عادت د پلار زمونږ په دې وخت د سپېدو کي بېغمه بيده دي.

وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ قَادِرِينَ ﴿٢٥﴾

دوی وګرځېده (غدوا) عطف دی پر انطلقوا باندي، والحرد في اللغة يکون بمعنى القصد مصدر په معنی د مفعول دی ای المقصود، وايضًا جاء بمعنى المنع والغضب، فقال الحسن والقتادة و ابو العاليةؒ على جد و جهد، وقال القرطبي و مجاهد و عکرمةؒ على مجمع چي دوی تړون سره وکړی پر منع د مسکينانو، والکل راجع الی القصد بالمعنى المذکور، وقال عبيدةؒ على منع المساکين وقال ابن عباسؓ على قدرٍ عند انفسهم على صرام جنتهم وثمارهم، وقال الشعبي و سفيانؒ على غضب المساکين ای حقوق المساکين.

**بوه سه:** چي على حرد متعلق دی به قادرين پوري، او هغه خبر دی د حرد، والجملة معطوفة على انطلقوا.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّا رَاَوْهَا قَالُوْٓا اِنَّا لَضَآلُّوْنَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٢٧﴾

چي دوی ولیدی جنت چي په اوور سوی ؤ او تک تور ؤ، نو دوی وویل، یعني اول وار خو يې داسي وویل: چي زمونږ څخه د خپل باغ لاره ورکه ده، نو دا خو زمونږ باغ نه دی، او يا معنی داده چي مونږ ګمراهان يو په منع کي د مسکينانو يا معنی داده چي مونږ ان شاء الله نه وویل، بلکې مونږ محرومه سوو د باغ د مېوو څخه.

قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿٢٨﴾

وویل میانه د دوی په عمر کي و اعدلهم او اعقل د دوی، دا جمله مستانفه ده، ما تاسو ته ؤ درته ويلي، الاستفهام للتقرير يعني درته ويلي مي وه. چي تاسي ولي تسبيح د خدای نه واياست، ظاهره معنی خو يې دا ده، والمراد منه الاستثناء اى ان شاء الله تعالى، وانما سمى الاستثناء تسبيحًا لانه اى الاستثناء تعظيم لله كما في التسبيح يعني غرض د سبحان الله ويلو څخه او د ان شاء الله ويلو څخه تعظيم د خدای دی لانه اقرار بانه لايقدر احد على شيئ الا ماشاء الله تعالى.

قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾

دوی وویل پاکي ده رب لره زمونږ له هر عیب او نقصان څخه بل عن كل ما لا يليق بشانه دا اقرار دی خپل په ظلم سره يعني الله بريئ عن الظلم فنحن الظالمون بمنع الفقراء وعن جنتنا (الظالمين) بمعنى المساكين كما مر عنقريب.

فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَلَاوَمُوْنَ ﴿٣٠﴾

نو مخ وا راوه يو بعض پر بل بعض باندي چي ملامتيا يې يو پر بل وييل في منع المساكين، يوه به ټولو ته ويل چي مسکينان دي منع کول. هغه بل به ټولو ته ويل چي د مساکينو د منع پلان دي تصويب کړی (فاقبل) عطف دی على قالوا.

قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا طٰغِيْنَ ﴿٣١﴾

دوی وويل چي ای هلاکته زمونږ راځه چي وخت دي دی، په تحقيق سره مونږ ؤ چي طغيان مو کړی يعني چي د خدای راکړي نعمت چي جنت ؤ شکر مو نه وواېه، قال العلماء النعمة صيد وشكرها قيد، كريمه: لئن شكرتم لازيدنكم.

**درويش وايي:** چي دا نداء د ويل عرب هلته وايي چي په ډېر لوی مصيبت اخته سي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوْنَ ﴿۳۲﴾

بنايي چي رب زموږ به عوض له جنت څخه (هغه چي موږ د فقراؤ منع پکښې مختاره کړه نو هغه باغ فحترقت) بل جنت راکړي هغه به خير وي تر دمخه جنت، ولي موږ د خداي فضل ته راغب يو، دا جمله دليل او علت دی د رجاء، علماء وايي چي رغبت و فعل ته د رب العزت موجب دی د انعام... بيت:

چون بلا فرود آيد بی دافعی ..... جزء تضرع نبود ديگر دافعی

**پوهه:** چي انا كنا طاغين اقرار بالمعصية وندم عليها وهو معنى التوبة، والتائب من الذنب كمن لا ذنب له (الحديث) قال البغوي قال ابن مسعود بلغني ان القوم اي اصحاب الجنة اخلصوا التوبة والرغبة الى الله تعالى، او خدای عزوجل ته د دوی صدق او اخلاص هم معلوم سو، نو دوی ته يې بل باغ چي حيوان يې باله چي په هغه كي انگور وه چي يو وابنكی د هغو انگورو ديوي غاتري بارؤ.

مصرع:..... با كريمان كارها دشوار نيست

وفي روح البيان قال العلماء ان الله امر جبريل ان يقلع تلك الجنة المحرقة فيضعها اعز من ارض الشام، اى موضع قليل النبات ويقلع من الشام جنت العنب الكثير ويظلها موضع الجنة المحرقة، والله اعلم، ولا يبعد امثال هذا ممن خلق الارض والسموٰت العلى.

كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ۗ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۳﴾

(كذالك) خبر دی او العذاب يې مبتداء ده، اى كما فعلنا باهل مكة من قحط سنين كمامر و باصحاب الجنة كمامر عنقريب، العذاب في الدنيا على ترك شكر النعمة (و لعذاب الآخرة) او عذاب د ورځي د قيامت چي دوزخ دی چي پر كفر او معاصيو او ترک الشكر ومنع الزكوة دا اشد دي تر عذاب د دنيا كه دوی يعني كافران او اهل عصيان او د نعمت ناشكران په دي پوهيدای، نو يعلمون متعدي دی او مفعول يې محذوف دی او يا كانوا من اهل العلم نو لازمي دی، او جواب د لو محذوف دی اى ما فعلوا تلک الامور المذكورة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٣٤﴾

په تحقیق هغو کسانو لره چي تقوی لرونکي وي چي عبارت د ایمان او عمل بالاوامر الالهية کوي مع ترک المنهيات په نېز د خدای دوی لره جنات النعيم دی چي دا ليس فيها الا النعمة وليس فيها الفناء والقطع كما في نعيم الدنيا.

**پوهسه:** چي دا مستانفه چي لپاره د وعد د مؤمنانو يې راوړه بعد وعيد المجرمين كما هو قانون القرآن الكريم.

**شان نزول:** مشرکانو د مکې به ویل چي که چېري قیامت واقع هم سي موږ ته به راکړه سي بالاتر هغو جنتو او نعمتو چي مسلمانانو ته ورکړل کېږي یا برابر د دوی د نعمتو كما في الدنيا، قال الله تكذيبا لهم في هذه الدعوى.

أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾

آيا موږ به ګرځوو والاستفهام للانكار.

**پوهسه:** چي انکار د تماثل ددې دوو ډلو مستلزم دی دې لره چي تفاضل د مجرمينو خو په طريق اولى نسته (مالكم كيف تحكمون) څه سبب دی تاسي ځرنګه دا حکم کوئ.

**اعراب:** کیف حال دی له فاعل څخه د تحکمون مقدم یې کړی پر عامل چي تحكمون دی لان كيف الاستفهام يقتضي صدارة الكلام. والمراد من الحكم الجدال المحض دی على العقل الصحيح والنقل لان العقل يحكم ان المطيع لله يكون احسن حالاً من العاصي كما لا يخفى.

أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾

ام منقطعه دی په معنی د بل آه. او بل لپاره د انتقال دی من دليل الى الآخر والهمزة للانكار. والمعنى تاسي لره کتاب سته چي نازل دي من السماء وي. والمعنى الانكار چي داسي خو هم نه ده (فيه) چي په هغه کتاب کي (تدرسون) ای تقرؤن.

(ان لكم فيه) ای في الكتاب تاسي لره هغه شی سته چي ستاسي خوښ وي د خپلو ځانو لپاره من النعيم وتشتهيه انفسكم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَمْ لَكُمْ اَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ اِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۹﴾

ای ثبت ایمان یعني وعدې دي د خدای چي مؤکد بالایمان (ایمان) فاعل دی د لکم ای ثبت، چي پای ته رسېدلی وي په تاکید کي تر قیامت پوری. متعلق دی په مقدر سره في لکم ای ثابتة لکم علینا الی یوم القیامة چي خدای به له عهدې څخه د هغه نسسي وتلای حتی تحکم بحکمکم في ذالک الیوم (ان لکم لما تحکمون) متعلق یعني جواب دی د قسم چي د ذکر څخه د ایمان و فهمېدی. والمعنی امرا قسمنا لکم ان لکم ماتحکمون.

سَلْهُمْ اَيُّهُمْ بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ﴿۴۰﴾

ته یا محمد (ﷺ) له دوی څخه پوښتنه وکړه چي څوک دی ستاسي په دغه حکم سره ای قائلهم یدعیه چي دی دعوی کوي نو هغه ظاهر کړي چي د دې حکم دعوی تصحیح کړي، نو به دوی د هغه زعیم تقلید کوي.

**پوه سه:** چي په دې آیتو کي تېولي لاري د تسویه د کفارو د مؤمنانو سره عند الله تعالی یعني کافرانو ته به هم خدای جنتونه ورکوي لکه مؤمنانو ته. لکه کفارو د مکې چي دا دعوه کوله کمامر قال المشرکون من اهل مکة انا لعطی في الآخرة علی تقدیر وقوعه افضل مما تعطون او مثله کما اعطینا في الدنیا، وقد مر هذا الکلام مع تفسیره قریبا.

اَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ ۚ فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿۴۱﴾

یا دوی لره شرکا سته یعني الاصنام في الآخرة، لکه مؤمنانو لره چي خدای واحد لاشریک دی په ورځ د قیامت، نو دوی دي راولي خپل شرکاء او دا دي ثابته کړي چي دا شرکاء په څه شي کي د خدای شریکان دي، په علم یا په قدرت یا په اراده کي یا په خلق السموات والارض کي بلکې په خلق کي د مېږي الی غیر ذالک ذی عقل وغیره دا خبره په باره کي د بتانو نسي ثابتولای.

**درویش وایي:** چي څوک د دوی یعني د مشرکانو عنادا و تعصبا دعوی د شراکت د اصنامو د بعض شیانو وکړي دستي به دده دعوی پر بطلان په ابن اخت خالته به شاهدي پر اداء کړي کما لایخفی فافهم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

## يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ

دا ظرف دی متعلق دی په اذکر پوري، او روح المعاني وايي چي يا متعلق دی په فليأتوا پوري وايا كان فالمراد بذالک اليوم عند الجمهور يوم القيامة ده. والساق ما فوق القدم الى الركبة او لڅول د ساق والتستير عنها (يعني پايڅې پورته کول له پندې څخه) مثل في شدة الامر چي يو كار سخت سي حتى لفظ د كشف الساق په داسي ځای کي هم مستعلېږي چي لا يتصور ساق بوجه كما في قول الشاعر:

عجبت من نفسي و من اشفاقها ..... ومن طواء الخيل عن ارزاقها
في سنة كشفت عن ساقها ..... حمراء ابرى اللحم عن مراقبها

**پوه سه:** چي سنة د كاختي، و كال ته وايي كشفت صفت د سنة دی عن ساقها متعلق دی په كشف پوري، نو سنة ته خو ساق متصور نه دی و مع هذا قال عن ساقها چي ضمير راجع و سنة ته دی فافهم.... وقول الحاتم:

اخو الحرب ان عفت به الحرب عفها .... وان شمرت عن ساقها الحرب شمراً

په شعر کي ضمير د شمرت او د ساقها دواړه راجع و حرب ته دی چي مؤنث سماعي دی مع ان الحرب لا ساق لها، والى هذا يعني چي مراد د كشف الساق څخه شدة الامر دی والى هذا ذهب المجاهد و ابراهيم النخعي و عكرمة وجماعة، وقد روى ايضًا عن ابن عباس چنانچه اخرج عبد حميد وابن المنذر وابن ابى حاتم والحاكم والبيهقي في الاسماء والصفات من طريق عكرمة چي چا له ابن عباس څخه پوښتنه وکړه د دغه آيت په باره کي (يشكف عن ساق) فقال اذا اخفى عليكم شيئ من القرآن فاتبعوه في الشعر فانه ديوان العرب، كما في قول الشاعر:

صبراً عناق انه شر باق ...... قدس لى قومك ضر الاعناق
وقامت الحرب بنا على ساق

**درويش وايي:** چي روح المعاني وايي والروايات عن ابن عباس بهذا المعنى كثيرة (يعني چي و يكشف عن ساق مثل في شدة الامر كمامر) انتهى قول روح المعاني، او روح البيان هم ورته معنى بيان کړې ده حيث قال يوم يشتد الامر ويصعب الخطب وشقه ههنا مثل في ذالک والا فلا كشف ولا ساق، دی وايي چي د سري لاسونه پرې وي لكن بخيل وي نو عرب وايي يد فلان مغلولة ولا يد ثمة ولا


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غل، څو ليکي وروسته يې ويلي دي فکشف الساق استعارة تمثيلية آه. بيان د دې استعارې په علم بيان کې مطالعه کړئ. او مظهري معني له ساق څخه ظاهره اخستې ده او يو حديث طويل غاية الطول د بخاري او مسلم يې رانقل کړی دی ان شئت فطالع المظهري، ما نه اين کار ميکنم ونه انکار ميکنم. يعني نقل الحديث الطويل. وقال المولى الفناري في تفسير الفاتحة فالساق التي کشفت لهم عبارة عن امر عظيم من اهوال يوم القيامة (يعني د بېرې شيان د ورځې د قيامت) مولى فناري وايي چې عرب وايي: کشفت الحرب عن ساقه (جنګ پنډۍ لڅه کړه) چې جنګ به شدت پيدا کړي، وکذا مثل بقوله تعالى التفت الساق بالساق ظاهر ترجمه خو يې دا وه چې يوه پنډۍ پر بله پنډۍ وپېچل سوه لکن معنى يې دا ده چې دخلت الامور العظام والاهوال بعض په بعض په ورځ د قيامت. او بعض مفسرين وايي چې ساق د شي هغه شي ته وايي چې په هغه سره د قوام مربوط وي کساق الشجر وساق الانسان. فالمراد يوم يکشف عن اصل الامر فتظهر حقائق الامور واصولها بحيث تصير عيانا واليه يشير کلام الربيع بن انس فقد اخرج عبد بن حميد عنه انه قال حين يکشف الامر وتبکوا الاحمال (يعني ما کانت لوجه الله فقط وما اختلف به السمعة والرياء وما کانت على وجه الاحسان او غيره) والحديث اورده المظهري چې مراد له ساق څخه ساق الله سبحانه وتعالى دی فالآية من المتشابه الذي نؤمن به ونکل علمه الى الله تعالى.

**درويش وايي**: چې دا ؤ نقل د مختلفو تفاسيرو د حاصل وما على الفقير الا ذالک. والله اعلم بمراده في کتابه.

وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾

دوی راوبوله سي وسجدې کولو ته. قال المظهري اى المؤمنون من الابرار والفجار وهذه الدعوة ليست من باب التکليف اذ ليست الآخرة دار التکليف (يعني بل للتمييز بين الابرار والفجار) فلا يستطيعون: اى العصاة منهم لصيرورة ظهورهم صبقة واحدة انتهى. ما قال المظهري، وقال صاحب روح البيان اى الکفار والمنافقون الى السجود توبيخا عظيمًا على ترکهم السجود في الدنيا.

**درويش وايي**: چې ويدخل في زمرتهم بعض المؤمنين التارکين للصلوة طول

اعمارهم كما شاهدت في جواري رجالاً لا يصلون الصلوة اليومية اصلاً ولا يتأتى منهم، لما في الحديث اتبقى اصلابهم طبقًا واحدًا انتهى ما في روح البيان مع زيادة، او روح المعاني وايي: وفي الحديث قصير اصلاب المنافقين والكفار كصاحبى البقر.

**درويش وايي:** چي روح المعاني او روح البيان متفق دي چي يدعون ضمير راجع دى و كفار او منافقينو ته، سوى المظهري فانه ارجع الضمير الى المسلمين الفجار فافهم، خذ ما صفى ودع ما قدر، والله اعلم.

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ

عاجزي به وي ستركي د دوى لما روى من العذاب، حال من المرفوع في يدعون.

**پوه سه:** چي نسبت د خشوع و ستركو ته وكړي لظهور اثر الخشوع، پښتانه وايي: ستركي يې مړې نيولي وي، والا فاعضاء كلها خاشعة ذليلة متواضعة بل الخاشع في الحقيقة قلوبهم لانها مدركة للعذاب.

(ترهقهم ذلة) د دوى ملاقي ذلت خواري او بېره ده.

وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ سَالِمُونَ ﴿٤٣﴾

او دوى بلل كېدل و سجدې ته يعني الى الصلوة من ذكر الجزء ارادة الكل يعني في الدنيا (وهم سالمون) او په دنيا كي خو دوى سالم وه عن كون ظهورهم طبقة واحدة.

**پوه سه:** چي د وهم سالمون حال دى د يدعون الثاني څخه وقوله تعالى خاشعة ابصارهم ترهقهم ذلة وكان يدعون، ټول له حال دي له فاعل څخه د يدعون الاول.

**فائده:** په قول كي د خداى وقد كانوا يدعون الى السجود وهم سالمون تعليل د عدم طاقت د سجدې كولو د دوى په آخرت كي.

فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا الْحَدِيثِ

خداى پاك وايي چي: ته يا محمد (ﷺ) پرېږده ما يعني د دوى تكذيب په سبب زړه مه تنګوه ما ته يې پرېږده دغه كافران چي دوى تكذيب كوي په دي خبره سره چي عبارت له قرآن مجيد څخه او تسلي ده د عليه الصلوة والسلام چي د مكذبينو د قرآن په مكافات ورکړم او عذاب شديد به ورکړم.

**درویش وايي:** چي اهل لغت وايي چي الحديث قرآن ته هم وايي وكل كلام يبلغ الانسان من جهة السمع ته هم وايي او الوحي في يقظة ته هم وايي فلا يرد ما يتوهم فافهم.

سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٤﴾

ضمير د هم په (سنستدرجهم) كي راجع دى و من ته باعتبار المعنى يعني من كه څه هم مفسر لا دى لفظًا لكه جمع يعني لان المراد به جميع المكذبين بالقرآن دى، په تاج المصادر كي وايي چي الاستدراج اندك اندك نزديک كرده رسانيدن خداى تعالى بنده را بخشم و عقوبت خود انتهى، وقيل معناه ستنذلهم الى العذاب درجة درجة الى العقاب فدرجة بالاحسان و درجة بالصحة والعافية و درجة بازدياد النعمة حتى لوقهم في العذاب بغتة (من حيث لايعلمون) چي دوى نه پوهيږي چي دا به استدراج وي بلكې دوى په دغو نعمتو سره خپل تفضل پر مؤمنانو بولي، وفي الحديث الصحيح قال رسول الله ﷺ اذا رئيت الله ينعم على عبد وهو مصر على معصية (اى كبيرة ورأسها الكفر) فاعلم انه مستدرج (على صيغة اسم المفعول اذا رجع الضمير الى عبد) او على صيغة اسم الفاعل انه ارجع الضمير وانه الى الله تعالى) وروى ان رجلا من بني اسرائيل قال كم عصيت وانت لا تعاقبني (زه څومره ډېر ګنهونه كوم او ته ما ته عقاب نه راكوې) فاوحى الله الى نبي زمانه ان قل له كم من عقوبة عليک ولا تشعر كونها عقوبة. الحاصل چي ګناهونه كوي او زما خوا په عافيت كي ژوند كوي و الاستدراج مني كمامر معناه.

وَأُمْلِي لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾

او زه دوى ته مهلت وركوم.

**پوه سه:** چي كيد مكر ته وايي چي مراد ځني عذاب د خداى ؒ دى من حيث لم يحتسبوا، او داغه رنګه كيد مكر او حيله ته وايي چي په پښتو يې چم بولي چي معنى يې اظهار دى د خلاف د ما اظهر.

**سوال:** نسبت د كيد و خداى ؒ ته څرنګه روا دى؟

**ځواب:** صورت د معامله د خداى ؒ د دوى صورت د كيد دى نو مجازًا يې كيد



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بولي چي د خدای د انتقام دي په صورت کي د کيد دی د والکيد ماقلنا وما قال صاحب روح المعاني، وتسمية كيدًا لا وهو ضرب من الاحتيال لكونه في صورته من حيث انه سبحانه يفعل معهم ما هو نفع لهم ظاهرًا ومراده تعالى الضرر لهم لما علم الله سبحانه من باطنهم وتماديهم (همېشه والی) في الكفر والمعاصي وهكذا قال البيضاوي وروح البيان.

**فائده:** علماء د دين قويم وايي چي که چا معصيت کاوه وعقب عليه مثلًا بالفقر ومرض في البدن وكثرة الاعداء يرجى مغفرة معصية ومن ارتكب معصيت ثم يرى ازدياد النعمة عليه يومًا فيومًا يخشى عليه المكر من الله عزوجل والاستدراج نعوذ بالله من ذالک.

أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾

کلمه د ام منقطعة ده په معنی د بل آه، بل لپاره د انتقال دی من دليل الى دليل آخر. او همزه لپاره د استفهام انکاري دی يعني ليس من جانبه ﷺ طلب الاجر على التبليغ آيا عليه الصلوة والسلام ستاسي څخه يا کفار مکه طلب د تنخواه کوي پر تبليغ د دين اسلام، نو دوی کفار مکه په سبب د تنخواه درانه وه يعني دا تنخوا پر دوی درنه وه نو ځکه يې ستاسي څخه اعراض وکړی بلا حجة ورفع الغرامة.

أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾

آيا د دوی غيب موجود دی ای اللوح المحفوظ يا مراد ځني علم د مغيباتو دی.

**درويش وايي:** چي کلمه د ام پر قياس د ماقبل ده (فهم يكتبون) دوی له هغه څخه غيب شيان نوشته کوي، چي د هغو څخه دا دی چي محمد ﷺ رسول من الله نه دی او قرآن منزل من الله نه دی لکه کفارو د مکې چي به دا دواړي خبري کولي. جمله د ام عندهم عطف على جملة ام تسئلهم باندي.

**درويش وايي:** چي رب سبحانه وتعالى ټوله شکوک او شبهات د مکې والو دفع کړه بيا هم دوی لاړي تهدد حق منقاد نه سوه، اخير الامر يې عليه الصلوة والسلام په دې آيت مخاطب کړی.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

## فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

نو ته صبر وکړه یا رسول الله (یعني تا ته دا دربشکاره سوه چي دوی یعني د مکې مشرکان خو ایمان نه راوړي نو ته صبر وکړه پر ازار د دوی) و حکم ته د خدای ستا، یعني خدای پاک کفارو ته امهال ورکوي لا الاهمال او معامله د خدای عزوجل د دوی سره صرف او صرف استدراج دی لیکونوا مستحقین لاشد العذاب او ته یا محمد (ﷺ) زړه مه تنګوه او تلوار مه کوه په طلب کي د نزول د عذاب پر دوی مه کوه.

## وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوتِ

او ته مه ګرځه لکه صاحب د ماهي یعني لکه چي ماهي تېر کړی کما سیجیئ في القصة ان شاء الله تعالی، مراد له صاحب څخه یونس علیه السلام دی، مؤرخین او مفسرین وایي چي یونس بن متی علیه السلام عبد صالح وُ لکن په اخلاقو تنګ وُ، نو خدای چي دروند بار د نبوت پر ده واچاوه او ده دعوت و قوم ته شروع کړی قوم یې دده په ازار لاس پوري کړی او دده له نبوت څخه یې په انکار آواز بلند کړی، نو قصه یې هغه ده چي ابن مسعود رض روایت کړی دی وهکذا عن سعید بن جبیر و وهب بن منبه څخه ان الله تعالی بعث یونس الی اهل نینوی من ارض موصل وهم معا (۲۰۰۰) الف نفوس او یزیدون فدعاهم الی الله تعالی ای الی وحدانیته تعالی نو هغوا با وکړه خیر خو مدة تبلیغ د یونس علیه السلام جاري وُ فلم یزده الا فرارًا، نو ده ښېرا د هلاک ورته وکړه او داسي یې ورته ووېل: چي عذاب نازلېږي تر درو ورځو وروسته، قوم یې یو و بل ته سره ووېل چي موږ به پر ده دروغ ویل په دې تجربه کړو، نو و به ګورو که یونس تنه شپه په کور کي وُ نو هیڅ شی نسته وان لم یبت فیکم فاعلموا ان العذاب مصبحکم نو په سپېدو کي عذاب راځي، فخرج یونس في تلک اللیلة د دوی له مابین څخه، فلما اصبحوا اغشاهم العذاب، فکان فوق رؤسهم علی قدر میل (نو سو عذاب د دوی پر سرو په قدر د یوه میل) او آسمان پټ کړی توري وریځي خوفناکي چي دود پکښې وُ (خاقا شدیدًا) او دا وریځ او دود کرار کرار راکښته کېدل چي د دوی ښار او وطن یې په لپېټ کي ونیول، قوم یونس چي دا علامې



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وليدلې يقين يې سو د هلاکت فطلبوا يونس يونس بينهم نو يونس د شپې وتلى وُ
نو دوی ته کړی پیدا . فقذف الله التوبة من الشرک والمعاصي نو مشر دوي قوم
وويل چي يونس که نسته نو خدای د یونس خو ستـه، نو دوی ټولو زیږه کالي
واغوستل واظهرن الايمان والتوبة باخلاص النية، او ټوله حیوانات چي کوچنی
ولـد بـه يې درلودی مثلاً غـوا او ددې کـوچنی ګیلګی وعلى هـذا القیاس نور
حيوانات او ښځي چي کوچني شیرخواره عیال بې درلودی هر مـور بـه يې د خپل
اولاد څخه جلا کړه چي د موربه يې رمباړي وې او ولد بـه يې هم ناري وهلې نو
حیواناتو او د دوی د بچیانو ناري او د ښځو د اولادو بغاري او د نورو انسانانو هم
بغاري پر آسمان پورته سوې وتضرعوا الى الله تعالى ... بیت:

چون فرود آید بلا بی دافعی .... جزء تضرع نبود دیگر واقعی

فرحمهم ربهم وقالوا آمنا بما جآء به يونس ، واستجاب دعائهم فكشف
العذاب منهم بعد ما اظلهم وكان ذالک یوم عاشورا ، او یونس عليه السلام په یوه غره کي
ناست وُ منتظر د قوم د عذاب وُ ولم یر شيئًا یعني من العذاب، او په قوم کي د
يونس دا رواج وُ چي چا چي به دروغ وويل او شاهد به يې نه درلودی هغه يې قتل
کاوه نو یونس د ځان سره دا وويل چي زه به څرنګه ورځم و داسي قوم ته چي ما
وعده دوی ته د عذاب ورکړې وه هغه دروغ سوه یعني عذاب نه سو پر نازل (ولي
یونس عليه السلام په صورت حال د ایمان نه وُ خبر) نو که زه ورسم دوی به ما قتل کړي چي
تا ولي دروغ ویل د نزول د عذاب، فانطلق يونس الى البحر، نو هلته یوه کښتی
وه چي خلک پکښې سپرېدل له هغه د کښتی مالکانو دی پیژندی نو يې په کښتی
کي سپور کړی بیله اجره، کښتی چي یوه اندازه په دریاب کي ولاړه ودرېده نه مخ
ته تله نه شاته، نو د کښتی مالکانو دا وويل چي زموږ د کښتی دا عادت دی چي
مریی چي له باداره تښتېدلی وي او زموږ په کښتی کي سپور وي دا کښتی ځای
پر ځای درېږي فمن الابق من المولى فیکم چا بوغ ونه کړی. اخیر يې قرعه اندازي
شروع کړه، نو قرعه پر یونس ودرېده فاقترعوا ثلاثًا فوقعت على يونس كذا قال
ابن عباس، فقال يونس عليه السلام انا العبد الآبق من المولى نو ځان يې سره د کالو و
دریاب ته وغورځاوه د خدای عزوجل په امر ماهی ولاړ وُ خوله يې وازه نیولې وه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یونس یې تېر کړی، حوت (ماهي) ته خدای الهام وکړی چې دا سړی یعني یونس ستا غذاء نه ده انما جعلنا بطنک حرزًا و محبسًا وفي روایة سجنًا، بندي خانه.

**درویش وایي:** چې په یوه تفسیر کې بېله نوم اخیستو په دې ځای کې یې ښکرور درواغ ویلي دي چې نه په هیڅ تفسیر او نه کوم تاریخ کې راغلي دي تاسي د دې مقام تفسیر په تفاسیرو کې مطالعه کړئ شاید پر هغو درواغو به مو علم راسي، ابن مسعودؓ وایي چې ماهی داوبو یعني د دریاب پای ته ولاړی، د ابن مسعودؓ په روایت څلوېښت ورځې په بطن حوت کې ؤ حتی چې یونسؑ تسبیح د شکو واورېده فنادی في الظلمات ان لآ اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین وذالک قوله تعالی.

## إِذْ نَادٰى وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾

چې ناره یې کړه او دی ډک ؤ د غیظ او غم څخه لاجل الوقوع في المصیبة چې بېله اجازې د خدایؐ له قوم څخه ولاړی او د ماهي په نس کې د دریاب په پای کې په تکلیف سو. والظرف یعني اذ متعلق په اذکر مقدر سره لا بالنهي یعني قوله ولا تکن لان ندائه سبحانه امر حسن ولایمکن انیکون منهیًا عنه. وحاصل الکلام لاتکن یا محمد ﷺ اذ نادی بالتوبة والاستغفار وهو مکظوم حیث لم یکظم الا لاستعجاله بنزول العذاب وعدم الصبر.

## لَوْلَآ أَنْ تَدٰرَكَهٗ نِعْمَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ لَنُبِذَ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾

(لو لا) حرف امتناع حرف نحو المثال المشهور لو لا عليؓ لهلک عمرؓ (ان تدارکه) په معنی د ماضي ده ای ادرکه.

**سوال:** تدارکه خو فعل مذکر دی او نعمة چې فاعل یې مؤنث دی؟

**ځواب:** په منځ کې د فعل او د فاعل فصل واقع دی د تدارکه په ضمیر سره، نو عند الفصل یجوز تذکیر الفعل کما تقرر في کتب النحو. ویحتمل چې تدارکه دي بحذف تاء التفاعل وي.

**سوال:** دا حال د یونسؑ خو دېر ماضي ؤ تر نزول د قرآن نو تعبیر یې په مضارع وکړی حکمت یې څه دی؟



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

**خواب:** دې ته استحظار د هیئت عجیبه ماضیه وایي، ولي مضارع خو د حال لپاره هم راځي، ګویا په قرآن مبارک کې هغه حال عجیب د یونس عليه السلام دوی ته حاضر کړی لیتعجبوا منه الناس او دا مضارع مبتداء ده په تأویل د مصدر.

**سوال:** د تأویل د مضارع په مقدر سره خو ان مصدریه غواړي یا ما مصدریه او دلته هیڅ شی نشته؟

**خواب:** نحات وایي چې ګاهې مضارع من الحرفین المذکورین په تا د مصدر کېدای سي، ومثلوا له هذا المصرع: تسمع بالمعیدی خیر من ان تراه، تسمع مبتداء ده خیر یې خبر دی، ولهذا المصرع قصة طویلة عجیبة، نو چې تدارکه د مضارع له بابه د افتعال په معنی د مصدر سي، نو نعمة یې خبر دی قال وقال کیدای فافهم (من ربه) صفت د نعمت دی ای کائنة من ربه ای برحمته تعالی وتوفیقه للتوبة وقبولها منه (لنبذ) جواب د لولا دی (بالعراء) ای الارض الخالي کالاشجار والبناء (وهو مذموم) حال دی له فاعل څخه د نبذ ویتوجه اللفظ الی ذالک یعني هو مذموم نبذه وهو محمود، والحاصل لو لا رحمه الله جلالة لنبذنا بالعراء وهو مذموم علی عدم التثبت والخروج من اظهر القوم بغیر اذن الله وترک الاولی بعد ذنبًا بالنسبة الی الانبیاء لعلو شانهم وان لم یکن ذنبًا في الحقیقة کما ورد حسنات الابرار سیئات المقربین، وان لم یکن منافیة للعصمة فالمعنی ههنا لکن تدارکه الرحمة لما ناد الله یونس في الظلمات لآ اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین وتاب حینئذ فنباه بالعراء وهو سقیم یعني في الجسد وفي صورة الصافات محمودًا مرحوم.

فَاجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ ۝

ورد الوحي الیه الذي انقطع زمانًا. نو خدای مختاره کړی دی نو یې وګرځاوه د صالح بند ګانو څخه ای جعله من الکاملین في الصلاح بان عصمه من الفعل الذي کان ترکه اولی .... ابیات:

کارها از پی صبر گردد نا پسند ...... خرم آنکه از صبر باشد بهره مند
چون در افتادی بگرداب چرخ ....... صبر کن فالصبر مفتاح الفرج

**فائده:** دا آیات دلالت کوي پر فضیلت د صبر او بل پر دې چې ترک الاولی ګاهې د انبیاء علیهم السلام څخه صادریږي والا ما کان یونس عليه السلام ملیمًا، او بل پر دې



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلالت کوي ان الندم على ما فرط من العبد والتضرع الى الله لاجل ذالک من وسائل الاكرام من الله عزوجل بل پر دې دلالت چي توفيق من الله نعمة باطنة دى او بل پر دې دلالت کوي چي صلاح درجة عالية لا ينالها الا اهل الاجتباء وفقنا الله ذالک بمحض فضله وكرمه .... مصرع: ... باكريمان كارها دشوار نيست

شان نزول الآيات الآتية: قال البغوي ان الكفار ارادوا ان يصيبوا رسول الله ﷺ بالعين (چي په پښتو کي يې نظر بولي) وقد ورد في الحديث الصحيح ان العين حق. فنظر اليه قوم من قريش چي عائلين وه فنظروا الى رسول الله ﷺ وقالوا ما رئينا مثله ومثل حججه وقيل كان العين في بني اسد حتى چي يوه چاغه اوښه يا غويى چي پر دوى به تېرېدى دوى به نظر کړه نو به يې مينځي يا جاريه ته وويل چي لګن او روپۍ راواخله حتى چي د دغه اوښي يا غويي غوښي به راانيسو يو کړى چي به تېرېدى هغه اوښه يا غويى به غځار سو لغتي به يې وهلې حتى چي مالکانو به فورًا ذبح کړى، او الكلبي وايي چي يو سړى د عربو د قوم څخه داسي ؤ چي دوې يا درې ورځي به يې هيڅ شي نه خوړى ثم يرجع الى خبائه (خپلي خېمې ته) نو دده د خېمې سره به يو چاغ غويى يا پسه تېرېدى ده به داسي وويل لم ار بقرًا ولا غنمًا احسن جسمًا من ذالک فما يذهب الا قليلاً وقع على الارض فذبحه مالكه، فقال كفار مكة لهذا الرجل ان يصيب رسول الله ﷺ بالعين فعصم الله نبيه وانزل.

وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ

(ان) مخفف د مثقل څخه دى اسم يې ضمير شان محذوف دى او خبر چي ليزلقونک دلالت پر کوي كما تقرر في النحو چي هر ځاى چي د ان به خبر کي لام راسي ان مخفف د مثقل څخه دى.

ترجمه: قريب ده چي هغه كسان چي كفر يې اختيار کړى دى چي تا به وښوي. روح البيان او الكلبي وايي چي تا ته به صرع درپېښ کړي يعني لېوني به دي کړي، مظهري وايي چي په تا کي به نفوذ وکړي سترګي د دوى وقال السدي يصيبونک بعيونهم يعني تا ته به يو آفت درپېښ کړي.

(لما سمعوا الذكر) چي واوري دوى قرآن چي ته يې وايې، ولي چي عليه الصلوة والسلام ډېر حسن الصوت ؤ، والمعنى پر دې حسن الصوت به دې نظر



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي، جابر رضي الله عنه روايت کړی دی عن النبي ﷺ ان العين ليدخل الرجل القبر (يعني يو نر چي څوک نظر کړي قبر ته يې داخلوي يا بالفور يا ناجوړه سي اخير الامر قبر ته ولاړ سي) والجمل القدر: او اوښ چي نظر سي تر کټوي يې رسوي، اخرج هذا الحديث ابو نعيم فی الحلية وابن عدي عن زر رضي الله عنه مثله، وفي بخاري و مسلم وغيرهما عن ابی هريرة رضي الله عنه العين حق.

**درويش وايي:** چي د حقيقت په باره کي ډېر احاديث صحيح ستنه لکن کاشفي" وايي چي حق تعالى براۓ عصمت وی يعني رسول الله ﷺ اين آيت فرستاد، او الحسن البصري" وايي من سره د واء الاصابة بالعين ان تقرء هذه الآية وكان رسول الله ﷺ يعوذ (يعني دم يې کاوه) الحسن والحسين رضي الله عنهما فيقول اعوذ بكلمات الله التامات من كل شيطان وهامة ومن عين لامة.

**سوال:** فقير! تا به دوران کي د خبرو وويل چي عليه الصلوة والسلام پر حسن او حسين دم وکړی چي رقيه يې بولي په عربي ژباړه او سره دد ي چي سلفيان او کتېر وهابيان رقيه کول حرام بولي؟

**ځواب:** علماء د اهل السنة والجماعة وايي چي رقيه هلته مکروه ده چي په ماسوی د عربي ژبي وي ولايدری ماهو يعني په ژبه کي درک نه معلومېږي چي دا الفاظ او معنی څه ده؟ وجه الحرمة چي په معنی يې څوک نه پوهېږي شايد د سحر يا د کفر الفاظ يا د شيطانانو نومان يې پکښې ويلي وي چي خلک يې منتر بولي واما الرقية بالقرآن ای ببعض سور کسورة الفاتحة والمعوذتين او ببعض آياته فحسن صحيح کما لايخفی، په پښتو يې دم بولي په عربي يې رقيه بولي او په فارسي يې آفسون بولي.

**پوه سه:** چي نظر په انس سره خاص نه دی بلکي ګاهي د جن له خوا وي کما روی عن ام سلمة رضي الله عنها ان النبي ﷺ رئ جارية في بيتها (تعني ان النبي ﷺ دد ې په خونه کي ؤ) جارية يوه نجلی، وه چي ناجوړې وه او مخ يې ژړ ؤ فقال لها استرقوا لها فان بها فطرة اصابت لها من الجن کما في شرح المصابيح.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾

نو هغهٔ چي دوی قرآن واوریدی نو دوی به ویل دا سړی لیونی دی.

وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٥٢﴾

او نه دی دا (یعني قرآن) مګر ذکر ای موعظة یعني نصیحت دی (للعالمین) یعني قرآن له دې جملې څخه نه دی چي مجانین دي تکلم پهٔ وکړي بل القرآن ذکر عام دی د ټولو اعیانو لپاره من الانس والجن انزله رب العالمین رحمة لهم. وعن حنظلة بن صفوان رض چي دی د ابوبکر ﷺ په مخه ورغلی، نو ابوبکر رض پوښتنه څني وکړه کیف انت یا حنظلة دی وایي وویل نافق حنظلة، قال ابوبکر رض سبحان الله ما تقول دی وایي ما ورته وویل چي موږ چي په مجلس کي د علیه الصلوة والسلام ناست وُ او ده موږ ته نصیحت کاوه په جنت او په نار سره موږ ته دا جنت او نار داسي وګرځي لکه موږ چي یې په سترګو سره وینو. فاذا خرجنا من عندک وعافتنا الازواج والاولاد والصبیان نسینا کثیرًا في الذکر اخیر خبره یې علیه الصلوة والسلام ته ورسول. نو رسول الله ﷺ ورته وویل که تاسي پر هغه حال باقي وای لکه زما نصیحت ته چي به ناست واست. نو به ملکو ستاسي سره مصافحه کولای ملکو پر فراش ستاسو او په لارو کي ستاسو لکن حنظلة ساعة فساعة یعني ګاهي چنین و ګاهي چنان، رواه مسلم.

**فائده:** عن الحسن رح دواء اصابة العین ان یقرء الانسان یعني المعان بنفسه که یې دا آیت په یاد وُ او یقرئها علیه غیره، په حدیث مرفوع کي راغلي دي چي چا پوښتنه وکړه د علیه الصلوة والسلام څخه چي اولیاء الله څوک دي؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي هغه کسان دي چي د دوی په لیدو سره د سړي خدای ج ور په یاد یږي.

ختم بتوفیق الله عزوجل تفسیر سورة القلم یوم الاربعاء وقت الضحی ١٥ تخمینًا د جمادی الاخیر سنه (١٤٣٣) هجري قمري.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ٠٧٤٩٨٤٩٥٦٩



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الحاقة مكية وهي ثنتان وخمسون آية وفيها ركوعان

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## ٱلۡحَآقَّةُ ۝١ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ۝٢ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ۝٣

له اسماؤ څخه د قيامت دی سميت بها لانها حق وثابت وقوعها لاريب فيه او يا يې له دې سببه الحاقه بولي لانها يظهر حقيقة اعمال العباد (ما الحاقة) څه شي ده ورځ د قيامت، الإستفهام لتعظيم شانها وتخويف حالها، كلمه د ما مبتداء ده او ادراک يې خبر دی، والاستفهام للانكار والجملة الاستفهامية لپاره د تهويل د شان د مفعول الادراک ده، او معنى د آيت دا ده الحاقة ماهی ای شيئ عظيم من العقل لا تعلم حقيقتها وكنهها.

## كَذَّبَتۡ ثَمُودُ وَعَادُۢ بِٱلۡقَارِعَةِ ۝٤

تكذيب وكړی ثموديانو، قوم د صالح عليه السلام دی او تانيث د كذبت چي مسند دی و ثمود ته باعتبار تأويل ثمود بالقبيلة (وعاد) او قوم عاد چي د هود عليه السلام قوم دی (بالقارعة) دا هم له نومانو څخه د قيامت دی سميت بالقارعة لانها تقرع قلوب الناس بالافزاع والاحزان (چي دا ورځ ټكوي زړونه د خلكو په افزاعو په پرونكو حالاتو سزا او په غمو سره)

**سوال:** د القارعة څخه هم مراد ورځ د قيامت ده چي دمخه تعبير په الحاقه سره شوی وسو، نو بايد چي تعبير په ضمير شوی کړه سوی وای يعني وكذب ثمود وعاد بها؟

**ځواب:** دې ته وضع د مظهر په ځای كي د مضمر بلفظ مرادف له مع زيادة وصف القرع الذي ليس في الحاقة.

## فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهۡلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ ۝٥

دا جمله تفصيل ده د ما اجمل في الجملة الاولى يعني كذبت آه، او دا جمله عطف ده پر كذبت والفاء للسببية، وحاصل المعنى كذبت ثمود وعاد بالقارعة نو دوی هلاک سوه د تكذيب د القارعة فالثمود فاهلكوا بالطاغية ای الصيحة (نعره) جاوزت مقادير الصياح، كذا قال قتادة" وهو الصحيح وذالک ان جبرئيل عليه السلام يأمر



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ربه تعالى صياح صيحة واحدة فهلكوا جميعًا فلم يبق صغيرهم ولا كبيرهم ذكرهم ولا اناثهم، او په بعضو روايتو كي راغلي دي چي پر دوی يوه صيحه د آسمان له خوا چي په هغه كي آوازونه د هري تكي وه و رعدت كل شيئ في الارض نو زړونه يې وچاودل په سينو كي، او بعض مفسرين وايي چي طاغية مصدر دی كالعافية، فمعنى الآية اهلكوا بسبب طغيانهم في الضلال من تكذيب صالح وقتل الناقة، وقيل المراد بالطاغية قذار بن سالف عاقر ناقة والتاء للمبالغة، او يا مراد هغه جماعت دی چي متفق وُ پر عقر د ناقه، نو دوی قذار بن سالف ته دا كار وسپاره، تفصيل د كلام دا دی چي صالح عليه السلام په نبوت سره ثموديانو ته ورواستاوه، نو صالح عليه السلام دوی ته دعوت د توحيد ورکړی دوی ابا ځني وكړه وطلبوا منه ان يخرج من هذه الصخرة واشاروا الى صخرة عظيمة ناقة عشراء چي د لسو مياشتو بلاربه وه يعني پر لسمه مياشت د اوښي د لنګول وخت دی او هغه اوښه سمدستي لنګېږي او جونګی بې هم لكه مور په جسم كي دی، نو موږ پر تا ايمان راوړو، نو صالح عليه السلام و خدای عزوجل ته خواست وكړی نو په صخره كي داسي اواز پيدا سو لكه د يو حيوان څخه په وخت كي د لنګېدو د هغه اواز اورېده نو ډېره سره وچاودة فخرجت منها ناقة عظيمة چي په مابين كي د دوو جنبينو د دې (١٢٠) ګزه مسافه وه، او في الحال دې اوښي ته د لنګېدو وخت راغلی او د غومره جونګی ځني پيدا سو لكه مور، بيا هم دوی بالاتفاق ايمان رانه وړی او دوی سره وويل هذا من سحره، بعض راويان وايي چي صرف څلور سوه كسانو ايمان راوړی، نو دا ناقه د دوی نقمه او عذاب وګرځېدل ولي چي د دوی او د دوی د مواشيو اوبه د څاه وې ناقه چي به ورورسېدله د څاه اوبه به يې ټولي وڅښلې او دا بله ورځ به يې دوی او د دوی پسو ته اوبه پرېښولې او هم پر دغه تقسيم وابنه د ځنګله يوه ورځ د اوښي او د جونګي او بله ورځ د دوی د مواشيو وه او دا كار د ثموديانو كافرانو لپاره درد سر وګرځېدی، نو يو جماعت د ثموديانو پر دې سره متفق سوه چي اوښه به قتل كوو نو بعض اشقاهم قذار بن سالف فعقروا الناقة يعني پر پښو يې په توره وهل اخير د پښو ولوېدل دوی ذبح كړه او غوښي يې سره تقسيم كړې، راوي وايي جونګي چي د مور حالت وليدي ميدان يې كړه هغه صخري ته چي مور يې ځني راوتلې وه او درې ناري يې وكړي او په هغه صخري ننوتی. قوم دا كار



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړی او صالح علیه السلام ته يې وويل: ايتنا بما تعدنا، چي تا به مونږ ته وعده راکول چي تاسي ايمان راڼه وړئ پر تاسي عذاب نازليږي؟ ان کنت من الصادقين، نو صالح علیه السلام ورته وويل تمتعوا في دارکم بعد قتلها ثلثة ايام چي په اوله ورځ به مو مخان تک زړ وي او په دوهمه ورځ به مو مخان تک سره وي او په دريمه ورځ به مو مخان تک تور وي، ويأتيکم العذاب د څلورمي ورځي په سهار کي، فکان ذالک.

**درويش وايي**: چي د جونګي هغه دري ناري ودغه عذاب ته اشاره وه اتخذت الذين ظلموا الصيحة فاصبحوا في دارهم جاثمين (ای ميتين کلهم کان لم يغنوا) ګويا دوی اقامت نه ؤ کړی په خپلو سرايو کي يعني سرايونه يې په صيحه د جبريل علیه السلام تړوله و نړېدل، تاريخ قديم وايي چي وروسته تر هلاک د قوم صالح علیه السلام سره د اهل او عيال او څلور زره مسلمانانو مکې مکرمې ته ولاړل او صالح علیه السلام بعد مجئ اجل الموت په مکه کي وفات سو او هورې دفن کړه سو، والله اعلم.

**فائده**: ثمود قوم عرب وه او د دوی وطن په مابين کي د الحجر والشام ؤ چي حجاج د شام د دوی خرابي ويني هم.

**سوال**: خدای پاک دلته وويل د ثموديانو د هلاک په باره کي فاهلکوا بالطاغية، د طاغية تفسير قتادة وغيره په صيحه د جبريل علیه السلام کړی دی کما مر تفصيله او په بل ځای کي د قرآن کريم د ثمود د اهلاک په باره کي داسي راغلي دي فاخذتهم الرجفة چي د ځمکي ښوريدو يعني زلزله او په مابين کي د صيحه او رجفه تعارض سته؟

**ځواب**: په صيحة د جبريل علیه السلام په خپل طاقت د ځمکي سره زلزله هم ملګري وه فيصح اضافة اهلاک قوم ثمود الى الصيحة والرجفة، او په قرآن کريم کي هم اهلاک د قوم ثمود دواړو ته کړل سوی فلا تعارض فافهم وتشکر.

وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ⑥

**پوهسه**: چي د قوم عاد کورونه په احقاف کي وه وهو الرمل المستدير بين عمان الى حضرموت اليمن وکانوا غربا چي ډېر جسيم او طول القامة خلک وه چي تر ټولو جګ يې سل ګزه (۱۰۰) وه او تر ټولو کښته قامت والا يې شپيته (۶۰) ګزه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وُ (فاهلكوا بريح) هلاک کړه عاد قوم هود " په باد سره (صرصرًا) یا معنی شدید البرد یا شدید الصوت كذا في القاموس، لكن په پښتو باد صر صر شدید الصوت ته وايي (عاتية) اى تجاوز الحد يعني ګويا د باد سر کښي وه له خزانو څخه ګويا په قدرت يې نه درلوده چي ضبط يې کړي.

**يوه سه:** چي باد ونه خداى عزوجل مسخر کړي دي و ميکائيل تـه تهب باذنه وتنطع باذنه لا له اعوان لا اعوان ملک الموت، روى في الحديث انه ما يخرج من الريح الا بقدرها فاذا اشتد غضب على قوم عاد اخرج ريحًا خارجة عن قبض الخزان، ولهذا سميت عاتية (معنى سر کښه د خزانو څخه) او يا يې معنى دا ده چي حاوي وه پر عاديانو چي دوى يې په هيڅ حيله دفع نسواى کولاى نه په زېرخانو او نه د غرو په غارو کي، ولي چي دوى به په غار ننوتل باد به هورې پسي ورننوتی وهلکهم.

سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ حُسُوْمًا

خداى " دا باد مسخر کړى بقدرته (په دې دفع يې تو هم د دې و کړى چي دا باد په اوضاع د کره د هواسره يې تړون درلودى) عليهم: اى على قوم عاد، او وه شپې او اته ورځي، له سهار څخه د چهار شنبې شروع سو الى غروب الشمس من الاربعاء الآخر اى الى غروب الشمس من الارجاء الاربعة الاخر، وهب بن منبه " وايي چي دې ورځو ته عرب ايام العجوز وايي ذات البرد الشديد والرياح الشديدة سميت عجوزًا لانها عجز الشتاء الى اخيره، او بعض مفسرين وايي چي يوه سپين سرې ښځه له قوم عاد څخه په يوه غار ننوتلې وه باد پسي ورننوتی دا يې راويستل فقتلها في اليوم الثامن من نزول العذاب، وانقطع العذاب وقوع السحور اخيرة المقتولات (حسومًا) جمع د حاسم ده لکه شهود چي جمع د شاهد ده او کلمه حال ده له مفعول څخه د سخرها، ومعناها متتابعات يعني پر له پسي بيله وقفې په دغه ورځو او شپو کي، عرب وايي: حسم الكى (يعني داغ) وهوان تتابع على موضع الداء الى ان يبر، كذا قال مجاهد قتادة "، او يا معنى دا ده چي داسي شپې او ورځي وي چي خالي من كل خير چي په پښتو يې سوى فال او بد فال ورځي بولي، كما في قوله تعالى: في ايام نحسات، كذا قال ابن عطيه، او يا معنى دا ده قاطعات اى قطعن دابرهم اى اخرهم كذا قال زجاج والنضر بن شميل.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۝٧

ته به وينې (اى مخاطب غير معينه) قوم عاد په دغو شپو او ورځو كې (صرعى) جمع د صريع دى په معنى د مصروع يعني هلاك شده لكه تنې د خورما.

**سوال:** ترى خو مضارع ده او دا حال د قوم عاد خو ډېر وخت د مخه د نزول القرآن پېښ سوى دى، نو څرنګه يې تعبير په ترى وكړى؟

**ځواب:** په عربيت كې دې ته حكايت د حال ماضيه وايي ليتحجبوا منه.

**درويش وايي:** چې تشبيه د قوم عاد چې هلاک سوي وه د خورما په تنو سره چې منځ يې وينو خوړلى وي او غځاره سوې وي په اعتبار د طول. ولې چې عاديان ډېر غټ خلک وه كمامر، او د خورما د رختي هم ډېره جګه تنه ده.

فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّن بَاقِيَةٍ ۝٨

نو ته اوس وينې اى مخاطب غير معينه دوى لره (من باقية) اى نفس باقية، والاستفهام للتقرير اى حمل المخاطب على الاقرار.

وَجَاءَ فِرْعَوْنُ وَمَن قَبْلَهُ وَالْمُؤْتَفِكَاتُ بِالْخَاطِئَةِ ۝٩

او راغلى فرعون، خصصه بالذكر لغاية عتوه و تكبره.

**پوه سه:** چې ابو عمرو او كسائي (قبله) په كسره د قاف او په فتح د باء وايي چې معنى يې جانب دى اى من معه من جنده، او نور قاريان يې په فتح د قاف او په سكون د باء وايي چې مقابل د بعد دى، نو مراد ځني هغه كافران دي چې تر فرعون د مخه وه.

(والمؤتفكات) مراد ځني قرى د لوط ده چې پر دوى مځكه چپه سوه يعني الخسف والمراد بها اهلها مشتق دى من افک بمعنى غاب (بالخاطئة) اى بالخصلة الباطلة يعني الشرك والمعاصي، نو دوى نافرماني وكړه يعني فرعون موسى و قوم لوط بل كل امة كافرة رسولهم.

**پوښتنه:** د رسول لفظ يې مفرد راوړى مع ان لكل قوم رسول علحدة فينبغي ان يقول رسلهم بصيغة الجمع؟

**ځواب:** رسول دلته په معنى د جمع دى لان النحات قالوا ان فعول و فعيل يتسوي فيه المذكر والمؤنث والواحد والجمع.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَعَصَوۡا رَسُولَ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَهُمۡ أَخۡذَةً رَّابِيَةً ﴿١٠﴾

نو مونږ دوی ونیول، عطف دی پر ما سبق والفاء للسببية (اخذة رابية) ای زائدة في الشدة، فهذه الكلمة مفعول مطلق لپاره د بيان.

إِنَّا لَمَّا طَغَا الۡمَآءُ حَمَلۡنَٰكُمۡ فِي الۡجَارِيَةِ ﴿١١﴾

مونږ هغه وخت سر کښېي وکړه اوبو يعني تر حد بالا سوې چې پر هر فورية شئ من الجبال وغيرها لوړې سوې يعني په زمانه کې د نوح ﷺ چې ده ښېرا وکړه: رب لاتذر على الارض من الكافرين ديارًا (حملناكم) مونږ تاسې حمل کړ است په سفينه نوح کې چې جاري وه پر سر د اوبو.

**سوال:** نوح ﷺ د نهه نیم سوه (۹۵۰) په کلو کې د تبليغ ډېر کړا ونه د قوم پر ده مسلط وه دا ښېرا يې ولې دومره ځنډول د مخه به يې ورته کړې وای؟

**ځواب:** تر دغه وخته د نوح ﷺ امید نه ؤ قطع سوی د ایمان حتی نزل قوله تعالى لن يؤمن من قومک الا من آمن، نو دده امید چې قطع سو نو دغه ښېرا يې وکړه رب لاتذر الخ.

**فائده:** خطاب د کم د اهل مکه سره دی فتقدير الكلام حملنا آبائكم واجدادكم وهلم جرا في الجارية.

لِنَجۡعَلَهَا لَكُمۡ تَذۡكِرَةً وَتَعِيَهَآ أُذُنٞ وَٰعِيَةٞ ﴿١٢﴾

چې مونږ وګرځوو دا سفينه يا په بل فعلة دا فعل چې نجات د مؤمنانو دی چې په کښتی کې وه مع طغيان الماء من حده (لكم تذكرة) ستاسې لپاره عبرت او دليل پر وجود د قادر مطلق والخالق بلا مانع على مايشاء وكمال قهره على الكافرين المغرقين ورحمته على المؤمنين (وتعيها) او چې دا قصه په یاد ولري او فکر پکښېي وو هئ (اذن) غوږونه.

**پوهه:** چې وعي چې معنى يې حفظ دی صفت د قلب دی او اسناد چې دلته يې و غوږو ته وکړی مجازًا دی غوږونه اسباب د وعي القلب دي. او يا معنى دا ده چې وعي يې وکړې اصحاب الاذن بحذف المضاف ثم حذف المضاف ای لفظ الاصحاب واجرى حكمه ای الوعي على المضاف اليه.


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**فائده:** تنکیر د واعیة لپاره د تقلیل چي اذن واعیة لږ دی، وفي الحدیث المرفوع قال رسول الله ﷺ لا خیر في العیش الا للعالم الناطق و مستمع واعی.

وگر نیستی سمع و گفتار و گوش ـ خبر کی رسیدی بسلطان هوش
گرچه ناصح را بود صد واعیهٔ ـ پند را اذنی بباید واعیه
گر نبودی گوشهای غیب گر ـ وحی نا وردی ز گردون یک بشیر

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾

چي پوه کړل سي په شپېلۍ کي، حضرت عمرؓ له نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه: ما الصور؟ قال الصور قرن ینفخ فیه.

**درویش وایي:** چي لکه په پخوانۍ زمانه کي چي به د ملنګیانو سره ورسره ؤ چي پکښي پوه به یې کړل لوی اواز به یې وکړی دوی ښکر باره باله، د دې معنی دا نه ده چي صور اسرافیل دغه مقدار مذکور دی بلکې دا یوه شبه ده د تقریب و ادیانو ته د سامعانو.

**یوه سه:** چي نفخة چونکه پر وزن د فعلة دی چي نحات یې لپاره د مرت نو وحده یې تاکید دی.

**فائده:** د علماؤ په تعداد کي د نفخات اختلاف دی بعض علماء وایي چي نفخات دري دي (۱) نفخة الفزع (۲) نفخة الصعق ای الموت (۳) نفخة البعث بعد الموت چي په قیامت کي کېږي، اما نفخة الفزع یو خوفناکه ناره ده ممتده چي ټوله خلک اهل مواشي خپل مواشي پرېږدي او د ښار پر خوا روان سي، و دې نفخه ته په حدیث کي اشاره راغلې ده چي یو لېوه د لوی رمې څخه پسه یوسي چوپان ورپسي میدان کړي پسه ځني خلاص کړي لېوه لېري ورته کښېني او په نطق فصیح ورته وایي چي نن خو تا دا پسه را څخه خلاص کړی هغه ورځ به یې څوک را څخه خلاصوي یوم لا راعي لها غیري دا اشاره و نفخة الفزع ته ده چي ما دمخه وویل چي مواشي به خلک خوشي پرېږدي او ښارو ته به وتښتېږي، اصحابو رضی الله عنهم وویل سبحان الله اذئب یتکلم؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل فانا نؤمن وابوبکر و عمر رضی الله عنهما یعني ابوبکر او عمر رضی الله عنهما دلته حاضر نه وه، الی اخیر الحدیث، او په هغه آیت هم د دې نفخة الفزع ته اشاره ده یوم ینفخ في الصور ففزع من في السموات والارض الی اخیر الآیة،



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او دوهم نفخ في الصور ده چي په آيت کي ورته اشاره ده يوم ينفخ في الصور فصعق من في السموات والارض اى ماتوا الا من شاء الله لکه جبريل او ميکائيل او اسرافيل او عزرائيل واختار هذا القول ابن العربي و ورد صريحًا في حديث طويل عن ابى هريرة رضي الله عنه بلفظه فينفخ فيه (اى الصور ثلثة نفخات) الاولى نفخة الفزع کمامر، والثانية نفخة الصعق اى الموت کمامر، والثالثة نفخة القيام لرب العالمين نفختان فقط، يعني نفخة الفزع ونفخة الصعق يوه ده، ولي چي خلک چي ويرېږي له ډېري ېرې څخه اخير مړه سي، وهذا القول قد صححه القرطبي وقد اطال المظهري فيه الکلام بالنقض والابرام کما هو ديدنه والله اعلم.

**درويش وايي:** چي د روح المعاني او روح البيان په نبز هم نفختان دوې دي الاولى للصعق والموت، والثانية نفخة للبعث والنشور.

وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً ﴿١٤﴾

مځکه او غرونه د خپلو ځايو څخه ايسته سي او مځکه او غرونه سره وجنګول سي، په يوه وار الدک والهدم يو دي، کذا في القاموس، او الجوهري وايي چي معنى يې کسر دى، وکذا قال البغوي، والحاصل ان الارض والجبال صارتا مستوية دفعة واحدة لاترى فيها عوجًا (کوږوالى) ولا امتًا (نه پورته ځاى)

**فائده:** جزاء د شرط محذوفه ده اى اذا نفخ في الصور حملت الارض انقضت الدنيا وحقت الحاقة.

فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾

په دغه ورځ هغه قيامت المنتظرة واقع سي التي وجب وقوعها بالکتاب والسنة واجماع الامة يا معنى دا ده وقعت الامور الواجبة الوقوع من الحساب والجزاء بالجنة او النار.

وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ ﴿١٦﴾

او چي سره څيري او چاک سي آسمان، اللام للجنس اى السماء بعد السماء الى ان ينهى العرش العظيم، عطف دى پر وقعت (فهي يومئذ واهية) نو آسمان په دغه ورځ ضعيف وي لکه زړو دېوال او سره د شدت د جسم او محکم والي چي ده درلودى.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّالْمَلَكُ عَلٰٓى اَرْجَآئِهَا ؕ

او ملکي، يعني د هر آسمان چي څيري سي پر اطرافو د هغه آسمان چي هغه له شق څخه به نجات کوي يعني ملکي. و نزول الى الارض ته چمتو وي تا چي پر مجمع عظيم د انس او جن را تاؤسي، والحاصل چي اووه آسمانه او د هر آسمان ملکي چي راشوه سي او پر مجمع غاية العظمة را تاؤسي ويقول الملائكة اليوم اين المفر (نن ورځ چېري دی ځای د تيښتي)

وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ؕ ۝١٧

او اخستی وي عرش د خدای (اضافة العرش الى الله لتعظيم المضاف كبيت الله) ضمير د فوقهم راجع دی و ثمانية ته.

**سوال:** ارجاع د ضمير و وروسته ذکر مرجع وي او څرنګه د مخه تر وقوع؟

**ځواب:** ثمانية مقدم دی په ذکر کي لكونه فاعلاً فلا جرح في الارجاع.

**پوه سه:** چي ضمير د فوقهم يا راجع دی و هغو ملکو ته چي على ارجاء السماء وي، روح البيان وايي چي هغه اته دي، وهو جسم لايعلم عظمته الا الله انتهى، نور مفسرين د عرش د تسميه څخه په فلک تاسع سره انکار کوي او وايي چي دا بناء دی پر مذهب د حکماؤ، په حديث شريف کي راغلي دي چي اوس عرش د څلورو ملکو پر اوږو دی چي ورځ د قيامت سي څلور نوري پر زياتي کړل سي چي اته سي، ابو الحسن وايي ثمانية آلاف والاول هو الانسب لظاهر اللفظ ولعدم الاحتياج الى تقدير آلاف.

**درويش وايي:** وههنا اشكال ان قوله تعالى ويوم ينفخ في الصور صعق من في السمٰوات ومن في الارض الا من شاء الله اى ماتوا، له دي آيت څخه دا معلومېږي چي ملائکه هم مري، نو دا ملکي و الملک على ارجائها څرنګه دي؟

**ځواب:** اجاب صاحب روح المعاني ولعل هذا الانشقاق بعد موت الملائكة في النفخة الاولى واحيائهم قبل الناس كما يقتضيه الاخبار، وقال الامام الهمام في التفسير الكبير يحتمل انيكون ى يفوق على الارجاء لحظة ثم يموتون ويحتمل انيكون تلک الملائكة هم المراد في الاستثناء في قوله تعالى الا من شاء الله، نو



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر دوارو وجهو ينحل ما يقال ان الملائكة يموتون في الصعقة الاولى لقوله تعالى فصعق من في السموٰات والارض فكيف يصح والملائكة على ارجاء السماء والعلم عند الله انتهى قول الامام وقول روح المعاني.

يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾

په دغه ورځ تاسي پېشېږئ (يعني على ربهم) ايها الناس على الله للحساب وهذا العرض بعد النفخة الثانية للبعث (خافية) اى فعلة خافية اى سريره ټپټ، قال رسول الله ﷺ يعرض الناس يوم القيامة ثلاثة عرضات په دوو اولو عرضو كي فجدال ومعاذير، څوک ناحقه بحثونه كوي يعني ربنا ما كنا مشركين او څوک عذرونه كوي يعني بعض دا وايي چي زموږ مشرانو او ساداتو موږ ګمراهان كړو فاتهم ضعفًا من العذاب، غرض يې دا دى چي زموږ د كفر ګناه پر دوى واچوه موږ معذور وګڼه. او بعض وايي ربنا فارجعنا اى الى الدنيا فان كفرنا فانا كنا ظالمين. فالثالثة دريم عرضة فعند ذالک تظاهرت الصحف (عمل نامې) فاخذ بيمينه واخذ بشماله. رواه الترمذي عن ابى هريرة رضي الله عنه.

فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ ﴿١٩﴾

نو هغه څوک چي وركړل سي عمل نامه په راسته لاس وهو المؤمن.

**پوهسه:** چي دا جمله د على عطف تعرضون او تفصيل د عرضة ثالثة دى (فيقول) اى ذالک المؤمن لپاره د اظهار د خوشحالى. (فيقول) خبر دى لمن. (هاؤم) اسم دى په معنى د خذ دى. يقال في العربي هاء يا رجل ويا رجلان وامرئة ويا امرئتان وهاؤم يا رجال و هاؤن بالنساء. (اقرءوا كتابيه) تاسي وو اياست زما عمل نامه. والها لسكت.

**فائده:** تنازع الفعلان يعني هاؤم و اقرؤا په مفعوليت كي د ه كتابيه. نو عمل يې اقرؤا ته وركړى لقربه چي ثاني نژدې دى و حذف مفعول الاول يعني هاؤم.

**فائده:** په كتابيه كي وفي حسابيه او ماليه او سلطانيه تولو د سكت چي ثابتي پاتېږي په حال كي د وقف او په نېز وصل حذف كېږي لكن قراء وقف حسن بولي په تولو كي چي ثابته پاته سي، ولي چي په وروسته كي في الايام الخالية كي ثابته پاته سوي ده.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

# اِنِّیْ ظَنَنْتُ اَنِّیْ مُلٰقٍ حِسَابِیَهْ ﴿٢٠﴾

**پوه سه:** چې ظننت په دې ځای کې په معنی د علمت وایقنت دی.

**سوال:** چې مراد یقین ؤ نو ولې یې ظننت وایه؟

**ځواب:** هضمًا لنفسه واستحقارًا لنفسه عن دعوى العلم بحضرت ذي الجلال علام الغيوب، او بيضاوي وايي لعله عبر بالظن اشعارًا بانه لايقدح في الاعتقاد ماياتي في النفس من الخطرات التي لاينفك عن العلوم النظرية (انی ملاق حسابية) مفعول دی د ظننت قائم مقام د دوو مفعولو دی چې زه ملاقي کېږم د حساب سره لپاره د حساب خپل، یعني ځکه یې په دې مقوله عمل وکړی حاسبوا قبل ان تحاسبوا، کنایه له دې څخه ده چې په دنیا کې ما د خپلو اعمالو د حسنه او د سیئة مقایسه سره وکړه که حسنات به ډېر وای د خدای د توفیق شکر مې وایه. او که به سیئة ډېر وای تدارک به مې په توبه او استغفار کاوه والتضرع الی حضرت الجلال ته او داسې به مې ویل:.... ابیات:

الٰهی یا الٰهی یا الٰهی ..... ندارم جز امیدت تکیه گاهی
ندارم توشه راه قیامت ..... بجز شرمندگی و روه سیاهی
ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی

عبد الله بن المبارک له ابی عثمان النهدي څخه روایت کوي قال ان المؤمن ليعطى كتابه في ستر من الله، په پټه د خدای له خوا فيقصر سيئاته رنګ یې تغیر وخوري ثم يقرء حسناته، نو مخ یې له تغیر څخه خلاص سي ثم ينظر الى كتابه فاذا سيئاته قد بدلت حسنات فعند ذالك يقول هاؤم اقرؤا كتابيه.

# فَهُوَ فِیْ عِیْشَةٍ رَّاضِیَةٍ ﴿٢١﴾

نو دغه من اوتي كتابه بيمينه په داسې عیش کې وي، مراد له عیش څخه ما يتعيش، صاحب قاموس وايي ای مرضية آه و انما قال رضية له دې سببه چې عیش خو راضي نه بلکې صاحبها راض بها، فالعيشة مرضية لا راضية، او بیضاوي وايي چې راضية صیغه د نسبت ده ای ذات رضی فيصدق على الفاعل والمفعول، او یا اسناد د رضی و عیش ته مجازده.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درويش وايي:** چي صيغې د نسبت په عربي کي ډېري دي، مثل زيد لابن (اى بائع اللبن) وعمرو تامر (اى صاحب التمر يعني بائعة)

فِىْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾

په جنت کي چي عالي مقام دى (في جنة) اى كائن في جنة (عالية) چي رفيعة الرتبة دى عند الله من حيث القرب بلا كيف، يا معنى دا ده رفيعة المكان دى لانها في السماء يا معنى دا ده چي رفيعة الدرجات والابنية والاشجار، چونکه د رفيعة الاشجار څخه دا توهم کېدى چي مېوې خو په تکليف سره شکېږي نو خداى دا توهم دفع کړى بقوله:

قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾

مېوې يې نژدې دي چي قائمًا وقاعدًا وراقدًا يې پرې کولاى سي يعني چي د دوى ورته اراده سي د خوراک ښاخونه د درختو ورته مائله کېږي چي دوى خورک څني وکړي بيرته ښاخونه خپل حال ته ولاړ سي.

كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِى الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾

خورک کوئ د درختو د مېوو او څښاک کوئ د اوبو د ولې څخه او د شيدو د ولې څخه او د عسل د ولې څخه او د شرابو د ولې څخه يعني مما يشتهونه من الاكل والشرب، والتقدير اكلا هنيئًا وشرابًا هنيئًا.

**پوه سه:** چي هنيئ هغه خورک يا څښاک ته وايي چي پر معده بوج او ثقل نه راولي يعني د معدې درد، تکليف او ثقل نه راولي چي په فارسي دارو درمان ورته وايي او په پښتو ورته وايي دارو دي سه.

**پوه سه:** چي دا جمله په تقدير د قول خبر بعد الخبر دى د فهوا.

**سوال:** د کلوا او اشربوا ضمير جمع دى نو راجع و چاته دى؟

**ځواب:** نظر و معنى ته وهو والتقدير وهم يقال لهم من جانب الملائكة كلوا و اشربوا الخ (بما اسلفتم) متعلق دى په کلوا واشربوا پوري على سبيل التنازع، والمعنى بما قدمتم من الاعمال الصالحة والسلف هو المتقدم من الشيئ.

**درويش وايي:** چي له دې سببه يو د دله چي اوس پيدا سوې ده لپاره د اضلال د



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اهل السنة والجماعة عن طريق الحق ځانو ته سلفيان وايي چي د يوه مذهب د مذاهبو اربعه مشهوره ؤ څخه ځانو نه مقلد نه بولي او سره د دې چي په اجماع د امة مرحومه حق دائر دی په، منځ کي د دغو څلورو مذاهبو، او دوی په ډېره بې شرمي سره حکم د شرک او ضلال کوي.

**فائده:** تاسي د فقير رساله چي نوم يې سيف القندهاري على عنق السلفي دی مطالعه کړئ حقيقت حال د دې فرقې به در ته معلوم سي.

(في الايام الخالية) يعني في الايام الماضية من الدنيا من الحسنات والاعمال الصالحة، وعن مجاهد" المراد بما اسلفتم آه الصيام فيكون المعنى كلوا واشربوا بدل ما امسكتم عن الاكل والشرب لوجه الله لاسيمًا في الايام الحارة (لکه د دوبې ورځي) وهو الاولى، ولي چي جزاء او ثواب لابد انيكون من جنس العمل وملايمًا له، كما قال الله تعالى اليوم تنساهم كما نسوا لقاء يومهم هذا، وقوله عزوجل ان تسخروا منا نسخر منكم ونظاهر ذالک.

**درويش وايي:** چي د مجاهد قول كه څه اولى دی من انيكون الجزاء مثل العمل لكن مع هذا العموم اولى كما مر فالصيام كما قال مجاهد" داخلاً في العموم دخولاً اوليًا فافهم.

## وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ ۙ

او هغه څوک چي ور کړه سي عمل نامه يې په چپه لاس وهو الكافر، البيهقي د مجاهد" څخه روايت کړی دی چي د کافر چپه لاس ترشا وباسي فيأخذ بها كتابه او ابن السائب وايي چي چپه لاس د کافر ملکه ور وپېچي چي شا ته ور سپدی عمل نامه ور کړي.

## فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ۚ

نو دا كافر چي په عمل نامه کي اعمال خبيثه خپل وويني او سوء العاقبة نو داسي وايي د تأسف په لهجه (يليتني) المنادی محذوف والتقدير يا قوم ليتني (لم اوت كتابيه) چي ما ته نه وای راکړه سوي عمل نامه او زه نه وای خبر چي زما حساب څرنګه دی، دا خبره دی هلته کوي چي عاقبت السوء و ويني.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يٰلَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾

الضمير راجع الى النفخة او يا راجع وغير مذكورته، والتقدير اى يا قوم الموتة في الدنيا او على العدم بمعنى الحالة من العدم بعد الوجود (كانت القاصية) القاصية للحيوة مطلقا بحيث لم احيى من العدم الى عرصة الوجود او احيى يوم القيامة.

مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾

ما ته فائده نه ورسول هغه مال زما چې په دنيا کې ما درلودی (يعني دفع د عذاب يې نه وکړه) نابود سو زما څخه هغه ملک او تسلط او جباريت چې ما په دنيا کې پر خلګو درلودی، لکه وليد بن المغيرة يا ابو جهل وغيرهما، نو خدای و خزنة جهنم ته وايي.

خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ﴿٣١﴾

ونسئ دا کافر او دواړه لاسونه يې جمع کړئ و غاړې ته چې کښته نسي کتلای، بيا يې و دوږخ ته وغورځوئ.

**پوه سه:** چې کلمه د ثم دواړه ځايه د تراخي في الزمان لپاره نه ده بلکې للتفاوت في الشدة قدم المفعول اى الجحيم للحصر اى لا تصلوه الا الى الجيم اى دوږخ.

ثُمَّ فِيْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿٣٢﴾

وروسته به بيا په ځنځير کې چې ګز انه به اويا ګزه وي داخل به يې کړي يعني پر وي پيچي.

**فائده:** فاء في فاسلکوه زائدة لپاره د تحسين د لفظ ده لپاره د عطف نه ده حتى يلزم اجتماع العاطفين (اى لفظ ثم والفاء) روايت کړی دی ابن ابی حاتم والبيهقي عن طريق العوفي عن ابن عباسؓ قال چې دا ځنځير يې په دبره ور چخ کړي او ترپزه يې راوباسي حتى لا يقوم على رجليه چې پر پښو نسي ولاړېدلای. قال نون البکائي الشامي سبعون ذراعا کل ذراع سبعون باعا کل باع ابعد مما بينک وبين مکة او دی په کوفه کې و.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درويش وايي:** چي به بيان کي د سبعون ذراعًا نور اقوال هم سته چي د قدرت د خداى يو انموذج دى کلها آمنا به اذا صح النقل والرواية.

## إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٣٣﴾

ده ايمان نه درلودى بالله العظيم، دا جمله مستانفه ده لپاره د بيان د سبب د عذاب مذکور او د عظيم لفظ يې ددې لپاره وو وايه چي الله عزوجل مستحق د عظمت دى فمن تعظم غيره يستوجب العذاب يعني من الاصنام وغيرها.

## وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿٣٤﴾

څوک يې نه باعثه کول پر عذاب د مسکين، يعني بل ته يې هم نه ويل چي دا مسکين ته طعام ورکړه فضلاً عن مال نفسه هغه ته يې په طريق اولى نه ورکاوه.

**مسئله:** له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي کافران يعذبون على فروع الاعمال لان الاطعام والحث عليه من فروع الاعمال.

**فائده:** تخصيص د يحض چي يې وکړى په ذکر سره لان اقبح القبائح الكفر بالله واشنع الشنائع البخل وقسوة القلب (سختي د زړه چي پر مسکين يې زړه نه سوځي).

## فَلَيْسَ لَهُ ٱلْيَوْمَ هَٰهُنَا حَمِيمٌ ﴿٣٥﴾

الفاء للسببية يعني په سبب د ما قبل چي عدم الايمان بالله ؤ او بخل ؤ، نسته ده لره نن ورځ يعني په ورځ د قيامت دوست چي د ده دې غمخور سي.

## وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴿٣٦﴾

او نه خوراکي شى سته.

**پوه سه:** چي غسلين نوونه او وينه ده د دوږخيانو چي يو ځاى جمع کېږي بيرته دوى ته د طعام په توګه ورکول کېږي، مشتق له غسل څخه دى اخرج ابن ابى حاتمؒ عن عكرمه عن ابن عباسؓ الغسلين صديد اهل النار، او په بل روايت کي د ابن عباسؓ دي ما ادري ما الغسلين لكني اظنه الرقوم.

**درويش وايي:** چي الاول هو الاشهر والاظهر.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا يَأْكُلُهُ إِلَّا الْخَاطِئُونَ ﴿٣٧﴾

مستثنٰى مفرغ ده په محل كي د فاعل ده.

**فائده:** له خطاء څخه مراد هغه ده چي مقابل د عمد ده، ولي هغه خو معفو ده كما في الخبر الصحيح رفع عن امتي الخطاء والنسيان بلكې د هغې محاورې څخه مأخوذ خطئ الرجل اذا تعمد الذنب، صفت د غسلين.

**سوال:** غسلين كمامر مشروب دى، نو په اكل يې ولي تعبير څني وكړى؟

**ځواب:** په اعتبار د طعام په مخه آيت كي، روح البيان وايي په ترجمه كي د الخاطئون اى اصحاب الخطايا وهم المشركون. دى وايي چي الخاطئ هو الذي ضد الصواب متعمداً.

فَلَا أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٨﴾

**درويش وايي:** چي بعض مفسرين وايي چي دد ې عبارت معنى دا ده چي زه قسم نه اخلم، ولي خبره ښكاره ده قسم ته ضرورت نشته، او بعض اهل العلم وايي چي كلمه د لا زائده ده اى اقسم زما دي قسم وي پر تقدير اول معنى يې دا ده يا هغه ده چي ذكر سول، يا معنى دا ده لكه كفارو د مكې چي به ويل: ان محمداً (ﷺ) تقول القرآن على الله من نفسه وهو شاعر او كاهن ولا بعث ولا نشور. او زه اخلم قسم په هغه شيانو سره چي تاسي يې وينئ له علاماتو څخه د وجود دده او د توحيد د خداى وقدرته وجلاله، شيخ سعدي قدس سره وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار .... هر ورقى دفتريست معرفت كردگار

او په هغه شيانو سره چي تاسي يې نه وينئ نه په سترګو او نه په بصيرت د زړه من مراتب صفاته الجلالية والجمالية، او يا ذات د خداى وقيل ما تبصرون دنيا ده او ما لا تبصرون الآخرة دى. وقيل ما تبصرون اجسام دي و ما لا تبصرون الارواح دي، يا ما تبصرون انس دي و مالا تبصرون الجن والملائكة دي، او يا ما تبصرون يې نعم ظاهره دي او ما لا تبصرون نعم باطنه دي كالعلم والذكاوة.

وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿٤٠﴾

په تحقيق دا قرآن كريم دى (يعني ما انزل بي) قول د رسول دى يبلغه من الله



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبحانه وتعالى يعني لا يقوله محمد ﷺ من نفسه كريم على الله يعني محمد ﷺ.

وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾

او نه قرآن د شاعر قول دی (كما يقول اهل مكة)

**پوه سه:** چي كلمه د ما زائده ده لتاكيد القلة قليلاً يا منصوب دی على المصدرية ای ايمانًا قليلاً يا منصوب على الظرفية دی ای زمانًا قليلاً، ايمان قليل د هغه چا دی چي صدق د قرآن ورته ظاهر سي بمعجزات او كثرة د عدم ايمان مبني دی پر تعنت او عناد او تكبر.

وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾

او نه قول د كاهن دی (چي شيطانانو به پر خپلو اتباعو په شرارت بعض غيبي خبري كولې) تاسي به لږ زمانه په معاني كي د قرآن فكر كولاۍ يا د رسول الله ﷺ په احوالو كي غور نه كوئ چي د احوالو څخه د كاهنانو تباين كلي لري.

تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٣﴾

مصدر په معنی د مفعول دی ای منزل.

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾

**پوه سه:** چي تقول باب د تفعل دی ابن حاجب" د پري معناوي د تفعل راوړي دي چي يوه د هغو تكلف دی نحو تزهد فلان ای حصل الزهد بالتكليف، نو په دي ځای معنی د تقول افترى وتكلف وتصنع چي حاصل دروا غ په تكلف پر خدای وايي (علينا) پر موږ باندي چي دا وحي د خدای" دي (الاقاويل) جمع د اقولة ده المراد بها الاقاويل الكاذبة.

لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ﴿٤٥﴾

ای المفترى (باليمين) متعلق دی په اخذنا پوري يعني تر راسته لاس به يې نيولی وای لپاره د ازلال دده، او يا معنی داده چي خپل راسته لاس فعلى التقدير الثاني هو من المتشابهات كالوجه يا يد الله فوق ايديهم، يعني په بيعت د رسول الله ﷺ وامثاله.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾

مو ږ به قطع کړی وای رګ چي مسمی په وتین سره دی چي هغه د زړه یو رګ دی چي هغه قطع سي انسان بس مري چي په بعض لغاتو کي دي ته هاټ فبل وایي.

فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾

نو ستاسي څخه څوک دی د منقول مفتری دفع کونکی دده څخه، او په تحقیق دغه (ای القرآن) پند او نصیحت دی لپاره د تقوی دارو خلکو لانهم هم المنتفعون به.

وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾

او په تحقیق موږ خبر یو چي بعض ستاسي څخه یا کفار مکه تکذیب کونکي د قرآن یاست (والمراد به چي موږ به درکړو جزاء پر تکذیب وعدم التذکر بالقرآن)

وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾

او قرآن سبب د حسرت دی پر کافرانو چي دوی به ارمان کوي چي کاشکي موږ پر قرآن ایمان راوړی وای چي له دې ورځي د قیامت به له عذابه خلاص وای.

په قاموس کي وایي: الیقین ازاحة الشک یعني ازالة الشک، د مثال په توګه یو سړی د لېري بل څوک و ویني نو په دې کې شک وي چي زید به وي او که بل څوک چي رانږدې سي نو یې شک زائل سي چي هغه زید دی، وفي الصحاح الیقین من صفة العلم وهو فوق المعرفة وحمله علی القرآن لکه زید عدل ای متیقن کمال الیقین کانه نفس الیقین، والحق ضد الباطل.

**درویش وایي**: چي بعض صوفیه کرام قدس اسرارهم وایي: چي اعلی د مراتبو د علم حق الیقین دی و دونه علم الیقین، د اول مثال دا دی: علم العاقل علی الموت اذا ذاقه، ومثال الثاني کعلم العاقل عند رؤیته رؤیة الملائکة یعني عزرائیل واعوانه، ومثال الثالث کعلم العاقل المؤمن بالموت یعني وقتا ما في جمیع احواله انتهی، او عقلاء وایي چي حق الیقین دا دی لکه سړی یوه عضوه د اور سره متلاقي یعني وسوځل سي، او د عین الیقین مثال دا دی لکه سړی چي اور ته ناست او حرارت یې ور رسیږي، او د علم الیقین مثال دا دی لکه په سائر



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاحوال د عاقل دا يقين وي چي اور گرم دی، فافهم هداک الله. نو د قرآن درجه د حق اليقين ده په نيز د مؤمنانو لسطوع برهانه و وضوع حقيقته. کريمه ان کنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة من مثله الآية، کريمه: ولا يأتون بمثله وان کان بعضهم لبعض ظهيرا.

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾

نو ته تسبيح او تنزيه د خدای په نامه وو ايه چي عظيم دی والمخاطب هو رسول اللهﷺ.

**پوه سه:** چي العظيم يا صفت دی د اسم يعني الله دی يا د ربک دی، ولا يخفى على العاقل المؤمن عظمة کليهما، وعن عقبة بن عامر الجهني" چي څه وخت چي پر رسول اللهﷺ باندي دا آيت نازل سو فسبح باسم ربک العظيم قال اجعلوها في رکوعه ای مضمونه سبحان ربي العظيم. او چي دا آيت نازل سو سبحان ربي الاعلى قال رسول اللهﷺ اجعلوها في سجوده ای مضمونه، يعني سبحان ربي الاعلى، وليس المراد في الموضعين نفس هذين الآيتين ولهذا فسرت الفقير ای بمضمونه. وعن ابی هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ کلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان في الميزان (يعني د قيامت په ورځ په ترازو کي) حبيبتان الى الرحمن، سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم.

**فائده:** د رکوع او د سجدې تسبيح سنت دي او ادنى د کمال يې درې دي وهذا مذهب جمهور الفقهاء وقال احمد واجبة، او هم داغسي اختلاف دی في تکبيرات الانتقالات وفي سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد في القومة.

**درويش وايي:** چي الحمد لله والمنة والصلوة على سيد البرية وعلى آله وصحبه البررة، له تفسير څخه د سورة الحاقة پر يوولس (١١) بجې تخمينًا د رجب الخير په وخت د درې بجې سنه (١٤٣٣) هجري قمري فارغ سوم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اَرْبَعٌ وَّ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّ فِيْهَا رُكُوْعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ﴿۱﴾

وغوښتې يو غوښتونكي عذاب چې واقع كېدونكى دى.

روايت كړى دى النسائي وابن ابي حاتم عن ابن عباس رضي الله عنهما چې سائل نضر بن الحارث دى حيث قال چې دا قرآن كه ستا د خداى له خوا وي مونږ خويې نه منو فامطر علينا حجارة من السماء او ائتنا بعذاب اليم، او خداى عزوجل هغه عذاب پر نضر بن الحارث باندې په ورځ كې د بدر نازل كړى حيث قتل كافرًا، نو پر دې تقدير مراد له سوال څخه دعاء ده ويدل عليه تعديته بالباء (بعذاب واقع) عذاب دى چې واقع كېږي پر كافرانو، روايت كړى دى ابن المنذر له الحسن رحمه الله څخه چې دا آيت چې نازل سو سأل سائل بعذاب خلكو وويل چې دا عذاب به پر چا نازلېږي؟ فقال الله تعالى واقع للكافرين.

لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ ﴿۲﴾ مِّنَ اللّٰهِ ذِى الْمَعَارِجِ ﴿۳﴾

لپاره د كافرانو، نسته د هغه لپاره دفع كونكى له جانبه د خداى لتعلق اراته بذالك.

**پوه سه:** چې ذى المعارج صفت د خداى ج دى والمعارج جمع د معرج ده چې په پښتو يې څښې بولي، وليس المراد به المعارج الحسية بل المراد به درجات القرب الى الله تعالى بلا كيف التي تبلغها الانبياء والاولياء والملائكة او درجات القبول يصعد فيها الكلم الطيب والعمل الصالح او المصاعد في دار الثواب او درجات الجنة، عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم في الجنة مائة درجة بين كل درجتين كما بين السماء والارض (چې د پنځه سوه كالو مسافت دى) والفردوس اعلاها درجة منها تفجر انهار الجنة الاربعة (چې له فردوس څخه رابهېږي څلور ويالې يعني الماء واللبن والعسل والخمر) ومن فوقها عرش الرحمن فاذا سئلتموها الله تعالى فاسئلوا الله الفردوس، رواه الترمذي.

**پوښتنه:** فردوس چې اعلى د درجاتو د جنت دى، نو دا خو به مقر او ځاى د انبياء عليهم السلام او د اولياء الله رحمهم الله وي، نو عموم خلكو ته دا سوال د فردوس هم روا دى او كه څه رنګه؟

**ځواب:** با كريمان كارها دشوار نيست، ونيز گفته اند:

همت بلند دار كه نزد خدا و خلق باشد بقدر همت تو اعتبار تو.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعن ابی سعيد الخدري رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال ان اهل الجنة يتراؤن اهل الغرف (جمع د غرفة ده يعني بالاخانه) من بينهم كما تراؤن الكوكب الدري (اى روښن) الغاير في الافق من المشرق او المغرب، صحابه كرامو رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي دا ځايونه به مختص په انبيا عليهم السلام پوري وي لا يبلغها غيرهم؟ قال ﷺ بلى، په جواب كي د نفي د دوى له غير څخه فالمعنى هو غير ته هم ور رسېدای سي، والذي نفسي بيده رجال آمنوا بالله وصدقوا المرسلين، بخاري او مسلم.

**درويش وايي**: چي دا قول د عليه الصلوة والسلام پر عموم نه دی محمول والله اعلم، او ابن مسعود رضي الله عنه په ترجمه كي د المعارج داسي ويلي دي، ذی السموات وقال سماها معارج لان الملائكة يعرج فيها (اى السموات)

## تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ﴿۴﴾

خېژي و سموٰاتو ته ملائكه، او د روح څخه مراد جبريل عليه السلام دی، اورده بالذكر لفضله كما لا يخفى (اليه) اى الله او عرشه (في يوم آه) بعض مفسرين وايي چي دا جار او مجرور متعلق دی چي واقع دلالت پر كاوه، فالتقدير يقع العذاب بهم اى الكفرة في يوم كان مقداره خمسين الف سنة يعني يوم القيامة كذا اخرج البيهقي عن عكرمة عن ابن عباس رض، او يمان وايي: چي په ورځ كي د قيامت پنځوس موطن دی هر موطن يې زر كاله دی، او بخاري او مسلم له ابى هريرة رضي الله عنه د دې ورځي په طول يو طويل حديث بيان كړی دی او مظهري په هغه طول سره راوړی دی ان شئت فارجع الى كتابي الشيخين والى تفسير المظهري، او علامه بغدادي رح په تفسير روح المعاني كي وايي چي ظاهره دا ده چي في يوم متعلق دی په تعرج پوري او يوم په معنى د وقت دی والمراد به مقدار ما يقوم الناس الى رب العالمين الى ان يستقر اهل الجنة في الجنة واهل النار في النار الى ما لا نهاية له ويشير الى هذا ما اخرج الامام احمد وابن حبان و ابو يعلى وابن جرير والبيهقي في البعث والنشور عن ابى سعيد الخدري رض، دی وايي چي سوال وكړه سو د عليه الصلوة والسلام څخه عن يوم كان مقداره خمسين الف سنة، ما اطول هذا اليوم (څونه اوږده ورځ ده دا ورځ؟) فقال عليه الصلوة والسلام والذي نفسي بيده وانه ليخفف على المؤمن (سپكه تېرېږي دغه طويله ورځ پر مؤمن) يكون اهون عليه من صلوة مكتوبة وهو يصليها في الدنيا.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه:** چي د علماؤ اختلاف دی في المراد بهذا التقدير على هذا الوجه فقيل الاشارة الى استطالة هذا اليوم لشدته لا بهذا المقدار حقيقة ويروى هذا عن ابن عباس رض والعرب تصف اوقات الشديدة والحزن بالطول و اوقات الرخاء والفرح بالقصور.

**درویش وايي:** چي د دې طول او قصر ژوندی مثال دا دی چي د دوبي په يوه مياشت کي چي رمضان داخل سي دا روژه هره ورځ پر روژياتي دومره اوږده سي لکه دوې ورځي، ولې چي خوله د روژياتي د اوبو څيښلو څخه بنده وي او سره د دې د شعبان اخيري ورځ پر دغه مقدار وه، يو سړي چي د دوبي روژه نيولې وه بل سړي ته يې وويل قبل الزوال الشمس چي پرون په دغه وخت کي لمر پر غروب ؤ نن لمر ځای پر ځای لکه ولاړ چي وي، وقال محمد بن اسحاق معنى الآية لو سار ابن آدم من الدنيا الى موضع العرش سيرًا بطيئًا على الفرض صار سبعين الف سنة.

## فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا ۝

نو ته صبر وکړه يا محمد (ﷺ) پر تکذيب د دوی تا لره (صبرًا جميلًا) يعني طلب د استعجال د عذاب مه کوه او اضطراب هم مه کوه، والفاء للسببية متعلق دی په سئال پوري، وجه يې دا ده چي سوال د تعنت او استهزاء لکه کفارو د مکې چي به کول طبع انساني ده چي د سړي زړه تنګوي. فالمعنى فاصبر صبرًا جميلًا او زړه مه تنګوه د دوی له سوالو څخه او تلوار مه کوه په طلب کي د نزول د عذاب پر دوی.

## إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا ۝ وَّنَرٰىهُ قَرِيْبًا ۝

په تحقيق دوی (يعني کفار مکه) وينې يعني عقيده يې د عذاب ده و دوی ته لېري بلکې امکان هم نه لري د دوی په عقيده کي لانکارهم البعث بعد الموت. ونراه قريبًا (لان ما هو آت قريب وانما البعيد عند العاقل ما هو فات)

## يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَآءُ كَالْمُهْلِ ۝

هغه ورځ چي وګرځي آسمان لکه ميس چي ويلي کړي يا نور ويلي کېدونکي اشياء يا لکه صفر يا صرف وغيرها او يا لکه د زرنيو د تېلو خټه بر خه، له ابن مسعود رض څخه روايت دی السماء بالمعنى الجنسي الوانًا تكون كالمهل وتكون وردًا كالدهان وتكون السماء واهية سست سره څېري سي وتكون احوال مختلفة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ۝٩

او وګرځي غرونه لکه رنګ کړي وړۍ ابيض و اسود لان الجبال مختلف الالوان او غرونه چې میده میده سي او هوا ته پورته سي نو لکه رنګارنګ وړۍ داسي شکل ګرځي یعني بعضي توري وړۍ بعض سپیني بعض ژړي لکه د اوښ بعضي وړۍ چې دا ټوله سره مخلوط رنګونه په هوا کي سره وپاشل سي غرونه هم په هوا کي داغسي نمائش ښکاره کوي.

وَلَا يَسْأَلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ۝١٠

او پوښتنه نه کوي یو قریب که پلار وي او که ورور وي الی غیر د بل قریب ولي چې هر یو په خپل غم اخته وي، کریمه: فاذا جائت الصاخة یوم یفر المرء من اخیه الی اخیر الآیة.

يُبَصَّرُونَهُمْ

دا جمله صفت دی د حمیم یعني دا عدم السوال المذکور له دې سببه نه دی چې دوی یو د بل سره نه ویني بلکې لشدة حال نفسه، او یا سوال ته ضرورت نه لري لدلالة الاحوال کبیاض وجوه المؤمنین وسواد وجوه الکافرین من اقاربهم.

**سوال:** حمیم حمیمًا خو یې دواړه مفرد راوړه او دواړو ته ضمائر د جمع په یبصرونهم کي راجع سوه؟

**ځواب:** دواړه نکره په سیاق کي د نفي راغلي دي، وقال النحات النکرة في سیاق النفي تعم.

يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ۝١١

الظاهر ان المراد بالمجرم المجرم الکامل وهو الکافر بای نوع من الکفر، دا جمله حال ده له فاعل څخه د یبصرونهم او یا د مفعول د هغه.

**پوښتنه:** جمله چې حال واقع سي عائد و ذی الحال ته خو ضرورت دی ولیس شیئ من ذالک؟

**ځواب:** نحات وايي چې را اګر ځول د اسم چې دلته المجرم دی کافي دی د ربط لپاره، یا جمله مستانفه ده یعني جواب د سوال محذوف وهو ما یصنع المجرم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقيل في جوابه ان المجرم يشتغل بنفسه عن غيره تر دې اندازې چې تمنی د دې کوي چې اقرب د اقاربو په دنيا کې خپل د خلاصون فديه وګرځوي فضلاً عما لايهتم بحاله من اموال الدنيا.

**درويش وايي:** چې على هذا التقدير دا آيت مبارک لا يسئل الحميم حميمًا خاص په کفارو پورې دی او هر چه مؤمنان دي هغه په ورځ کې د قيامت خپل د اقرباؤ غم ورسره وي چې حتى الممکن شفاعت يې وکړي په دې باب احاديث نبويه په تواتر معنوي سره موجود دي، کما قال رسول اللهﷺ والذي نفسي بيده ما منکم من احد باشد مناشدة ای طلبًا وشفاعة من المؤمنين بالله يوم القيامة لاخوانهم الذين في النار يقولون ربنا کانوا ای اهل النار من المؤمنين يصومون معنا الى اخير الحديث، متفق عليه ای رواه البخاري ومسلم.

(لو يفتدي) چې فديه ورکړي له عذاب څخه من حرف جر متعلق دی په يفتدي پورې (من عذاب يومئذ) په دغه ورځ (ای يوم القيامة) په خپلو زامنو سره.

وَصَاحِبَتِهٖ وَاَخِيْهِ ۝ وَفَصِيْلَتِهِ الَّتِيْ تُـْٔوِيْهِ ۝

او په ماينو سره او په وررور سره او هغه نژدې قبيله چې دی له هغو جلا سوی دی، والمراد في الآية هو الآباء الاقربين (التي تؤيه) چې سرې هغو ته پناه ورورې په وخت کې د سختی.

وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ثُمَّ يُنْجِيْهِ ۝ كَلَّا اِنَّهَا لَظٰى ۝ نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ۝

او ټوله مخلوق چې په مځکه کې دي من الجن والانس وغيرهما (ثم ينجيه) بيا وروسته تر دغو فداياؤ نجات ورکړی سوی وای (کلا) حرف ردع دی والمعنى لاينجيه من عذاب شيئ، نو حاصل دا دی چې مجرم دې خواهش نه کوي ولي چې فائده نه ورته کوي (انها) ضمير مؤنث راجع دی ونار ته چې مؤنث سماعي دی.

**سوال:** نار خو په ماقبل کې هيڅ نه دی ذکر سوی؟

**ځواب:** د مرجع لپاره ذکر حکمي هم کافي دی يعني له عذاب څخه ولي چې عذاب د يوم القيامة نه دی مګر نار فافهم، په حديث صحيح کې راغلي دي چې خدای عزوجل وايي (يعني د ملکي په خوله) وهغه اهون ته اهل عذابًا يعني تر ټولو اهل النار يې عذاب سپک وي که تا لره ما في الارض يعني ټوله وای تا فديه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاوه له عذاب څخه ددي ورځي، هغه ورته ووايي نعم، فيقول الرب جل وعلا چي ما په دنيا کي ستا څخه آسان شی غوښتی وانت في صلب آدم بان لا تشرک بي.

(لظی) روح البيان وايي چي لظی علم دی او ریاء طبعه ثانیه د اورو وکذا قال البغوي و المظهري چي لظی خالص ته وايي چي هيڅ اثر د اور نه وي پکښي يعني خالص سکروټي وي.

(نزاعة للشوی) چي کښونکي دی، او د شوی تفسير بعض مفسرينو په اطرافو سره کړی دی يعني اليدان والرجلان، وقيل جمع د شواة ده چي د سر پوستکي ته وايي واليه ذهب مجاهد"، وقيل اللحم دون العظام، وقال الکلبي "يأ الدماغ کله ثم يعود کما کان.

تَدْعُوا مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلّٰى ﴿۱۷﴾ وَجَمَعَ فَأَوْعٰى ﴿۱۸﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿۱۹﴾

بولي ای النار خبر بعد خبر لان چا چي اعراض کړی له حق څخه او اعراض يي کړی دی له طاعت څخه د خدای عزوجل نو اور ورته ووايي الي يا مشرک الي يا منافق ماته راسه ماته راسه، قال ابن عباس رضي الله عنه تدعوا ای النار الکافرين والمنافقين بلسان فصيح (وجمع) ای المال (فاوعی) ای جمع في وعاء وامسکه ولم يعط حق الله منه ای الزکوة (ان الانسان خلق هلوعًا) په تحقيق انسان پيدا سوی دی هلوعًا.

**درويش وايي:** چي عطية له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي تفسير د هلوع دغه وروسته آيت دی.

إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ﴿۲۰﴾ وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿۲۱﴾

چي ده ته يو شر يعني فقر او مسکنت ورسيږي بې صبري کوی او شکايت کوي، او چي ده ته خير يعني مال ورسيږي نو دی يې في سبيل الله نه صرفوي او شکر يې نه وايي، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل لو کان لابن آدم واديان من مال (که وي ابن آدم لره دوې شېلې د مال يعني من ذهب وفضة او مواشي) لا تبغي (غواړي به دریمه شېله) ولا يملأ جوف ابن آدم الا التراب (ای تراب القبر) ويتوب الله على من تاب، متفق عليه.

**درويش وايي:** چي بعض مفسرين وايي چي هلوع حريص ته وايي على ما لايحل، رواه السدي عن ابي صالح عن ابن عباس رضي الله عنه، او قتاده وايي چي هلوع



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجزوع ته وايي، وقال مقاتل ضيق القلب والهلع شدة الحرص وقلة الصبر وقال سعيد بن جبير چي هلوع بخيل ته وايي، فقير وايي چي ترټولو اول او الافضل تفسير القرآن بالقرآن دی کما مر في روايت ابن عباس رضي الله عنهما، و درلباب از مقاتل نقل ميکند که هلوع جانوريست از پس کوه قاف که هر روز هفت صحرا از گياه خالي ميکند يعنی همه خشايش آن می خورد وآب هفت دريا می رساند و در گرما و سرما صبر ندارد وهر شب در انديشنه آنست که فردا چه خواهد خورد حق سبحانه وتعالی آدمی را دربی صبری و هميشه دراندیشه روزی که فردا چه خواهد خورد بدين دابه تشبيه ميکند انتهی، والله اعلم.

**درويش وايي:** چي والله اعلم دا قصه دروغ ده او شان نزول د آيت په دې قصه سره بيانول استخفاف د قرآن دی او تبيان چي حواله و مقاتل ته کړې ده زما په فکر دا حواله هم غلطه ده ولي چي مقاتل لوی مفسر دی، والعلم عند الله ولا يعلم جنود ربک الا هو، بلکه این چنین ابيات بسيار زيبا است دربيان هلوع مردمان:

جانوری را که بجز آدميست ..... معده چو پرشد سبب بی غميست
آدميست آنکه به سيری برد ..... بر سر سيری غم روزی خورد
خور همه عمر چه بيش وچه کم ..... روزی هر روزه از خوان کرم
از ره حرص وامنش همچنان ..... هيچ غمی نيست بجز فکر نان

وعن انس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يهرم ابن ادم (زړېږي ابن آدم) ويشيب منه اثنان (او ځوانېږي په ده کي دوه خويه) الحرص على المال والحرص على العمر صدق رسول الله صلى الله عليه وسلم ويدل عليه التجربة.

إِلَّا الْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ﴿٢٣﴾

ای المؤمنين الکاملين.

**فائده:** خدای پاک تعبير د مؤمن کامل په مصلی سره وکړی فان الصلوة اعلى مقامات الايمان، وقد ورد الصلوة معراج المؤمنين وعماد الدين. سعدي شيرازي قدس سره وايي: روز محشر که جان گداز بود ..... اولين پرسش نماز بود لکن المراد بالمصلين هغه لمونځ کونکي دی چي لمونځ يې پر طريقه د احسان وي ای الاخلاص کما ورد في الحديث الذي رواه البخاري ومسلم چي جبريل چي پر



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صورت د انسان و علیه الصلوة والسلام ته په حضور د مسلمانانو یعني صحابه کرامو رض راغلی او پوښتنه یې وکړه ما الایمان؟ علیه الصلوة والسلام جواب ورکړی، بیا یې وویل: ما الایمان ما الاسلام؟ علیه الصلوة والسلام جواب ورکړی، بیا یې پوښتنه څنې وکړه ما الاحسان؟ علیه الصلوة والسلام وویل الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فانه ان لم تکن تراه فانه یراک او کما قال علیه الصلوة والسلام.

**درویش وایي:** چي زمونږ د زماني داسي خلک دي بدن یې د رمسجد و دل د رد کان الی غیر ذالک، روی مسلم عن حبیب رض قال قال رسول الله ﷺ عجبًا لامر المؤمن ان امره کل له خیر ولیس ذالک لاحد الا المؤمن ان اصابته السراء شکر (یعني که دوی ته ورسېږي خوشالي والمال شکر یې ووایي) فذالک خیر له وان اصابته شر لکه فقر، مرض، صبر پر وکړي فکان خیرًا له.

(الذین هم علی صلاتهم دائمون) هغه کسان دي چي پر پنځو سرو لمونځو دوام او همیشه توب کوي لایشغلهم عنها شواغل، وقد ورد خیر الاعمال ادومها، وعن عائشة رض کان عمله ﷺ دیمة.

**پوښتنه:** لمونځ یې ولي تر ټولو اعمالو د خیر مقدم راوړی؟

**خواب:** قال رسول الله ﷺ اول ما فرض الله تعالی علی امتي الصلوة الخمس، وفي حدیث اول ما یرفع عن امتي الصلوات یعني اول چي پرېږدي امت لمونځونه به وي یعني و قیامت ته نژدې، وقال علیه الصلوة والسلام اول چي زما له امت څخه سوال کېږي لمونځونه دي فان حسنت فقد افلح وان فسدت که یې د لمونځو حال خراب ؤ فقد خاب وخسر، او لمونځونه تاخیر نه لري له وخت څخه مگر هغه چي پر تیمم او ایماء قدرت نه لري او روژه په مرض کي مؤخره کېږي واخیر ما اوصی النبي ﷺ یعني في مرض موته الصلوة وما ملکت چي مراد څني مریان دي.

وَالَّذِيْنَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ﴿۲۴﴾ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۲۵﴾

او هغه کسان دي چي په اموالو کي د دوی حق معلوم وي (من الزکوة والعشر) د هغه چا لپاره چي سوال کوي او د محروم لپاره چي سوال نه کوي او مسکین مگر صاحب المال یې په حال خبر وي.



Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۲۶﴾

او هغه کسان دي چي تصديق او ايمان يې وي پر ورځ د جزاء الاعمال چي ورځ د قيامت ده. ولې چي کامل ايمان چي څوک ولري پر يوم الجزاء لايکون جزوعًا في الشر بل صابرًا محتسبًا سترګي د ثواب خدای ته لري، و وقت الصبر او نه هم منوعًا کېدای په حال د خير بلکې مال د لاسه باسي په زکوة وغيره طالبًا للثواب.

وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿۲۷﴾

او هغه کسان دي چي با اين له عذاب څخه د خدای بيربږي، فان مقتضی الايمان الخوف والرجاء.

اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ﴿۲۸﴾

په تحقيق له عذاب څخه د خدای څوک بېغمه نه دی يعني يقينًا لان الايمان بين الخوف من عذابه و الرجاء الی رحمته و مغفرته.

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ﴿۲۹﴾ اِلَّا عَلٰۤى اَزْوَاجِهِمْ

او هغه کسان دي چي د فرجو (که نر وي او که ښځه) ساتونکي وي د ما لايحل کالزنی وللواطة.

**فائده:** والذين که څه هم مفعول دی د حافظون لکن چي دمخه يې کړی لپاره د رعايت د فواصلو يعني اواخر الآيات او لام يې لپاره د تقويت د عمل زائد کړی.

**پوه سه:** چي ازواج جمع د زوج ده چي نر او ښځي دواړو ته وايي والمعنی چي نر دي خپل فرج له ماينې څخه نه سپموي او ښځه دي هم خپل فرج ومېړه ته تحفه کوي، مګر ښځه دي خپل د مخ خوا نه سپموي دون دبرها لانها لواطة صغری. ويدل قوله تعالی فأتوا حرثکم ولي ځای د کښت د ښځي د مخ خوا ده نه دبره ددې چي هغه محل الفرث دی، واما في الرجلين فلا يجوز الاستعمال لانه لواطة کبری.

**پوه سه:** چي اکثره مفسرين وايي چي کلمه د علی په معنی د من الجارة، فالتقدير والذين هم فروجهم حافظون الا من ازواجهم، په ازواج کي نر او ښځه دواړه شامل دي او بعض علماء چي ګمان کوي چي ازواج خو جمع د زوج ده زوج خو نر ته وايي ښځي ته خو زوجه بتاء التانيث وايي.

**درويش وايي:** چي دا ګمان باطل دی الا يسمعون قوله تعالی لآدم ﷺ يا آدم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسكن انت وزوجك الجنة الآية. والحاصل ان الزوج مقابل الفرد دی نو کـه ښځه
مېړه نه لري نو فرد ده چي مېړه پیدا کړي زوج یعني جوت سي، وهکذا في جانب
الزوج چي ماینه نه لري فرد دی چي ماینه یې وکړه زوج سو.

أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ۝٣٠

یعني مینځیاني چي دي ته ملک یمین وایي.

**سوال:** مشهوره خو دا ده چي کلمه ما د غیر ذوی العقول لپاره ده او مینځه خو
له ذوی العقول څخه ده؟

**ځواب:** مریي او ښځه جاري مجری غیر ذوی العقول دي، ولي چي شرع انور
ذوی ملحق په غیر ذوی العقول پوري عقاباً علی کفرهم، نو شرع یې بیع او شراء او
استخدام روا بولي.

**فائده:** مراد له ماملکت ایمانکم څخه منځیاني دي چي په عربي سرایا بولي نه
مریان ولي چي اتیان د مالک و دبري ته د مریي ناروا دی کما مر في سورة البقرة
بالسنة والقیاس، یعني په حدیث سره هم ثابت دی او په قیاس سره هم پر اتیان د
ماینې په حالت کي د حیض، کریمه: ويسئلونك عن المحيض قل هو اذى
فاعتزلون الى اخير الآية.

**درویش وایي:** چي د دې آیت د عموم څخه دېر شیان خارج سوه مثلاً وطي د
ماینې په حال کي د حیض یا د نفاس، او دغه رنګه نه ده روا وطي د هغه مینځي
سره چي د مالک سره یې تی رودلی وي، او دغه رنګه نه ده روا ښځي ته چي خپل د
مریي له ذکر څخه فائده واخلي الی غیر ذالک (فانهم غیر ملومین) دوی په دغه
مستثنیاتو کي ملامت نه دي عند الله عزوجل.

**فائده:** دا جمله تعلیل ده د مضمون د استثناء یعني قوله الا علی ازواجهم آه. فان
حفظ الفرج ای الذکر عن الزوجة والسرية یعني مینځه او د دوی سره جماع کول پر
وجه مشروع ای في قبلهن لا في ادبارهن لا یلام علیه لانه مباح بل مندوب ضرورة
ابقاء النسل و وقت عدم الحيض والنفاس وعدم المحرمية بالرضاع والجزئية.

فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ۝٣١

کـه چا طلب د جماع کاوه یعني ماسوی الزوجات والسرایا بالشروط



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المذكورة، نو دغه كسان دي تجاوز كونكي، ولي چي اتيا په فعل حرام سره يې وكړي او سره ددې چي كفايت موجود وُ. قال رسول الله ﷺ انما رجل رئ امرئة يعني بيګانه ښځه چي خوښه يې سول يعني د جماع لپاره فليقم الى زوجته فوراً دي خپلي ماينې ته ورسي او جماع دي ورسره وكړي فان معها دده د ماينې سره سته يعني الفرج مثل الذي لكه د هغې ښځي چي دده خوښه سوې وه.

فوائد هذه الاية: (۱) په دې آيت سره دليل دى چي استمناء باليد يعني په لاس كي ځان انزالول حرام دى وهو قول العلماء قاطبة. قال ابن جريج سئلت العطاء عنه اى الاستمناء فقال مكروه اى كراهة تحريم. ده وويل چي ما اوريدلي دي د عليه الصلوة والسلام څخه چي بعض خلك به په ورځ د حشر بعث سي او په لاسو كي به يې حمل وي وهم هؤلاء. او په دې باب كي حديث د انس ﷺ موجود دى قال قال رسول الله ﷺ ملعون من نكح يداً يعني چي په لاس كي ځان انزال كړي (۲) له دې آيت څخه دا هم معلومه سوه چي نكاح د متعه چي ايرانيان يې صيغه بولي هم حرامه ده، ولي چي ښځه په نكاح سره متعه په جمله كي د زوجاتو نه داخلېږي حتى هغه لكه شيعه ګان چي متعه روا بولي، وايي چي په نكاح د متعه ميراث يو د بله نسي وړاى نو دغه ښځه نه ماينه ده نه سريته او آيت مبارك خو وايي: فمن ابتغى وراء ذالك آه نو د صيغه نكاح كونكي هم من العادون دى.

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ﴿۳۲﴾

او هغه كسان دي چي دوى د اماناتو د دوى او عهد لره د دوى مراعات كونكي وي او محافظت كونكي وي اي يحفظون الامانات ويحفظونها الى اهلها.

**فائده:** بعض امانات په مابين كي د بنده او د خداى عزوجل وي لكه لمونځونه، يوه مياشت روژه والزكوة والحج على الغني، الغسل عن الجنابة وغيرها، والفرائض الواجبة حقًا لله تعالى كلها من هذا الباب، والامانات بين العباد كانوا دائع والبضاعات والعواري، نو پر بنده باندي واجب ده وفا په تولو سره، او وفا په وعده سره لكه په عهد الميثاق كي يعني الست بربكم؟ قالوا بلى وغير ذالک كما ان الله اخذ العهد عن اهل الكتاب ان يبينوا نعوت النبي ﷺ في كتابيهما ولا يكتمونها يا هغه وعدې چي ستاسي تر مابين واقع كېږي في



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المعاملات لکه بیع ثمن موجل یا شراء مبیع موجل کالسلم.

روی البخاري عن ابی هریرةؓ قال قال رسول اللهﷺ آیة المنافق ثلث وزاد في مسلم وان صلی وصام وزعم انه ثم اتفقا الشیخان (۱) اذا حدث کذب (۲) واذا وعد خلف (۳) واذا اوتمن خان.

**درویش وایي:** چي په مسلمان کي چي دا دري علامي موجودي وي دي ته منافق عملي وایي، ابو داؤد د عبدالله بن ابی الحسماء څخه روایت کړی دی چي ما یو شی رانیوی د نبيﷺ څخه د مخه تر دي چي ده ته نبوت نه ؤ ورکړه سوی، نو یو څه مبلغ مي ورکړی یو څه مبلغ پاته سو، ما ورته وویل چي ته دلي ودرېږه زه به یې دستي درله راوړم، عبدالله وایي چي زه ولاړم هغه وعده د علیه الصلوة والسلام سره د ما علیه مي هېره سوه دري ورځي وروسته مي په یاد سوه چي راغلم رسول اللهﷺ ته فقال لقد شققت علي (ډېر تکلیف دي پر ما تېر کړی) زه تا ته دا دري ورځي منتظروم (یعني لمراعات العهد الذي عاهدتک)

**پوښتنه:** امانات یې جمع راوړی او عهد یې مفرد راوړی حکمت یې څه دی؟
**ځواب:** عهد مصدر دی فلا یحتاج الی جمعه کما قال النحات بخلاف الامانته فانه بمعنی ما اوتمن علیه.

**درویش وایي:** چي روح المعاني یوه بله وجه معقوله راوړي ده چي عبارت عربي یې ډېر زیبا دی لکن نقل و پښتو ته یې ګران دی فانظر الی عبارة روح المعاني.

وَالَّذِينَ هُم بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ ﴿۳۳﴾

او هغه کسان چي دوی پر شهاداتو خپل ثابت قدمه وي یعني شهادات پټهوي نه او تغیر هم نه ور رسوي بالزیادة والنقصان ولایخافون في اداء الشهادات لومة لائم سواء کانت الشهادة خالصًا لله تعالی کالشهادة علی توحیده تعالی لآ اله الا الله والرسالة محمد رسول الله او شهادة اهل الکتاب من الیهود والنصاری من الشهادة علی نعوت النبي اخیر الزمان التي في التورات والانجیل یا شهادة برؤیة هلال رمضان اولاً و اخیراً یا شهادات په حدود سره یا شهادت په حقوق د بندګانو في المعاملات او یا شهادت پر خپل ځان وهو الاقرار بالدیون او یا شهادت علی الوالدین والاقربین.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٣٤﴾

او هغه کسان دي چي د لمونځو حقوق پر ځای کوي من ادائها في اوقاتها بالجماعة وارکانها وسننها ويحترزون عن فواتها من الاوقات وغيرها من اداب الصلوة.

أُولَٰئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُّكْرَمُونَ ﴿٣٥﴾

دغه کسان چي دغه صفات پکښي موجود وي په جنتو کي به وي سره د کرامت، دا جزا د اولئک دی، في جنات متعلق دی په مکرمون سره قدم عليه لرعاية الفواصل.

فَمَالِ الَّذِينَ كَفَرُوا قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ ﴿٣٦﴾

پس څه سبب دی هغه کسانو لره، قال البغوي "نزلت في جماعت من الکفار کانوا يجتمعون حول النبي ﷺ يستمعون کلامه ويستهزؤن ويکذبونه، فقال الله تعالى توبيخا لهم مالهم ينظرون اليک ويجلسون عندک ولا ينتفعون بما يستمعون منک.

**فائده:** الفاء للسببية وکلمة ما استفهامية للتوبيخ خبره مابعده (قبلک) ظرف دی د مابعد (مهطعين) حال دی د الذين کفروا څخه او عامل يې معنی د فعل ده ای مايصنعون ای الکافرون چي ستا وخواته چابک چابک روان وي او غاړي يې جګي نيولي وي او سترګي يې جګي درته نيولي وي، کذا قال البغوي" او په قاموس کي وايي هطع کمنع هطوعا اسرع مقبلا آه.

عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِينَ ﴿٣٧﴾

متعلق دی مهطعين پوري (عز) جمع د عزة ده په معنی د جماعة يعني جماعات متفرقه ټوک ټوک د راسته لاس د خوا ټوک د چپه لاس د خوا، په قاموس کي وايي عزة کعبدة العصبة من الناس (ای جماعت د خلکو)

أَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ﴿٣٨﴾

آيا طمع لري هر سړی له دې کفارو څخه چي دی به داخلېږي يعني په ورځ د قيامت ونعمتو ته د جنت، الاستفهام للانکار يعني بېله ايمان او عمل صالح.

**بوه سه:** چي دا رد دی د هغه د مشرکانو چي دوی به سره د اعتقاده ويل چي


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعث بعد الموت محال دی، دا به یې هم ویل: لو كان البعث حقا كما يقول محمد كنا افضل منه كما في الدنيا.

كَلَّا ۖ إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

داغسي نه ده (رد دی د دغه باطل د دوی وبالفارسية نه اینچنین بلکه کافران به جنت راه نیست)

سوال: څرنګه دوی ته د طمع نسبت وکړه سو او دوی دا خبره استهزاء کوله؟

ځواب: رب جل وعلا خبر دی په احوالو سره د دوی فلعل بعضهم يطمع ذالك او یا مراد دا دی چې دفع د وهم د بعض ضعفاؤ د دوی چې داسي طمع د دخول جنت ته به صحیح وي (انا خلقناهم مما يعلمون) په تحقیق موږ دوی پیدا کړي دي له هغه څه څخه چې علم پر لري، مفسرین وايي چې په دې آیت کي دلیل دی پر نشأة الآخرة يعني بعث بعد الموت په نشئات اولی سره و بطلان دعوى استحالة البعث بعد الموت او دلیل دی پر بطلان د طمع في دخول الجنة بلا ایمان، وحاصل الكلام چې تاسي ایها الکفار خبر یاست چې تاسي ماده نطفة چې مستقذر شی ده ثم من علقه ثم من مضغة كذالك ولا يقتفر شيئ من ذالك الاكرام ولا يناسب عالم القدس، نو هغه څوک چې خپل ځان کامل نه کړي په ایمان او طاعت سره ولم يتخلق بالاخلاق المرضية عند الله سره لم يستعد لدخول دار الكرامة الجنة في يوم القيامة.... مصرع: این خیال است و محال است و جنون.

فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ إِنَّا لَقَادِرُونَ ﴿٤٠﴾

بعض مفسرین وايي: في مثل هذه العبارة چې زه قسم نه اخلم، ولي دا وروسته چې راځي یعني انا لقادرون آدبې قسم ظاهره ده، او بعض مفسرین وايي چې لا زائد دی ای اقسم، او حسین کاشفي په تفسیر حسیني کي وايي فلا يعني نه چنانست که کفار میگویند سوگند میخورم (برب المشارق والمغارب) ای رب مشارق الكواكب ومغاربها او یا مراد دا دی مشرق الشمس و القمر كل يوم من ايام السنة، ولي چې لمر او سپوږمی هره ورځ په جلا جلا مشرق کي راخېژي او په جلا جلا مغرب کي لوېږي (انا لقادرون) یعني موږ قادر یو والجمع للتعظيم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ ۙ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۴۱﴾

پر دې چې موږ بدل کړو خير تر کفارو د مکې يعني دوی به هلاک کړو او ښه انسانان به په عوض کې د دوی پيدا کړو.

**پوه سه:** چې دا تبديل خو نه دی واقع سوی وانما ذکر الله عزوجل تهديدًا لکفار مکة تا چې دوی ايمان راوړي، وقيل بدل الله اهل مکة بالانصار والمهاجرين في المدينة (ومانحن بمسبوقين) موږ نه مغلوبه کېږو يعني چې داغسي اراده وکړو چې دوی هلاک کړو او په ځای کې د دوی خير تر دوی پيدا کړي دا جمله معطوف ده پر انا لقادرون باندي.

**فائده:** په ذکر کې د رب المشارق والمغارب استدلال دی پر لوی قدرت د خدای چې اسمانونه او مافيها من الشمس والقمر والکواکب واختلاف مشارق کل منها ومغاربها في کل يوم، نو خدای مغلوب او عاجزه نه دی له تبديل څخه د اهل مکة په من هم خير منهم.

فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۲﴾

کلمه د فاء لپاره د سببيت ده، والمعنى اذا علمت (چې ته پوه سوې) قدرتنا على اهلاکهم (چې موږ قدرت لرو پر اهلاک د دوی) فلا تهتم (نو ته غم مه کوه) ولي زه استدراج د دوی کوم او عذاب ورکوم اشد العذاب، اما في الدنيا کما في يوم بدر واما في الآخرة فالنار مثوى لهم (يخوضوا) چې دوی دي بحث کوي په باطلو خبرو کې الذي من جملته ما حکى عنهم او بعث او ساتېرى په دنيا کې الذي من جملته ما حکى عنهم او بعث او ساتېرى په دنيا کي بالاشتغال بما لاينفعهم وانت بما امرت به.

**فائده:** دا دوه لفظه مجزوم دي په جواب کې د امر يعني فذرهم.

**فائده:** هذا الامر والآية يعني فذرهم الى اخير الآية منسوخة بايت السيف کما قال صاحب روح البيان (حتى يلاقوا) چې دوی ملاقي کېږي تر هغې ورځې چې د عذاب سره د القيامة ملاقي کېږي هغه عذاب چې د دوی سره يې وعده کړه سوې وه په دنيا کې يعني في آيات القرآن العزيز.

يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ

بدل دی د يوم سابق څخه يعني هغه ورځ چې دوی راووځي له قبرو څخه. جمع د جدث ده وهو القبر.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه:** چي چونکه عادت د عربو عادت دفن الميت في القبورؤ نو له دې سببه يې قبور ذکر کړه ورنه هر چېرې چې وي که درياب ماهيان جوړ کړي يا تر دېوالو د خونو په نسبت د زلزلې مدفون وي الى غير ذالک.

## سِرَاعًا كَاَنَّهُمْ اِلٰى نُصُبٍ يُّوْفِضُوْنَ ۝

سراع جمع د سريع ده لکه کرام جمع د کريم حال دی له ضمير څخه د يخرجون يعني په تلوار او چابکوالي، يعني ګويا دوی ونصب ته په تلوار ورځغلي، روح البيان وايي چي نصب كل مانصب فعبد من دون الله چي بتان دي او له ابن عمرؓ څخه روايت دی چي نصب دام د ښکار د ماهيانو دی چي ماهيان پکښې بندي ښکاري چابک ورځغلي چي سره جمع يې کړي.

## خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۝

حال دی من فاعل يوفضون، چي پر دوی احاطه کړې ده ذلت يعني اثار د ذلت پر دوی محيط وه.

**پوه سه:** چي خاشعة حال دی فاعل يې ابصارهم دی لکن على الاسناد المجازي يعني خشوع چي صفت د ټولو اعضاؤ د بدن وه اسنا يې و سترګو ته لظهور اثاره په سترګو کي چنانچه پښتانه وايي مړې سترګې يې نيولي وي، يا وايي چي په مړو سترګو ګوري.

## ذٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِيْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ ۝

دغه هغه ورځ ده چي د دوی يعني کفارو سره وعده کړه سوې وه په دنيا کي په قرآني آياتو سره او پر ژبه د رسول اللهﷺ وهم في الدنيا ينكرون ذالک اليوم فاذا رؤها ذلت ذلة بعيدة مؤبدة عليهم ابصارهم.

**درويش وايي:** چي تفسير د سورة المعارج په وخت کي د ضحوة الكبرى من يوم الجمعة ۱۵ د رجب الخير سنه (۱۴۳۳) هجري قمري په توفيق د خدای عزوجل پای ته ورسېدی، ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وآله وصحبه البررة، په هم دغه ورځ تفسير د سورة نوح شروع سو، رب سهل وتمم بالخير.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة نوح مكية وهي ثمان وعشرون اية فيها ركوعان بسم الله الرحمن الرحيم

سورة نوح چي مكية دی او آيتونه يې په نېزد مظهري اته ويشت (٢٨) دي، او روح البيان وايي چي يا اوه ويشت يا اته ويشت دي، او روح المعاني وايي چي آيتونه د كوفي قراؤ په نېزد اته ويشت دي او د بصري قراؤ په نېزد نهه ويشت دي او د نورو قاريانو په نېزد دېرش دي، والله اعلم بالصواب.

## إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ

په تحقيق موږ استولی نوح ده د قوم ته.

**يوه سه:** چي په ابتداء كي يې ان حرف تحقيق راوړی للاهتمام برسالته.

**فائده:** بعض علماء وايي چي نوح اسم عجمي دی. الجواليقيؒ وايي چي عربو يې استعمال رواج كړی چي دې ته په اصطلاح كي عجمي معرب وايي، او كرماني وايي چي معنی د نوح په سرياني لغت كي الساكن ته وايي.

**سوال:** پر دې تقدير خو په نوح عجميت او علميت دواړه سته، نو ولي غير منصرف نه كړی يعني منون يې وو ايي؟

**ځواب:** لعدم زيادته على ثلثة احرف مع سكون الحرف الاوسط وليس بعربي اصلاً (كذا في روح المعاني) او هغه خبره چي الحاكم په مستدرك كي كړې ده انما سمي نوحًا لكثرة نوحه وبكائه على نفسه (يعني فيكون عربيًا) قال روح المعاني لايكاد يصح، والمشهور ان اسمه عبد الغفار، او په يو روايت ضعيفه كي راغلي دي چي ده يو وخت سپی وليدی چي ګرګړ نو يې بد ځني راغله پر تو يې كړه، نو خدای سپی پر خبرو راوستی اتعيبني ام تعيب خالقي؟ فندم وناح.

**درويش وايي:** چي دا مقام معركة الاراء د مفسرينو دی، مظهري وايي چي د من قوله تعالى الى قومه څخه دا معلومه سوه چي نوحؑ مبعوث الى الناس كافة نه ؤ كما يدل عليه حديث جابرؓ قال قال رسول الله ﷺ اعطيت خمسًا لم يعطهن احد من قبلي، وذكر في الحديث من جملتها وكان النبي يبعث الى خاصة وبعثت الى الناس عامة، والحديث متفق عليه انتهى قول المظهري، وفي روح المعاني في تفسير قومه من سكان جزيرة العرب ومن قرب منهم لا الى اهل الارض عامة



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاختصاص نبينا ﷺ بعموم البعثة من بين المرسلين عليهم السلام انتهى، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى چي په مابين كي د رسول الله ﷺ او د نوح عليه السلام عشرة قرون.

**درويش وايي:** چي نوح عليه السلام معمر الانبياء ؤ اجماعًا او په حديث مرفوع كي راغلي دي ان نوحًا بعثه الله لاربعين سنة فلبث في قومه (٩٥) او وروسته تر طوفان (٦٠) حتى نشر الناس.

**درويش وايي:** چي په اتفاق سره نوح عليه السلام شيخ المرسلين ؤ من اولى العزم من الرسل و اول نذير على الشرك لكن دلته دا سوال پيدا كيږي چي څه جرم ؤ د اهل دده ماسوى دده د قوم چي ټولو ته يې عمومي ښېرا وكړه (رب لا تذر على الارض من الكافرين ديارًا) ولي چي نوح خو د ټولي نړۍ د اقوامو لپاره استول سوى ؤ او دا هم نه ده معلومه چي د مځكي انسانان زما څخه عصيان كوي او خداى پاك وايي وما كنا معذبين حتى نبعث رسولاً نو ماسوى د قوم د نوح عليه السلام څخه نوري اهل دنيا ته چي هغو ته نبي نه ؤ را استولى ده طوفان عذاب ولي پر نازل كړى چي يوازي اهل سفينه چي لس كسه وه نيم نر او نيم ښځي، ددې سوال په جواب كي بعض مفسرين وايي چي نوح عليه السلام ته دا معلومه سوه چي كفره د زمانې دده پر سجيه (خوى) دي يستحقق ان يدعى بالاهلاك عليهم انتهى، وهذا الجواب ضعيف مخالف لظاهر قوله تعالى وما كنا معذبين حتى نبعث رسولاً لكن په انسان العيون كي وايي په دې قول كي د عليه الصلوة والسلام وكان كل نبي يرسل الى قومه اى جميع اهل زمنه من اهل الارض او جماعة خاصة ومن الاول نوح فانه مرسلاً لجميع من كان في زمنه من اهل الارض ده ته چي خداى خبر وركړى انه لا يؤمن منهم الا من آمن قال رب لاتذر على الارض من ديارًا.

**پوښتنه:** چي رسالت د نوح عليه السلام ټوله اهل الارض ته عام سي نو دده د رسالت او د رسالت د عليه الصلوة والسلام نو څه فرق سو، وهو مخالف لما مر من الحديث؟

**ځواب:** رسالت د نوح عليه السلام عام دى لجميع من الارض في زمنه او رسالت د نبينا ﷺ عام لجميع من في الارض في زمنه ويعم من يوجد بعد زمنه الى يوم القيامة لاختم به اى بنوح الرسل فلا مساوات بين رسالة نوح عليه السلام رسالة رسول الله ﷺ.

**درويش وايي:** چي پر قول د مظهري يعني نوح نبي د قوم مخصوص ؤ لا لجميع



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهل زمنه، يرد السوال بانه لا جريمة للقوم الآخرين حتى قال نوح ؑ رب لا تذر على الارض من الكافرين ديارًا، وايضًا يلزم مخالفة لقوله وما كنا معذبين حتى نبعث، ولي تر قول د مظهري ؒ خو بقيه انسانانو ته يعني ماسوی قوم مخصوص د نوح ارسال ده نه ؤ سوی او عذاب د طوفان پر نازل سو، وما عزه المظهري چي که رسالت د نوح ﷺ که جميع من في الارض ته وي يعني دده په زمانه کي فيلزم مخالفة الحديث الصحيح الذي اورده المظهري ؒ من قوله ؑ وكان النبي يبعث الى قومه وبعثت الى التامة فيلزم المساوات بين نوح وبين النبي ﷺ فغير لازم كما مر قريبًا فتدبر غاية التدبير.

اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ①

دا چي وبېروه قوم ستا يعني له عذاب څخه د خدای ؑ د مخه تر دي چي راځي دوی ته عذاب يعني يا في الدنيا لكه طوفان يا په آخرت كي وهو النار ان لم تؤمنوا.

قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ②

وويل نوح ای قومه زما (فكسرة الميم عوض عن المضاف اليه كما اشرنا اليه في الترجمة) زه تاسي لره بېرونكی يم له عذاب څخه يعني په قيامت كي ان لم تؤمنوا په ښكاره توګه يعني نه تر ژبه لاندي.

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ وَاَطِيْعُوْنِ ③

بيان دی د منذر به عبادت دلته د توحيد دی ای وحد الله ولا تشركوا به شيئًا او د خدای ؑ له عذاب څخه وبېرېږئ في الدنيا والآخرة كما مر (واطيعوني) او زما په خوله وكړئ يعني په هغه كارو چي زه تاسي ته امر در كوم يعني طاعة الله وترک الشرک.

يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

(يغفر لكم) تاسي ته به خدای ؑ شرک ما مضى والمعاصي درو بخښي لان التائب من الذنب كمن لا ذنب له.

**فائده:** يغفر مجزوم جواب د امر دی كما هو القانون النحوي، د عمرو بن العاص ؓ څخه روايت دی قال اتيت النبي ﷺ (يعني لپاره د بيعت پر اسلام) فقلت ابسط يمينک فلا بايعک كما هو القانون في البيعت فبسط يمينه فقبضت يدي (ما لاسونه موټ كړه يعني دده پر لاس مي نه كښېښول) فقال ﷺ ما لک يا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمرو؟ (څه کوې چې لاسونه دې موټ کړه) قلت اردت اشترط (زه يو شرط په بيعت کې غواړم) قال فشرط ماذا؟ قلت اردت ان يغفر لي (يعني چې ماته بخښنه کېږي يعني د شرک ماضي او د نورو معاصيو) قال اما علمت يا عمرو ان الاسلام يهدم (نړوي) ماكان قبله، وان الهجرة اى الى المدينة يهدم ماكان قبلها وان الحج يهدم ماكان قبله (زيادة على المسؤل عنه لعمرو بن العاص رض) رواه مسلم، وعن معاذ رض قال كنت ردفا لرسول الله ﷺ على حمار زه تر شا سپور وم، د عليه الصلوة والسلام پر خره، ليس بيني وبينه الا مؤخرة الرحل (د کتې هغه د پاى لرګى) فقال يا معاذ اتدري ما حق الله على عباده وما حق العباد على العباد.

**درويش وايي:** چې په ثاني جمله کې تعبير په حق العباد على الله سره مشاكلة للجملة الاولى والا فلا يجب على الله شيئ من جانب العباد كما لايخفى، قلت الله ورسوله اعلم خداى او رسول خبر دى، قال فان حق الله على العباد ان يعبدوه ولا يشركوه به تعالى شيئا وحق العباد على الله ان لايعذب من لايشرک به شيئا فقلت يا رسول الله ﷺ افلا ابشر به الناس، قال لاتبشرهم فيتكلوا (يعني پر دغه اعتماد کوي او عمل پرېږدي) متفق عليه، او له انس رض څخه دا قصه همدغه رنګه مروي ده لکن په هغه کې دا زيادت سته چې معاذ رض دغه حديث خلکو ته ووايه، او سره د دې چې عليه الصلوة والسلام دى منع کړى ؤ په نېږد د مرګ چې زکندن يې ؤ، تاثما له سببه د دې چې کتمان د علم ګناه ده (نو د تاثما معنى دا ده چې تجنبا عن الاثم يعني په کتمان کې د علم)

**يوه سه:** چې په (من ذنوبكم) کې کلمه د من لپاره د تبعيض ده يعني هغه ذنوب چې خالصا حق الله وي لا حقوق العباد كالغصب والسرقة وغيرهما (ويؤخركم) او تاسي به وځنډوي بېله عذابه (الى اجل قريب) چې اجل موعود دى، كريمه: اذا اجلهم لا يستأخرون ولا يستقدمون، لکن دا تهوله چې خداى ج د دوى سره کوي بشرط الايمان وترک الشرک واتيان الطاعات اللازمة.

**فائده:** قضاء الهي دوه قسمه ده، يوه قضاء معلق ده په شرط سره مثلا په لوح محفوظ کې نوشته وي ان فلانا ان اطاع الله تعالى عوفى الى مدة كذا مثلا وان عصى الله يرسل عليه الطوفان مثلا او غير ذالک من عذاب الله عزوجل، وهذا القسم من القضاء تبديل يې راوړي بفقدان الشرط وهو معنى قول الله تعالى يمحوا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله مايشاء ويثبت وعنده ام الكتاب اى اللوح المحفوظ وعن سلمان الفارسي رضي قال قال رسول الله ﷺ لايرد القضاء الا الدعاء (اى الغير المبرم) ولا يزيد في العمر الا البر (اى الاحسان مع الوالدين والاقرباء) رواه الترمذي. وهذا ايضًا من قسم غير المبرم، واما القضاء المبرم فهو المراد بقوله جل ذكره لا تبديل لكلمات الله.

**درويش وايي:** چي علماء قاطبه وايي چي كتابونه دوه دي اللوح المحفوظ وكتاب المحود الاثبات.

إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝

اى الاجل الذي قدره الله في الازل (اذا جاء) پر تقدير ازلي د خداى (لايؤخر) هغه نه ځنډول كيږي.

**تنبيه:** په دې آيتو كي باعث كول دي په طاعاتو سره په اوقاتو كي د مهلت د خداى عزوجل يعني تاخير د خداى قبل الاجل المبرم .... بيت:

توبه كن امروز تو هرگز نگو كه فردا كنم
شايد بميرى صبحدم فردا نيابى درشمر

**پوښتنه:** مذهب د اهل السنة والجماعة خو دا دى چي اجل يو دى لايزيد ولا ينقص حتى ان المقتول ميت باجله، دوى وايي چي ما ورد في الحديث لايزيد في الا البر كمامر دوى چي ددې حديث داسي كوي چي البر ډېروي ثوابونه د طاعاتو. نو پوښتنه دا ده چي ما قبل بيان ستاسي خو د مذهب سره د معتزله سمون خوري؟

**والجواب:** كلا وحاشا معتزله خو له تقدير څخه د خداى منكر دي حتى چي دوى وايي چي قاتل خالق دى د موت د مقتول لا بتقديره تعالى، وما مر هو مذهب اهل السنة، نو د دې معنى د دوى چي اجل واحد دى لايزيد ولا ينقص مراد څني هو الاجل الثابت بالقضاء المبرم لاتبديل فيه لايستقدمون ساعة ولا يستأخرون والمقتول ميت باجله المبرم.

**درويش وايي:** وان شئت تحقيق هذا المقام من مذهب اهل السنة والجماعة والمعتزلة فارجع الى كتاب العلامة الثاني سعد الملة والدين التفتازاني يعني شرح العقائد النسفي وشرح المقاصد او الى كتاب الملل والنحل للعلامة عبد الكريم الشهرستاني رح وفي شرح السيد الجرجاني على المواقف للقاضي العضد رح



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ايضًا دواء لهذا المرض الساري والله اعلم بحقيقة الحال.

(لو كنتم تعلمون) اى لو كنتم من اهل العلم فهو منزل منزلة اللازم دی. الی هٰهنا حكى الله عزوجل قول نوح عليه السلام الى قومه. قال ابن عباس رضي الله عنه بعث نوح عليه السلام چي دی د څلوېښتو كالو ؤ، او دی ژوندی ؤ وروسته تر طوفان شپېته كاله، او مقاتل رحمه الله وايي دی چي سلو كالو ته ورسېدی، وقيل (۵۰) كاله وقيل (۲۵۰) كاله وكان مجموع عمره (۱۴۵۰) كاله، واتفق اهل التاريخ القديم ان لبث اى نوح عليه السلام يدعوا قومه زر كاله په پنځوس كم.

انموذج ظلم القوم على نوح عليه السلام وانموذج صبر نوح عليه السلام على اذى القوم في طول زمان دعوته اياهم الى التوحيد، روى الضحاك عن ابن عباس رضي الله عنه چي قوم نوح دی دومره وواهه چي بېهوښه به سو نو دی به يې په يوه كراسته كي وپېچی او په يوه تاريكه خونه كي به يې وغورځاوه يظن انه قد مات. خدای عزوجل به صحت ور كړی، بيا به راووتی او دوی ته به يې په دعوت د توحيد د خدای عزوجل خوله پوري كړه، او حكايت كړی دی محمد بن اسحاق المؤرخ الجليل عن عبيد بن عمر الليثي چي قوم پر راجمع سوه پر نوح عليه السلام دومره به يې سخت خپه كړی يا په لاسو يا په غاړه كي په تناؤ اچولو سره حتى چي پرده به غشي او بېهوشي راغله، يو كړی وروسته چي به په هوش كي راغلی قال رب اغفر لقومي فانهم لا يعلمون، مراد له غفران څخه غفران د خنق دده ؤ، ولي چي دوی نه پوهېږي حتى اذا عادوا الى المعاصي والشرك واشتد عليه منهم البلاء انتظر التجلي يعني كاميابي من قرن آخرين فلا يأتى قرن الا كان اخبث من الذين قبلهم حتى كان الاخرون منهم داسي به يې ويل چي دا سړی زموږ د پلرو او نيكه ګانو سره داغسي لېونی ؤ لايقبلون منه شيئًا يعني زموږ اباء او اجداد دده هيڅ خبره نه ده منلې په هيڅ شي كي فحينئذ ضاق صدره فشكى الى الله تعالى.

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ۝ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَاءِي إِلَّا فِرَارًا ۝

او وويل ده ای زما ربه په تحقيق ما دعوت وركړی خپل قوم ته د ورځي او د شپې (يعني دعوة مكررًا) نو نه كړی زيات زما دعوت دوی مګر فرار له قبول څخه د توحيد او ايمان څخه او له رسالت څخه.

وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ

او ما چي به هر وخت دعوت ورکړی و ایمان ته چي بخښنه وکړې دوی ته سبب د ایمان راوړو، نو دوی به واچولې ګوتې په غوږو کي ای انا ملهم د ګوتو سرونه بذکر الکل و ارادة الجزء.

وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا ۝

او کالي به يې پر ځانو راوپیچل یعني چي ولاړ سي زما له مجلس څخه او دوام به يې ورکړی کفر او عصیان ته، او کبر به يې مختاره کړی استکبارًا عظیمًا (کما یدل علیه التنکیر په استکبار کي)

ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝

منصوب علی المصدریة لانه احد نوعي الدعاء (ای الدعوت الی الایمان) ای دعاء مجاهرًا به وبالفارسیة، آشکارا درمحافل ایشان.

ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ۝

بیا به يې اعلان ورته وکړی، بیا به يې علحده علحده پټ ورته ویلي دي، وایراد ثم لتفاوت وجوه الدعوة فان الجهار اغلظ من الاسرار والجمع بینهما اغلظ من الافراد، والغرض ماترکت نحوًا من انحاء الدعوة.

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا ۝

بیان لقوله دعوتهم، وقال البغوي ان قوم نوح لما کفروا زمانًا طویلاً حبس الله منهم المطر فقحطوا او عقیم وګرځولې خدای ښځي د دوی څلوېښت کاله یعني اولاد يې نه کېدی فهلکت اولادهم بالصقم واموالهم بالقحط وعدم المطر علیهم نو فحینئذ قال لهم نوح ﷺ (استغفروا ربکم) تاسي بخښنه وغواړئ له خدای څخه بالتوبة عن الکفر والندم علی المعاصي په تحقیق دی خدای کثیر المغفرة (وقد ورد في الحدیث من تاب تاب الله علیه) خدای به ګرځوي آسمان یعني المطر (من قبیل ذکر الحال باسم المحل) ومعنی مدرار کثیر الدور یعني ډېر وربنت کونکی قحط به دفع سي اموال او زراعت به مو ډېر سي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴿١٢﴾

خدای به کومک ستاسي وکړي په مالو سره په سبب د ډېرو بارانو او زراعت (وبنين) په سبب د دفع عقم عن نسائکم، او تاسي ته به خدای درکړي باغونه د مختلفو مېوو لکه انګور، انار اينځر وغيره په کثرت دا وبو، او تاسي ته به درکړي ويالې او رودونه په سبب د کثرة الدور يعني کما کانت لکم قبل ارسال نوح عليه السلام، په دې کي اشاره ودې ته ده چي دا قحط او قلة المال وغيره آفات چي پر تاسي مسلط وه په سبب د کفر ستاسي او انکار د نوح عليه السلام له رسالت څخه.

**فائده:** قحط المطر بلاء عام لاينزل الا بشوم المعاصي من العوام او ددې بلاء د قحط مخ نيوی نه کېږي مګر نه په استغفار سره، نو له هم دې سببه نوح عليه السلام و قوم ته وويل اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (١٠) يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا، او هم دا سبب دی چي مشروع دی استغفار په استسقاء کي، له شبعي څخه روايت دی ان عمر خرج بالناس يستسقى بالناس فلم يزد على الاستغفار حتى رجع، يو چا ورته وويل ما سمعناک (موږ ستا څخه هيڅ نه واورېده چي تا طلب د باران وکړی) عمر ورته وويل چي ما طلب د باران وکړی پر برابر د آسمان الذي يستنزل بها القطر، ثم قرء عمر رضي الله عنه استغفروا ربكم انه كان غفارًا يرسل السماء عليكم مدرارًا، يعني عمر دا قول د نوح عليه السلام خپل دليل وګرځاوه.

مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾

**پوهه:** چي کلمه د ما استفهاميه ده مبتدا، ده لکم يې خبر دی و جملة لاترجون من ضمير المخاطب في لاترجون والعامل فيه معنى د فعل ده چي له مقام څخه فهمېږي ای ما تصنعون لاترجون ولله حال دی د وقارًا څخه قدم على ذی الحال لنکارته کما هو القانون النحوي، چي ذی الحال چي نکره وي تقديم د حال پر واجب ده کذا في الکافية، والوقار العظمة اسم مصدر دی من التوقير بمعنى التعظيم، قال ابن عباس ومجاهد لاترون لله عظمة فالرجاء بمعنى الاعتقاد عبر عن الاعتقاد بالرجاء الذي يتبع ادنى الظن مبالغة، وفي تفسير الحسيني پس چيست شمارا که اميد نداريد يعني نمی شناسيد مر خدا را عظمت و بزرګ داری و اعتقاد



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نبی کنید تا بترسید از نافرمانی او انتهی، وفي كشف الاسرار هذا الرجاء بمعنى الخوف والوقار العظمة فالمعنى لاتخافون عظمته تعالى، وعن ابن عباس رضي مالكم لاتخشون منه تعالى عقابًا ولاترجون منه ثوابًا بتوقيركم اياه تعالى.

وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴿١٤﴾

او خدای تاسي انسانان پیدا کړي یاست په ډول ډول حالاتو سره. الحال الاول خلقكم عناصر اى الارض والماء والهوا والنار. الحال الثاني مركبات. الحال الثالث الاغذية للانسان. الحال الرابع اخلاط اربعه اى الدم والبلغم والصفراء والسوداء. الحال الخامس نطفًا. الحال السادس علقًا. الحال السابع مضغة. الحال الثامن عظامًا ونحوها. الحال التاسع ثم انشأكم خلقًا آخر اى مغاير بجميع انواع الحيوان. الحال العاشر نفخ الروح فيكم فتبارك احسن الخالقين ثم يميتكم ويقبركم (اى على عادة العرب) ثم يعيدكم احياء تارة اخرى. فيعطى المطيع منكم الثواب ويعاقب العاصي.

**درويش وايي:** چي تر اوسه پوري خداى عزوجل و قريشو ته آيات د قدرت او د توحيد په انفسو کي د دوى ذكر كړه او اوس آيات افاقيه پر قدرت عاليه خپل او پر بلا مشاركة الغير فيها ذكر كوي ليعلم يؤمنون هو من عند الله عزوجل.

أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ﴿١٥﴾

آيا تاسي علم نه لرئ؟ (الاستفهام للتقرير والتعجيب) جوړي کړي الله عزوجل اووه آسمانونه پوړ پر پوړ (طباقًا) يعني بعضها فوق بعض او په منځ کي د هر سافل او عالي مسيرة خمس مائة سنة كما يدل عليه ان حاديث المتواترة المعنى.

وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾

او کرځولي يې ده سپوږمی په هغه کي نور، يعني في بطنه وهو السماء الدنيا.

**سوال:** ضمير خو راجع دی و ټولو آسمانو ته او سره ددې چي سپوږمی خو يوازي په اول آسمان کي ده؟

**ځواب:** هذا من قبيل ما جاء في الحديث نزل رسول الله ﷺ دور بني النجار مع انه لم ينزل في كل دور بني النجار بل في بعضها. قال البغوي الشمس والقمر



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجوهها الى السموات وضوء الشمس والقمر ولا نور شمس والقمر واشتقها الى الارض. كذا روى عن ابن عباس رض.

**فائده:** مثل الشمس بالسراج لانها يزل الظلمة عما يقابله كما يرفعها السراج عما حوله.

**سوال:** قانون خو دا دی چي مشبه به به اقوی وي په وجه کي د مشبه. مع ان السراج ادنی ضیاء تر شمس کما لا یخفی؟

**ځواب:** وجه یې ظهور د سراج ده په اذهانو کي د خلکو لشدة احتیاجهم الیه.

وَاللّٰهُ اَنۢبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾

**پوښتنه:** د الله لفظ خو قریبًا تېر سو نو ولي یې ضمیر نه ورته راجع کاوه؟

**ځواب:** التذاذًا باسم المحبوب الحقیقي.

**سوال:** مقصود خو انشاء د خلکو ده نو په انبات سره یې د څه حکمت لپاره وکړه؟

**ځواب:** انبات ادل پر حدوث دی تر انشاء من الارض بان خلق آباکم آدم علیه السلام من الارض، او یا یې وجه دا ده چي تاسي یې له نطفې څخه پیدا کړي یاست والنطفة من الغذاء چي منبت یې مځکه ده، (نباتًا) مصدر دی من غیر باب فعله لان نبات مصدر مجرد وانبت فعل مزید، او بعض نحات وایي چي نباتًا اسم مصدر دی په معنی د انبات، او بعض مفسرین وایي چي نباتًا مفعول د فعل محذوف دی تقدیره انبتکم فنبتتم نباتًا.

ثُمَّ يُعِيْدُكُمْ فِيْهَا وَيُخْرِجُكُمْ اِخْرَاجًا ﴿١٨﴾

یعني مقبورین بعد الموت فیها کما عادة العرب، نو دا سوال نه پیدا کیږي چي هنود خو مړي سوځي وروسته تر مرګ (ویخرجکم) بیرته مو له مځکي څخه راباسي په ورځ د حشر (اخراجًا) دا مصدر راوړه لپاره د تاکید دی لیدل علی تحقق الحشر.

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ بِسَاطًا ﴿١٩﴾ لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿٢٠﴾

او خدای ګرځولې ده مځکه ستاسي لپاره فرش (کلمه د لام لپاره د نفع دی. یعني لکه فریش چي هري خواته پر ګرځي) تا چي تاسي سفر وکړئ په مځکه کي پر لارو فراخو.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي

وويل نوح ؑ يا رب قوم خو زما څخه عصيان وکړی فيما امرتهم به.

**پوه سه:** چي دا جمله پر منزله د تاکيد ده د هغې جملې چي دمخه تېره سوه من قوله تعالى قال رب انى دعوت ليلاً ونهارًا فلم يزدهم دعائي الا فرارًا. الخ فان مآل الجملتين واحد.

**درويش وايي:** چي دا جمله تمهيد دی وبښرا ته.

وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾

او اتباع يې وکړه (يعني مسکينانو په کفر کي) د هغه کسانو چي بډايان دي او شتمني والا دي مال د دوی او اولاد د دوی مگر نه تاوان د آخرة، ولې چي دوی په خپلو اموالو او اولادو سره غولېدلي وه او له عذاب څخه د آخرت غافله وه.

وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾

(ومکروا) عطف دی پر لم يزده او ضمير د مکروا راجع دی و من جمع ته په اعتبار د معنى لکثرتهم في المعنى.

**فائده:** کبار په تشديد سره مبالغه ډېره ده کبار بلا تشديد ای مکروا کبيرًا في غاية الکبر، د دوی مکر يو دا ؤ چي دوی د دين د توحيد څخه پسخند جوړ کړي ؤ، او بل مکر يې دا ؤ چي سفله خلک به يې پر اذيت د نوح ؑ هڅوله.

وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا ۙ وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾

او دوی به يو و بل ته ويل مه پرېږدئ عبادت د خپلو خدايانو.

**پوه سه:** چي (ودًا) نافع ؒ بضم الواو وايي والباقون بالفتح کما هو المطبوع في المصاحف المطبوعة.

**فائده:** الهة د دوی خو ډېر وه مگر دا مذکوره بتان د دوی تخصيص بعد التعميم دی في الهتکم ذکر کړه، قال البغوي ؒ قال محمد بن کعب ؒ هذه اسماء قوم صالحين کانوا بين آدم ونوح عليهما السلام نو چي دوی مړه سوه نو دوی لره اتباع وه د يقتدون بهم ويأخذون معبدهم في العبادة ثم نشاء بعدهم اقوام فجائهم ابليس وقال



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لو صورتم صورهم كان انشط لكم واشوق في العبادة على مسالكهم ففعلوه يعني دوی مجسمي د صالحينو جوړي کړي، ثم نشاء قوم يعني بل نسل چي پيدا سو فقال لهم ابليس ان الذين كان من قبلكم كانوا يعبدونهم، نو تاسي يې هم عبادت کوئ نو خلکو شروع کړی عبادت د مجسمو د هغو صالحينو او هغه مجسمې يې په نومانو د صالحينو مسمٰی کړې، وقال عن ابن عباس رضی صارت الاوثان التي كانت تعبد في قوم نوح في العرب، اما ودًا فكان لقوم كله في دومة الجندل واما سواع فكان لقبيله هذيل، واما يغوث فكان لقوم مرو ثم لبني غطيف بالجرف عند السبا. واما يعوق فكان لهمدان، و اما نسرًا فكان لقبيلة حمير و ذی الكلاع، وقال ابن عباس رض ان تلك الاوثان المعبدون في قوم نوح دفنها الطوفان تحت التراب حتى اخرجها الشيطان لمشركی مكة فاخذها الاقوام المذكورة وزادوا اللات والعزى ومنات، انتهى قصة المعبودات في قوم نوح د مشرکی مکة.

**وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴿٢٤﴾**

ای رؤساء قوم نوح، یا ضمیر راجع و اوثانو ته دی فالاسناد مجاز کما في قوله تعالى رب انهن (ای الاوثان) اضللن كثيرًا من الناس لانهم اضلهم الشيطان بسمها (ای اوثان) ولا تزد الظالمین ای الكافرین یعني نه زیاتوي كافرانو ته مګر ضلالاً، وهذا الدعاء بعد ماقيل له انه لن من قومک الا من قد امن وقيل معناه الا هلاكًا وضياعًا، وقيل المراد بالضلال عدم اهتدائهم الى ما اراد تبيهم وقيل الى مصالح دنياهم.

**مِّمَّا خَطِيٓـَٔاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا ۙ**

کلمه د مزیدة للتاکید والتفخیم وکلمة من للسببية متعلق دی په اغرقوا پوري ای من اجل خطایاهم (اغرقوا) دوی غرق سوه په طوفان سره.

**پوه سه:** چي کلمه د فاء للعطف بلا تراخ چي مراد څني عالم برزخ او قبر دی فان القبر روضة من رياض الجنان او حفرة من حفرة النيران كما ورد في الخبر.

**تفریع:** نو دا آیت دلیل دی پر عذاب القبر خلافًا للمعتزلة وغيرهم من اهل الاهواء المنكرين لعذاب القبر والنعيم في القبر ولا يعباء بقولهم لانه قد ورد من الاحاديث مما لايخفى على عذاب القبر وانعقد عليه اجماع السلف (ای قبل ظهور



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هذه الفرق الضالة) وعن انس رض قال قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا وضع في قبره او
ورسره راغلي خلک ځني ولاړ سي او ميت اوري ترپي د چوټو د دوی. نو ورته راسي
دوې ملکي فيقول ما كنت تقول في هذا الرجل يعني محمد ﷺ يعني دده صورت
مبارک په وويني، فأما المؤمن فيقول اشهد انه عبد الله ورسوله فيقال له (اى من
جانب الملائكة) انظر الى مقعدک من النار (يعني ان كنت كافرًا) قد ابدلک الله به
مقعدًا من الجنة (يعني بسبب الايمان بالله وحده ورسول) فيراهما جميًا.

**درویش وايي:** چي دا بنده تر ابده پوري په سرور او خوشحالی کي وي، واما
المنافق والكافر فيقال له ما كنت تقول في هذا الرجل يعني محمدًا ﷺ فيقول ما
ادري زه نه يم خبر چي رسول دی او که نه لكن كنت اقول ما يقول الناس.

**درویش وايي:** چي دا جواب د منافق دی او هر چه کافر دی هاه صاه چي کلمه د تحير
ده فيقال (اى للمنافق) لا دريت ولا تليت فيضرب بمطارق من حديد په شوندانو د
وسپني ضربة يو وار دی يو لو بغاره او چغه وکړي چي وا يې وري هغه ده ته نژدې شيان
من الحيوانات غير الثقلين اى الانس والجن الى ههنا متفق عليه، او د عثمان رض څخه
روايت دی چي دی به يو قبر ته ودرېدی يعني د دعاګويي لپاره دومره به يې ژړل
چي ږيره به يې په اوښکو لنده سوه، يو چا ده ته وويل چي په وخت د تلاوت د قرآن دي
دومره نه دي ژړلي لکه ودې قبر ته چي ودرېدلې؟ عثمان رض ورته وويل ان رسول
الله ﷺ قال ان القبر اول منزلة من منازل الآخرة فان نجا منه (اى عذاب القبر) فما بعده
ايسر منه (تر قبر آسانه دی) وان لم ينج منه (كه يې عذاب له نجات څخه نه كړی پيدا)
فما بعده اشد منه، قال عثمان رض وقال رسول الله ﷺ ما رئيت منظرًا قط (د بېري ځای)
الا والقبر افضع منه، رواه الترمذي وابن ماجه، وعن ابى سعيد رض قال رسول الله ﷺ
يسلط على الكافر في قبره (٩٩) ماران الى اخير الحديث الطويل، رواه الدارمي
وروى الترمذي نحوه وقال (٧٠) بدل (٩٩) والله اعلم.

**بوه سه:** چي تنكير د نارًا في قوله فادخلوا نارًا لپاره د تعظيم دی.

فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْصَارًا ﴿٢٥﴾

او دوی يعني الكفار نسي پيدا كولای ما سوی له خدای څخه كومكيان ای
لايجد احد منه احدًا ينصره لان مقابلة الجمع بالجمع يفيد انقسام الاٰعاد على



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاحاد، په دې آيت کې اشاره ودې ته ده چې دوی خو دېر آلهه درلوده لکن د دوی پر کومک نه ودرېدل.

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ۝

او وویل نوح (دا وینا او ښېرا نوح ﷺ وکړه چې دا آیت پر نازل سو چې لن یؤمن من قومک الا من قد آمن) لاتذر علی الارض آه. مظهري وایي ای ارض قومه واللام للعهد (من الکافرین دیارًا) ای احدًا سکن دارًا مظهري وایي چې دا نکره ده په سیاق کې د نفي یعنی دیارًا نکره ده تر لاتذر لاندي واقع سوه فیعم او اصل د دیار دیوارؤ کلمه د واو يې په یا سره واړول بیا یې ادغام وکړی لکه په سید کې چې اصل یې سیود ؤ.

**درویش وایي:** چې د مظهري مذهب دا دی چې په طوفان نوح سره یوازي قوم د نوح هلاک سوي وه د ټولي مځکي کافران نه دي هلاک سوي.

**درویش وایي:** چې دا مذهب خلاف دی د هغه مشهور کالشمس علی نصف النهار خبري څخه چې نوح ﷺ آدم ثاني د مځکي دی، او داغه رنګه خلاف ده له ظاهر څخه د قرآن ههنا یعني لاتذر علی الارض من الکافرین دیارًا چې نکره په سیاق کې د نفي د ټولي دنیا کافرانو ته شامل دی او داغه رنګه خلاف ده چې په دې قصه کې بل ځای چې نوح ﷺ چې کښتی جوړه کړه له هر نوع څخه د حیواناتو یې یوه یوه جوړه یعني نر او ښځي پکښي سپرولې، یعني غویی او غوا. خر او خره وهکذا که یوازي قوم نوح د طوفان ښکار وای نو دې ته څه ضرورت ؤ ولې چې نوره دنیا د کافرانو خو باقي وه په نېز د مظهري په هغو کې موجود وه، او داغه رنګه قول د مظهري خلاف دی چې نوح ﷺ چې په کښتی کې سپرېدی خپل زوی کنعام چې کافرؤ دعوت ورکړی چې راسه په کښتی کې سپور سه هغه ورته وویل سٲوی الی الجبل یعني من الماء (زه به پناه ورورم و یو لوړ غره ته چې ما له اوبو څخه وساتي) نوح ﷺ ورته وویل لاعاصم الیوم من الماء، عاصم من خو نکره په سیاق کې د نفي راغلې ده نو باید عام وي که چېري د نوري مځکي کفار نه غرقېدای خو زوی بې ورته ویلي وای چې زه به نورو کفارو ته چې نه غرقېږي ولاړ سم، وایضًا قول المظهري. التاریخ القدیم چې وایي چې په طوفان نوح کې پر یو



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لوی غره چي جبل نهاوند يې بولي په مابين کي د طي او قبرستان دی چي نهايت جګ دی يو قامت او به ولاړي وي، صرف مظهري دا خبره مدنظر نيولي ده چي نوح^ع خو يوازې د خپل قوم نبي وُ و ټولو کافرو ته د نړۍ خو نبي نه وُ حتی چي دده په ښېرا ټوله دنيا د طوفان په لپېټ کي راغله، ددې خبري جواب تفصيلاً فقير دمخه اوراقو کي ورکړی دی فتذکر.

## إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ۝

په تحقيق که ته دا کفار پرېږدې دا تعليل د ښېرا د نوح^ع دی، دوی ګمراهان کوي عبادک ستا بندګان يعني المؤمنين، او دوی نه زېږوي مګر فاجر يعني فاسق مبالغ في الکفر، قال محمد بن کعب ومقاتل والربيع انما قال نوح هذا الدعاء علی الکفار حين اخرج کل مؤمن من اصلابهم وارحام نسائهم، ای جميع کفرة وقت نوح^ع او خدای^ج وچي کړې ملاوي د رجالو د دوی قبل العذاب و ارحام نسائهم، قيل (۹۰) کاله فاخبر الله نوحًا بانهم لايؤمنون ای کفرة الدنيا ولا يلدون مؤمنًا فدعی الله نوح^ع رب لاتذر علی الارض من الکافرين ديارًا، فعم الطوفان کلهم من قومه وسائر کفرة الدنيا فافهم.

**درويش وايي:** چي حال د قول د مظهري چي طوفان نوح مخصوص په قوم نوح پوري بولي ټوله کفارو ته د نړۍ يې شامل نه بولي او د فقير د قول حال چي طوفان نوح شامل ټولي نړۍ ته بولي هغه چا ته به معلومېږي چي روح المعاني په دې مقام کي په غور سره مطالعه کړي من اول قصة نوح^ع بيا تر اخيره پوري، او داغه رنګه روح البيان هم په غور سره مطالعه کړي او د فقير ما سبق من البيان هم په غور مطالعه کړي والوصول الی حقيقة مراده تعالی من هذه الآيات انما هو من عند الله العزيز الوهاب لکن د فقير خواهش د مطالعه کونکو څخه دا دی چي حق په رجالو سره نه وپېژني بلکي رجال په حق سره وپېژني.

## رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ

يا رب ماته بخښنه وکړې او زما و مور او پلار ته.

**پوه سه:** چي د نوح ﷺ د پلار نوم لمک بن خوشلخ وُ او د مور نوم يې سجار بنت اترشي وُ.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

الضحاک وایي چي له بیتي څخه مسجد مراد دی (مؤمنًا) احتراز له ابلیس څخه، ولي هغه په سفینه کي نهٔ ورسره باحتیال (وللمؤمنین والمؤمنات) یعني الی یوم القیامة هر څوک چي وي او په هر دین کي چي وي.

**درویش وایي:** وهذا دعاء شامل غاية الشمول.

وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا ﴿۲۸﴾

او ته مه زیاتوې کافرانو ته هر څوک چي وي، وهذا ایضًا دعاء شامل لجمیع الکفرة الی یوم القیامة (الا تبارًا) یعني هلاکًا واستجاب الله دعائه.

**درویش وایي:** چي قصه د نوح په په دې سورت کي په اختصار سره ذکر سوه، ولي نه ذکر د کښتی د جوړېدو پکښې سته نه ذکر د سپرلی پکښې.

**فائده:** په کښتی کي د نوح دده درې زامن وه حام، سام، یافس او یو څو محدود کسان د مؤمنانو او دده د زامنو زوجات او د ټولو حیواناتو نر او ښځه، دا کښتی شپږ میاشتي د اوبو پر سر وه اخیرًا چي امر د خدای وسو یا سماء اقلعي اوبه دي بندي کړه و یا ارض ابلعي، ای مځکي اوبه دي نوش کړه، نو کرار کرار کښتی کښته کېده چي پر جودي چي یو غر دی په الجزیرة کي لنګر واچاوه.

**درویش وایي:** چي سره ددې مظهري وایي چي طوفان نوح ټوله نړۍ ته شامل نهٔ بلکې فقط قوم مخصوص پکښې ؤ چي قوم د نوح پکښې هلاک سوه.

پوره تاریخ د کښتی چي وخېژل سي حال د قول د مظهري په معلوم سي.

**درویش وایي:** چي هغه څو محدود کسان چي په کښتی کي دده سره ملګري وه وروسته تر کښته کېدو په مرور د زمان د هغو نسل نه سو پاته بلکې دده د درو زامنو نسل دی تر قیامته پوري، نو له دې سببه نوح ته آدم ثاني وایي، والله اعلم.

فقیر وایي: چي له تفسیر څخه د سورة نوح پر پنځه ویشت (۲۵) تخمینًا د رجب الخیر په ورځ د جمعې بعد الصلوة په توفیق د خدای عزوجل فارغ سوم ولله الحمد والتوفیق والمنة وعلی سید رسله الصلوة والسلام والتحیة وعلی آله وصحبه البررة وعلی ازواجه المطهرة وعلی من دینه الاسلام الی یوم القیامة.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن سعی فیه آمین یا رب العالمین



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الجن مكية وهي ثمان وعشرون اٰية وفيها ركوعان بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ

(قل) يا محمد (ﷺ) و خپل قوم ته وحي كړل سوي دي و ماته. اى اوحي الي باعلام الله عزوجل.

**فائده:** ددې اخبار فائده دا ده چي رسول الثقلين اى الانس والجان دى.

(انه استمع نفر من الجن) دا چي ماته غوږ نيولى دى يو څو نفرو د پېرانانو چي ما قرآن وايه د سورة طه.

**پوه سه:** چي نفر ته له درو څخه تر لسو پوري وايي، فقيل كانوا تسعة من الجن نصيبين وقيل سبعة، والجن اجسام ذات ارواح كالحيوان عاقلة كالانسان خفية عن اعين الناس او له دې سببه يې جن بولي لكه جنين د مور په رحم كي يا جنت جنت بولي لاستتار ارضها بالاشجار، اصل خلقت د دوى له اور څخه دى يعني ماده يې اور دى لكه د آدمؑ چي ماده يې تراب دى. كريمه: و الجان خلقناه من قبل (اى قبل الانس) من نار السموم (چي دود يې نه درلود دى خالص اور ؤ) دوى متصف په ذكورت او انوثت دي يتولدون، قال المظهري والظاهر ان الشياطين قسم منهم بخلاف الملائكة فانهم لايتصفون بالذكورة والانوثة.

**پوه سه:** چي وجود د شيطانانو او د جن او د ملكو ثابت بالشرع وانكره الفلاسفة ولسبت العقول العشرة التي اخترعوها من الملائكة چي دوى عقول عشره مجرد بولي له ماده څخه بخلاف الملائكة فانها اجسام ذات ارواح والله اعلم. عن ابن عباسؓ انطلق رسول اللهﷺ چي يوه ډله د اصحابوؓ ورسره وه الى سوق عكاظ (د يو ځاى نوم دى چي په هغه كي د خريد او فروخت لپاره موقت بازار جوړېږي په كال كي) فاذا لهم صلوة الفجر ببطن نخلة (چي د يو ځاى نوم دى) نو عليه الصلوة والسلام صلوة الفجر په جهرًا قرائت سره و وايه فمر عليهم نفر من الجن وهم في صلوة نو دوى غوږ و نيوى و قرائت ته د رسول اللهﷺ. وفيه دليل چي رسول اللهﷺ دوى نه دي ليدلي. ولي كه يې ليدلي واى نو اسناد و وحي ته يې ولي كاوه يعني اوحي الي، وكذا لم اشير بحضورهم واستماعهم القرآن ولم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يقرء عليهم القرآن قصدًا بلكې اتفاقي پېښ سوه حضورهم وقت قرائة النبي ﷺ او د دوی غوږ ورته نیول فاخبره الله بذالک. نو له دغه ځای ځخه دا نفرولاړه وخپل باقي قوم ته، فقالوا يا قومنا انا سمعنا قرآنا عجبًا الخ، فانزل الله عليه نبيه قل اوحي الي قول الجن. او اکثره مفسرين داسي وايي چي ابو طالب چي مړ سو خرج رسول الله ﷺ وحده الى الطائف چي ده طلب کاوه د ثقيف له قبيلې ځخه د النصر والمنعة من قومه يعني ساتونکی له قريشو ځخه. فروی محمد بن اسحاقؒ عن يزيد بن زياد عن محمد القرضي چي هغه وويل چي رسول الله ﷺ چي طائف ته ورسېدی قصد يې وکړی يو څو کسانو ته د ثقيف د قوم چي سادات د ثقيف وه واشرافهم چي دري ورونه وه عبدياليل وسعود وحبيب چي زامن وه د عمير. او د يوه مانيه د دوی د قريشو ځخه وه فجلس اليهم فدعاهم الى الله ای التوحيد له في الذات والعبادة. او دوی ته يې وويل چي زه دد ې غرض لپاره تاسي ته راغلی يم چي تاسي زما سره کومک وکړئ پر اسلام او زما سره ودرېږئ په مقابل کي د هغو کسانو چي زما تکذيب کوی يعني قومه من قريش. يوه ورته وويل هو يمرط ثياب الکعبة (دا د دوی قسم ؤ سخت) ان کان ارسلک الله. هغه بل ورته وويل چي خدای بل څوک نه سو پيدا کولای چي ته يې رسول کړې. دريم ورته وويل والله ما اکلمک زه ستا سره په دې کي هيڅ خبري نه کوم ابدًا ان کنت رسولاً من الله کما تقول لانت اعظم خطرًا من ارد عليک الکلام وان کنت تکذب علی الله فلا ينبغي ان اکلمک، فقام رسول الله ﷺ نا اميده له اشرافو ځخه د ثقيف، او عليه الصلوة والسلام ورته وويل اذ فعلتم ما فعلتم چي کومک مو پر دين د اسلام نه را سره وکړی فاکتم علي (نو دا زما حال يعني تاسي ته په عجز راتګ پټ وساتئ) د عليه الصلوة والسلام په دې کي غرض داؤ چي قريش خبر نه سي ولي ډېر به دلاوره سي پر ما باندي، نو دا کار دوی نه وکړی بلکې دستي يې قريش په خبر کړه چي ستاسي رسول يعني په نامه د رسول موږ ته مرکه راغلی ؤ چي زما سره کومک وکړئ پر قريشو باندي. او د ثقيف قوم خپل خره ځوانان امر کړه او داغه رنګه مريان چي ښکنځل ورته کوئ او چغي او ناري پسي وهئ حتی چي پر عليه الصلوة والسلام ډېر خلک را جمع سوه او دی مبارک يې مجبوره کړی چي ننوزي په باغ د عتبه او شيبه ابنی ربيعه او دوی دوه هم په دې باغ کي موجود وه، دی مبارک يو



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځای کښېنستې وابنا ربيعة ينظران اليه. فلما اطمئن رسول اللهﷺ.

**درویش وایي:** چې زه به عربي الفاظ د پاکې خولې د علیه الصلوۃ والسلام رانقل کړم چې په پښتو کې د غسي خوا ږه الفاظ نسته. قال رسول اللهﷺ اللهم اني اشكوا اليک ضعف قوتي وقلة حيلتي وهواني على الناس وانت ارحم الراحمين وانت رب المستضعفين فانت ربي الى من تكلني الى يبعد يتهجمولي او الى عدو ملكته امري ان لم يكن بک علي غضب فلا ابالي ولكن عافيتک اوسع بي، اعوذ بنور وجهک الذي اشرقت له الظلمات وصلح امر الدنيا والآخرة من ان تنزل بي غضبک او يحل علي سخطک لک العتبي حتى ترضى لاحول ولاقوة الا بک.

نو د ربیعه زامنو چې دا حال زار د علیه الصلوۃ والسلام ولیدی زړه یې پر وسو نو د دوی یو مریی نصراني المذهب چې عداس یې نومؤ دوی و هغه ته وویل چې ته دا اوښکې د انګور واخله په دغه غاب کې کښېږده و هغه سړي ته یې کښېږده ورته ووایه و یې خوره، عداس همدغسې وکړه انګور چې یې علیه الصلوۃ والسلام ته کښېښول علیه الصلوۃ والسلام لاس ورو غځاوه و قال باسم الله ثم اکل نو عداس چې دده مبارک نوراني مخ ته وکتل د اسې یې وویل والله لایقول مثل هذا الكلام اهل اهذه البلدة، قال علیه الصلوۃ والسلام من ای البلاد انت یا عداس وما دینک، قال انا نصراني وانا رجل من اهل نینوی قال رسول اللهﷺ امن قرية الرجل الصالح يونس بن متىﷺ، عداس ورته وویل چې ته یونس بن متی څه پېژنې؟ علیه الصلوۃ والسلام ورته وویل چې هغه زما ورور هغه هم نبي ؤ زه هم نبي یم، عداس پر علیه الصلوۃ والسلام ور نسکور سو لاسونه او پښې یې ورمچ کړې، د ربیعه زامنو یو و بل ته وویل چې زموږ مریی دې سړي فاسد کړی، نو عداس چې راغلی مالکانو یې ورته وویل: ویلک تا ولې ددې سړي لاسونه او پښې ورمچ کړې؟ عداس ورته وویل یا سیدي ما علی وجه الارض خیر من هذا الرجل ماته دې سړي خبر راکړی په داسې خبرو چې لایعلمه الا نبي. نو دوی و عداس ته وویل ویحک یا عداس لایصر فنک ای هذا الرجل عن دینک یعني النصرانية فان دینک خیر من دینه عداس د دوی خبره ونه منل.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَقَالُوٓا إِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡءَانًا عَجَبٗا ۝١
ای هؤلاء الجن الذین سمعوا القرآن من النبي ﷺ ای حین رجعوا الی قومهم، موږ واورېدی مقروٌ (مصدر په معنی د مفعول دی) عجبًا، یعني بدیع التعظیم والمعنی مباین (ای جلا) له کلام څخه د مخلوق مصدر دی وصف به مبالغة.

يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا ۝٢
دي قرآن هدایت او راهنمایي کوله ورشد. ته ای الحق والصواب ته من التوحید والرسالة الذي دل علیه العقل والبرهان صفت اخری دی د قرآن (فآمنا به) نو موږ پر هغه ایمان راوړی او موږ شریک نه کړخوو په عبادت د خپل رب سره هیڅ څوک یعني من خلقه سواء کان صنمًا او ملکًا او غیر ذالک.

وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةٗ وَلَا وَلَدٗا ۝٣
ضمیر د انه للشان، او بعض مفسرین وایي چي راجع دی و ربنا ته بالفتح وکذا مابعده من الجمل المصدرة بان په یوولس ځایه کي نو تولو عطف دي پر انه استمع آه فیکون من جملة الکلام الموصی به یعني عبارة الجن کانه قیل قل اوحي الي کیت وکیت الی اخیره، او بعض قراء وایي چي بل قرائت یې متواتر هم دی انه په کسره د ان.

**درویش وایي:** چي د هغه قرائت په تصحیح او بیان کي مظهري او روح البیان او روح المعاني ډېرو تأویلاتو ته مجبور سوی دی حتی قال المظهري ولولا هذه القرائة من المتواترات لما احتجنا الی التکلفات في توجیهها.

**درویش وایي:** چي چونکه په مصاحفو مطبوعهٔ تولو کي انه بالفتح دی نو متعلمین د تفسیر ایوبي څه ضرورت لري چي ځانونه په کش مکش کي اچوي، او عمومي مطالعه کونکي د دې تفسیر که هغه تکلفات زه رانقل کړم هوا درمښت به وي والله اعلم.

**پوښتنه:** آیا رسول الله ﷺ جنیاتو بالمشافهة امر بالمعروف کړی دی؟
**ځواب:** نعم قال الخفاجي انه قد دلت الاحادیث التي ان وقادة الجن (ای ملاقاتهم) کانت ست مرات وهذا دلیل علی انهٗ مبعوث الی الجن والانس جمیعًا، وقال مقاتلؒ لم یبعث قبله (ای النبي ﷺ) الی الجن والانس جمیعًا.


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درویش وايي:** چي په منځ کي د عليه الصلوة والسلام والجن ملاقات متعدد وارونه واقع سوی دی او عليه الصلوة والسلام بذاته الشريفة دوی ته بالمشافهة احکام د اسلام او امر او نهي ورته کړي دي لهذا په احاديثو کي مختلف حديثونه راغلي دي فالکل صحيح، روی مسلم عن علي بن محمد؂ قال حدثنا ابراهيم بن اسمعاعيل بن ابراهيم عن داؤد عن عامر قال سئالت علقمة هل كان شهد ابن مسعود؄ مع رسول اللهﷺ قال انا سئلت ابن مسعود؄ فقلت هل شهد احد منكم مع رسول اللهﷺ ليلة الجن؟ فقال ابن مسعود؄ كنا ذات ليلة دی مبارک په تاريکه کي د شپې زموږ څخه ورک سو هر څو چي مو په شېلو او په غرو کي پسې وکتل پيدا مونه کړی نو زموږ دا خيال سو چي چا به پورته کړی يا يې هلاک کړی دی، ابن مسعود؄ وايي چي يوه بله شپه تېره سوه چي اکثره خلکو به د ډېره غمه څخه سترګي نه وي پټه کړې، سهار چي سو عليه الصلوة والسلام پيدا سو. نو موږ صورت حال ځني وپوښتی، اتاني داعي الجن (يعني موږ جمع کثير دلته ستا د تبليغ امر او نهي په انتظار يو نو زه ورسره ولاړم فقرئت عليهم القرآن. قال ابن مسعود؄ چي موږ ته عليه الصلوة والسلام هغه د جنياتو آثار او د پلو ځايونه راوښوول، قال الشعبي؂ وطلبوا الزاد (يعني نفقه) وكانوا من جن الجزيرة، فقال عليه الصلوة والسلام كل عظم ذكر عليه اسم الله يقع بي اليكم يكون فيه لحمًا وكك البعرة عطف على دوابكم، فقال رسول اللهﷺ يعني خطابًا لاصحابه؄ فلا تستنجوا بها فانها طعام اخوانكم من الجن.

**درویش وايي:** چي په حديث صحيح کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام امر کړه سو ان ينذر الجن ويدعوهم الى الله ويقرء عليهم القرآن فصرفوا اليه نفر من نينوي وجمعهم له (ای الله عزوجل) فقام رسول اللهﷺ اني امرت ان اقرء على الجن الليلة فايكم يتبعوني څوک زما سره ځي؟ نو خلکو سرونه کښته واچول، بيا عليه الصلوة والسلام وويل چي څوک زما سره ځي فاتبعه عبد الله ابن مسعود؄ قال عبد الله؄ ولم يحضر معنا غيري، نو زه او عليه الصلوة والسلام سره راهي سوو حتى اذا كنا باعلى مكة دخل نبي اللهﷺ دخل شعبًا يقال له شعب الجحون او يوخط يې راوګرځاوه بيا يې ماته وويل اجلس فيه (په دې خط کي کښېنه) فلا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تخرج عنه حتى اعود اليك ثم انطلق حتى قام او قرآن مبارک يې شروع کړی، عبد اللهؓ وايي چي ما ليدل مثل النسور لکه بابېي راکښته کېدلې، وروسته ډېر آوازونه پورته کېده يعني ګړبړ مې اورېدی حتى خفت على نبي اللهﷺ يعني چي څوک دښمنان پر راجمع سوي دي چي مړ يې نه کړي او پرده اسودة کثيرة راڅرګنې دي چي زما او دده تر منځ دا اسودة يعني اشخاص حائل دي يعني ما دی نه ليدی او دده مبارک آواز مي نه اورېدی، وروسته لکه د وريځي ټوټې روان سوه، نو عبد اللهؓ وايي چي عليه الصلوة والسلام فارغ سو عند طلوع الفجر نو عليه الصلوة والسلام ماته راغلی او راته وه يې ويل چي ته بيده سوې؟ فقلت لا والله يا رسول الله، بلکې څو واره ما قصد وکړی چي تر خلکو فرياد ورسوم يعني ستا په باره کي حتى چي ما واورېده چي تا لکړه ټکول، اقعدوا اجلسوا کښېنئ، نو مي زړه مطمئن سو الى اخير الحديث الطويل.

**درويش وايي**: چي ما دمخه تاسي ته وويل چي واقعه د وعظ او تبليغ او قرآن ويل څو واره متعدد واړونه پېښه سوې ده، فلا تعارض بين الآحاديث الواردة في تلک الواقعة فافهم.

(وانه) ضمير عائد الى ربنا، جد ربنا، دا جمله خبر ده د ان والعائد وضع المظهر موضع المضمر فالاصل انه تعالى جد فوضع المظهر موضع المضمر للتصريح بالربوبية، ومعنى جد ربنا جلاله وعظمته، كذا قال مجاهد وعكرمة، وقال القرطبي الا انه ونعمائه وقال بعضهم الا ملک ربنا.

**درويش وايي**: چي والكل صحيح انسب بربوبيته تعالى كما قال السعدي الشيرازيؒ:

ای برتر از قياس گمان و وهم
و از هرچه گفته اند شنده و خوانده ئيم
مجلس تمام گشت و بپايان رسيد عمر
ما همچنان در اول وصف تو مانده ئيم

(ما اتخذ صاحبة ولا ولدًا) خبر بعد الخبر دی لان يعني تعالى جل جلاله من اتخاذ الصاحبة (ماينه) او ولد لکه شان دی د مربوبينو يعني لکه نصاری چي



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي عيسى ابن الله دى نو مريم د خداى صاحبه ده نعوذ بالله من ذالك، يا لكه بعض مشركين چي وايي ملائكه بنات الله دي.

**پوښتنه:** دا جنيات نو څه په خبر وه؟

**ځواب:** هغه قرآن چي د نبي كريمﷺ څخه دوى اوريدلى وُ هغه دلالت پر دې كاوه چي رب جل وعلا نه شريک په عبادت كي لري او نه نسبت د صاحبه او ولد ورته صحيح دى، فتدبر هداک الله.

**وَأَنَّهُ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى اللَّهِ شَطَطًا**

او وو جاهل زموږ، قال قتادة و مجاهد هو ابليس وقيل المراد به مردة الجن (سركښه يعني ګمراهان د جن) پر خداى باندي قولاً ذا شطط.

**بوه سه:** چي شطط مصدر دى په ابعد دى فالمعنى قولاً بعيداً تعالى او دغه رنګه شطط جور ته وايي په حكم كي دا معنى هم صحيح ده يعني د دوى قول جور دى په حكم كي پر خداى بانه له تعالى صاحبة وولد، او دغه شطط تجاوز دى تر حد والي دا معنى هم صحيح ده، كذا في القاموس.

**وَأَنَّا ظَنَنَّا أَنْ لَنْ تَقُولَ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا**

او زموږ دا عقيده وه چي هرګز به نه وايي انس او جن پر خداى دروغ.

**بوه سه:** چي انس يې د مخه كړى په اعتبار د شرافت ورنه په وجود كي خو جن د مخه دى.

**بوه سه:** چي دا خبره عذر دى د جن د مسلمانانو له خوا چي موږ چي تقليد د سفيه كاوه ددې سببه چي شان او خبره دا وه چي زموږ عقيده وه چي څوک به هرګز پر خداى دروغ نه وايي ولهذا اتبعنا قوله وصدقناه في ان الله صاحبة و ولد، نو موږ چي قرآن كريم واوريدى وتبين لنا الحق موږ پوه سوو چي سفهاء دروغ ويله.

**وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْإِنْسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ**

او شان دا دى چي هغه وه خلک له انسانانو څخه، وروسته جمله يعني (رجال من الانس) خبر د كان دى (يعودون) يعني پناه به يې غوښته او التجاء به يې كوله.

**فائده:** په لفظ كي د رجال اشاره ودې ته ده ان للجن نساء كالانس لان رجال يقابل



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النسوة ولذا قيل في حقهم انهم اى الجن يتو الدق لكنهم ليسوا بمنظرون كابليس
وذريته قال اهل التفسير كان رجل من العرب اذا وقع في واد تعز في بعض اسفاره
وخاف على نفسه من الجن، نو به يې داسي ويل اعوذ بسيد هذا الوادي من شر
سفهاء قومه يريد الجن وكبيرهم فيبيت في امن حتى يصبح، پيرانانو چي دا واورېده
استكبروا وقالوا چي زموږ تابع سوه الانس والجن وذالک معنى قوله تعالى.

## فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ۝

عطف على يعوذون اى فزاد الرجال العائذون بهم من الانس لهم اى للجن (رهقا)
اى تكبرًا وعتوًا وسفهًا يعني په دي يې تكبر كاوه چي انسانان هم زموږ تابع سوه.
اخرج ابن المنذر وابن ابى حاتم وابن ابى الشيخ عن كردم بن السائب الانصاري قال
خرجت مع ابى المدنية په يو حاجت كي نو زموږ شپه د يو راعي الغنم سره وسوه حتى
انتصف الليل مجاء ذئب يو وری يې حمله کړی د پسو څخه فوثب الراعي، شپانه
وغورځېدی وقال يا عامر الوادي جارک زه ستا همسايه يم فنادی مناد لانراه يا
سرحان ارسله فجاء الحمل يشتد حتى دخل في الغنم ولم تصبه كدمة (اى ضرر)
فانزل الله تعالى على رسوله بمكة وانه كان رجال من الانس الآية. قال مقاتل اول من
تعوذ بالجن قوم من اهل اليمن وروسته په بني حنيفه ؤ كي دا استعاذه رواج سوه.
وروسته په عربو كي دا استعاذه معمول وګرځېده. فاذا جاء الاسلام تركوا تلك
الاستعاذة وجعلوا مكانها اعوذ بالله من الشيطان ومن الانس والجان.

## وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا كَمَا ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَبْعَثَ اللَّهُ أَحَدًا ۝

او هغو ګمان کاوه لکه تاسي چي ګمان کوئ (اى الانس كمشركى مكة لكه
تاسي اى معشر الجن) چي هرګز به خدای ژوندی نه کړي بعد الموت هيڅ څوک
من الانس والجن وغيرهما، ومعنى الآية انهم اى الجن ظنوا كاظننتم ايها الكفار
بمكة اى القريش عدم البعث فاذا نزل القرآن او جن واورېدی آمنوا بالبعث،
فعليكم ايها الكفار ان تؤمنوا كما آمنوا.

## وَأَنَّا لَمَسْنَا السَّمَاءَ

اى لمس السماء (يعني بعد بعثت النبي ﷺ)

**فائده:** ظاهره دا ده چي مراد له سماء څخه وريځ ده. ولي چي د سماء اطلاق پر هر



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مافوقک باندي کېږي کما يقال في عرف العرب سماء البيت اى سقفه ويدل عليه حديث عائشة رضي الله عنها قالت سمعت رسول الله ﷺ يقول ان الملائكة تنزل في العنان وهو السحاب (چي ملکي راکښته کېږي له اسمانه و عنان ته چي عنان وريځ بولي) نو دا ملکي يو د بل سره وايي هغه کار چي قضاء د خداى ؐ له جانبه په آسمان کي سوى وي فتسرق الشياطين السمع اى المسموع من الملائكة فيتوجه اى الشياطين الكهان (غيب ګويان) نو دا کهان سل دروا غ د ځان له خوا په ګډ کړي. رواه البخاري.

**سوال:** په بعض اخبار کي راغلي دي صريح په داسي لفظ چي مراد حقيقة السماء دى (يعني لا السحاب چنانچه عن ابي هريرة رضي الله عنه ان النبي ﷺ قال اذا قضى الله الامر في السماء ضربت الملائكة اجنحتة عاجزي کوي و امر ته د خداى عزوجل لکه ځنځير چي پر ښويه ډبره ټکوي، نو چي بيره ولاړه سي له زړو ځخه د دوى قالوا اى بعضهم لبعض ما قال ربكم قالوا الذي قال هو الحق وهو العلي الكبير فسمعوا ها مسترقوا السمع اى الشياطين وهكذا هكذا يعني بعض د دوى يو پر بل سربېره وي، و وضع سفنان بكفه يعني ګوتي يې سره خلاصي ونيولې لپاره د بيان د هيئت د شيطانانو يو پر بل باندي فيلقها الاول اى العالي على الجميع على من تحته ثم وثم حتى يلقها الاخير على لسان الساحر او الكاهن وربما ادرک الشهاب قبل ان تلقيها وربما يلقها قبل ان يدركها الشهاب الى اخير الحديث رواه البخاري وفي حديث ابن عباس رضي الله عنه قريبًا من ذالک قلنا ليس في هذين الحديثين اى الحديث الذي رواه ابو هريرة وابن عباس رضي الله عنهما وما في معناهما ان الجن يخطف من السماء الدنيا، ولعل المعنى ان اهل السماء الدنيا يعني الملائكة الذي سمعوا الخبر في السماء الدنيا ينزلون الى العنان اى السحاب، نو شيطانانو غوږ ورته نيولى وي هغه يې غلا کړي دا اخبار. الى اخير الحديث.

**درويش وايي:** چي دا توجيه او تأويل د مظهري ؒ للآية لكن روح المعاني او روح البيان وغيرهما آيت مذکوره پر ظاهر حمل کړى دى، والله اعلم فتدبر [فخذ ما صفا ودع ما كدر] صاحب د كشف الاسرار وايي د دې آية په تفسير كي من مواضع استماع الاخبار من السماء لان لكل حى من الجن باب في السماء يستمعون الاخبار، روح البيان وايي: وجه الجمع بين الاستراق من السماء و وجه الاستراق من العنان اى



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السحاب كمايدل عليه حديث البخاري ان الملائكة قد ينزلون الى العنان فيذكرون الامر المقدر في السماء يستمعون تلک الاخبار من العنان وقد يتوجه كل حي من الجن الى بابه فيستمعون الاخبار من الملائكة من ذالک الباب.

**درویش وایي:** چي وهذا وجه وجيد لوشئت ان لكل حي من الجن باب في السماء.

فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ﴿۸﴾

مونږ پیدا کړی دی آسمان (حرسًا) اسم جمع د حارث دی لکه خدم جمع د خادم ده، و معنى الحارث نګهبان او پهره دار (شديدًا) يعني من الملائكة الذين يمنعون الجن من الاستماع (شهبًا) جمع د شهاب ده وشعلة نار انتشرت من النجوم چي په پښتو کي وايي ستوري ولوېدی.

وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿۹﴾

څوک چي غوږ نسي في مقعد من المقاعد او طلب د استماع د ملكو کوي اوس يعني بعد مبعث النبي ﷺ، دی يعني المستمع د ځان لپاره او ر چي له ستوري څخه جلا سي، رصدًا جمع د رصد ده. يعني دده لپاره په انتظار وي، نو ددې سببه له استماع څخه دوی منع سوه بالكلية.

**فائده:** دا معجزه د رسول کریم ﷺ للجن ده د ایمان راوړلو لپاره.

وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْٓ اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿۱۰﴾

او مونږ نه پوهېدلو قبل ذالک (رشدًا) هدایت لکن اوس چي قرآن منزل على رسوله ﷺ واورېدی په دې پوه سوو ان الذي حال بيننا وبين خبر السماء هو بعث هذا النبي، حتى دا ورکړي معجزه د دغه نبي د کهنوو، ولي کاهنان له راوړلو څخه د خبر د آسمانو چي ذریعه د جن بې کاوه عاجزه پاته سوه، نو دا خبره ظاهره سوه چي انما اراد الله هداية ورشدًا.

**فائده:** دا درې جملې احتجاج پر حقيت د قرآن ورسوله ﷺ.

**پوه سه:** چي شر او خير جميعًا که څه په خلق د خدای دی لکن په عبارت کي د نظم جليل اسناد د خیرېې و خدای ته صراحة وکړی او اسناد د شرېې کناية وکړی حيث اورده بصيغة المجهول (يعني اريد) لپاره د ادب.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَنَّا مِنَّا الصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَ ۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ⑪

**پوه سه:** چي مراد له صالحون څخه هغه کسان د جن دي چي ايمان يې پر تورات وغيره من الكتب والانبياء السابقين عليهم السلام درلودی (ومنا) ای منا قوم دون الصالحين، موږ وو پر مختلفو لارو او مذهبو (قددًا) ای مختلفة او متفرقة، مثلاً بعض مرجئة او بعض رافضة وغير ذالک من الفرق الضالة.

**پوه سه:** چي دا قول د دوی انا منا الصالحون الخ تمهيد دی لقولهم کما سيئاتي انا ظننا ان لن نعجز الله الآية، وانا لما سمعنا الهدى الآية، حاصل د خبرو د دوی دا دی چي ايمان او تصديق نه وي کار نه دی چي موږ پر لار کړي بلکې جن د مخه تر موږ پر مذاهبو مختلفه وه بعض منهم صالحين وبعضهم دون ذالک.

وَأَنَّا ظَنَنَّا أَن لَّن نُّعْجِزَ ٱللَّهَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَن نُّعْجِزَهُۥ هَرَبًا ⑫

ظن دلته په معنی د يقين دی يعني زموږ يقين بتعليمنا في القرآن المنزل على النبي العربي محمداً ﷺ او يا معنی دا ده بعلمنا بما في التورات (الن نعجز الله) چي هيڅ کله عاجزه کولای نسي چي خدای ج اراده ورته د سوء او د عذاب ورته وکړي په مځکه کي من الانس والجن، او هرګز خدای ج عاجزه کولای نسي په تېښته من الارض الى السماء ان طلبنا هربًا ځای د تېښتي، وقيل ذالک.

وَأَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا ٱلْهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦ ۖ

او موږ چي قرآن واورېدی يعني من محمد ﷺ موږ ايمان پر راوړی، نو تاسي ای زموږ قومه ايمان پر راوړئ لتكونوا من الصالحين.

فَمَن يُؤْمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَلَا رَهَقًا ⑬

نو څوک چي ايمان پر رب خپل يعني بالتوحيد في الذات والمعبودية، کلمه د فا سببية ده او کلمه د من شرطيه ده جزاء يې وروسته ده يعني قوله تعالى (فلا يخاف) خبر د مبتداء محذوفي دی، ای هو لايخاف (بتحسًا) يعني نقصان په ثواب کي (ولا رهقًا) ای ظلمًا او يا معنی دا ده ولا ان ترهقه ذلة، وقيل غير ذالک.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا الْقَاسِطُونَ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُولَٰئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿۱۴﴾

او په تحقيق دي زمونږ څخه مسلمون اي ابرارًا، قاسطون له قسط څخه مشتق دی چي مجرد دی يقال قسط الرجل اذا جار فمعنى القاسطون الجائرون عن الحق وهو الايمان (فمن اسلم) اى بالله ورسوله دغو كسانو مختاره كړی د رشدًا اى طريقًا موصلاً الى الفلاح.

**درويش وايي:** چي دا آيت بيان دی د حال د فريقينو مذكورينو.

وَأَمَّا الْقَاسِطُونَ فَكَانُوا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿۱۵﴾

او هرچه جائران كافران دي، نو دوی ماده د دوږخ ده چي په دوی سره به اور بلېږي لكه په لرګو چي اور بلېږي (الاصول المرضوعة)

**درويش وايي:** چي دا يو څو قواعد مسلم دي عند الاكثرين من علماء المذاهب الاربعة (۱) خدای پاک چي هر څوک مكلف كړي په احكام سره د دين نو پر تقدير د اطاعت د هغو احكامو به خدای ثواب وركوي په جنت سره، او پر تقدير د انكار د هغو احكامو څخه خدای عذاب بالنار وركوي.

(۲) مكلف د خدای عزوجل له خوا انس او جن دواړه دي كما يدل عليه الآيات المتعددة من سورة الجن يعني على تكليف بالاحكام الآلهة.

(۳) اتفق العلماء للمذاهب الاربعة ان الجن يعذبون بالنار كما يدل عليه قوله تعالى واما القاسطون فكانوا لجهنم حطبًا، نو د دې مفهوم دا دی چي مؤمنانو ته د جن خدای پاک ثواب وركوي بالجنة، وايضًا ويدل عليه قوله تعالى فمن يؤمن به فلا يخاف بخسًا ولا رهقًا كما مر. ولي دا آيت تصريح ده بان الجن پر تقدير د دې ايمان راوړي دوی نه بېرېږي د بخس او رهق څخه نو ثواب بالجنة وركول كېږي كما لايخفى، وحكى عن سفيان عن ليث ان للجن ثواب الجن ان عن النار ثم قال يقال لهم كونوا ترابًا.

**درويش وايي:** وهذا القول ليس بشيئ دا قول حيوانانو ته دی چي مكلف نه دي ويل كېږي، واما الجن فهم مكلفون فما معين تكليفهم يعني چي جن ته كونوا ترابًا وويل سي فما معنى تكليفهم.

**درويش وايي:** چي علماء پر دې متفق دي چي كفارو لره د جن څو عذاب سته



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

لقول الله تعالی واما لقاسئون فکانوا الخ، په ثواب کي يې اختلاف دی بعض علماء وايي چي دوی لره ثواب سته، او له ابن مردويه څخه روايت دی چي ما پوښتنه وکړه عن حمزة بن حبيب څخه هل للجن ثواب؟ قال نعم وقرء هذه الآية لم يطمثهن (ای الحورات) انس ولا جان، فالانسان يعني ښځي د انسانانو للانس والجنيات للجن، او مالک وابن ابی ليلی وايي چي جن لره ثواب في الاحسان کما يکون لهم عذاب في الاسائة تعني حال د جن لکه حال د انس دی، روايت کړی دی ابو الشيخ عن طريق الضحاک عن ابن عباس رض قال الخلق بارکة فخلق في الجنة کلهم وهم الملائکة وخلق في اقتار کلهم وهم الشياطين، وخلق في الجنة والنار وهم الجن والانس يعني کافر هذين الفريقين في النار ومؤمن هذين الفريقين في الجنة، او له ابن وهب رح څخه چا پوښتنه وکړه هل للجن ثواب و عقاب؟ قال نعم.

**درویش وايي:** چي مؤمنانو ته د جن ثواب وايي دليل په عموماتو سره د آيتو وايي قال الله تعالی ان الذين آمنوا و عملوا الصالحات کانت لهم جنات الفردوس نزلاً يعني په دې آيت کي تخصيص د انس نه دی کړی ونحو ذالک من الخطابات الواردة في سورة الرحمن، ولمن خاف مقام ربه جنتان فبأی آلاء ربکما تکذبان (ضمير د تثنيه راجع و انس او جان ته دی) حور مقصورات في الخيام فبأی آلاء ربکما تکذبان لم يطمثهن قبلهم انس ولا جان، وقال بعض العلماء ليس للجن ثواب الا نجاتهم من النار، قال البغوي رح الشافعي المذهب واليه ذهب ابو حنيفة.

**درویش وايي:** چي دا د تعجب خبره ده امام اعظم ابو حنيفة رح خو دا مذهب دی کما نسب اليه البغوي رح بلکي امام توقف کړی دی په ثواب کي د جن سبب د توقف يې دا دی چي و جن ته عذاب د خدای عزوجل ورکړی دی، و اما القاسطون فکانوا الجهنم خطبًا او د مؤمنانو په باره کي يې صرف دا ويلي دي فمن اسلم فاؤلئک تحروا رشدًا، د جنت ذکر يې نه دی کړی، مظهري رح وايي والصحيح عندي قول الجمهور (يعني اثبات الثواب للجن المؤمنين وبه قال ابو يوسف ومحمد رح)

**درویش وايي:** چي د مذهب د جمهورو اهل العلم تائيد هغه حديث هم کوی عن انس رض عن النبي ﷺ ان مؤمنی الجن لهم ثواب وعليهم عقاب (يعني عند العصيان من اوامره تعالی کما للانس) فتدبر هداک الله تعالی الی فهم دقائق القرآن الکريم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَن لَّوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَاهُم مَّاءً غَدَقًا ﴿١٦﴾

**پوه سه:** چي ان په دې آيت كي مفتوح باتفاق القراء ان مخفف د مثقل څخه دی اسم ضمير شان محذوف دی او جمله شرطيه يې خبر ده، ومجموع الجملة عطف ده على انه استمع نفر من الجن. فالمعنى انه استمع نفر من الجن ضمير د استقاموا راجع دی و انس ته يا انس و جن دواړو ته، كذا في روح البيان كه سم د رېدلي وای جن او انس (على الطريقة) پر هغه طريقه چي رضاء د خدای پكښې وي چي دين د اسلام دی عمومًا (لاسقيناهم ماءً غدقًا) مونږ به اورولای پر دوی اوبه ډېري. مقاتل وايي نزلت هذه الآية بعد ما رفع المطر عنهم سبع سنين بدعاء النبي ﷺ، او بعض مفسرين وايي چي مراد د ماء غدقًا څخه مراد رزق واسع دی مجازًا لان الماء سبب د رزق دی لان به ينموا جميع المطعومات كما اريد له رزق څخه مطر في قوله تعالى وما انزل الله من السماء من رزق فاحيا به الارض يعني مونږ به ور كړي وای اموال كثيره وعيشًا رغدًا فراغه. وبالفارسية هر آئينه ميدهم ايشان را آب بسيار بعد از تنگ سالى يعنى روزى ايشان فراخ گردانيم. كما قال الله تعالى ولو ان اهل القرى آمنوا واتقوا لفتحنا عليهم بركات من السماء.

لِّنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾

(لنفتنهم) متعلق دی په واستقيناهم پوري، يعني چي مونږ امتحان وكړو كيف شكرهم، كما قال عمر ﷺ اينما كان الماء كان العشب (شين گياه) و اينما العشب كان الماء، يعني غنم، اوربشي، جوار، او مېوې رنگارنگ واينما كان المال تكون الفتنة اى الامتحان (ومن يعرض عن ذكر ربه) څوك چي اعراض روی گرداني وكړي له ذكر څخه د خدای عزوجل يعني عن عبادة ربه يا له موعظت څخه د خدای يا د وحي څخه د خدای چي قرآن عظيم الشان دی (يسلكه عذابًا صعدًا) دی به داخل كړي عذاب سخت ته چي پر معذب شاوخوا راگرځېدلی وي وهو معنى يسلكه، والمراد بالعذاب اما عذاب الدنيا كما وقع عليهم في بدر او في القبر او عذاب الآخرة وهو النار.

**پوه سه:** چي صعد مصدر دی، وصف به العذاب مبالغة، او بعض مفسرين وايي چي صعد يو ښوی غر دی په دوزخ كي چي وليد بن المغيرة مكلف گرځوي ملائكه چي دې غره ته وخېژه په څلوېښت كاله.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**سوال:** ولید بن المغیرة څرنګه دا ښوی غره ته ختلای سي؟

**ځواب:** د لوړي خوا څخه یې ملکي په ځنځیرانو کشوي چي سرته ورسېږي کښته یې راپوري وهي چي قعر د دوږخ ته ورسېږي، بیا یې مکلف کړي په ختلو سره وهلم جرا الی ما لا نهایة له.

**فائده:** د بعض خلکو په زړو کي به شیطان دا وسوسه ور واچوي چي کافر خو پنځوس یا اتیا یا سل کاله وغیره تېر کړي دي، باید ژوند ورختم کړي، ویقال له کن ترابًا؟

**ځواب:** ژوند دوه واره دی یو په دنیا کي او یو په آخرت کي کافر خو خپل تول ژوند که هر څو کلونه چي وُ په کفر کي تېر کړه، ولم یلتفت الی موعظة الرسل، نو به بالفور دوهم ژوند چي پای نه لري په دوږخ او عذاب کي تېروي، والحاصل ان الدنیا یوم والآخرة یوم، فالیوم بیوم وعلی هذا قیاس کړه حال د مؤمنانو چي دوی خپل عمر د دنیا په اسلام او طاعت کي تېر کړه، نو د آخرت عمر به یې تول په جنتو کي وي، کریمه: لاظلم الیوم فافهم وخلص قلبک عن وسواس الشیطان ورفقائه من سفهاء الانس، ولهذا قال الله عزوجل یوسوس في صدور الناس من الجنة (ای الشیاطین) والناس (ای تابعوهم من السفهاء) وقل اعوذ بالله من الشیاطین من الجنة والناس.

وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ۟

عطف دی علی قوله انه استمع فالمعنی ای الي چي مساجد مختص دي په خدای عزوجل پوري و بعادته خصوصًا المسجد الحرام، ولذالک قیل بیت الله.

**فائده:** مراد له مساجدو څخه چي لپاره د پنځو وختو لمونځو بناء سوي وي و ذکر الله تعالی (فلاتدعوا مع الله احدًا) نو تاسي عبادت مه کوئ (یعني په دغو مساجدو سره د خدای ج) هیڅ شی، حسین کاشفي "په تفسیر حسیني کي وایي: پس مخوانید درآن جا با خدای تعالی یکی را چنانچه یهود و نصاری در کنائس (جمع د کنیسة ده معبد الیهود) وصوامع (جمع د صومعة ده معبد النصاری) عزیر را بالوهیت یاد میکنند (یعنی یهود) و مسیح یعنی عیسی را بالوهیت یاد میکنند (ای النصاری)

**بوه سه:** چي په مقابل کي د یهودانو او نصاری ؤ مؤمنان خدای پاک چي په اخلاص کامل سره دعوات کوي اذا دخلوا المساجد وارادبها کلها وامر بتطهیرها فقال طهرا بیتي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درويش وايي:** چي په دې آيت كې كه څه هم مراد بيت الشريف الكعبة دى بقرينة مابعدها يعني للطائفين الخ لكن حكم د تطهير د مسجد حرام نورو ته هم شامل دى كما لايخفى، وامر رسول اللهﷺ جنبوا مساجدنا صبيانكم (يعني داسي صبيان چي احتمال د قلوب د مسجد په بول وغيره پكښې موجود وي) ومجانينكم (د لېونيانو څخه) وشركائكم د بتانو څخه وبليكم و خصوماتكم ورفع اصواتكم واقامة حدودكم، يعني كه څوک د زنى مستحق وُ دباندي تر مسجد به حد وركوئ او توري له تبكي څخه كښلي مسجد ته مه داخلېږئ او دباندي تر مسجد د طهارت ځايونه يعني د اودسو لپاره جوړ كړئ، او خوش بوياني په ورځ د جمعې پكښې لګوئ، رواه ابن ماجه عن واصله مرفوعًا. او نهي كړي دي عليه الصلوة والسلام د غزلو په مسجدو كي يعني چي پر طريق لهو و لعب وي بخلاف الاشعار التي فيها بيان الامور الشرعية وعن البيع والشراء فيها، يعني الا للمعتكف بدون حضور المبيعة المسجد او دغه رنګه نهي كړي دي عليه الصلوة والسلام د حلقه كښېنستلو په مسجد كي بلكې د صفو پر هيئت به كښېني، رواه ابو داؤد والترمذي، وعن انس﵁ قال رسول اللهﷺ عرضت علي اجور امتي حتى القذاة (يوه خاشه چي څوک له مسجد څخه وباسي يعني په دې كي خداى اجرت وركوي) رواه ابو داؤد و الترمذي، وعن ابى هريرة﵁ چي تاسي و وينئ هغه مسلمانان چي په مسجد كي يا شي خرڅوي يا يې رانسي تاسي ورته وواياست لا اربح تجارتک، وقال الحسن﵀ اراد بها اى المساجد ټوله مځكه لقوله عليه الصلوة والسلام جعلت بي الارض مسجدًا (د لمانځه ځاى) وطهورًا فلا تدعوا مع الله احدًا، واخرج ابن ابى حاتم من طريق ابى صالح عن ابن عباس﵄ قال قالت الجن اتأذن لنا ان اتا تشهد مسجدک في الصلوة، فانزل الله تعالى ان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احدًا.

**درويش وايي:** چي حاصل د دې دا دى چي جن ته يې اجازه وركړه او دا طريقه يې ور وښوول فلا تدعوا مع الله احدًا.

وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾

الضمير للشان والضمير كما اوتى اليه، هغه وخت چي ودرېږي عبد الله.

**سوال:** عبد الله لا رسول الله ولا نبي الله للتواضع لانه حكايته عن نفسه لانه من



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جملة مايوحى اليه باعتبار العطف، وقال المجدد في مكتوباته العبودية اقصى مراتب الكمال، يا اشاره وديِ ته ده چي عبد الله حقيقي بنده د خداى دى چي په دې كي اضافت د عبد و اسم اعظم ته د خداى چي الله عزوجل دى، كما في رد المحتار (تدعوه) حال من عبد الله اى يعبده ويذكره (چي د خداى عبادت به يې كاوه او د خداى ذكر به يې كاوه) كادوا يكونون عليه لبدًا، قريب ده چي دوى (ضمير د كادوا راجع دى و جن ته كما قال ابن عباس والضحاك و روح المعاني اى قرب الجن روح البيان) دا بيان دى د هغه حال چي عليه الصلوة والسلام و اصحاب كرامو ته د سهار لمونځ په بطن النخلة كي وركاوه.

**پوهه:** چي لبد جمع د لبدة ده لكه قرب چي جمع د قربة ده، لبدة هغه شي ته وايي چي يو پر بل سره پراته وي، ومنها لبدة الاسد يعني د زمري هغه وېښتان چي پراوږو يې يو پر بل سره سرېږه وي، يعني جنيات يو پر بل سرېږه به ولاړ وه تعجبًا لما شاهدوا من عبادته وسمعوا من قرائته واقتداء اصحابه به قيامًا وركوعًا و سجودًا لانهم دوى يعني جنياتو وليدل هغه حالات د لمانځه چي دمخه يې نه وه ليدلي او وايي وريدى هغه كلام چي دمخه يې نه ؤ اورېدلى.

**پوښتنه:** وراندي تېره سوه چي د بيت النخلة د سهار د لمانځه جنيات نهه (٩) كسه وه، نو دوى ولي يو پر بل سپرېده او دومره ازدحام يې ولي كاوه؟

**ځواب:** روح المعاني د دې په جواب كي وايي والظاهر انهم كانوا كثيرون د بيت النخلة د لمانځه په وخت كي لا تسعة انتهى، دا سوال روح البيان هم راوړى دى او جواب يې داسي وركړى دى چي دوى يعني جن د يو جهت څخه را روان وه كرار كرار پسي ډېرېدله حتى كادوا انيكونوا عليه بعدًا.

**درويش وايي:** چي الحسن و قتادة و ابن زيد رحمهم الله وايي د دې آيت په ترجمه كي لما قام عبد الله بالدعوة الى التوحيد كاد الجن والانس مجتمعين لابطال امره ليطفؤا نور الله بافواههم ويأبى الا ان يتم نوره وينصره على اعدائه.

**درويش وايي:** چي په دې سره كه څه هم هغه دمخه سوال دفع سو چي په بيت النخلة كي خو جن نهه كسه وه نو ازدحام ته څه حاجت ؤ لكه چي فقيل په نقل د قول د روح المعاني جواب وركړى او روح البيان له خوا هم، لكن د الحسن وغيره پر تفسير د انه فتحه نه صحيح كېږي لانه ليس مما اوحى اليه كما يقضيه الفتح الا ان


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يقال چي د دوی پر تفسير انه په كسره د همزه كلام مستانف دی يعني الواو للاستيناف لا للعطف، نو دا بيان دی د حال د تبليغ د عليه الصلوة والسلام كما قال هؤلاء، والله اعلم بالصواب.

قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا۟ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٠﴾

ته ورته ووايه يا رسول الله (ﷺ) چي په تحقيق زه عبادت د رب زما كوم او نه شريک گرځوم د خدای سره په عبادت كي هيڅ څوک يا هيڅ شی، نو تاسي ولي پر ابطال د كار زما چي په دعوت الاسلام سره جمع ياست، قال مقاتل چي كفار د مكې عليه الصلوة والسلام ته وويل لقد جئت بامر عظيم ای التوحيد فارجع عنه زموږ غرض ستا خير دی، فنزلت هذه الآية ومابعدها، يا معنی دا ده چي قال عبد الله حين اشتاق الجن الی كلا په فقال لهم انما ادعوا ربي فادعوا انتم ايضًا كدعائي ولا تشركوا به احدًا.

قُلْ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾

ته ورته ووايه يا محمد (ﷺ) و مشركينو ته چي زه مالک نه يم ستاسي د ضرر او نه د هدايت.

**پوهه:** چي مراد دا دی چي زه مالک نه د نفع يم نه د ضرر او نه د نفع او نه د هدايت او نه د ضلال، يعني هذه الامور ليس في قدرتي بل بقدرة الله عزوجل لانه تعالی هو الضار النافع الهادي المضل. فترک من احد المتقابلين ما ذکر في الآخر يعني يعني د ضر مقابل چي نفع ده هغه يې نه كړه ذكر رشد دلالت پر كوي او د رشد چي معنی يې دلالت دی مقابل يې نه كړی ذكر ولي ضر دلالت پر كوي چي په معنی د ضلال دی.

**درويش وايي:** چي داسي صنيع ته په اصطلاح د علم بيان صنعة احتباک وايي.

قُلْ إِنِّى لَن يُجِيرَنِى مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٌ

ته دوی ته ووايه چي هرگز ما نسي له عذاب څخه هيڅ څوک خلاصولای يعني كه زه مخالفت وكړم له امر څخه د خدای او زه خدای ته شريک ووايم فرضًا، او يا معنی دا ده چي ما ته نجات نه سي راكولای له يو ضرر څخه چي د خدای په تقدير ما ته متوجه وي من مرض كان او موت وغيرهما هيڅ څوک.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درویش وایي:** چي دا حقیقت ایمان او اخلاص دی په توحید کي اذ الاخلاص في التوحید الاقبال الی الله عزوجل والاعراض عن من سواه فافهم.

وَلَنْ أَجِدَ مِنْ دُونِهِ مُلْتَحَدًا ﴿۲۲﴾

او هرگز زه نه سم پیدا کولای ما سوی له خدای عزوجل څخه ځای د پناه چي هغه ته زه میل وکړم ان اراد الله بي سوء.

**درویش وایي:** چي په دې دوو جملو سره جواب دی د هغه قول د مکې والو چي علیه الصلوٰة والسلام ته به دوی وویل چي که ته نبي او رسول یې د خدای فأتنا بعذاب من عند الله، او یا کفارو به ده ته ویل ارجع عن دینک (یعني د توحید دین پرېږده او خپل د اجداد دین ته را واوړه مونږ تا ته د خیر اراده لرو.

إِلَّا بَلَاغًا مِنَ اللَّهِ وَرِسَالَاتِهِ ۚ

یعني بیله تبلیغه له جانب څخه د خدای (ورسالاته) عطف علی بلاغا، والاستثناء من قوله لا املک فان التبلیغ ارشاد، وما بینهما اعتراض مؤکد لنفي الاستطاعة فلا یلزم الفصل بین المستثنی والمستثنی منه بالاجنبي یعني لا املک لکم من دفع الضرر او ایصال الرشد الا التبلیغ والرسالات فاني املکه.

**پوه سه:** چي رسالات یې جمع راوړه له دې سببه چي رسالات انواع متعدده لري کما لایخفی.

وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴿۲۳﴾

او څوک چي عصیان نافرماني د خدای او له رسول څخه د خدای وکړي في الامر بالتوحید ولم یؤمن به، نو په تحقیق دوی لره اور د جهنم دی خالدین فیها ابداً دی، فیها ضمیر راجع دی نار ته چي مؤنث سماعي دی او وروسته تر خلود یې ابداً راوړی لپاره د تاکید لان الخلود قد یطلق علی المکث الطویل وان لم یدم، فدفع بالتاکید ذالک التوهم.

حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ

تر هغو پوري چي دوی وویني هغه شی چي د دوی سره یې وعده کړه کېده چي یا عذاب په دنیا کي لوقعة بدر و اما الساعة یعني ساعة الموت فان من مات فقد قامت قیامته.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوهه سه:** چي حتى غاية ده لقوله تعالى يكونون عليه لبدًا چي معنا يې اجتماع د كفارو ده لابطال امر النبي ﷺ.

فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ اَضْعَفُ نَاصِرًا وَّ اَقَلُّ عَدَدًا ﴿۲۴﴾

ژر دی چي دوی به پوه سي (يعني چي عذاب پر دوی نازل سي اما في الدنيا و اما في الآخرة) چي څوک ډیر ضعيف دی په مرسته كونكو كي او لږ دی په عدد كي يعني دوی كفار اضعف ناصرًا دي او اقل عدد دی كه نبي الله ﷺ دی.

**پوهه سه:** چي جمله استفهاميه يعني من اضعف آه قائم مقام د دوو مفعولينو د فسيعلمون دی، فقال الكفار متى هذا الوعد (اى وعد العذاب) ان كنتم صادقين فنزل.

قُلْ اِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ رَبِّيْٓ اَمَدًا ﴿۲۵﴾

ته ووايه (يا محمد ﷺ) دوی ته زه نه يم خبر (ان نافيه ده) دا چي نژدې (خبر دی د وروسته مبتدا، يعني ما توعدون؛ چي ستاسي سره وعده كړه كېږي من العذاب او الساعة، او يا به وګرځوي زما رب د هغه ما يوعدون لپاره اجلاً زمان طويل لا يعلمه الا الله.

**فائده:** دا جمله استفهاميه قائم مقام د دوو مفعولو ده ان ادري چي معنى يې علم دی چي دوه مفعوله غواړي كما في النحو.

عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ﴿۲۶﴾

زما رب په غيب خبر دی، دا كلمه يا صفت د ربي ده يا خبر د مبتداء محذوفي دی اى هو. (فلا يظهر على غيبته احدًا) اى من الخلق يعني علم نه وركوي پر غيب خپل هيڅ چا ته.

**پوهه سه:** چي مراد له غيب څخه ما غاب عن الحس لكه ورود د عذاب پر كافرانو و ما غاب عن العقل الصرف لكه مثلاً الواحد نصف الاثنين يا اجتماع النقيضين محال دی چي عقل صرف پوهېږي يا بداهة لكه مثال اول او يا په دليل سره لكه مثال ثاني.

**فائده:** مراد له غيب څخه هغه شی دی چي تر اوسه نه وي پيدا لكه اخبار د معاد جسماني او العدم بعد الوجود كاخبار المبدء والقصص الماضية التي انقطعت الرواية


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عنها، او يا هغه شي ي د بندګانو څخه غائب وي من اسماء الله تعالى وصفاته التوقيفية التي يدل عليه البرهان، واما قام عليه الدليل العقلي والبرهان النقلي لوجوده تعالى و وجوبه وتوحده وكونه متصفًا بصفات الكمال منزهًا عن سمات النقص والزوال دا د غيب څخه نه دى بلكې د شهادت څخه دى لشهود مايدل عليه من العالم..... بيت:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقى دفتريست معرفت كردگار

وكذا مسئلة حدوث العالم مثلاً ليس من الغيب بل من الشهادة ولي چې مشاهدة وهو تغير د عالم وكل متغير محدث، وهذه الاقسام من الغيب لايمكن العلم الا بتوفيق الله عزوجل، الدلائل القائمة عليها، او د اقسامو د غيب دى چې غيب دى بالنسبة الى بعض دون كاحوال الجن زموږ څخه غيب او جن ته ښكاره دى، او لكه د بعض الاشياء البعيدة موږ ته غيب دى او جن په خبر دى، او داغه رنګه احوال د آسمانو زموږ عامو خلګو څخه غيب دى دون اهل السموات يعني الملائكة واحوال اهل المشرق بالنسبة الى اهل المغرب غيب وكذا العكس، او دا قسم د غيب ګاهي حاصلېږي بالوحي والالهام الصحيح او ګاهي دا قسم د غيب حاصلېږي په رفع سره د حجاب، چنانچه روايت كړى دى مسلم له ابى هريرة ﷺ څخه چې رسول الله ﷺ وويل ما قريشو ته وويل چې زه په شپه معراج ته ولاړم د كعبة الله څخه پر براق د بيت المقدس مسجد ته ورغلم..... بيت:

درآن مسجد امام انبياء شد ..... صف پشنيان را پيشوا شد

بيا آسمانو ته ولاړم، قريشو زما څخه سوال وكړى د احوالو د مسجد الاقصى چې زما خو تپوله په ذهن كې نه وه ثبت صرف دوه ركعته لمونځ مې پكښې كړى وُ فكربت كربًا شديدًا فرفع الله بيت المقدس الي يعني حجابونه يې پورته كړه ما ورته كتل او قريشو ته مې بيانول. فليس هذا من علم الغيب بل علم المشاهدة. وروى البيهقي چې عمر ؓ يو لښكر استولى وُ او هغه لښكر تر قومندو لاندې د سارية ؓ وُ، نو په دې دوران كې عمر ؓ د جمعې د ورځې خطبه ويل بس نابيره يې ناري كړې يا سارية الجبل (لپاره د تحذير د غره يعني احد الجبل) قصه دا وه چې جنګ بين المسلمين والكافرين د غره په لمن كې جاري وُ د كافرانو يوه ډله د غره د خوا راغله تا چې مسلمانان مابين ته سي، نو عمر ؓ د يا سارية الجبل ناري شروع



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي، رواه ابي عمران، نو دا هم علم الغيب نه ؤ بلکې علم شهادت ؤ، ولې خدایٰ په خپل قدرت حجاب له سترګو څخه د عمرؓ لرې کړی په سترګو يې له مدينې څخه سره د مسافة بعيده خپل لښکر په وليدی، وما ذالک على الله بعزيز.

## اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ

(الا من ارتضى) عائد و من ته محذوف دی ای من ارتضاه، ولې خدایٰ ګاهي مطلع ګرځوي ليکون معجزة له وبشرى للمطيعين وحذرًا للعاصين (من رسول) له رسول څخه مراد عام دی که بشر وي او که ملکي وي او رسول په دې ځای کې عام دی چې ټولو انبیاؤ ته شامل دای سي لا بالمعنى الاخص ای من ارسله الله بشريعة جديدة وکتاب لانه اصطلاح جديد بلکې قيل يشتمل الاولياء بعموم المجاز، قال رسول اللهﷺ العلماء ورثة الانبياء، وايضًا ورد بطرق عديدة صحيحة العلماء مصابيح الارض بل ورد في حديث انسؓ العلماء اسناء الرسل مالم يخالطوا السلطان ويداخلوا في طلب الدنيا، و اتفق اهل السنة والجماعة ان كرامات الاولياء معجزة لنبيهم لانه قد حصل لاولياء كرامات باتباع رسولهم.

## فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًاۙ

او ګرځوي د هغه شاوخوا ساتونکې (يسلک) ای يجعل، ذکر بعض الجهات والمراد جميعها (رصدًا) جمع د راصد ده ای حفظة من الملائكة يحفظونه ای الرسول من الشياطين ان يسترقوا السمع او يخلطوا بالوحي ما ليس منه، قال مقاتلؒ وغيره چې خدای عزوجل اتاه ابليس في سورة ملک د هغه نبي سره به يې خبري کولې فبعث من بين يديه ومن خلفه (والمراد جميع الجوانب) رصد له ملکو څخه فاذا الشيطان في صورة ملک رصد يې رسول ته خبر ورکړي چې دا شيطان دی فاحذره واذا جاء ملک اخبره الراصد هذا رسول ربک.

## لِّيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ وَاَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ

**پوښتنه:** علم د خدایٰ خو ازلي دی فما معنى المضارع؟

**ځواب:** معناه ليتعلق علمه تعالى موجودًا او معناه ليميز الله (ان) مخفف د مثقل دی اسم يې محذوف ضمير شان دی (قد ابلغوا) دا خبر د ضمير شان دی چې رسولانو



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسولي دی (رسالات ربهم) يعني هغه احکام وغيرها چي خدای په را استولي ودبلا تغير ولا اخفاء بعضها (واحاط) ای الله عزوجل ای علم الله (بما لديهم) ای عند الرسل لانه تعالى لايخفى عليه شيئ في السموات والارض ولو كان ذرة.

وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴿٢٨﴾

او د خدای عزوجل په علم کي محفوظ دی هر شی از روئ عدد.

**فائده:** عددًا تمييز محول له مفعول څخه دی چي کل شيئ دی نو عددًا معنًی مفعول دی ای احصٰی عدد کل شيئ من مثاقيل الجبال يعني فلانی غر څو مثقاله دی، ومكائيل البحار يعني فلانی درياب څو پيمانې دی، وعدد قطران الامطار وعدد ما اظلم عليه الليل واشرق عليه النهار والله اعلم.

**درويش وايي:** چي له تفسيره د سورة الجن د پنجشنبې په ورځ د ماپښين پر درې بجې په توفيق د خدای عزوجل فارغه سوم، ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على سيد البرية وآله وصحبه البررة.

كچكول د فقر من العبد العاصي بانواع المعاصي الى حضرت عزيز الغفار.

الهی عبدک العاصی اتاکا ..... مقرًا بالذنوب وقد دعاکا

فان ترحم فانت لذاک اهل ..... وان تطرد فمن يرحم سواکا

حاشا لجودک ان تقنط عاصيًا ..... الفضل اجزل والمواهب اوسع

چهار چيز اورده ام شاها كه در گنج تو نيست

عاجزی و مسكينی فقر گناه اورده ام

زما د ټول عمر د خوشحالۍ ورځ به هغه وي

چي تفسير ايوبي برب الناس ته ورسيږي

مصرع: .... با كريمان كارها دشوار نيست

لسعت حية الهوى كبدی .... فلا دواء لها ولا راقی

الا الحبيب الذی شغفت به .... فعنده شفائی وترياقی

قال الله عزوجل فادعوني استجب لكم. ليلة الجمعة المباركة شهر شعبان المبارك.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة المزمل مكية وهي عشرون اية وفيها ركوعان

بسم الله الرحمن الرحيم

## يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ①

التزمل مشتق من تزمل عليه ثيابه اذا تلفف بها ثم ادغم التاء في الزاء. هذا الخطاب للنبي ﷺ في اول الوحي د مخه تر تبليغ د رسالت، وروسته بيا خطاب بالنبي و الرسول سره ورته کېدی.

**درويش وايي:** چي تو لاتفصيل د دې قصې به په سورة اقرأ کې راسي ان شاء الله تعالى.

## قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ②

اى صل، تعبيرېږي په قيام سره وکړې تعبيراً عن الكل بجزئه ورکنه، له دې څخه دا معلومه سوه چي قيام رکن د لمانځه دی.

**پوه سه:** چي الليل ظرف زمان د قم دی.

**فائده:** حرف جرېږي نخې حذف کړی دلالت کوي چي قم الليل كله كما في قوله صمت الشهر فانه يدل على صوم الشهر كله بخلاف صمت في الشهر فانه يصدق بصوم بعض الشهر وان كان يومًا او يومين او ثلثة مثلاً (الا قليلاً) مكر لږ.

**درويش وايي:** چي په (الا قليلاً) سره استثناء بقي الحكم بقيام بعض الليل چونكه استثناء مبهم ده نو په مستثنى منه کې هم ابهام راغلى فيكون قيام الليل چونكه مبهما اى لابد له من بيان فبينه الله سبحانه بقوله.

## نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ③

**پوه سه:** چي نصفه بدل دی من الليل المستثنى منه القليل بدل الكل. فتقدير الكلام قم بعض الليل اى نصفه (او انقص) عطف على قم الليل يا کم (منه) تر نصف (قليلاً) اى زمانًا قليلاً. نو قليلاً ظرف زمان دی او نقصانًا قليلاً نو قليلاً مفعول مطلق دی يعني القيام دی اکثر تر نصف النصف اى.

## أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا ④

اى على النصف يعنى ستا خوښه وي، فالمامور به في هذه الآية اكثر من ربع الليل ولو ساعة كه څه هم يو کړی وي، قال المظهري وغيره و الظاهر ان الامر



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالقيام (اى التهجد) في هذه الآية للوجوب كما هو المقتضى للامر المطلق من القرائن لغير الوجوب كما في قوله تعالى اذا صليتم (اى صلوة الجمعة) فانتشروا وابتغوا من فضل الله، فان الانتشار ليس بواجب كما لايخفي ومقتضى كلام البغوي" وهو المستفاد من قول عايشة رض وغيرها ان قيام الليل بهذه الآية كان واجبًا على النبي ﷺ وامته ثم نسخ، قال البغوي "كان النبي ﷺ واصحابه رض يقومون على هذه المقادر المذكورة نو يو سړى چي قيام به يې كاوه په دې نه پوهېدى چي ثلث الليل به كله وي او نصف الليل به كله وي ثلثان به كله پوره كېږي.

**درويش وايي**: چي په هغه زمانه كي ساعات مروجة اليوم نه وه او نه د زنګ چي سړى يې پر هر وخت برابر كړي زنګ ورته وهي لكه نن سبا چي دا آساني سته چي سړي ته نصف الليل او ثلث وغيرهما په معلومېږي، نو اصحابو رض احتياطًا تر سپېدو پوري په لمونځو د تهجد بخت وه واشتد ذالک عليهم حتى چي د ډېري ولاړي څخه يې پښې وپړسېدلې، نو خداى ارحم الراحمين پر دوى رحم وكړى وخفف عنهم ونسخ المقادير المذكورة بقوله عزوجل فاقرؤا ما تيسر منه او له اول څخه د سورة چي د قيام الليل په باره كي نصف الليل او ثلثه وغيرهما متعين تر اخير پوري چي نسخ وه يو كال تېر سو.

له سعيد بن هشام رح څخه روايت دى چي زه ورغلم سيدتنا عائشة رض ته فقلت يا ام المؤمنين انبئني (ما خبر كړه) عن خلق رسول الله ﷺ، قالت الست تقرء القرآن؟ (دې راته وويل آيا تا قرآن نه دى تلاوت كړى؟) قلت بلى (يعني د قرآن تلاوت كوم) قالت فان خلق نبي الله كان القرآن (اى العمل بالقرآن) قلت فقيام رسول الله ﷺ (يعني د قيام الليل خبر يې راته ووايه) يا ام المؤمنين قالت الست تقرء سورة المزمل؟ قلت بلى قالت فان الله افترض القيام في اول الامر اى في هذه السورة فقام رسول الله ﷺ واصحابه رض حولاً حتى چي پښې يې وپړسېدلې وامسک الله خاتمتها اثنى عشرة شهرًا ثم نزل التخفيف في اخير هذه السورة فصار قيام الليل تطوعًا بعده فريضته، رواه ابو داوٗد والنسائي والبغوي وكذا اخرج الحاكم.

**درويش وايي**: چي مظهري چي دغه احاديث مذكوره يې هم روايت كړي دي خلاف د هغو څخه چي دى ګويا د اجتهاد دعوه كوي والظاهر عندي الى اخير دعواه والله اعلم فقير عندي نه لري.



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

(ورتل القرآن ترتيلاً) عطف دى على قوله قم الليل.

**پوه سه:** چي امر بالترتيل لپاره د ندب دى والترتيل روح المعاني يې ترجمه داسي كړې ده على تؤدة په ارام سره او په مهلت سره وتبيين الحروف بحيث يتمكن السامع من عددها چي اوريدونكى يې قدرت د شمېر لري او په صراح كي چي د لغت كتاب دى وايي: الترتيل ارسال الكلمة من بسهولة واستقامة الحروف او قاموس يې هم ورته ترجمه كړې ده، او له ابن عباس ؓ څخه روايت دى بينه بيانًا او الحسن ؒ يې هم ورته ترجمه كړې ده، وَعَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سُئِلَ أَنَسٌ كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: «كَانَتْ مَدًّا». ثُمَّ قَرَأَ: {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} يَمُدُّ بِبِسْمِ اللَّهِ، وَيَمُدُّ بِالرَّحْمَنِ، وَيَمُدُّ بِالرَّحِيمِ رواه البخاري، ددې تفسير دا دى چي الف د لفظ الله به يې ښكاره ووايه او داغه رنګه الف د الرحمٰن بقدر حركة واما مد الرحيم فيجوز بقدر الحركتين في الوقف واما في الوصل فلا يجوز الا بقدر حركة، راوي چي د ام سلمة ؓ څخه پوښتنه وكړه د قرائت د النبي ﷺ فاذا هي تنعت قرائة النبي ﷺ مفسرًا حرفًا حرفًا يعني هر حرف به يې ښكاره وايه، رواه الترمذي و ابو داؤد و النسائي، او داغه رنګه له ابو داؤد څخه روايت دى ان النبي ﷺ كان يقطع القرائة يعنى يقول الحمد لله رب العالمين ثم يقف (يعني وقفة خفيفة) الرحمن الرحيم ثم يقف، رواه الترمذي، او داغه رنګه ترتيل حسن الصوت ته بقرائة القرآن ته هم وايي يعني لا على اوزان الموسيقي فانه حرام، د عبد الله بن عمر ؓ څخه روايت دى قال قال رسول الله ﷺ يقال يعني يوم القيامة لصاحب القرآن اى حافظه اقرء يعني القرآن او لوړ څه ورتل كما كنت ترتل في الدنيا فان منزلتك عند اخير آية تقرئها، رواه ابو داؤد و احمد والترمذي والنسائي.

**پوه سه:** چي حكمت په ترتيل كي دا دى چي كه قاري په معنى د قرآن پوهېدى (يعني لا كعوام العجم) فكر به په معاني وُ ددې قرآن او په الفاظو بليغهٔ كي د قرآن وكړي، والخوف عند آية الخوف والرجاء عند آية وعد الله بالجنة والثواب وكړي، وعن عبيد المليكي ؒ وكان له صحبة قال قال رسول الله ﷺ يا اهل القرآن لا تتوسدوا القرآن، قرآن بالښت مه ګرځوه، واتلوه حق تلاوته اى ساعاته اناء الليل واناء النهار يعني په ساعات د شپې او ورځې وتغنوه.

**درويش وايي:** چي مراد له غنى څخه الصوت دى لا الغناء على اوزان



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الموسیقي فانه کما مر حرام وتدبروا ما فیه لعلکم تفلحون، وعن ابن سعد الساعدي قال بینا نحن نقرء القرآن چي ناګاه علیه الصلوة والسلام راووتی فقال الحمد لله کتاب الله واحد وفیکم الاخیار ای العلماء بالقرآن وفیکم الاحمر والاسود والابیض یعني په رنګ، الی اخیر الحدیث.

إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾

موږ به وحي وکړو تاته یا محمد (ﷺ) قول چي دروند دی.

**پوهه:** چي په مراد کي د قول ثقیل اختلاف دی، بعض مفسرین وایي چي له قول ثقیل څخه مراد الامر بقیام اللیل دی ولي قیام اللیل دروند دی پر نفس، نو پر دې دا جمله تاکید دی د ما سبق یعني قم اللیل آه.

**سوال:** سین خو لپاره د استقبال قریب دی او سره د دې چي قم اللیل خو د مخه تېر سو؟

**ځواب:** نحات وایي چي سین لپاره د تاکید هم راځي، وقیل المراد به القرآن والاستقبال علی معناه لان القرآن لم ینزل دفعة قال محمد بن کعب" القرآن ثقیل علی المنافقین، والمشرکین کما في قوله تعالی ثقل علی المشرکین ماتدعوهم الیه والثقل علی المنافقین بالطریق الاولی لان المنافقین اغلظ في الکفر من المشرکین، وقال الحسن" بن الفضل ثقیل في المیزان یعني قرائة القرآن ثقیل في المیزان حین یؤذن الاعمال کما ورد في الحدیث الاخیر من البخاري. قال رسول الله ﷺ کلمتان خفیفتان علی اللسان ثقیلتان في المیزان حبیبتان الی الرحمن سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم، وقال مقاتل" ثقله ای القرآن لما فیه من الامر والنهي والحدود کحد الزنی والسرقة والیه ذهب قتادة" ایضاً، وقال ابو العالیة ثقیل لما فیه من الوعد والوعید.

**فائده:** حاصل د دې اقوالو دا دی لما فیه من التکالیف الشاقة والوعد والوعید و ذکر القیامة ثقیل علی المکلفین خصوصاً علی النبي ﷺ ولي چي پر ده مبارک بیو وار تحمل وُ د قرآن بیا یې رسول و امت ته وه، وثقل نزول القرآن علی النبي ﷺ یفهم من قوله تعالی: لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا الْقُرْآنَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ. آه، وعن



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبادة بن الصامت ﷺ كان رسول الله ﷺ اذا نزل الوحي كرب اليه (يعني اضطراب به وربيښ سو) وتربد وجهه (مخ مبارک به یې متغير سو) وفي رواية چي بعض اوقات به وحي نازلېدې عليه الصلوة والسلام به سر کښته وځړاوه او اصحابو به هم سرونه کښته وځړول فانقض الوحي، او په بخاري او مسلم کي عن عائشةؓ ان الحارث بن هشامؓ سئال رسول الله ﷺ وقال يا رسول الله كيف يأتيک الوحي قال رسول الله ﷺ يأتيني احيانًا مثل سلسلة الجرس (لکه پرله پسې اواز د ږنګولي وهو اشد عليّ (دا پر ما ډېر سخت وي) فيصم عني وقد وعيت، بيا هغه سلسلة الجرس قطعه سي ما له هغه څخه ما نازل من القرآن فهمولی وي، وقد يأتني الملک يعني جبرئيلؑ په صورت د رجل زما سره خبري وکړي نو زه ضبط کړم كما يقول: وعن عائشةؓ لقد رئيته اى النبي ﷺ ينزل عليه الوحي في اليوم الشديد البرد يعني په داسي ورځ چي سخت یخ ؤ فيفصم (وحي به قطع سوې) وان جبينه يتفقد عرقًا (ترتندي به يې خوله بهېدله (يعني ثقل الوحي) متفق عليه.

قال الكاشفيؒ درويش وايي: چي حين نزول وحي بر آنحضرت ﷺ بر آن که مذکور شد (يعنى درحديث عائشةؓ) اگر بر شتر سوار بودى دست وپاى شتر خم گشتى و اگر تکيه بر ران يکى ازياران داشتى خوف شکستن آن بودى و درآن محل روى گل برگ آنحضرت ﷺ متغير ميشدى. انتهى.

**اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيۡلِ هِيَ اَشَدُّ وَطۡاً وَّاَقۡوَمُ قِيۡلًاؕ**

په تحقيق قيام د شپې.

**يوه سه:** چي ناشئة مصدر دى پر وزن د فاعلة دى كالعافية بمعنى العفو كذا قال الازهري، وقالت عائشةؓ الناشية قيام الليل بعد النوم، وهذا هو معنى التهجد، وقال ابن الكيسان هي قيام الليل آخيره يعني چي وروسته بيا بيده نه سي بلکي ترصبح پوري ويښ وي، وقال سعيد بن جبيرؒ وان زيد اى ساعة من الليل قام فقد نشاء، وقال عكرمةؓ هي القيام من اول الليل اى بعد النوم سويعة.

**درويش وايي:** چي روح المعاني ناشية مصدر نه بولي لقوله اى النفس التي تنشاء من مضجعها الى العبادة يعني ناشئة صيغه د اسم فاعل ده موصوف يې نفس دى چي مؤنث سماعي دى واكثر اللغويين ان هذه الكلمة بهذا المعنى عربية وقيل حبشية



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والظاهر هو الأول (اشد وطئًا) الوطئة الموافقة ته وايي يعني سخت دی موافقة القلب مع اللسان، له دې سببه چې د خلکو اصوات او خبرې نه وي چې زړه په بند سي.

**درویش وايي:** چې دا معنی مبني ده پر قرائت د ابو عمرو او ابن عامرؒ چې دوی دا لفظ بکسر الواو وبفتح الطاء والمد وايي، او د جمهور پر قرائت چې بفتح الواو وسکون الطاء وايي، نو بیې معنی دا ده اشد ثقلاً من صلوة النهار لان الليل للنوم والراحة نو سړی چې اشد العبادات ثقلاً مع مراعات السنة چې مختاره کړي كان اشد ثوابًا واشد تأثيرًا والنفس واثقل في الميزان يوم القيامة.

**درویش وايي:** چې د مظهري ضد و نقیض یو د بله سره مه ګوره ولې سړی حیرانوي چې د اشد وطئًا تفسیر په کوم تفسير چې ده را نقل کړی دی وكرم ولې يو د بل سره ضد او نقیض دی فطالع التفسير المظهري في هذه الآية حتي يظهر لک صدق ما قلنا، وقال ابن زيد في تفسير وطئًا افرغ له بالنسبة الى النهار لانه تعرض له اى للمصلى حوائج و موانع كما في النهار، وقال الفراء اثبت وطئًا واسهل للمصل من ساعات النهار لان النهار خلق لتصرف العباد في الامور الدنيوية، والليل خلق للخلوة مع الاحباء والعبادة للمحبوب الحقيقي جل سلطانه ويظهر هذا للصوفي الحقيقي.

(واقوم قيلاً) اى اثبت قراءة للقرآن بسكون الاصوات بخلاف النهار كما يدل عليه التجربة.

## إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ۝٧

په تحقيق تا لره یا محمد (ﷺ) چابک تګ په خپلو مهماتو لکه دعوت د خلکو و توحيد ته و تبليغ الاحكام الى الخلق والاشتغال بورود الخلق للمناظرات والشغل ببيعة الناس وغيرها، نو له دې کبله د تهجد و لمانځه ته مخ را واړوه لان الليل افرغ من المشاغل المذكورة دا جمله تعليل د ما سبق يعني من قوله قم الليل الآية.

**درویش وايي:** چې مختصر بیان د فضائل د صلوة الليل دا دی عن ابی هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ قال ينزل ربنا كل ليلة الى سماء الدنيا (هذه الكلمة من المتشابهات) حين يبقى ثلث الآخير ويقول من يدعوني فاستجب له من يسئلني فاعطه من يستغفر فاغفر له، متفق عليه، وعن جابرؓ قال سمعت رسول اللهﷺ ان في الليل ساعة لايوافقها پر هغه ساعت نه برابرېږي عبد مسلم چې سوال وکړي په



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه ساعت د يو خير له امورو څخه د دنيا او د آخرت مګر خداى هغه خير ور کوي، رواه مسلم وعن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ چي هغه محبوب د لمونځو د خداى عزوجل په نېز لمونځ ؤ د داؤد ﷺ او محبوب د روژو عند الله صيام ؤ د داؤد ﷺ چي لمونځ يې داؤ چي تر نيمي شپې پوري بيده وي او تر ثلث د شپې يې تهجد کاوه او بيا سدس الليل بيرته بيده وي (يعني حتى يطلع الفجر) او روژي يې داسي چي يوه ورځ بې روژه وه بله ورځ بې خوړله.

**درويش وايي**: چي تر همېشه روژې دا د داؤد ﷺ روژې ډېري سختي وي، ولي چي د همېشه روژو سره سړى عادت کېږي، وعن ابى امامة قال قال رسول الله ﷺ عليكم بقيام الليل چي دا له عادت څخه د صالحانو وه تر تاسي د مخه وهو قربة لكم الى ربكم (او قيام الليل نژدې والى ستاسي و رب ته يعني سبب د نژدې والي بلا كيف و خداى ته) ومكفرة للسيئات (او سبب د بخښني د ګناهو ستاسي دى) ومنهيات الاثم (او له ګناه څخه مو منع کوي) رواه الترمذي، وعن ابى سعيد الخدري قال قال رسول الله ﷺ ثلاثة يضحك الله منهم (من المتشابهات والتأويل يظهر الرضى منهم) الترسل اذا قام بالليل (قيد د ترسل اتفاقي) والقوم اذا اصطفوا في الصلوة (مسلمانان چي په لمانځه کي) واذا اصطفوا في قتال العدو. رواه البغوي في شرح السنة، وعن عمرو ابن عيينة قال قال رسول الله ﷺ اقرب مايكون الرب من العبد في جوف الليل الآخير فان استطعت انتكون ممن يذكر الله في تلك الساعة فكن، رواه الترمذي، وعن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ اشرف امتي حملة القرآن (اى المحافظين لكتاب الله) واصحاب الليل (اى المتهجدين) رواه البغوي في شعب الايمان.

**درويش وايي**: چي كافي ده مؤمنانو لره دغه مقدار د احاديث صحيحه ؤ په فضيلت کي د قيام الليل، ومن الله التوفيق لما يحب اليه ويرضى.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ۝

او دوام کوه يا محمد ﷺ.

**فائده**: تفسير مو ړ په دوام سره وکړى لانه عليه الصلوة والسلام لم يكن غافلاً عن ذكره تعالى.

**فائده**: مراد له دوام څخه دوام عرفي دى لا الحقيقي لعدم امكانه كما في روح



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المعاني، والحاصل همېشه توب کوه پر ذکرد خدای عزوجل ليلاً ونهاراً پر هره وجه چي وي من تسبيح (سبحان الله) وتهليل (لآ اله الا الله) و تحميد (الحمد لله) وصلوة وقرائة القرآن و دراسة علم خصوصًا د سهار تر لمانځه وروسته وقبل غروب الشمس فانهما من ساعات الفتح والفيض.

**فائده:** ذکر الله على الدوام من وظائف المقربين سواء كان قلبًا كما هو وضيفة النقشبنديين او لسانًا كغيرهم او اركانًا (په اعضاؤ سره) وسواء كان قيامًا او قعودًا او على جنب.

**فائده:** حالات د ذکر چي يې عام کړه تا چه دوام عرفي امكان پذير سي، والانصاف ان ذكر القلب رئيس الاذكار كما ان القلب رئيس اعضاء الجسد قال رسول الله ﷺ ذاكر الله في العاملين بمنزلة الصابر في الغازين (يعني لکه صابر په جنګ کي د کفارو) او فرار کوونکی له جنګ څخه چي په لمانځه کي سودا او فکر د بل شي ورسره وي من امور الدنيا لايعتد به، کريمه: ويل للمصلين الذين هم عن صلاتهم ساهون (ای غافلون)

**درويش وايي:** چي فکر په لمانځه کي د داسي شي که وُ چي هغه هم عبادت وي لمانځه ته تاوان نه کوي لکه يو سړی چي په لمانځه کي فکر وهي چي حج يا عمرې ته تللی وای، والدليل على ذالک چي په فاروق نامه کي (چي د يو كتاب نوم دی) وايي چي امير المؤمنين عمر بن الخطاب ﷺ چونکه د غزواتو ډېر شائق وُ په خپله دی وايي د الفاروق په حواله چي زه چي پر لمانځه ودرېږم يعني خفيه لمونځ دا فکر وهم چي پر فلاني جهت به په خپله جهاد ته تللی وای يا دي يو سړی استولی وای، چنانچه ددې شاهد دا دی چي ده يوه سريه استولې وه مشريې ساريه ؓ وُ، ورځ د جمعې وه چي عمر بن الخطاب ؓ پر خطبه ولاړ وُ په منځ کي د خطبې يې ناري کړې يا سارية الجبل الجبل ساريه ؓ هم د عمر بن الخطاب ؓ دا ناره واوريدله. لښکر ته يې حکم وکړی چي غره ته پورته سئ چي امير المؤمنين د غره له خوا څخه د خطر ناري وهي. او داغه هم وه چي کافرانو د غره له خوا د حملې لپاره ځانونه چمتو کړي وه او سره ددې چي له مديني منورې څخه د جنګ تر ځايه څو فرسخه مسافت وُ.

**درويش وايي:** چي دا موجوده حکايت کرامت وُ د امير المؤمنى عمر ﷺ او



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معجزه وه د آنحضرت ﷺ کما تقرر في کتب العقائد، وفي المثنوي:

اولیا را هست قدرت از اله ..... تیر برجسته بگرداند زراه

نو سلفیان چې پر باطل مذهب دي او خپل د مشائخو ورته کارونه یې نه دي لیدلي نو دوی دغه زموږ حکایات صحیحه پر کذب حمل کوي، رغم الله انفسهم کیف یحکمون، وقیل قل بسم الله الرحمن الرحیم عند ابتداء قرائة القرآن.

الفتویٰ: اجماع د علماؤ ده چې قرائة د بسم الله آه في اول الفاتحة واجب ده، او داغه رنګه واجب ده بسم الله د هر سورت سره چې قراي له هغه ځخه ابتداء د قرائت کوي، واختلفوا في التسمیة بین السورتین وهذا الاختلاف بین ائمة القرائة فانظر في علم القرآءات.

(وتبتل الیه تبتیلاً) یعني ځان قطع کړه له ماسوا ځخه د رب جل وعلا.

**پوه سه:** چې تبتل باب د تفعل دی او تبتیلاً مصدر دی د باب، نو تبتیلاً مفعول مطلق دی من غیر بابه العامل فیه.

**سوال:** اصل مصدر د باب د تفعل یې ولي نه راوړی؟

**ځواب:** رعایة للفواصل (ای الاواخر الآیات التي هي من المحسنات) والمنی القطع الی الله انقطاعًا تامًا بالعبارة واخلاص النیة والتوجه الکلي الیه، وبالفارسیة یعنی نفس خود را از ریشه ما سوی الله مجرد ساز و از همگی رود روآر.

دل در و بند و از همه بگسل ..... هر چه غیر اوست بدر کن از دل

**پوه سه:** چې تبتل کسبي شی دی مرتب دی پر تبتیل، فهو ای التبتیل مقدم علی التبتل، او الحسنؒ په تفسیر کې د تبتل وایي اجتهد، او ابن زید وایي چې د تبتل معنیٰ دا ده چې رخصت ورکړه د دنیا ومافیها ته و التماس ما عند الله.

**فائده:** له تبتل ځخه مراد دا نه دی چې د خلګو سره ملاقات پرېښول سي یا تقصیر کړل په حقوقو کې د اقاربو خصوصًا ذوی الرحم یا قطع د صلة الرحمن یا عیادت د مریض و لو کان اجنبیًا، یا ترک د بیع او شراء لنفقة العیال لان هذا یقال رهبانیة ولا رهبانیة، کریمه: ورهبانیة ابتدعوها ما امرنا الله الآیة، وقد جاء في الحدیث الصحیح حین سئل عثمان بن مظعونؓ رسول الله ﷺ في امور کانت عن قسم الرهبانیة ان لنفسک علیک حقًا ولاهلک علیک حقًا ولضیفک علیک حقًا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فاعط كل ذی حق حقه، بل المراد قطع العلاقة الحسية والعلمية عن القلب، وللصوفية في التبتل كلمات طويلة دقيقة. وقيل في معنى التبتل شعر:

دل د رو بند و از همه بگسل .... هرچه غیر اوست بدر کن از دل

وهذا معنى قول الصوفية" الطريق الذي نحن بصدده... قطعه:

خطوتان المخطوة الاولى الانقطا عن الخلق والثانية الوصول الى الحق واحدهما لازمة للاخرى، ثم اورد المظهري كلامًا طويلاً كما هو دابه لافائدة فيه الاتحيير المتكلم.

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ۞

چي دی خالق د مشرق او مغرب (والمشهور المشرق والمغرب للشمس، ويحتمل المشرق والمغرب لكل كوكب له طلوع و غروب) نسته معبود بالحق لا في الذات ولا في الصفات او نه په معبوديت بېله ده، الفاء في (فاتخذه) للسببية يعني اذا كان الامر كذالک يعني كونه ربًا لجميع المخلوقات وتوحده بالالوهية ددي تقاضا کوي چي انسان دي ټوله د دنيا او آخرت کارونه ده ته وسپاري.

**پوهه:** چي رب المشرق والمغرب مبتداء ده خبريې (لآ اله الا هو) دی.

**فائده:** په دې آيت کي دفع د توهم ده چي له خلکو څخه بعض امورو ته د ژوندانه خلل ور رسوي، ولي چي انسان په امورو کي د تعيش يو وبل ته چاره نه لري كما لايخفى ويدل عليه التجربة، نو خدای عزوجل دا توهم باطل وګرځاوه، وجه د بطلان يې دا ده چي رب جل وعلا رب دی د مشرق او مغرب ومابينهما من البلاد والقرى والصحاری ومافيها من المخلوقات ومناقبهم وافعالهم والقلوب ټول ده په قبضه کي د قدرت دي يصرفها كيف يشآء هيڅ نفع او هيڅ ضرر نسي رسولای عن احد الى غيره تعالى بېله اذنه او ارادې ده، نو فاتخذه وكيلاً حسبک عن غيره نعم المولى ونعم الوكيل، وعن ابي ذر ﷺ عن النبي ﷺ ان الذهادة في الدنيا ليس بتحريم الحلال كما يقول احد پرمايې د پسه غوښي حرامي، واضاعة المال يا مال ضائع كول. ولكن الذهادة والدنيا ان لاتكون بما في يديک اوثق بما في يد الله ای قدرته او چي مصيبت درورسېږي ارغب يعني ډېر رغبت مه کوه ددې چي نه وای را رسېدلی لان ثوابها اعظم، هذا حاصل ما في الترمذي، قال شيخنا الاجل امامنا وقبلتنا المعروف



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الكرخي رحمه الله ان من اول هذه السورة الى هذه الآية اشارة الى مقامات السلك (جمع د سالک ده) من الخلوة بالليل والاشتغال بقرائة القرآن وذكر الرحمن ونطى ماسواه والتوكل عليه ثم اشار الى اعلى مقامات السلوك هو الصبر على جفاء الاعداء.

وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا

نو ته صبر وکړه پر هغو خبرو چي قريش يې کوي (من الخرافات في حق الله تعالى من الشريک في الالوهية والصاحبة والولد، او ستا په حق کي من الشاعر والكاهن والساحر وغير ذالک نعوذ بالله من كلها) او ته خدای مختار کړه له دوی څخه يعني مه ورسره کښېنه او مه د دوی د خبرو جواب ورکوه مکافاتًا او وسپاره امور د دوی و خدای عزوجل ته فانه تعالى نعم المولى ونعم النصير وبكل مايقولون في حقي وحقک خبير.

**فائده:** دا آيت منسوخ دی په آيت القتال سره.

وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا

او ما پرېږده ای مع المكذبين يعني الواو بمعنى مع، ويجوز انيكون يعني ته وسپاره امور د دوی و ماته فان لي غنية في مجازاتهم عنک يعني ته فارغ البال کښېنه ولي زه د دوی په مکافات تا ته ضرورت نه لرم (او النعمة) چي دوی خاوندان د نعمت دي او په هغو نعمتو غره دي او مهلت ورکړه دوی ته قليلاً، که ظرف سي معنى يې زمانًا قليلاً او که مفعول مطلق سي نو معنى دا ده امهالاً قليلاً وعلى التقديرين معنى دا ده چي موږ تا ته امر د قتال د دوی درکوو ليعذبکم الله بايديکم ويشف صدورکم مؤمنين، قال مقاتل بن حبان نزلت في قوم من المشركين قتلوا ببدر وعندي العموم افضل كما لايخفى.

إِنَّ لَدَيْنَا أَنْكَالًا وَجَحِيمًا

په تحقيق زموږ په نېز، دا جمله دليل دی د في قوله ومهلهم قليلاً (انكالاً) جمع د نکل ده چي قيد ثقيل ته وايي يعني د اور (وجحيمًا) او دوږخ او اور دی.

وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا

او خواره دي چي د دېري لوړې په خوله کي نه کښېنته تېرېږي او نه پورته راوزي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض راویان وايي چي دا خوارږه د درختي د زقوم دي، او بعض مفسرين وايي چي دا ضريع دي، واخرج عبد الله ابن عباس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الضريع شيئ في النار چي مشابه د ځوز سره دی چي بد بوی يې دی تر هري بدي جيفه او تر اور ډېر تود دی چي کافر ته يې په خوله ورڅخ کړي نه و نس ته شوه کېږي او نه خولې ته راپورته کېږي.

**فائده:** اخرج ابن الدنيا عن حذيفة رض چي مراد له عذاب اليم څخه ماران او لړمان د اور دي چي خدای ﷻ عذاباً اليماً وبالله تر مذکوره نورو عذابونو يې د دې څخه د شدائدو اندازه معلومه کړه، واخرج مسلم عن ابی سعيد الخدري ﷺ عن رسول الله ﷺ ان اهون اهل النار (چي هغه سپک د اهل النار از روئ عذاب) چي دده په پښو چوتې وي چي پاڅي يې پر پښه ترلي وي د اور يعني چي نور جسد يې اور نه وي د هغو چوتو په سبب دده په سر کي ماغزه ايشي لکه په کټو کي چي اور تر لاندي وي او غوښي وغيره کښته پورته پکښي اوړي.

**يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ۝**

هغه ورځ چي زلزله او په ښوربدو وي مځکه او غرونه.

**فائده:** رجفه د مځکي او غرونو د مخه دده تر نفخة الاولى د اسرافيل ﷺ.

**يوه سه:** چي مفسرين وايي چي يوم ظرف دی لقوله تعالی ان لدينا انکالاً.

**سوال:** زمانه د ظرف او مظروف خو سره يوه وي او سره ددې چي ان لدينا انکالاً په قيامت کي دی او رجفة الارض والجبال قبل النفخة الاولى، فأين الظرفية فيها؟

**ځواب:** ان يوم القيامة يوم ممتد مما قبل النفخة الاولى الى لايدخل اهل الجنة الجنة واهل النار النار فيتجد زمان رجفة الارض والجبال وزمان ان لدينا انکالاً آه، فيتدبر غاية التدبير هداک الله تعالى.

(الجبال كثيبًا مهيلاً) عطف على ترجف، اخرج ابن ابی حاتم عن ابن عباس رض ای رملاً سائلاً چي په پښتو يې ريګ روان بولي، او الكلبي رح وايي چي دا هغه رمل دی چي ثابت پروت وي چي يو مټ څني واخلي نور پسي راونښوېږي.

**إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا ۵ شَاهِدًا عَلَيْكُمْ**

په تحقيق موږ در استولی تاسي ته يا اهل مکة (رسولاً) يعني محمد ﷺ په دا سي حال کي چي پر تاسي به شاهدي اداء کوي چي تاسي يې اجابت و کړي او که امتناع.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**سوال:** علیه الصلوة والسلام خو ټولي نړۍ والو ته را استول سوی ؤ؟
**ځواب:** مکه چونکه ام القرٰی ده نو ارسال و مکې والو ته ارسال دی ټولو نړۍ والو ته کما صرح به في قوله تعالی وما ارسلناک الا کافة للناس.
**درویش وايي:** چي روح البیان بلکې اکثره مفسرین وايي د شاهدًا په معنی کي ای في یوم القیامة لکن دلته دا توهم پیدا کېږي چي د رسالت ده یعني د تبلیغ د احکام الله و خلکو ته خو دنیا او زمانه د شهادت ده پر امت بالاطاعة والانکار، نو ورځ د قیامت ده فلا یتحد الزمانان؟
**ځواب:** دا آیت له قبیل څخه د هغه آیت دی چي کافرانو ته وايي فادخلوها خالدین یعني خلود خو په وخت کي د دخول نه دی، نو مفسرین په یوه خوله وايي ای مقدرین الخلود فیها، نو دلته هم دې آیت معنی دا ده انا ارسلنا الیکم رسولاً مقدرًا شهادة علیکم في یوم القیامة والله اعلم بمراده في کتاب.

**كَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾**

لکه موږ چي استولی ؤ فرعون ته یعني و قوم ته ده رسول یعني موسی ؑ.
**یوه سه:** چي کما ارسلنا صفت د مصدر محذوف دی یعنی ارسالاً الی اهل مکة محمد (ﷺ) کما ارسلنا الی فرعون وقومه موسی ؑ.

**فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا وَّبِيْلًا ﴿۱۶﴾**

نافرماني وکړه فرعون د رسول یعني موسی ؑ، نو ونیوی موږ دی یعنی عذاب پر نازل کړی په اخذ شدید ثقیل سره فادخله في البحر ثم ادخل في النار.
**فائده:** ماده د وبیل لپاره د ثقل ده مثل طعام وبیل ای ثقیل علی المعدة چي هضم کېږي نه والوبل من المطر الثقیل منه.

**فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيْبًا ﴿۱۷﴾**

نو څرنګه به ځان ساتي له عذاب څخه د خدای که تاسي پر کفر باندي دوام وکړئ یا اهل مکة (یومًا) ای عذاب یوم (فیجعل الولدان) دا جمله منصوب محلاً صفت ده یومًا دی والعائد محذوف ای فیه، والمعنی چي وکړ ځول کېږي ځوانان یا هلکان چي وېښتان یې سپین سي من شدة اهوال ومخاوف ذالک لان الشیب یسارع عند تفاهم المصائب یا له جهته څخه د طول دې ورځي.


Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

**فائده:** بعض مفسرين وايي چي دا محمول پر حقيقت دی ويؤيده ما قال في الكشف چي يو سړی دی چي وېښتان يې لکه د کارګه بوڼکي تک تور وه سهار چي راکښېني د ډېري او د سر وېښتان يې تک سپين وه، چا پوښتنه ځني وکړه چي دا ولي؟ ده په جواب کي ورته ووېل چي زه بېګاه بيده سوم ورځ د قيامت مي په خوب وليده او جنت او دوږخ مي وليدل او بعض انسانان ملکو په ځنځيرانو د اور دوږخ ته کشول فلأجل ذالک الحال اصبحت کما ترون يعني چي وېښتان مي ټول سپين دي.

**پوښتنه:** ايصال الضرر الى الصبيان غير جائز يوم القيامة بلکي دوی له جهت څخه د غير مکلفيت مخصوصول من کل ضرر وعن کل خطر؟

**ځواب:** په قيامت کي چي هغه شدائد او اهوال وليدل سي چي پر انبيا عليهم السلام پر زنګنو کښېني فما ظنک بغيرهم من الاولياء والشيوخ والصبيان ..... بيت:

بروزی که دهشت خورد انبياء ...... تو عذری ګناه را چه داری بيا

او بعض مفسرين وايي چي آية محمول دی پر تمثيل او مجاز واليه ذهب المظهري، له ابی سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی عن النبي ﷺ يقول الله تعالى يا آدم فيقول لبيک وسعديک والخير کله بيديک اخرج عن ذريتک بعث النار (جلا کړه ستا له اولاد څخه حصه د اور) آدم عليه السلام ورته ووايي چي څومره حصه د اور، خدای پاک ورته ووايي چي په زر نفره کي نهه سوه نهه نيوي (۹۹۹) عليه الصلوة والسلام ووېل چي په دغه وخت کي سپين ږيری کېږي صغير يعني له ډېره خوفه څخه او که حامله ښځه وي هغه حمل وغورځوي، وترى الناس سکرى (يعني چي شراب يې څښلي وي مست وي) وما هم بسکارى (اى حقيقةً) لکن عذاب الله شديد، صحابه کرامو چي دا خبره واورېده قالوا اينا ذالک الواحد، د دوی دا خيال سو چي په مؤمنانو کي ورته حساب جاري دی، قال ﷺ ابشروا (خوشحاله اوسئ) فان من يأجوج و مأجوج (قومان عظيمان من کفرة الدنيا وراء السد السکندري) الف ومنکم واحد، عليه الصلوة والسلام نور زېری د خوشحالي پر وکړه، والذي نفسي بيده (اى بقدرته) ارجوا ان تکونوا ربع اهل الجنة صحابه رضي الله عنهم الله اکبر ووايه د ډېري خوشحاليه، ثم قال مبشر الاعظم ﷺ اني ارجوا ان تکونوا ثلث اهل الجنة فکبرنا، فقال ابى ارجوا ان تکونوا ثلثا اهل الجنة فکبرنا.

**درويش وايي:** چي دا زېری مکرر روح الامين ورته راوړی فقال ما انتم في



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الناس کشعرة السوداء في جلدة الثور الابیض او کثرة بیضاء في جلدة ثور اسود. متفق علیه دا جمله صفت دی لیوم و العائد غیر المجاز کما في قولهم صام نهاره او العائد محذوف وتقدیره یوم یجعل فیه الولدان فیه.

**درویش وايي:** چي په صحیح خبر کي راغلي دي چي ټوله جنتیان د ټولو امتو به یو سل وشل (۱۲۰) صفه وي (وطول الصف لایعلم الا الله تعالی) په دي (۱۲۰) صفه کي به اتیا (۸۰) امت د علیه الصلوة والسلام وي او څلوېښت (۴۰) صفه نور امتونه وي، اتیا دوه ثلثه د څلوېښت دي.

**درویش وايي:** چي عقل شاهد د نقل مذکور من کثرة تعداد اهل جنت من هذه الامة یعني الذکور والاناث دلیل یې دا دی چي علیه الصلوة والسلام مبعوث سو ادیان سابقه ټوله منسوخ سوه. نو چي علیه الصلوة والسلام یې په نبوت ونه مني هغه ټول کافران اهل النار دي، او بل دا چي علیه الصلوة والسلام مأمور بالجهاد دی د جهاد په وجه په لکاوو کسان له کفر څخه خارج په اسلام کي داخل سوه. وهکذا في زمن الخلفاء الراشدین ﷺ په لکاوو کسان په اسلام کي داخل سوه چي دا ټوله اهل جنت دي ثم وثم الی نفخ الصور اهل جنت مخ پر زیاتېدو دي او اهل النار تقریبًا وعدم التناهي ته نژدې کېږي په سبب د عدم قبول د دین د اسلام یومًا په یومًا فتدبر فهذا سانح عزیز قل من نبه علیه والله الموفق والحمد لله رب العالمین.

## السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌۢ بِهٖ ۚ كَانَ وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا ﴿۱۸﴾

مراد له سماء څخه معنی جنسي ده، مبتداء ده یعني آسمان سره د غایت عظمت او د نهایت احکام (منفطر) خبر د مبتداء دی یعني منشق پاره پاره کېږي. ضمیر د به راجع دی و ذالک الیوم ته.

**سوال:** سماء خو مؤنث دی خبر یې ولي مذکر راغلی؟

**ځواب:** سماء یا په تأویل د سقف دی یا په تأویل د شي ای شيئ منشق به. وهذا کله لشدة ذالک وثقله واذا کان حال السماء فکیف السماء.

(کان وعده مفعولاً) دی موعود د خدای ختمًا کېدونکی لاستحالة خلف الموعود علیه تعالی.

**فائده:** دا دوی بېله عطفه راوړی لجوازه کما في قوله الرحمن علم القرآن خلق



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الانسان علمه البيان.

إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ۝

په تحقیق سره دغه، ای الآيات المتلوة علیک پند دی چي هغه کانو ته احوال د
مبدا او معاد بیانوي او بیان د هغي لاري کوي چي وصل کونکې و خدای ته وي،
ځکه يې دا وروسته آیت په کلمه د فاء راوړی (فمن شآء) التذکر او تګ پر هغه لاره
چي خدای ته رسوي يعني جوده و الى انعامه ورضوانه. كلمة الفاء للسببية كما
اشرت اليه اى ليس السبيل الى الله الا التذكرة فانه تعالى اقرب الينا من انفسنا
كما ورد هو اقرب من حبل الوريد .... بيت:

دوست نزدیکتر زمن بمن است...... چه کنم که من هنوز مهجورم

وليس الحجاب بيننا وبين الله الا حجاب الغفلة فينا وحجاب الكبرياء
والعظمة فيه تعالى.

إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيْلِ وَنِصْفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ

په تحقیق ستا خدای خبر دی چي ته یا رسول الله ﷺ درېږې يعني لطول الليل.
(ادنى من ثلثى الليل) يعني نږدې و ثلث ته د شپې.

**پوه سه:** چي قرائت د کوفي قاریانو او ابن کثیر په نصب سره د نصفه وثلثه نو
عطف دی پر ادنى يعني تقوم ادنى من ثلثى الليل وتقوم النصف وتقوم الثلث. او
جمهور قراء په جر د دواړو لفظو وايي نو معنى دا ده چي اقرب تر نصف او تر ثلث.

وَطَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ ۚ

او يوه ډله د اصحابو چي ستا سره پر دغه مقدار قيام الليل کوي اقتداءً بيعتک.
او البغوي وايي في تفسير و طائفة آه، يعني المؤمنين كانوا يقومون مظهري دا
خبره د البغوي رد کړې ده فان الذين معه المؤمنون دون الكافرين انتهى.

**درویش وایي:** چي تعجب دی و مظهري ته چي دده اکثره تفسیر مبني دی پر قول
د البغوي دلته یې ولي د بعید جداً حکم پر وکړی او سره ددې چي د تصحیح د قول
اللغوي خو روښانه کما يقولون المطلق ينصرف الى الفرد الكامل ته نو د مؤمنانو
څخه کامل د مؤمنانو وهم الصحابة ﷺ. او دا مقوله اشهر ده تر قضی نبنک.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

## وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ

او خدای" ته معلومه ده اندازه او تقدیر د اجزاء د شپې من الثلثين والثلث وغيره لکه تاسي ته چي نه در معلومیږي.

**درويش وايي:** چي په عصر نبوي کي دا آلات جديده من الساعات وغيرها نه وه نو ځکه دوی ته اندازه د اقسامو نه معلومېدی.

## عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ

خدای" خبر دی چي تاسي ته اندازه د شپې د اقسامو نه معلوميږي هم د دې سببه خدای پاک وجوب د صلوات خمسه په امور ظاهره ؤ سره مربوط کړی دی لکه طلوع الصبح لصلوة الفجر الى طلوع الشمس (الغاية خارجة) وزوالها لصلوة الظهر، وقدر الظل لصلوة العصر على اختلاف المذاهب وغروب الشمس لصلوة المغرب وغروب الشفق على اختلاف لصلوة العشاء.

## فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ

اى رجع الله من التسديد الى التخفيف فاسقط عنک يا رسول الله كيلا يشق وعلى امتک برحمته، الفاء للسببيت يعني لامر دونه قيام الليل کوي چي در ته آسانه وي.

**پوه سه:** چي په دې آيت کي يې تعبير وکړی د صلوة الليل په قرآن سره لکه تعبير د صلوة الليل په قيام سره کړی ؤ تسمية للكل باسم الجزء.

**تفريع:** له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي قرائت القرآن رکن د لمانځه لکه د مخه آيت څخه چي پر رکنيت د قيام دلالت کوي (يعني بغير العذر في الفرائض) وعلى هذا انعقد الاجماع ايضًا، وروسته چي مقادير المذكورة منسوخ سوه بقي مطلق قيام الليل واجبًا وروسته يې وجوب هم منسوخ سو فصار متوعًا بعد فريضة.

**درويش وايي:** چي په ابتداء کي قيام الليل واجب وه پر امت او عليه الصلوة والسلام دواړو لکن وروسته نسخ د وجوب له امت څخه مجمع عليه ده. لکن په دې کي اختلاف دی چي لکه وجوب يې په اجتماعي توګه وه آيا رفع د وجوب يې هم په اجتماعي توګه سره په دې اختلاف بعض فقهاء وايي چي وجوب يې عليه الصلوة والسلام ته باقي يعني صلوة الليل وجوب يې عليه الصلوة والسلام پاته ؤ


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الى اخير عمره، وقيل د عليه الصلوة والسلام څخه يې هم وجوب منسوخ دى او عليه الصلوة والسلام تطوعًا كاوه د بعض علماء فتوى هم پر دغه ده، فقير وايي چي و كتبو ته د فقه رجوع وكړئ.

**درويش وايي:** چي ضروري په لمانځه كي تعديل الاركان دى كما جاء في الحديث چي يو سړى مسجد نبوي ته راغلى او عليه الصلوة والسلام هم په مسجد كي تشريف فرما ؤ هغه سړي چي لمونځ وكړى بيا راغلى و عليه الصلوة والسلام ته يې السلام عليكم ووايه عليه الصلوة والسلام يې د سلام جواب خو وركړى لكن دا يې ورته وويل چي صل فانك لم تصل. هغه سړي بيرته هغه معتاد لمونځ لكه هغه د مخه چي يې وګذارى، بيا راغلى و عليه الصلوة والسلام ته يې السلام عليكم ووايه، عليه الصلوة والسلام جواب وركړى او بيا يې ورته وويل صل فانك لم تصل حاصل دا چي درې واره عليه الصلوة والسلام په دغه سړي لمونځ راوګرځاوه، اخيرًا هغه سړي ورته وويل چي ته يې راوښيه چي زه څرنګه لمونځ وكړم او دا يې ورته وويل والذي ارسلك بالحق نبيًا ما احسن غير ذالك فقال اذا قمت الى الصلوة فكبر (دا تكبير د افتتاح دى) ثم اقرء ما تيسر من القرآن معك ثم اركع حتى تطمئن راكعًا، وروسته سم ولاړ سه چي په قيام بنه آرام سي بيا سجده وكړه حتى تطمئن ساجدًا ثم ارفع رأسك من السجدة حتى تطمئن قاعدًا ثم اسجد حتى تطمئن ساجدًا، وروسته بل ركعت ته ولاړ سه ثم افعل في صلوتك كلها متفق عليه، حاصل دا چي په سړي كي واجب ده تعديل نه ؤ نو ځكه درې واره لمونځ راوګرځاوه وروسته واجب ده تعديل الاركان ورته بيان كړى.

**درويش وايي:** چي په اوسني وخت كي لمونځونه په سل كي يو پر تعديل الاركان مشتمل نه دى، كاشكي علماؤ د غسي كار وته سره كولاى لكه عليه الصلوة والسلام چي د هغه سړي سره وكړى، لكن عوام الناس كله د عالم د غه خبره مني بلكي ډېر بد يوسي الا ماشاء الله.

عَلِمَ اَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ

كلمه د ان مخفف له مثقل څخه دى اسم ضمير شان محذوف دى وروسته خبر دى يعني (سيكون منكم مرضى) مريضان به وي دا استيناف لپاره د بيان دى



Maktaba Tul Ishaat.com    Scanned by CamScanner

بل حکمت یې د تخفیف في قیام اللیل غیر ما تقدم من عشر احصاء اللیل یعني مرض هم مقتضي د تخفیف دی.

وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِى الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ

(وآخرون) عطف دی پر اسم د ان (یضربون في الارض) چي سفر کوي په مځکه کي یا د جهاد في سبیل الله لپاره یا د تخصیص د علم لپاره یا د حج لپاره (یبتغون) حال دی له ضمیر څخه د یضربون یعني چي دوی طلب کوي (من الله) ای الربح في التجارة او تحصیل العلم الشرعي ومبادی ذالک کالنحو والصرف واصول الفقه او الثواب کما في الحج، نو دا هم سبب د تخفیف في قیام اللیل.

وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ

او نور داسي کسان به وي چي په جهاد في سبیل الله بخت وي (فلا یطیقون سنة قیام اللیل) نو تاسي وایاست د قرآن چي تاسي ته آسان وي منه ای من القرآن.

**سوال:** کلمه د ما عامه ده یشتمل جمیع ماتیسر من القرآن فیلزم انیکون المأمور به جمیع ماتیسر؟

**ځواب:** د کلام سوق دا معلومېږي چي سوق یې لپاره د تخفیف چي احتمال مذکور ساقط دی فافهم.

**فائده سنیه:** روی مسلم عن عبد الله بن عمروؓ قال قال رسول الله ﷺ اقرؤا القرآن في کل شهر قال اني اجد قوة قال فاقرؤه في عشرین لیلة قال اني اجد قوة فأقرئه في کل سبع ولا تزد علی ذالک وعن عائشة‌ؓ قالت قال رسول الله ﷺ احب الاعمال الی الله ادومها وان قل، رواه البخاري ومسلم، وفي البخاري وسمل عن انس‌ؓ اذا نعس احدکم چي خوب ورسي یوه ته ستاسي څخه یعني صلوة التهجد) وهو یصلی فلیرقد، بیده دې سي حتی چي خوب ځني ولاړ سي، فان احدکم اذا صل وهو ناعس لایدري (دی په ځان نه پوهېږي) لعله نستغفر (شاید دده په خیال کي به اللهم اغفرلي وي ځان ته به ښکنځل وکړي یعني اللهم لاتغفرلي) وعن انس‌ؓ کما رواه البغوي انه سمع رسول الله ﷺ یقول من قرء (٥٠) آیة في یوم ولیلة لم یکتب من الغافلین ومن قرء (١٠٠) کان من القانتین ای العابدین، ومن قرء (٢٠٠) آیة لم تحاجه القرآن، ومن



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرء (۵۰۰) كتب له قنطار من الاجر قالوا وما القنطار، قال اثنى عشر الف درجة.

**فائده:** مستحب په عمل كي توسط في العمل دى دون الافراط والتفريط ويستحب المداومة على التوسط يعني اذا لم يكن له عذر وادنى المتوسط ان يقرء (۱۵۰) آية واكثر المتوسط الف آيت حتى يحصل الختم چي په هفته كي يعني په اووه ورځي كي به ختم د قرآن باعتبار تعدد الآيات حاصل سي.

وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا

تاسي لمونځونه كوئ يعني المفروضة مع اداء اركانها وواجباتها وسننها ومستحباتها ومن الامور الواجبة تعديل الاركان ومن اجل سننها الجماعة عند الحنفية.

**درويش وايي:** چي مظهري تفسير د زكوة په مفروضة سره كړى دى لكه تفسير د صلوة چي يې هم په مفروضه سره كړى دى، لكه فقير چي هم تفسير د صلوة په مفروضه سره كړى دى. لكن روح المعاني داسي سوال پر كړئ دى چي دا سورة خو له اولو سورتونو څخه دى چي په مكه كي نازل سوي دي، ولم تفرض الصلوة الخمس الا بعد الاسراء يعني بعد المعراج بالاتفاق، والزكوة انما فرضت بالمدينة. بيا يې داسي ځواب وركړى دى چي هغه چي د زكوة مفروضه مراد بولي دا آيت به مدني بولي، او بعض علماء وايي چي نزول د آيت په مكه كي سوى دى لكن من غير تعيين الانصاب والذي فرض بالمدينة تعيين الانصاب.

**سوال:** فرضيت د صلوات خمس اجماعًا بعد الاسراء دى نو په دې آيت كي كه فرضي لمونځونه څني مراد سي لان الاسراء كان بعد ذالك اى هذه السورة، واجاب بحمل هذه الآية على صلوة الليل حيث كانت مفروضة كما مر يعني دمخه تر تخيير انتهى والله اعلم، او روح البيان د زكوة معنى به صدصة الفطر سره كړې ده وقال اذا لم يكن بمكة زكوة انتهى.

(واقرضوا الله) ابن عباس رض وايي انفاق سوى له زكوة څخه من صلة الرحم وذى الضيف (مهماني وركول ميلمه ته) او دا هم احتمال لري چي مراد دي مطلق طاعات وي لله تعالى على وجه الاخلاص والاحسان (قرضًا حسنًا) بطيب نفس ومن احسن الاعمال حسنًا صفت دى په اطلاق د قرض ترغيب لوعد العوض لان كل قرض موالاة.

**فائده:** قوله تعالى اقرضوا الله قرضًا حسنًا من قبيل انبته الله نباتًا حسنًا يعني



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فعل د باب د مزيد او مفعول يې مجرد دی.

وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا

او هغه شی چې تاسي د دنيا څخه د مخه واستوی و آخرت ته، هر د خير کار چې وي که بدني وي که مالي وي، تاسي به پيدا کوئ ثواب د هغه په نېز د خدای.

**پوه سه:** چې خيرًا مفعول ثاني دی د تجدوه او هو ضمير فصل دی لا محل له من الاعراب چې خير به وي من الذي تؤخروه للوصية عند الموت او من متاع الدنيا، عن بعد الله قال قال رسول الله ﷺ ايكم ما له احب من مال وارثه قالوا ما شاء الا واحد و ماله احب اليه من مال وارثه، قال اعلموا ما تقولون قالوا ما نعلم الا ذالک يا رسول الله ﷺ قال ما منكم رجل الا مال وارثه احب اليه من ماله. قالوا كيف ذالک يا رسول الله ﷺ؟ قال احدكم ما قدم چې د مخه يې آخرت ته واستاوه يعني يا زكوة يا صلة الرحم في سبيل الله يا فقراؤ او مساكينو ته، ومال وارثه ما اخره. رواه البغوي.

**حكايت چشم ديد:** يو سړی ؤ زموږ په کلي کې ډېري روپۍ يې درلودې. خير او خيرات خو څخه کوې زكوة او عشر يې هم نه ورکاوه، د مرګ وخت چې يې نژدې سو يعني زکندن يې سو يو زوی يې درلودی هغه ته يې وويل چې پر ما باندې د څو کلو زكوة چې دوه مره روپۍ. کېږي باندې دی دغه به ورکړې، زوی يې ورته وويل چې بابا مال چې ستاؤ او ستا په تصرف کې ؤ ولې دې زكوة نه ورکاوه اوس چې مال زما سو يعني چې ته مړ سې زما په مال کې تصرف کوې، والله که يوه روپۍ لا ورکړم.

**درويش وايي:** چې په قرار د حكم د شرع بايد زوی دده د پلار وصيت تر ثلث پوري عملي کړی وای لکن زوی يې دده د سپيتاني سره موافق کار وکړی.

وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ

طلب د بخښني د خدای څخه وکړئ، ای ما في زمتكم من الله، نو دا جمله معطوفه ده قوله تعالى و اقيموا الصلوة.

فائده في الحديث النبوي: كل امرء على ما قدم قادم (هر سړی چې د يو خير كار په دنيا کې وکړي، ورکونکی دی يعني على ثوابه) وكل امرء على ما خلف نادم (او



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هر سړی چي مال یې تر شا پرې ایښی وي پښېمانه به وي) وعن النبي ﷺ ان العبد اذا مات قال الانسان (یعني نور خلک) ما خلف (څه دنیا یې وروسته پاته سوه) او ملکي وایي څه عمل د خیر یې د مخه استولی ؤ، له عمر ؓ څخه روایت دی چي یو وخت د مدینې منورې پر لویه مقبره تېر سئ چي قدیم یې بقیع الغرقد دی فقال السلام علیکم دار قوم مؤمنین انتم سلفنا ونحن بالاثر احوال ما عندنا ان نسائکم قد تزوجن (ماینو مو مړونه وکړه) و دورکم قد سکنت (ستاسي په سرایو کي نور کسان اوسېږي) و اموالکم قد قسمت (مالونه مو وویشل یعني ورثهؤ سره وویشل) فاجابه هاطف (یعني غیبي آواز) یا ابن الخطاب اخبار ما عندنا ان ما قدمناه وجدناه ای ثوابه وما نفقناه (یعني في سبیل الله) فربحناه یعني په هغه کي مو ډېره ګټه وکړه، وما خلفناه خسرناه (چي تر شا مو پرېښوول په هغه کي مو تاوان وکړی)... شعر:

قدم لنفسک قبل موتک صالحًا .... واعمل فلیست الی الخلود سبیل

**فائده:** د دې سورت په اخیر کي مؤمنان په استغفار سره خدای پاک امر کړه یعني لذنوبکم، په دې کي تنبیه پر دې ده چي انسان په اعمالو سره د بِر غره یعني خطا نه وزي او اعتماد دې هم پر اعمالو د بِر نه کوي بل لابد مع ذالک من الاستغفار فان ما صدر من الاعمال منه د تقصیراتو څخه به خلاص نه وي فان للشیطان دسائس خفیة، او بل له دې سببه استغفار ته ضرورت سته چي اعمال د بندګانو که څه هم جلیل وي لکن و جناب ته د قدس او عظمت د خدای حقیر دي.

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٠﴾

په تحقیق سره خدای بخښونکی دی (لتقصیراتکم بعد استغفارکم) او خدای مهربان دی چي په عمل قلیل ثواب جزیل ورکوي.

**درویش وایي:** چي په لوی فضل او توفیق د خدای عزوجل له تفسیر څخه د سورة المزمل پر درو بجو تخمینًا پر (۲۵) تاریخ د شعبان المعظم په خپل هجره کي فارغ سوم (۱۴۳۳) هجري قمري، والحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدنا محمد وآله وصحبه اجمعین آمین یا رب العالمین.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الْمُدَّثِّرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتٌّ وَّخَمْسُونَ آيَةً وَّفِيهَا رُكُوعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ①

**پوه سه:** چي اصل يې متدثرؤ تا يې په دال بدله كړه بيا يې په دال كي مدغمه كړه اى لابس الدثار.

**پوه سه:** چي د عربو بلكې دا اكثره نرى والو دا عادت دى چي يو كوچنى قميص لاندي اغوندي چي هغه ته شعار وايي او يو لوى قميص سربېره پر اغوندي چي هغه ته دثار وايي، و منه قوله عليه الصلوة والسلام الانصار شعار (يعني په بدن پوري جامه چي په وېښتانو پوري متصل وي) و الناس دثار.

روى جابرؓ عن النبي ﷺ چي په دې دوران كي زه پر جبل وم (يعني د ډېره زمانه په غار حراء كي خلوتونه كړي وه) كما سيجيئ تفصيله في تفسير سورة اقرأ باسم ربك الذي خلق آه، فنوديت (ماته نعره وكړه سوه) يا محمد انك رسول الله فنظرت عن يميني وعن يساري فلم ار شيئًا (هيڅ منادى مي نه وليدى) فنظرت فوقي فاذا هو اى المنادى قاعد على عرش (پر يوه تخت) بين السماء والارض فرعبت (زه څني وېرېدم) فرجعت الى خديجةؓ فقلت زملوني زملوني يعني يو شى يا تلتك را باندي واچوه وصبوا عليّ ماء باردًا، فنزل جبريل فقال يا ايها المدثر.

قُمْ فَاَنْذِرْ ② وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ③

ولاړ سه له ځايه څخه (قيام جد و اجتهاد)

**پوه سه:** چي مفعول يې ذكر نه كړى اشارةً الى عمومه يعني ټول خلك (لعموم نبوته) من عذاب الله على الشرك، او (ربك) په دې ځاى كي او په مابعد كي لپاره د معنى د شرط ده، تقديره اما ربك فكبر، والمعنى دم همېشه توب وكړه پر تعظيم د خداى.

**درويش وايي:** چي جامع تفسير د كبر دا دى چي خداى عزوجل پاك بوله د حدوث څخه او د صفاتو څخه د نقص والزوال يعني العدم او د شريك څخه په وجوب الوجوب كي لكه ثنويه يعني المجوس چي وايي عالم لره دوه خدايه واجب الوجود سته، يو خالق دى د نافع شيانو لكه خوراكي مواد او نافع درختو لكه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خورما، انار، انګور وغیره دوی وايي ددې خدای نوم يزدان دی، او بل خدای پیدا
کونکی دی د مضر شیانو لکه لړمان، ماران، درندګان وغیرها، دوی دې خدای ته
اهرمن وايي یا شیطان ورته وايي، او داغه رنګه خدای عزوجل پاک دی له شريک
څخه لکه مشرکین د مکې وغیرها مثلاً د لويي وچې د هندوانو هم دغه مذهب دی
او خدای عزوجل به مشابه د هیڅ شي نه بولي من الممکنات لکه فلاسفه چې
عقول عشره او له والدیت څخه لکه نصاری چې عیسی ابن الله بولي یا یهود وايي
عزیر ابن الله دی، یا قوم د خزاعه چې وايي ملائکه بنات الله دي العیاذ با الله،
والحاصل چې نه په ذات کې او نه په صفاتو د کمال او نه په افعالو کې به شریک
ورته وایه، وهذا اول الواجبات علی المکلفین. او دا بیان سوي شیان که په چا کې
وي هغه کافر دی احتمال د عفو نه لري.

**پوښتنه:** عوام الناس په دې ټولو خبرو څه پوهېږي نو د دوی ایمان صحیح دی
او که څرنګه؟

**ځواب:** د عوام الناس لپاره ایمان اجمالي کافي دی مثلاً خدای حق دی
شریک نه لري او رسول دده حق دی او ټول کتابونه دده حق دي او جنت او دوږخ
حق دی، قیامت حق دی، ثواب یا عذاب حق دی. بیله خدای موږ بل خدای نه لرو.

**درویش وايي:** چې مظهري وايي چې فقهاؤ په دغه آیت سره ویلي دي چې
فرض ده تکبیر تحریمه د لمانځه لپاره، وروسته یې نور اختلاف رانقل کړي دي. د
تعجب ځای دا دی چې مظهري د مخه دا خبره منلې وه چې سورة المزمل او سورة
المدثر له اوائلو سورتو څخه د قرآن دي او سره ددې چې په احادیث صحیحه ؤ سره
دا ثابته ده چې لمونځونه په شپه د اسراء یعني المعراج فرض سوي دي چې لیلة
الاسراء د روایتو له رویه د نبوت د علیه الصلوة والسلام ډېر وروسته پیښه سوی
دی، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب. البته په حدیث شریف کې راغلي
دي چې رسول الله ﷺ له مقام څخه د استغراق ده چې هوش راغلی د خوشحالی له
کبله وویل الله اکبر، خدیجة الکبری هم الله اکبر ووایه او په خوشحاله سوه او
یقین یې سو دا حالت چې علیه الصلوة والسلام طاري ؤ دا وحي وې، ولې چې
شیطان څوک نه امر کوي په تکبیر سره کما هو معلوم من سیرته.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾

قتاده او مجاهد وايي چي ثوب كنايه له نفس څخه دى، نو معنى د آيت دا ده چي خپل نفس له ګنهو څخه پاک ساته، وهذا هو قول ابراهيم النخعي والضحاک والشعبي والزهري رحمهم الله، وقال عكرمة سئل عن ابن عباس عن قوله تعالى وثيابک فطهر قال ابن عباس معناه لا تلبسها على معصيته ولا على عذره (پر مردارويو) او الضحاک وايي: عملک فاصلح قال السدي يقال للرجل الصالح طهر الثياب، ويقال لرجل اذا كان فاجرًا انه لخبيث الثياب، وقيل وثيابک فقصر يعني ډېر اوږده كالي مكروه دي ولي چي د ډېر اوږدوالي سره لمن د قاذرواتو سره مخامخ كېږي فيكون التطهير كناية عن التقصير لانه (اى التطهير) من لوازمه (اى التقصير) ومعنى التقصير انيكون الثوب الى انصاف الساقين، يعني نه لكه په دور حاضر كي چي قميصان د عربو تر بجلكو پوري دي دا د تركانو قديمي لباس دى، و حضرت علي مرتضى ﷺ گفت كوتاه كن جامه را فانه اتقى وانقى وابقى (يعني لند قميس د اتقى سره برابر دى او انقى د جامې پاک والى دى او ابقى جامه ډېره زمانه باقي پاتېږي) بعض مفسرين وايي چي منطوق د نص امر دى بتطهير د قلب ونفس فانه اقرب من البدن، والحاصل ان الله يحب التوابين ويحب المطهرين من الانجاس الظاهرة في الثوب والبدن واقوى من الكل تطهير القلب من الرزائل القلبية.... ابيات:

درتو پوشيده لطف يزداني ..... خلعتي از صفات روحاني
دارش از لوث خشم وشهوت دور ..... تا نيا كبر كه شوى مشهور

عن ابن عباس مر النبي ﷺ بقبرين فقال انهما (اى صاحبى القبرين) يعذبان وما يعذبان في كبيرة، اى التحرز عنهما ليس بكبير، اما احدهما فلا يستنزه من البول (يعني اودس يې نه وچاوه يعني د بولو څخه به ولاړ سو دستي به پرتوګانې وتاړه والآخر يمشي بالنميمة (شيطانت يې كاوه)

وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾

**پوه سه:** چي بعض قراء دا لفظ په كسره د راء وايي، او بعض يې په ضم الراء وايي دا يو لغت دى معنا يې يوه ده.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درویش وايي**: چي مجاهد، عکرمه، قتاده، الزهري، ابن الزيد او ابو سلمهؒ وايي چي مراد دده چي مراد له رجس څخه بتان دي يعني بتانو ته مه ورنژدې کېږئ وروی عن ابن عباسؓ ان معناه اترک الاثیم (يعني گناه مه کوه) او ابو الربيع او ابو العالية وايي چي رجز بضم الراء بت ته وايي او په کسره د را نجاست او معصيت ته وايي، او الضحاک وايي چي رجز شرک ته وايي، او الکلبيؒ وايي چي رجز عذاب ته وايي والمعنى اهجر ما يوجب العذاب من العقائد والافعال. فقير وايي چي لفظ د رجز خو يو لفظ دی او مشترک لفظي هم نه دی بايد ددې په ترجمه کي رجوع و کتابو ته د لغت وکړه سي، او بعض ترجمې د رسول اللهﷺ د لويه شان سره مناسب نه دی فافهم والله اعلم.

**وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ﴿٦﴾**

يعني د خپل مال څخه يو چا ته مه ورکوه چي ته طلب د کثرت د هغه څخه کوې لکه چي د بعض طماع خلکو چي عادت دی، هذا قول اکثر المفسرين. او قتادهؒ وايي لا تعط شيئًا لمجازات الدنيا بل لوجه الله خالصًا.

**پوه سه**: چي جمله د تستکبر حال ده له فاعل څخه د لا تمنن. قيل هذا نهی تنزيهي دی، وقال الضحاک و مجاهد هذا الحکم في حق النبيﷺ. ولي دا طمع د ځينو خلکو کار دی او رسول اللهﷺ صاحب د همت عليا دی تعجز من همته وهمت الثقلين نعم الهدايا تقبلهﷺ لکن لا عوضًا مما اعطاه رسول اللهﷺ.

**درویش وايي**: چي مظهري حسب العادة نور ضعيفه اقوال هم را نقل کړي دي فايرادها وقت ضائع کول دي، ډېر مفسران پر دې رايه دي چي دا آيت مخصوص په حضرت النبيﷺ پوري دی.

**وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ﴿٧﴾**

ای لحکم ربک فاصبر ولا تتالم من اذية المشرکين، ولي هر څوک چي مأمور په تبليغ لجملة المشرکين سي له ازار څخه د خلکو نه خلاصېږي لکن په صبر سره تريخ شی ډېر خوږ کرځي .... بيت:

تحمل چو زهرت نمايد نخست ..... ولی شهد گردد چو در طبع رست



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه:** چي كلمه د فا، په فاصبر كي په تقدير د اما ده فالتقدير و اما لربک فالصبر لپاره د تاكيد دى، وقال ابن زيدؒ واصبر على حرب الاسود والاحمر قال صاحب روح المعاني وفيه بعد لان الجهاد لم يكن وقت نزولها لان هذه السورة من اوائل مانزل في مكة والجهاد انما فرض بالمدينة كما هو المعلوم لكل احد فافهم.

فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ

چي پوه كړي په صور كي د اسرافيل يو وار لپاره د صعق اى الموت ومرة للاحيا، وزن د ناقور فاعول دى من النقر اى التصوية. قال ابو الشيخ بن حيان في كتاب العظمة عن وهب بن منبه قال خلق الله الصور من اللؤلؤ البيضاء في صفاء الزجاجة ثم قال لعرش خذ الصور نو صور په عرش پوري وځړيد ى، ثم قال الله عزوجل كن فكان يعني اسرافيلؑ يې پيدا كړى فامره ان يأخذ الصور فاخذه اسرافيل، د مذكور حديث موافق په دې صور كي دونه سوري دي لكه عدد د ټوله مخلوق چي ذي روح وي حتى چي دوه روحان تر يوه سوري نه وزي او په منځ كي د سوريو غار دى چي استداره يې لكه د آسمان دى په غار كي اسرافيلؑ خوله ايښې ده ثم قال له الرب تعالى قد وكلتک بالنفخة (اى النفخة الآخرة) والصيحة (اى صيحة الموت للاحياء) او بالعكس.

فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ۝ عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ۝

نو دغه ورځ سخته ده پر كافرانو باندي، يومئذ بدل دى.

**پوه سه:** چي له دې نفخه څخه مراد نفخه ثانيه ده چي په هغه سره خلک ژوندي كيږي. ددې عسر پر كافرانو باندي محصور دى لما رؤا من شدة الحساب وسوء العذاب واما النفخة الاولى فلا تختص بالكافر بل شاملة لمن كان حيا في وقت وقوعها.

**پوښتنه:** عسر د نفخه ثانيه يې په كافر پوري خاص كړى لان المؤمن عن عسرها في امن بفضل الرب جل وعلا حتى يكون عليه كصلوة مفروضة يصليها في الدنيا ... في الحديث النبوي ذكر البغوي بسنده چي دا آيت چي خداى نازل كړى پر نبيﷺ حٰمٓ تَنزِيلُ الْكِتَابِ الى قوله اليه المصير قام النبيﷺ يقرئها بالمسجد، و الوليد بن المغيره و ده ته نژدې ناست و غوږ يې نيولى و فلما



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظن النبي ﷺ استماع الوليد لقراته اعاد تلك الآيات فذهب الوليد و مجلس ته د نبي ﷺ مخذوم او هغو ته يې وويل چي والله لقد سمعت من محمد لاهو من كلام الانس ولا هو من كلام الجن وان له لحلاوة (خوږوالی ؤ) وان عليه لطلاوة (تازګي) بیا یې د مېوه داره درختي سره مشابه کړی وان اعلاه لمثمر وان اسفله لمعذق او بیا یې دا هم وویل وانه ليعلوا ولا يعلى (دا كلام پر هر كلام بلند وي او كښته كېږي نه تر بل كلام) بیا كور ته ولاړی، قریش چي په دې خبرو د ولید خبر سو صبا والله الوليد (مرتد سو قسم الوليد) او دده د صباوت له سببه ټول قریش مرتد سي، ولي الوليد په مكه كي تر ټولو مالدار سړی ؤ او لس ځوانان زامن یې درلوده او ولید د قریش ریحانه قریش باله، او ابو جهل چي خبر سو خلكو ته یې وویل چي د الولید چاره زه کوم، نو ابوجهل راغلی د الولید و څنګ ته کښېنستی غمجن يعني هيئت د غم یې پر چهره جاري کړی، نو ولید ورته وویل مالي يا ابن اخي چي زه دي غمجن او خوابدی وینم؟ ابو جهل ورته وویل چي زه به ولي غم نه کوم دا دی قریش وایي چي ولید ته د محمد (ﷺ) خبرو خوند ورکړی دی چي موږ به تاته څنده وکړو څه نقود به درجمع کړو په سبب د لوی والي ستا، دوی وايي چي الولید ما بنام محمد او ابن قحافه مېلمه کړی ؤ او د دوی پس مانده طعام یې ورکړی ؤ، فضب الوليد او داسي یې وویل چي قریش په دې خبره چي زه اکثر د دوی مالاً و ولدًا یم خبر دي، نو زه به څرنګه احسان د محمد او د اصحابو دده پر ځان ورم چي ماته یې دودی راکړه، نو ولید سره د ابو جهل و مجلس ته د قوم ورغله، نو ولید او ابو جهل ودرېدل و مجلس ته د قوم، نو ولید قوم ته وویل تاسي ګمان کوئ چي محمد لېوني دی او دده خبري (مراد یې قرآن دی) يعني داسي خبري د لېوني وي، قوم يې ورته وویل اللهم لا (لېونی خو نه دی) بیا ولید ورته وویل چي ستاسي خیال دی چي کاهن دی د کهانت خبري او علامات تاسي پکښي لیدلي دی؟ قالوا اللهم لا (كاهن نه دی) بیا ولید دوی ته وویل چي ستاسي د شاعر ګمان پر کېږي، تاسي دی لیدلی دی چي غزلي یې جوړي کړي وي؟ فقالوا اللهم لا، بیا ولید ورته وویل چي تاسي د كذاب چي مفتري يې هم بولئ ګمان پر کېږي، نو تاسي ته دده دروا غ ثابت سوي دي؟ قالوا اللهم لا (ولي رسول



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اللهﷺ په آمين مكه مشهور ؤ په سبب دده د ريشتيا ويلو) نو قريشو وليد ته وويل چي ستا نو څه خيال دی پر محمد (ﷺ) باندي، وليد په خپل زړه کي فکر وواهه بيا به يې وکتل اخيريې په تريو تندي دا خبره وکړه ما هو الا ساحر، آيا تاسي دی نه وينئ چي په مابين کي د سړي او د خپلوانو جلاوالی راولي؟ (د خبيث مقصد دا ؤ چي پر ده څوک ايمان راوړي زوی او پلار وغيرهما نو کافران له هغو څخه جلاوالی مختاره کړي) وليد ووېل نو دا صفت د ساحر دی، انتهى قصة الوليد بن المغيرة، ابن عباسؓ وايي فحينئذ نزلت.

ذَرْنِيْ وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيْدًا ﴿۱۱﴾

الواو بمعنى مع كما في قوله تعالى ذرني والمكذبين ما پرېږده يا محمد او هغه څوک چي ما پيدا کړی وي تنها.

**يوه سه:** چي من موصله دی عائد يې محذوف دی ای خلقته چي مراد يې په دې آيت کي وليد بن المغيره دی (وحيدًا) يعني تنها.

**بوه سه:** چي وحيدًا يا حال دی له مفعول څخه د ذرني چي خدای پاک دی ولي چي فاعل د ذرني خو عليه الصلوة والسلام دی لان الخطاب معه تسلية له. وحاصل المعنى لا تهتم به يا محمد وذرني وحدي معه زه يې کفايت د رکولای سم، يا حال دی له فاعل څخه د خلقت ای خلقته (ای الوليد المذكور) وحيدًا يوازي لم يشاركني في خلقه غيره، او يا حال دی له عائد محذوف څخه چي وليد ته راجع ؤ فالمعنى خلقته وحيدًا فريدًا (تنها لا مال له ولا ولد)

وَّجَعَلْتُ لَهٗ مَالًا مَّمْدُوْدًا ﴿۱۲﴾

او موږ ګرځولی ؤ د هغه لپاره مال فراخه چي خلکو به يې مدحه کول بالنماء كالزرع والتجارة. بعض المفسرين وايي چي تجارتي مال يې زر ديناره وه وهو قول مجاهد و سعيد بن الجبير، او قتاده وايي څلور زره ديناره، او سفيان ثوري وايي چي يو لک ديناريې درلوده (درويش وايي چي د سړي ګمان کېږي چي دوی شمېرلي وه) او ابن عباسؓ وايي چي نهه زره مثقال سپين زر يې درلوده، او عطاء له ابن عباسؓ څخه روايت کړی دی کان له بين مكة والطائف اوښان او آسان او پسونه و عبيد و جواري.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّبَنِيْنَ شُهُوْدًا ﴿١٣﴾

او زامن مي ورکړي وه چي په مکه کي به حاضر وه يعني حاجت يې نه درلودی چي سفر وکړي لپاره د طلب د معاش، مشهوره دا ده چي لس زامن يې وه، او مقاتل وايي چي اووه زامن يې وه الوليد بن الوليد وخالد و عمارة و هشام و العاص و قيس و عبد الشمس، چي په دې زامنو کي يې خالد او هشام او عمارة ايمان راوړی دی.

وَّمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيْدًا ﴿١٤﴾

مونږ فراخه رياست په قريشو کي ورکړی ؤ او جاه عريض حتی چي ريحانه د قريش يې باله، والتوحد بالاستحقاق يعني دی متوحد ؤ په استحقاق کي يعني په زور او جبر يې رياست نه کاوه بلکې په استحقاق سره يعني د خلکو له خوا منلی سوی سړی ؤ، او بعض وايي چي ډېر دراز عمر يې ورکړی ؤ.

ثُمَّ يَطْمَعُ اَنْ اَزِيْدَ ﴿١٥﴾

وروسته دی اوس هم طمع لري د زيادت جاه او جلال او رياست او زيادة المال.

كَلَّا ؕ اِنَّهٗ كَانَ لِاٰيٰتِنَا عَنِيْدًا ﴿١٦﴾

هيڅ کله نه (کلا حرف ردع دی) يعني دا طمع دي قطع کړي په سبب د کفر او کفران النعم المذکورة، البغوي وايي چي د دې آيت تر نزول وروسته رواة وايي چي همېشه حال د وليد په تنزل کي ورځ په ورځ هم په جميع اموال کي چي تاسي وا وربده او هم په اولاد کي حتی هلک علی الکفر لعنه الله (انه کان لاٰيتنا عنيدًا) دی يعني وليد ؤ له آياتو څخه زمونږ چي د آيات قرآنيه معاند ؤ حيث کان لايؤمنوا بها او په اخير کي يې په ډېره بې حيايي وويل چي قرآن سحر دی او محمد ﷺ ساحر دی.

سَاُرْهِقُهٗ صَعُوْدًا ﴿١٧﴾

دی په پېټ کړو په ډېر سخت عذاب سره ای عذابًا شاقًا چي بلند او بالاوي پر هر عذاب للکفرة. له ابی سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روايت دی عن النبي ﷺ في قوله تعالی سارهقه صعودًا هو جبل في النار من النار. دی يعني کافر مکلف کوي چي ورو خېژه.



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دی چي لاس پر کښېږدي لاس يې ويلي سي چي پورته يې کړي بيا يې لاس د پښو په شان سم سي، فاذا وضع رجليه زابتا فاذا رفعها عادت، دا روايت البغوي له ابی سعيد الخدري رضي الله عنه څخه کړی دی، وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه ورواه احمد والترمذي وابن حبان عن ابی سعيد رضي الله عنه عن النبي ﷺ چي صعود يو غر دی په اور کي چي کافر پر پورته کېږي او و يا کاله وروسته را شوه کېږي تر ابده پوري، وقال الکلبي الصعود صخرة لمساء (ښويه ډبره ده) لايترک نفس في صعوده ويصعد بسلاسل الحديد ويضرب من خلفه بمقامع الحديد (سندان د وسپني) فيصعد في اربعين عامًا.

**درويش وايي**: چي د الکلبي رحمه الله حديث خو مسند و عليه الصلوة والسلام ته نه دی، نو الکلبي رحمه الله څه رنګه دا ازمنه بيانوي؟ په خوب يې ليدلی دی يا يې ده ته تجربه حاصله وه.

**پوښتنه**: په احاديث مسنده ؤ کي خو هم د الوليد ځای نه سو معلوم؟

**ځواب**: الوليد به ګاهي يو ځای ګاهي بل ځای وي او ټوله ځايونه سخت دي. فافهم، يا مراد له صعود څخه معنی جنسي دی فتدبر.

إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾

ده (يعني وليد خبيث) فکر وواهه، چي پر قرآن کريم کوم طعن ووايم چي ښه غوريې وکړی نو يې وويل چي قرآن سحر دی او عليه الصلوة والسلام ساحر دی (وقدر) اندازه يې ورته ولګول چي څه ووايم، دا جمله بيان ده د عناد دده او د سبب د شدت عذاب دده کمامر.

فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾

ای لعن لعنت دي وي پر ده (کيف) تعجب من تقرير استهزائه بالقرآن، تاکيد دده د فحش تقدير و تکرير اللعن علی الخبيث لان معنی قتل کمامر لعن.

ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾

بيا يې فکر وواهه چي کوم طعن پر قرآن ووايم چي قريشو ته مقبول سي (ثم عبس) بيا يې تندی تريو ونيوی (تندی يې دد ي لپاره تريو کړی لاند لم يجد طعنًا ولم يدر مايقول، يا معنی دا ده چي عليه الصلوة والسلام ته يې وکتل او تندی يې



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته تربيو كړې لشدة العداوة) (وبسر) او بيا يې شا وګرځول روان سو، بيا يې شا وګرځول حق او ايمان ته يا عليه الصلوة والسلام ته او كبر يې مختار كړې د ايمان راوړلو پر عليه الصلوة والسلام.

فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

كلمه د فاء يې د دې لپاره راوړه چې دى خو دمخه متردد ؤ چې څه ووايم. لكن څه وخت چې يې دا كلمه خبيثه پر دماغ ور وګرځېده فورًا يې تر خوله راويستل (ان الا سحر يوثر) نه دى دغه قرآن مګر جادو دى چې له بل چا څخه نقل كړې سوى دى، نه دى دا قرآن مګر قول د انسان، مراد دده خبيث له بشر څخه عليه الصلوة والسلام ؤ يعني چې محمد (ﷺ) و خلكو ته وايي چې دا كلام الله دى.

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾

دا جمله بدل اشتمال دى له سارهقه صعودًا څخه. ژر دى چې زه به دى يعني وليد داخل كړم و سقر ته (سقر نوم دى له نومانو څخه د دوږخ يعني د طبقه خاصه نوم نه دى)

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾

ته پوهېږې چې سقر څه شى دى؟ په دې كې تعظيم د شان د سقر دى.

لَا تُبْقِى وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾

باقي نه پرېږدي يو شى چې سقر ته يې ورواچوي بلكې على الفور يې سوځي، او نه يې پرېږدي چې هلاك يې نه كړي (لواحة) خبر د مبتداء محذوفي دى اى هي لواحة (البشر) جمع د بشر ده والمعنى مغيرة للجلد من البياض الى السوداء وقال ابن عباس رض وزيد بن اسلم محترقة للجلد، وقيل معناه لائحة للناس و خلكو ته ښكاره.

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾

پر سقر نولس (١٩) ملكي وظيفه داري دي چې دې ملكو ته خزنة جهنم وايي چې مالك دى چې مشر د خزنة جهنم د مع ثمانية عشر، اخرج البيهقي عن ابى العوام قال هم تسعة عشر ملكا چې به مابين كې د دوو وږو مسيره كذا و كذا، واخرج ابن وهب عن زيد بن اسلم رض قال قال رسول الله ﷺ بين منكبى احدهم مسيرة



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سنة چي به زره کي يې هيڅ ذره سوی نسته، او يوه ملکه پورته کوي او ويا زره مقدار
ډبره فيرميهم حيث اراد. قال البغوي" قال ابن عباس ؓ چي انه لما نزلت هذه الآية قال
ابو جهل لقريش ثكلتكم امهاتكم تاسي اورئ د ابن ابی خبري (کنيت ؤ د رسول
اللهﷺ په نېږ د دغو خبيثانو) وانتم الدهن الشجعان (تور ځوانان ياست) آيا عاجز
هر لس له تاسي څخه چي ټينګ وتړي يوه ملکه من خزنة جهنم. نو ابو الاسود چي
غښتلی په کافرانو کي ؤ ويل يې چي زه خو اوولس ملکي په شا پوري ترم، نيمی په
شا پوري نيمی په نس پوري، پاته دوې سوې د هغو کار به تاسي وکرئ. واخرج
البيهقي چي دا آيت چي نازل سو عليها تسعة عشر د قريشو يو سړی چي دوی به ابو
الاسدين باله هغه قريشو ته وويل چي د نوولس (۱۹) ملکو څخه مه بيرېږئ، زه به پر
راسته وره لس (۱۰) او پر چپه وره نهه (۹) وترم، فانزل الله تعالى هذه الآية.

**وَمَا جَعَلْنَا أَصْحٰبَ النَّارِ إِلَّا مَلٰٓئِكَةً ۙ**

او مورږ نه دي ګرځولي (ای خزنة النار) مګر ملکي. لا رجالاً آدمين حتى يمكن
للكفار تدافعهم (يعني كفار هغه ملكي بلكې يوه له هغو ملكو څخه نسي دفع كولای
كما ظن كفار مكة چي دوی پر خزنة النار د انسانانو خيال پر كاوه حتى قالوا ما قالوا)

**وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ**

مورږ نه دي ګرځولي شمېر د دوی په لږوالي يعني نولس (۱۹) الا فتنة: يعني كفراً و
ضلالاً والاستهزاء بهم او دوی دا ښخي بعيد بلل بلكې محال يې بلل چي دا عدد قليل
چي (۱۹) تېول د دنيا كفارو ته چي عدد يې مليارد و ته رسيږي عذاب دي ور كړي.
(للذين كفروا) حتى چي دوی ځوني توپونه ويشتل كما مر عن مقالاتهم (ليستيقن)
چي يقين يې سي، متعلق بمحذوف ای نبئناک يا محمد بعددهم القليل تا چي يقين يې
سي يعني د هغو كسانو چي كتاب وركړه سوی دی. يعني ستا پر نبوت او پر صدق د قرآن
كريم به يې يقين سي، ولي چي ستا قرآن موافق دی په وعدو كي د تورات او انجيل سره.

**وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِيْمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ**

او زيات كړي هغه كسانو ته چي ايمان يې راوړی دی يعني المؤمنين (ايماناً)
يعني تصديق د رسول او تصديق بما جئت به (ولا يرتاب الذين) او په حقيقت کي



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د قرآن شک نه وکړي هغه کسانو چي کتاب ورکړه سوی دی یعني الیهود چي کتاب يې تورات دی او نصارى چي کتاب يې انجيل دی او مؤمنانو ستا د امت، ابن ابی حاتم او البيهقي ؒ له البراء بن عازب ؓ څخه روايت کړی دی: ان رهطًا (جماعة) من اليهود سألوا رجلاً من المسلمين من اصحاب النبي ﷺ عن عدد خزنة جهنم فنزلت ساعة هده عليها تسعة عشر، فيكون هذا نبأ لاستيقان اهل الكتاب و ازدياد المؤمنين ايمانًا.

**وَلِيَقُولَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْكَافِرُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۚ**

او وايي هغه کسان چي په زړو کي يې مرض وي، ای نفاق یا هغه کسان چي په زړو کي يې ناجوړي او نفاق وي.

**پوښتنه:** سورت خو مکي دی او منافقين خو په مدينه کي پيدا سوي وه؟

**ځواب:** دا اخبار دٔ په مکه کي د هغه حال چي په مدينه کي به نمود اره کېږي.

(ماذآ ارد الله) چي اراده وکړي خدای د (۱۹) په راوړو ضرب مثل یعني چي مستغرب دی لکه استغراب المثل او یا دا چي دوی (۱۹) ډېر مستبعد ویلل، حسبوا دوی ګمان وکړی انه مضروب مثلاً.

**كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ**

همدا رنګه (متعلق دی بما بعده ای کما اضل الله بعده بیان الخبر ده (۱۹) ګمراه کړه او هدايت يې ورکړی بل قوم ته) ګمراه کوي خدای بعض کسان چي اراده يې ورته وسي او هدايت کوي و يو چاته چي اراده يې ورته وسي.

**وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾**

او نه دی خبر په کميت او کيفيت بيله ده و اما عددهم (۱۹) لایحتمل الزيادة والنقصان، قال مقاتل ؒ دا جواب دی د قول د ابی جهل حين قال ما لمحمد اعوان الا (۱۹)، حاصل د جواب يې دا دی چي هغه چي خدای پيدا کړي لپاره د تعذيب د کافرانو فوجًا فوجًا لايعلم عدتهم الا الله عزوجل. او رئيسان د هغو (۱۹) ملکي دي وهذا كما قال القرطبي المراد بتسعة عشر رؤسائهم و اما جمله خزنة النار فلا يعلم عددهم الا الله الملک الجبار (وماهي الا ذكرى للبشر) او نه دی (يعني سقر يا عدد (۱۹) يا دا سورة) مګر پند او وعظ د بشر لپاره.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَلَّا وَالْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَالَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾

(كلا حرف ردع دی يعني منع د لمن انكر السقر ای ارتدع عن انكاره يا ردع لمن انكر كون ملائكة العذاب (١٩) (والقمر) الواو للقسم (والليل اذ ادبر) معطوف على القسم چي شا وګرځوي يعني د تېرو پر خوا سي، قال ابو عمر هذه لغة قريش، وقال قطرب دبر په معنی د اقبل دی.

وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾

او قسم دی په سپېډو چي راوچوي يعني روښانه سي.

إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾

په تحقيق دغه ای السقر يو دی له لويو بلاؤ څخه ان بلايا يوم القيامة كثيرة والسقر واحدة منها ولي بلاوي د قيامت ډېري دي جهنم، ولظى، والحطمة، والجحيم، والسقر، والهاوية، والجملة يعني انها لاحدى الكبر جواب د قسم ده (نذيرًا للبشر) منصوب دی على تميز من احدى الكبر ای انذارًا والحاصل انها ای السقر من معظمات الدور ای التي خلقها الله للتعذيب (د لوی بلاؤ څخه دی چي خدای پيدا كړی دی لپاره د تعذيب)

لِمَن شَاءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾

لمن شاء منكم: بدل دی من قوله للبشر ای نذيرًا للفريقين (ان يتقدم او يتأخر) دا مفعول دی د شاء ای من يشاء ان يتقدم الى الايمان والخير والطاعة ولمن يشاء ان يتاخر في الشر والمعصية والكفر.

**تفريع**: توبيخ او انذار دی ولهذا قال الحسن والله ما انذر بشيئ من هذا نذيره قوله تعالى فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليكفر فهو توبيخ و انذار لا الاختيار بين الايمان والكفر.

**درويش وايي**: چي د توبيخ او انذار الفاظ په پښتو كي هم سته مثلاً ديو غني سړي زوی پلار ته وايي چي زه امريكا يا جرمني ته ځم، د پلار يې خوښه نه وي لكن زوی يې اصرار كوي، وروسته يې پلار ورته و وايي ورځه پر هره چي ځې ولاړ سه.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾

اى من المعاصي والسيئات.

**درویش وايي:** چي د ډېر علماء رهين فعيل په معنى د مفعول بولي اى مرهون لكن يرد عليه چي كه په معنى د مفعول واى، نو ولي به يې رهين لا رهينة لان النحات قالوا ان الفعل بمعنى المفعول يستوي فيه المذكر والمؤنث نو په قرآن مبارك كي ولي رهينة راغلي دى، بلكې صحيح دا ده چي رهينة مصدر دى كالشتيمة (معنى ښكنځل كول) نو معنى يې رهن ده چي مصدر دى لكن حمل يې پر نفس مبالغة دى نحو زيد عدل يا په حذف د مضاف يعني ذات رهن، وحاصل المعنى كل نفس عاصية كافرة محبوس في النار ابدًا.

إِلَّا أَصْحَابَ الْيَمِينِ ﴿٣٩﴾

**درویش وايي:** چي استثناء منقطع ده له اصحاب اليمين څخه، مراد د ابن عباس په روايت هغه كسان دي چي عملنامې په راسته لاس وركول كېږي، اخرج ابن المبارك عن رجل من بني اسد، قال قال عمر لكعب قل لي من حديث الاخرة قال نعم يا امير المؤمنين اذا كان يوم القيامة وضع اللوح المحفوظ فلم يبق من الخلائق الا هو ينظر الى عمله، وروسته بيا راورل سي صحف چي په هغو كي اعمال د بندګانو نوشته وي، دا صحف تر څوله د عرش كريم له خوا رانشر كېږي، بيا راوبلل سي مؤمن او كتاب په راسته لاس وركړي مؤمن يې مطالعه كړي، انتهى قول كعب، وقال مقاتل هم اهل الجنة الذين كانوا على يمين آدم عليه السلام يوم الميثاق، حاصل ددې اقوالو يو دى چي د اصحاب اليمين څخه مراد مؤمنان دي فانهم غير محبوسين في النار ابدًا بل ينجون بعد العذاب بقدر ذنوبهم او بلا تعذيب بالشفاعة او بمحض فضل ربه الكريم.

فِي جَنَّاتٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ الْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾

**بوه سه:** چي في جنات خبر د مبتدا محذوفي دى اى هم في جنات (عن المجرمين) اى عن حال المجرمين اى الكفار.

**بوه سه:** چي تفاعل په معنى د نفس فعل دى اى يسئلون المجرمين عن



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احوالهم حذف المسؤل عنه يعني چې له ده څخه پوښتنه کوي لدلالة مابعده عليه، په حديث کي راغلي دي چي خدای پاک مطلع وګرځوي اهل جنت چي دوی هم په جنتو کي وي حتى يرون اهل النار وهم في النار فيسئلونهم.

مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾

تاسي څه عمل داخل کړي یاست دوږخ ته، دوی وایي (ای المجرمين في جوابهم) موږ نه وو د لمونځ کونکو څخه يعني لمونځونه مو نه کول (لم نک) نون په جزم سره حذف کړی لمشابهة حرف العلة في امتداد الصوت، ولي چي ن امتداد په خيشوم کي دی او حرف علت په حلق کي دی (من المصلين) ای الصلوة المفروضة (ولم نک نطعم المسکين) او طعام مو نه ورکاوه مسکين ته يعني مايجب اعطائهم کالوالدين الفقيرين، مفسرين وايي چي دا آيت دليل ددې دی چي کافران مخاطب او مکلف دي په فروع د عملو لکه لمونځ صدقه وغيرهما، دليل يې دادی چي دوی ته مؤاخذة في الاخرة سته وانما سقط الخطاب في الدنيا لفقد الشرط آدائها وهو الايمان ولا وجه بسقوت التکليم عنهم يعني بالفروعات ولي چي کفر موجب د تشديد دی.

**تفريع**: حقوق د خدای عزوجل من العبادات والعقوبات يسقط بالاسلام، نو مسلمانان وروسته تر اسلام نه دي مکلف په قضاء د مافات عنه في حالة کالصلوة والصوم والزکوة ولايجري عليه حد الزنى في حالة وغيرها، قال رسول الله ﷺ الاسلام يهدم ماکان قبله ای من حقوق الله دون حقوق العباد.

وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰ أَتَانَا الْيَقِينُ ﴿٤٧﴾

موږ وو چي په لعب او بيکاره خبرو کي چي خدای به نهي څني کړي وي بحث مو کاوه سره د ورته موږ ته کسانو سره، او موږ تکذيب کاوه د يوم الجزاء يعني بعث بعد الموت چي له دي څخه مو انکار کاوه.

**فائده**: تکذيب د يوم الدين يې تر مامضى کنهو وروسته د تعظيم (يعني ترقي ده من الادنى الى الاعلى) (حتى اتانا اليقين) يعني الموت.

**سوال**: په مرګ سره دوی ته يقين پر ورځ د قيامت نه راتلی او سره ددې چي منکرين د قيامت ټول له خو مره سوه؟

**ځواب**: په صحيح حديث کي راغلي دي: من مات فقد قامت قيامته يعني د



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قبر په عذابو سره دوی ته چي بعد الموت عذاب سته فهو مقدمة ليوم القيامة.

فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ ﴿٤٨﴾

نو دوی ته فائده نه كوي شفاعت د ټولو شافعانو (الالف واللام للاستغراق) والكلام بناء على الفرض يعني كه يې څه هم ټول له شافعين شفاعت وكړي والا فلا شفاعة لهم من شافع واحد فضلاً عن الكل، مظهري وايي چي دا جمله متصله ده اما بقوله تعالى كل نفس رهينة او بقوله لم تك من المصلين آه.

**درويش وايي**: چي دا آيت دلالت كوي چي مؤمنان پس له ايمان څخه په هر فسق سره مبتلا دي شفاعت د شافعينو فائده نه ورته كوي.

بيت په شان كي د سيد الشافعين ﷺ:

عطاى شفاعت چنانش دهند ..... كه امت تمامى ز دوزخ رهند

احاديث صحيحه في باب الشفاعة: اسحق بن راهوية په خپل مسند كتاب كي د ام حبيبه رضي الله عنها او ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت كړی دی ما من مسلم يموت له ثلثة من الولد (نه نر او نه ښځه) لم يبلغوا الحلم (چي بلوغ ته نه وي رسيدلي) الا جئ بهم حتى يوقفوا على باب (پر دروازه د جنت ور درول سي) نو دې اطعامو ته وويل سي يعني د ملكو د خوا چي ځئ جنت ته ولاړ سئ دوی وو ايي فاين ابوانا؟ زموږ پلرونه چيري دي. بيا دوهم وار ملكي ورته وو ايي ادخلوا الجنة. دوی هغه د مخه جواب ور كړي. بيا دريم وار ملكي د دخول الجنة ور كړي دوی هغه اولني جواب ورته تكرار كړي. اخيراً ملكي ورته وو ايي چي داخل سئ جنت و آبائكم (له اباء څخه يوازي نرنه دي مراد بلكي امهات يعني مندي هم پكښي داخل دي صرف هتقا يې هغه نه كړي ذكر) فذالك قوله تعالى: فما تنفعهم الشافعين (يعني چي نفي د فائدې د شفاعت يې پر كافرانو وكړی چي مفهوم يې دا دی چي مؤمنان شفاعت د شافعينو فائده كوي) وقال ابن مسعود رضي الله عنه يشفع الملائكة والنبيون والشهداء والصالحون وجميع المؤمنين (يعني هغه مؤمنان چي د خپلو ځانو د غمه خلاص سي) نو نه پاتېږي په دوږخ كي مگر لږ كسان، ثم تلى ابن مسعود رضي الله عنه قالوا لم نكن من المصلين چي لمونځ نه كوي كه څه هم مؤمنين وي بايد شفاعت د شافعينو دي فائده ورته كوي لترتبت عدم قوله فما تنفعهم الخ على قوله لم يكن من المصلين مع ان الامر



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ليس كک، لان تارک الصلوة مع كونه مؤمنًا لينفعه شفاعة الشافعين بالاجماع بين اهل السنة والجماعة، وكذالک قوله ولم نک نطعم المسكين چي مؤمن دي شفاعت د شافعينو ورته كوي بالاجماع، وكذا قوله وكنا نخوض مع الخائفين تنفهم شفاعة الشافعين بالاجماع، نعم قولهم وكنا نكذب بيوم الدين چي كفر دي شفاعت د شافعينو فائده نه ورته كوي بالاجماع لان الشفاعة لا مجال له مع الكفر.

نو حاصل د سوال دا دی چي پر اولو درو ترتب د فما تنفعه شفاعة الشافعين څرنګه روا دی؟

**ځواب:** تفريع د ما تنفعه شفاعة الشافعين پر مجموع امور ..... دی لا كل واحد منهما نو پر مجموع خو دا حكم د عدم تقع الشفاعة شافعين خو روا دی، يو لوجود قوله تعالى: نكذب بيوم الدين چي مكذب بالدين خو كافر دی د كافر شفاعت نسته بالاجماع.

**سوال:** په دې خو موږ پوه سوو چي عدم نفع د شفاعة الشافعين خو سبب يې اخيري جز دی يعني وكنا نكذب ليوم، نو امور ثلثه اول يې ولي ورسره يو ځای كول؟

**ځواب:** مبالغةً في عدم جوازها.

**فائده:** اهل الاهواء يعني المعتزلة والخوارج والروافض قبحهم الله له شفاعت څخه منكر دي بناء مذهبهم الفاسد چي تعذيب د مؤمن عاصي مات بلا توبة واجب دی على الله تعالى، لكن شفاعت د عصات المؤمنين چي بلا توبه مړ سوی وي ثابت بالاحاديث المتواترة المعنى كه موږ ټول هرا جمع كوو لطال الكلام غاية التطويل لكن تذكرة منها، عن ابن عباس رض يقال للعالم اشفع لتلامذتک ولو بلغت عدد نجوم السماء رواه الديلمي، وعن ابى الدرداء رض مرفوعًا الشهيد يشفع في سبعين من اهل بيته، رواه ابو داؤد، وعن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اشفع لامتي حتى ينادی ربي ارضيت يا محمد فاقول رضيت ای ربي رواه البزار والطبراني، وعن انس رض قال قال رسول الله ﷺ شفاعتي لاهل الكبائر من امتي رواه الترمذي وابن عباس رض والحاكم وابن ماجه وروى الخطيب عن عثمان بن عفان رض عن النبي چي يو عالم او بل عابد راوستل سي فيقال للعابد ادخل الجنة ويقال للعالم قف حتى تشفع، وعن انس قال قال رسول الله ﷺ من كذب بالشفاعة (كالفرق المذكورة قريبًا) فلا نصيب له فيها، و



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من كذب الحوض فليس له فيه نصيب، وفي حديث عشر من الصحابة قول رسول الله ﷺ شفاعتي يوم القيامة حق فمن لم يؤمن بها لم يكن من اهلها.

فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٩﴾

پس څه پېښه ده دوی ته، د تذكرة څخه مراد قرآن دی يا عام مذكرات دي (معرضين) مخ اړونكي دي يعني بې معنی.

**پوه سه:** چي كلمه د فاء سببية ده و كلمة ما استفهامية مبتدا، ده ولهم خبره، وعن التذكرة استفهام انكاري دی عن شفاعة حالهم في الدنيا المفضي الى العذاب في الآخرة فان عذاب الآخرة سبب للابكار.

كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾

گويا خره دي نفرت كونكي يا بېرونكي چي تښتېدلي وي د زمري څخه، ولې وحشي حيوان چي زمری وويني يهربون منه اشد الهرب.

**پوه سه:** چي په آيت متلوه كي حال د كفارو چي اعراض او نفرت كوي له اورېدو څخه د قرآن يا له موعظت څخه د عليه الصلوة والسلام په هغه خرو سره يې مشابه كړه چي نفرت كوي له زمري څخه، له ابو هريرة ؓ څخه روايت دی چي له قسوة څخه مراد زمريان دي، مجاهد او قتاده او الضحاك؂ وايي چي له قسوة څخه مراد ښكاريان دي مضر چي نفعه نه لري.

**درويش وايي:** چي پر هر تقدير مراد له حمر څخه د غره پوسونه دي چي گوره خرېې بولي چي شكل يې د كورنيو خرو دی او ښكرونه لري او غوږنې يې حلالې هم دي او مزه داره هم دي چي بعض كسان يې په تعليم يافته سپوو چي تازيان يې بولي يا په نورو تعليم يافته سپوو ښكاروي يا يې د مخكې په دامو يا تلكو ښكاروي، والله اعلم.

بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾

كلمه د بل ابتدائيه ده وليست الاعراض عن التوبيخ بلكې انتقال د حال امر اهم منه، قال المفسرون قال قريش لرسول الله ﷺ ليصبح عند رأس كل منا كتابًا منشورًا من ان رسول الله نؤمر باتباعك (كفارو د قريشو وويل و رسول الله ﷺ ته



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي سهار دي و سر ته د هر سړي يو مکتوب چي خلاص پروت وي په هغه مکتوب کي دي زموږ امر ورکړه سوی وي په متابعت ستا ) منشرة جمع د منشور ده.

كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ الْآخِرَةَ ﴿٥٣﴾

داسي نه ده بلکي دوی نه بېربېږي له آخرت څخه (كلا) ردع ده اقتراح د آياتو بعد وضوع امر نبوية ﷺ بالمعجزات (بل) اضراب دی له قوم متقدم څخه يعني د صحف منشرة ؤ څخه مقصود د دوی دا نه دی چي امر د اتباع ستا پيدا کړي بل هو اقتراع محض ده. لكن اصلاً خبره دا ده چي دوی له آخرت څخه نه بېربېږي لانكارهم عن الآخرة، نو هر څه چي پر خوله ورغله وايي يې استهزاءً و تعنتًا.

كَلَّا إِنَّهُ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَاءَ ذَكَرَهُ ﴿٥٥﴾

(كلا) ردع على انكار الخوف وتاكيد للردع السابق (انه) اى القرآن (تذكرة) موعظة دی يذكر الله سبحانه وتعالى بصفاته الجميلة والجلالية و بالرحمة والعذاب الى غير ذالك (فمن شآء ذكره) که د چا خوښه وي چي قبل الموت و ورود القبر خدای ذکر کړي

**پوه سه:** چي ظاهر د آيت تخيير دی او په واقع کي توبيخ دی.

وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ التَّقْوَىٰ وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

او دوی مشيت د ذکر نسي کولای في وقت من الاوقات الا وقت مشيته تعالى، په دې سره دليل دی پر دې چي افعال د بندګانو په مشيت پوري مربوط دي. كريمه: وماتشآؤن الا ان يشآء الله رب العالمين.

(هو اهل التقوى) خدای عزوجل حقدار دی د دې چي سړی ځني بېربږي له عقاب څخه دده پر معصيت. او خدای عزوجل لائق دی د دې چي خپل بندګان مؤمنان وبخښي، له انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په تفسير کي د دې آيت داسي وويل هو اهل التقوى قال ربكم عزوجل هو اهل اتقى الشرک ولا يشرک بي غيري وانا اهل لمن اتقى ولايشرک بي ان اعفره اى سائر، رواه احمد والترمذي وابن ماجه.

**درويش وايي:** وقد تم تفسير سورة المدثر پر اتمه (۸) نېټه د روژې د مياشتي وقت القيلولة بتوفيقه تعالى، وحال ان اشرع بتفسير سورة القيامة بعين الوقت المذكور.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ القِيٰمَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً فِيْهَا رُكُوْعَانِ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ﴿۱﴾

**بوه سه:** چي قنبل ؒ له قراؤ څخه دا كلمه بغير الالف بعد اللام وايي چي صورت يې داسي دى لا اقسم، دا خو حتمًا قسم دى او لام لپاره د تاكيد د قسم دى، والمشهور لا اقسم بكلمة الالف بعد الام. په دې قرائت كي بعض وايي چي كلمه د لا د نهي لپاره ده، يعني زه قسم نه اخلم يعني بې قسمه يې ومنه لان الامر ظاهر لاحاجة الى القسم، روح المعاني وايي چي ادخال د لا النافية پر فعل باندي مشهور دى في لغة العرب او دا شعار د دوى كما قول امرء القيس:

لا وابيک ابنة العامري .... الى اخير البيتين، او خلاصه د كلام د جرار الزمخشري دا دى چي پر ځاى چي په مابين كي د كلام لا راسي كقوله فلا وربک هغه زائد دى تزاد لتاكيد القسم كما في قوله تعالى لئلا يعلم اى ليعلم. او روح البيان يې هم زيادت ته ترجيح وركړې ده واستدل قول الشاعر العربي:

تذكرت ليلى فاعترتنى صبابة ..... وكاد صغير القلب لا ينقطع

دا لا زائد دى اى وكاد صغير القلب ينقطع.

وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ﴿۲﴾

په دواړه ځايه كي خو مقصود قسم دى و جواب القسم محذوف دل عليه مابعده اى لتبعثن وليجزين كل نفس بما كسبت ان خيرًا فخير وان شرًا فشر. قال البيضاوي وادخال لا النافية على فعل القسم التاكيد شائع في كلام العرب و وجه شيوع ذالک ان ذالک الامر ظاهر مستغن عن التاكيد بالقسم كمامر وذالک لان من له فهم وعقل او تأمل بعد ما يرى من الناس فاجر ظالم على الخلق قاطع الرحم مرتكب لامور يحكم العقل لقبحها وهو في رغد عيش (په فراخه عيش كي به وي) ومن هو شاكر لله راض عند الخلق (اى مرضى عند الخلق) في محبته يحكم بان ينجز دار آخر فافهم.

**بوه سه:** چي مراد له نفس اللوامة څخه اما المعنى الجنسي، قال الفراء ليس



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من نفس فاجرة او بارة الا وهي تلوم انفسها اى في الاخرة لانها ان عملت خيرًا يقول هلا زدت وان كانت عملت سوء قال ليتني لم افعل هذا فانفس الناس في الآخرة محصورة كلها في اللوامة.

**درويش وايي:** چي مظهري ويلي دي قال فلان قال فلان كما هو عادته وليس في تلك الاهوال مزيد شيئ عمامر.

## اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ﴿۳﴾

آيا گمان كوي انسان (دا استفهام انكاري دى لپاره د توبيخ) البغوي وايي چي دا آيت نازل سوى دى په عدي بن ربيعه چي حليف د بني زهرة ؤ ختن (زوم) الاخنس بن شريق الثقفي ؤ وكان النبي ﷺ يقول اللهم وفقني من جاري السوء يعني عديًا والاخنس وذالك ان عديًا جاء الى رسول الله ﷺ فقال يا محمد حدثني عن يوم القيامة او كله بدوي وكيف امرها وحالها فاخبره النبي ﷺ فقال عدي كه زه دغه ورځ قيامت په سترګو هم ووينم لم اصدقك (ستا د نبوت تصديق نه كوم) في ان يجمع العظام الفرات المتفرقة وكان الاخنس اشد من عدي فانزل الله تعالى (ان لن يجمع عظامه) چي نه يې سي سره جمع كولاى زما هډوكي يعنى بعد التفريق (چي سره جلا سي او بوسيده سي) چي غرض د انسان كافر دا ؤ چي بعث بعد الموت نسته، ولي چي هډوكي ځاى د روح دي او اعاده د متفرع پر جمع د اعظاء والكافر منكر لجمع الاعضاء المتفرقة.

## بَلٰى قٰدِرِيْنَ عَلٰۤى اَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهٗ ﴿۴﴾ بَلْ يُرِيْدُ الْاِنْسَانُ لِيَفْجُرَ اَمَامَهٗ ﴿۵﴾

هو كې (په رد كي د انكار د كافر خداى وايي بلى يجمعها الله بيا حيوة وركوي) دى له فاعل څخه چي له مضمون څخه د بلى فهمېدى (على ان نسوي بنانه) د ګوتو بندونه او جوړونه چي په ډېر دقت سره برابرېږي (بل يريد الانسان) بلكي اراده لري انسان چي مخته هم ګناه وكړي.

**پوهه:** چي ليفجر منصوب دى په ان مقدر سره ولي چي حرف خو پر فعل نه داخلېږي بيله تقديره د ان: قال المظهري واللام زائدة قال مجاهد و عكرمة والحسن، والسدي معناه لايجهل ابن آدم ان ربه قادر على جمع عظامه لكنه يريد



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ان يخير اى يكفر امامه اى ما ياء عليه من الزمان المستقبل فيدوم على الكفر لاينزع ولايتوب، وقال سعيد بن جبير معناه يقدم على الذنب ويؤخره التوبة، ويقول سوف التقرب الى الله سوف اعمل علمًا صالحًا حتى يأتيه الموت على شر حالة او الضحاك وايي چي فجور امل دى چي په زړه كي دا وي چي زه ژوندى يم دومره دومره يعني لو سرمايه به لاس ته راولم ولا يذكر الموت، وقال ابن عباسؓ وابن زيد چي دى يعني انسان فاجر تكذيب كوي په ما امامه سره يعني القيامة والبعث والحساب او فجور ميل ته وايي دى فاجر بولي لميله من الحق.

يَسْـَٔلُ اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ ۝

(يسئل) حال دى له فاعل څخه د يفجر اى سائلاً استبادًا او استهزاءً پوښتنه كوي چي كله ده ورځ د قيامت غرض يې انكارؤ چي ورځ د قيامت نسته.

فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ۝ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ۝ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۝

په قاموس كي وايي برق كفرح و تضريعني پر دواړه بابه راغلى دى برقا و بروقا (دواړه يې مصدر دي) تحير بحيث لايطرف (چي سترگي به حيراني پاتي سوې پر داسي وجه چي رپولاى يې نسواى من شراه ما يرى من احوال يوم القيامة وشدائدها (وخسف القمر) او توره سي سپوږمى يعني نور يې ولاړ سي، في ذهاب نور كل واحد منهما كا جاء في الحديث النبويؐ او جمع بينهما في الطلوع من المغرب او في الالقاء في النار.

يَقُوْلُ الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ اَيْنَ الْمَفَرُّ ۝

وبه وايي انسان په دې ورځ چيري دى ځاى د تېښتي، اى الانكار المنكر اذا رئ تلك الامور (المفر) يعني چيري ده تېښته كما قاله اكثر المفسرين (يعني په مصدر يې ترجمه كړې ده لا بالظرف)

كَلَّا لَا وَزَرَ ۝

هيڅ كله نه (كلا) ردع عن طلب الضرار، دليل يې دا دى (لاوزر) نه ځاى د پناه نه يو قلا سته نه يو غر.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه**: چي اصل معنى د وزر غر ده، لان العرب للحيوان الى الجبال عند الوقاع اليها ..... لكن دلته مراد مطلق ځاى د پناه دى.

**إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾**

و حكم ته د خداى تن ورځ ځاى د قرار او رجوع ده (ينبؤ الانسان) خداى به خبر كړي جنس انسان په دغه ورځ (بما قدم واخر) قال ابن مسعودؓ وابن عباسؓ ما قدم قبل موته من عمل صالح وسيئ او د ما اخر څخه مراد ما اخر بعد موته من سنة حسنة چي خلك عمل د بنوو په كوي لكه يو مدرسه يا مسجد جامع چي په مدرسه كي به علماء درس كوي او په مسجد جامع كي خلك لمونځونه كوي او ذكر الله به يا طريقه سيئه چي خلك به عمل سيئ به پكښي لكه شرابخانه او د قمار ځاى اشارة الى حديث صحيح من سن في الاسلام سنة حسنة يعمل. اشارة الى حديث صحيح من سن في الاسلام سنة حسنة يعمل بها الناس فله اجرها واجر واجر من عمل بها من غير ان ينقص من اجورهم شيئ ومن سن في الاسلام سنة سيئة فله وزرها و وزر من عمل بها من ان ينقص من اوزارهم شيئًا.

**بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ﴿١٤﴾ وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُ ﴿١٥﴾**

بلكي انسان ښه خبر دى بما عمل في الدنيا من حسنة يعني په ياد يې وي بما عمل في الدنيا من حسنة او سيئة حاجت وخبريد ته نه لري.

**سوال**: بصيرة خو مؤنث دى او انسان مذكر دى فكيف يصح الحمل؟

والجواب: ان التاء للمبالغة لا للتانيث، كما قال الله ﷻ كفى بنفسك اليوم حسيبًا. كذا رواه ابو العالية وعطاء. و رواه البغوي عن ابن عباسؓ او دا احتمال كه څه هم بعيد دى چي بصيرة صفت دى د محذوف تقديره بل الانسان حين بصيرة على نفسه اى على اجمال نفسه، وقال مقاتل والكلبي معناه ان في الانسان على نفسه بصيرة اى رقباء يرقبونه ويشهدون بعمله وهو سمعه ويصبره وخوارجه فحذف حرف الجر اى في الانسان على نفسه اقباء يرقبونه في الدنيا فيشهدون بها يوم القيامة.

(ولو القى معاذيره) قال الضحاك والسدي كه څه هم دى دروازې وتړي او پردې واچوي چي فعل د معصيت كوي چي پټ كړي ما يعمل فائده نه ورته كوي لان نفسه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليه شاهدا وكذا جوارحه التي يزني بها وكذا الملائكة الحاضفة والله على كل شيئ شهيد، وابن اليمن يسمون الستر معذارًا، وجمعه معاذيره او مجاهد او قتاده او سعيد بن جبير وايي يشهد على العاصي الشاهد من الجوارح والملائكة واعتذر وجادل عن نفسه پر دې معنى معاذير جمع د معذار په معنى د عذر وجمع د معذرة على خلاف القياس، بخاري او مسلم له ابن عباس ؓ څخه روايت کړې دى كان رسول الله ﷺ اذا نزل جبرئيل بالوحي يحرک لسانه وشفتيه وكان يستد عليه يريد حفظ ما انزل الله او خلګ پر شدة د وحي پر عليه الصلوة والسلام توهېدل فانزل الله هذه الآية.

## لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ﴿١٧﴾

ته مه ښوروه (يا محمد ﷺ) به: اى بالقرآن (لسانک) يعني قبل ان يتم وحى (لتعجل به) يعني چي على العجلة په قوت حافظه راوړي چي يو شى له قرآن راڅخه پاته نسي، په تحقيق پر مونږ دى جمع د قرآن ستا په سينه کې (وقرآنه) او اثبات د قرائت ستا پر ژبه دا جمله تعطيل د نهي دى يعني لاتهرک.

## فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ﴿١٩﴾

يعني په لسان د جبريل ؑ.

**پوهسه:** چي خداى پاک اضافت د جبريل و ځان ته وکړى مجازًا لانه تعالى سبب آمرله (فاتبع قرآنه) يعني اقراء بعد فراغ جبريل ؑ وكذالک التلميذ لابد له ان يقرء بعد تلاوة المقري ولايقرئه معه كيلا يحصل المزاحمة بالقرآتين والتشويش (ثم ان علينا بيانه) اى القرآن كه چېري يو مشكل لفظ يا مجمل په قرآن کې راسي زه يې بيان درته كوم.

**درويش وايي:** چي ددې آيت څخه دا معلومه سوه چي هيڅ شى له قرآن څخه غير معين و عليه الصلوة والسلام ته نسته و الايخلو الخطاب عن الفائدة كالتكلم بالزنجي مع العربي.

## كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ الْآخِرَةَ ﴿٢١﴾

(كلا) ردع على انكار البعث او على الفجور امامه يعني قبل البعث او القاء المعاذير الباطلة (بل تحبون) تاسي محبت لرئ د تحبون ضمير راجع دى و انسان المذكور.

**سوال:** انسان خو مفرد دى تحبون خو جمع دى فكيف الارجاع؟



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**ځواب:** الجمعية بالنظر الى المعنى لانه بمعنى الجمع اى الجنس (العاجلة) هغه نژدې شی چې لذائذ او شهوات د دنيا دي ولې چې تاسو له عمر د دغو په طلب کې سرګردانه ياست.

(وتذرون الآخرة) تاسي پرې ايښی دی آخرت، ولې چې د هغو سرګردانه په نه ياست بلکې لايعلمون ان الله قادر على البعث بعد الموت، او په دې هم نه پوهيږئ چې زمونږ معاذير به مونږ ته نفع وکړي او که څرنګه.

## وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾

مخان به په دغه ورځ سرسبز و شاداب وي وناعمة حسنة بربښي به.

**پوهسه:** چې (وجوه) مبتداء ده.

**سوال:** وجوه خو نکره ده نو ابتدائيه څرنګه صحيح ده؟

**ځواب:** دا نکره يا مخصوص په تقدير صفة مقدرة اى وجوه بشره او وجوه منهم من جنس الانسان الذي مر ذكره (يومئذ) ظرف دی لما بعده اى يوم اذا كان من بروق البصر او يوم اذا كانت لقائه (ناضرة) خبر دی (الى ربها ناظرة) کتونکي به وي برؤية البصر لا كيفية ولا جهة ولا ثبوت مسافة بين الرب تعالى وعبده الرائي ولابقياس الغائب عن الشاهد، ولهذا قال المولى الجامي قدس سره:

مصرع: .... نه پرس از ما زکيفيت که چون بود.

واخرج البيهقي في كتاب الرؤية من طريقه عن ابن عباس رضقال وجوه يومئذ ناضرة نضرة الخالق، وعن ابن عمر رضقال قال رسول الله ﷺ ان ادنى اهل الجنة منزلة ان ينظر الى احبابه وازواجه ونعيمه وخدمه وسرده مسيرة الف سنة واكرمه على الله من ينظر الى وجه ربه تعالى غدوة وعشية ثم قرء رسول الله ﷺ وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة، رواه احمد والترمذي والدار القطني، وفي الباب حديث انس رض رواه البزار والطبراني والبيهقي وابو يعلى بطوله وفيه يوم الجمعة يزداد فيها نظرًا الى وجهه تعالى له دې سببه يوم المزيد بولي، واخرج ابن عباس رض اهل الجنة يرون ربهم كل جمعة وعن انس رض مرفوعًا قال الله تعالى: من سلبت كريمتيه كه په دنيا کې څوک ما په دواړو سترګو ړوند کړی وي، جزائه الحلول في ........ (من المتشابهات) والنظر الى وجهي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درويش وايي:** چې پر رؤيت د خداى عزوجل په ورځ د قيامت او په جنت کې انعقد اجماع اهل السنة والجماعة او له دوى څخه مخالف دي اهل الاهواء من المعتزلة والخوارج وغيرهم دوى وايي چې رؤيت ددې تقاضا کوي چې مرئي به جسم کثيف بلا حجاب وي او بل دا غواړي چې رائي او مرئ متوسط مسافت وي نه په غايت قرب، له دې سببه هيڅ سړى خپل باڼوګان نهويني، ولا الى غايت البعد بدون العصرية و وصوله الى المرئي المقتضي لثبوت الجهة له تعالى، او په منقولاتو کې دا دليل وايي چې لايدرکه الابصار وهو يدرک الابصار.

**درويش وايي:** چې مظهري بحث د رؤيته تعالى ډېر اوږد کړى دى او د ده د مخالفينو دلائل عقليه او نقليه هم راوړي دي بيا يې جواب هم نه دى ورکړى. اصل خو دا ده چې ددې تحقيق او تفصيل او جوابات د مخالفينو علامه ثاني سعد الملة والدين التفتازاني" په شرح العقائد کې په مختصره توګه راوړي دي، او په شرح المقاصد کې يې په مفصله توګه راوړي دي، او په دې باره کې قاضي عضد الملة والدين وشرحه للسيد الجرجاني" ولاعليک ان تطالع کتاب الملل والنحل لعبد الكريم الشهرستاني" في هذه المسائل.

**درويش وايي:** چې صاحب د روح البيان وايي چې نضرة طراوه ده د ابرو و جمالها وذالک من اثر التنعم والمعنى وجوه کثير وهي وجوه المؤمنين المخلصين يوم اذ تقوم مباهية شايد عليها نضرة النعيم الى ربها ناظرة على ان وجوه مبتداء ده و ناضرة يې خبر دى الى ربها ناظرة قوله ناظرة خبر ثاني دى والنظرة قلب البصر والبصيرة لادراک الشئ ورؤيته ثم قال وهذا عند اهل القال واما عند اهل الجان فلا ينحصر النظر والبصر والاجاء القيد والله منزه عن ذالک بل فيقلب الظاهر باطنًا والظاهر يقرا بجميع الاجزاء فيشاهد الحق به، کما يشاهد بالبصير والدنيا والآخرة وانما الحکم القلب والجسد الظاهر والطاهر الاجزاء فيشاهد الحق، بزرگى و ابرسيدند راه از کدام جانب گفت از جانب تو نيت چون از تو در گذشتى...

**درويش وايي:** چې د رؤية ډېر مثالونه يې راوړي دي او تر اندازه بالا بيان يې پکښې کړى دى که د غه مقام په ډېر غور مطالعه سي فائده به ډېره وي ان شاء الله، واخرج الاجرى عن ابن عباس ؓ عن النبي ﷺ ان اهل الجنة يروون ربهم کل



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جمعة، وفي حديث جرير البجلي موږ ناست وُ د عليه الصلوة والسلام سره چې ناڅاه وکتل و سپوږمۍ ته د څوارلسم (۱۴) تاريخ چې ليلة البدر يې بولي. فقال سترون ربكم كما ترون هذا القمر ليلة البدر (التشبيه لا في العلو والسفل) بلکې مراد په تشبيه کې دا ده چې تاسي به ازدحام په رؤيت کې د خدای نه کوي لکه ازدحام چې د څوارلسم په سپوږمۍ کې نه کوي.

**فائده:** تفسير ددې آيت: ناضرة الى ربها ناظرة و تفسير قوله تعالى: الذين احسنوا الحسنى وزيادة و قوله تعالى ولدينا مزيد و غيرها من الآيات په رؤيت سره د خدای مسندة عن النبي ﷺ او د اصحابو او د تابيعنو څخه حتى بلغت مبلغ التواتر المعنوي عند اهل كذا ذكره السيوطي وغيره.

وَوُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴿۲۴﴾

او مخان په دې ورځ به ترش وي چې عبوس يې په عربي بولي په پښتو اصطلاح يې تريو و ترش، کنجلک بولي.

**پوهه:** چې (وجوه) مبتداء ده بتقدير الاضافة او بحذف الموصوف اى وجوه كثيرة (يومئذ) ظرف لما بعده، والمراد يوم القيامة ده.

تَظُنُّ اَنْ يُّفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿۲۵﴾

چې ګومان به کوي بلکې يقين به کوي، خبر ثان، چې د دوی سره به وکړل سي يوه لويه بلا چې دده د ملا فقار (يعني هډوکی به ورمات کړي قال هي دخول النار) وقال بعضهم اصح آنست كه ان بلا حجابست از رب الارباب. مصرع: بلای بدتر از فراق يار نيست.

كَلَّآ اِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿۲۶﴾

(كلا) ردع على ايثار الدنيا على الآخرة كانه و اذكر والموت الذي ينقطع الدنيا وتقبل الآخرة مخلدة (اذا بلغت) چې ورسيږي نفس.

**سوال:** نفس خو نه دی ذکر سوی نو اضمار قبل الذكر به نه وي؟

**ځواب:** نفس له سياق څخه د کلام فهميږي اذا شرطي دی جزا يې الى ربك يومئذ المساق دی.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه:** چي (التراقي) هغه دوه هډوکي دي عن اليمين والشمال له څايه سره د ذبح ويكنى ببلوغ النفس الى التراقي نژدي د مرګ.

وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ۝ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ۝

او وايي حاضرين د زكندن والا چي څوك نسته چي دم پر وكړي منهاهو فيه من الشدة (وظن) او يقين سي د زكندن والا (انه) اى المرض الشديد الذي نزل به (الفراق) چي دا وقت د جلا والي دى زما د اهل او عيال او هر له هر محبوب څخه.

وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ۝ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ۝

الشعبي" وايي چي راوپيچل سي يوه پنډۍ پر بله پنډۍ چي ښورولای يې هم نسي، كناية عن خروج من البدن، او ابن عباس رض وايي چي وپيچل سي امر د دنيا پر امر د آخرت نو اخير ورځ د دنيا وي او اول ورځ د آخرت وي، نو پر دې عاجز جمع سي شدت د فراق د دنيا بشدة اقبال الآخرة (الى ربك يومئذ المساق) يعني لا الى غيره تعالى په دغه ورځ سوق دده كيږي، سعدي شيرازي" د فراق كلي په باره كي ډېر خواږه ابيات ويلي دي:

كوس رحلت بكوفت دست اجل .... اى دو چشم وداع سر بكنيد
اى كف و دست و ساعد و بازو .... همه توديع يكديگر بكنيد
بر من افتاده مرگ دشمن كام .... اخير اى دوستان گند بكنيد
روزه گارم بشد لباداني .... من نكردم اخير شما حذر بكنيد

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ۝ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ۝

نه تصديق وكړى دغه سړي يعني د رسول يا قرآن او يا معنى دا ده چي نه يې تصدق د مال وكړي يعني زكوة المال يې ورنه كړي (ولايصلى) او نې هم فرضي لمونځ وكړي.

**فائده:** ضمير ددې الفاظو راجع دى و انسان ته، له سياق څخه د كلام دا سي فهميږي چي او سني حكايات په عدي بن ربيعة كي دى المذكور وقال البغوي" المراد به ابو جهل.

**درويش وايي:** چي اولى دا ده چي انسان محمول پر جنس سي فيشمل امثال


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابوجهل وابن ابی ربیعة وامثالها في شدة الكفر كما لايخفى (لكن كذب) لكن تكذيب د رسول الله ﷺ يې وكړې (وتولى) او ايمان يې نه راوړې.

ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ ﴿٣٣﴾

بيا راهي سو د كور پر خوا اى چابک چابک روانۀ، في القاموس مطى د في اليسرة.

**پوهه:** چي روح البيان يې ترجمه په خيال روان كېدل په تګ كي تكبر كول دي.

أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٥﴾

جمله دعائيه ده بمعنى ويل لک يا تهديد او وعيد دى وفيه التفات من الغيبة الى الخطاب (فاولى) هلاک پرتا.

**پوهه:** چي دا تكرار يحتمل تائيد دعاء الشر كما مر، ويحتمل ان يراد به ويل لک في الدنيا بالقتل واللعن ولذا ذكر بالسوء والتعذيب، وويل لک يوم الموت وويل يوم بعثت وويل لک اذا دخلت النار، وقال قتادةؒ ذكر ان النبي ﷺ چي دا آيت نازل سو نو عليه الصلوة والسلام په شپله كي د بطحاء ابوجهل تر پتو ټينګ كړې ثم قال اولى لک فاولى ثم اولا لک فاولى، ابوجهل ورته وويل چي ما بيروي يا محمد؟ والله لا تستطيع انت وربک ان تفعلان بي شيئًا، ابوجهل ورته وويل چي زه لوى غير تمند سړى يم په منځ كي د غرو د مكې. فلما كان يوم بدر خداىؑ هلاک كړې په توګه د اسود نامي قتل كړې، وقال النبي ﷺ ان لكل امة فرعونًا و فرعون هذه الامة ابوجهل، واخرج ابن جرير عن طريق العوفى كما نزلت هذه عليها تسعة عشر (يعني خزنه د دوږخ نوولس (١٩) دي) قال ابوجهل لقريش ثكلتكم امهاتكم (ميندي دي درباندي بوري سي) تاسي ته خبر دركوي ابن ابى كبشه چي دده په كنيت رسول الله ﷺ مراد دۀ، ابوجهل قريشو ته وويل چي تاسي خو لوى جماعت ياست په لسو كسانو يوه ملكه من خزنة جهنم نسئ ټينګولاى؟

أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾

آيا ګمان لري انسان، يعني ابوجهل چي دى دي پرېښول سي مهملاً چي بعث دې نه كړي او جزاء دې ورنه كړي حيث ينكر البعث بعد الموت لان الحكمة في خلقه ليس الا التكليف قال الله تعالى وما خلقت الجن والانس الا يعبدون.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾

**پوه سه:** چي دا جمله مستأنفه ده لپاره د دفع د حسبان مذكور، ولي مفاد د حسبان مذكور چي دوى اعاده بعد الموت بعيد ده نو خداى په بدء الخلق سره دليل ووايه پر اعاده د بعد الموت، آيا نه ؤ انسان يعنى دغسي ؤ چي نطفه وه چي توى كړه سوه په رحم كي د ښځي.

ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾

وروسته تر نطفي بيا وګرځېدى (علقة) وروسته تر ځلوېښت ورځو، وروسته بيا مضغه جوړ سو ثم عظامًا چي غوښي پر هواري سوې (فخلق) بيا خداى پيدا كړى چي روح يې پكښې پوه كړى (فسوى) بيا يې برابر اعضاء وزركړه بيله تفاوته د بنيه انسانيه سره مثلاً كه د انسان غوږ دونه لوى واى لكه د خره نو فسوى به نه واى.

فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٣٩﴾

بيا يې وګرځاوه (اى الله جلت قدرته) له هغه شخه چي يو ولد علقه وه بيا مضغه وه ثم عظامًا ولحمًا (الزوجين) دوه صنفه يعني نر او ښځي، ګاهي په رحم كي دوه جمع وي ګاهي يو له بله سره جلا وي.

أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾

آيا نه دى دغه الله چي دا افعال يې ټول وكړه چي د مخه نه وه پيدا، او الله قادر دى دا چي مړي بيرته راژوندي كړي، وهذا قياس البعث على الله فالذي يقول بالله وعلى النظام العجب كما مر تفصيله وينكر البعث بعد الموت اما في غاية الحمق والجهالة دون غاية العناد، عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من قرء منكم والتين وانتهى الى اليس الله باحكم الحاكمين فليقل بلى وانا على ذالك من الشاهدين، ومن قرء والمرسلات فبلغ فباىّ حديث بعده يؤمنون فليقل آمنّا بالله ومن قرء لا اقسم بيوم القيامة فبلغ الى اليس ذالك بقادر على ان يحيي الموتى فليقل بلى وانا على ذالك من الشاهدين.

**درويش وايي:** وهذا من الاداب القرآن.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الدهر مكية وهي احدى وثلاثون اية وفيها ركوعان
بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

هَلْ أَتٰى عَلَى الْإِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُوْرًا ﴿۱﴾

**پوهه:** چي استفهام تقريري دى اى حمل المخاطب على الاقرار ومعناه قد اتى و مضى (على الانسان) المراد به جنس الانسان او آدم ﷺ (حين) قال البيضاوي اى طائفة محدودة من الزمان وقال صاحب القاموس الحين وقت مبهم يصلح جميع الازمان طال او قصر. وقيل يختص باربعين سنة او بستين سنة او شهر وشهرين (من الدهر) اى الممتد الغير المحدود وفي القاموس الدهر الزمان الطويل او الف سنة چي مدة د عمر د آدم ﷺ. وفي الصحاح الدهر في الاصل اسم لمدة العالم من مبدء وجوده الى منتهاها.

**درويش وايي:** چي پر دغه مبنى قوله تعالى: هل اتى على الانسان حين من الدهر الآية و دهر الانسان مدة حيوته والله اعلم.

(لم يكن شيئًا مذكورًا) حال دى له انسان څخه اى حال كونه لايذكر مثلاً فلان بن فلان ولا يعرف نه چاپېژندى، له دې كلام څخه دا فهمېږي چي شئ خو و لكن والالم يوصف بانه قد اتى عليه، حاصل دا چي په دغه حال كي انسان نسيًا منسيًا، وقد اختلف العلماء فقال بعضهم المراد به آدم ﷺ دا هغه وخت چي آدم ﷺ خداى عزوجل مصور كړى له خټو څخه نو پر دغه صورت بلا روح سره په مابين كي د مكي او طائف مصور پروت و څلوېښت (۴۰) كاله، بيا يې روح پكښي پوه كړى بيا روح بشر په لحم وركولو سره وګرځېدى، كه په انسان سره مراد جنس وي نو دغه حين څلور مياشتي دي حين كان نطفة او علقة الى نفخ الروح، وستة اشهر اقل مدة الحمل او سنتين اكثر مدة الحمل لكن پر هر تقدير كلام محمول دى پر مجاز. لان ذالک الحين لم يأت على الانسان بل على الطين المصور كما في صورة آدم ﷺ او النطفة ونحوها.

إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ

په تحقيق موږ پيدا كړى دى انسان (اى ذريته ان كان المراد بالانسان والمراد فيها الجنس) له داسي نطفي څخه چي ګډوډ او مختلف اجزاء يې دي.

**سوال:** نطفه خو مفرد دى او امشاج جمع ده فكيف التوصيف؟

**ځواب:** ان المراد مجموع مني الرجل والمرئة وكل واحد من النطفتين مختلف



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاجزاء والاوصاف في القوام والرقته والخواص، او بعض مفسرين وايي چي امشاج مفرد دی معنی يې مختلطة من مني الرجل والمرئة، وقال كل يومين اختلطا فهو امشاج، وقال قتادةؒ معنى امشاج اطوار اى ذات اطوار، نو مراد دده اطوار ده نطفة من العلقة والمضغة.

نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۞

(نبتليه) جمله حال ده له انسان څخه.

**سوال:** ابتدلاء خو امتحان ته وايي نو د نطفه انتقالاتو کې له يوه حال څخه بل حال ته دا څه شی امتحان پذير دی، لان الامتحان يكون للعاقل البالغ والنطفة في الحالات المذكورة ليست كذالک؟

**ځواب:** ابتلاء يې ذکر کړه چې منی يې امتحان دی او مراد ځني نقل د نطفة من حال كما مر بعلاقة اللزوم فافهم هداک الله.

(فجعلناه سميعًا بصيرًا) موږ دی کړ ځولی دی اوريدونکی او ليدونکی تا چې په سبب د سمع اوريدل د دلائلو حقهٔ وکړي او فکر پکښې و وهي من جهة الرسول ووعاظ الدين، او په بصر دلائل د توحيد د خدای عزوجل په افاقو کې و ويني او په دغو دلائلو د توحيد د صانع اکبر روښانه رڼا و ويني خلق السمٰوٰت والارض وهو العزيز الحكيم، وايضًا وفي انفسكم افلا تعقلون... بيت:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار .... هر ورقى دفتريست معرفت کردگار

**درويش وايي:** چې د يو صحرائي باديه نشين څخه چا پوښتنه وکړه چې ته د خدای پر وجود څه دليل لرې؟ بدوي ورته وويل البعرة تدل على البعيرة وآثار الاقدام على المسير، فكيف لايدل هذا العالم الكبير على العالم القدير الخبير؟ ولنعم دليله هذا ولهذا قال الله تعالى.

إِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ إِمَّا شَاكِرًا وَّإِمَّا كَفُوْرًا ۞

يعني السبيل الى الله الواحد القدير والى مرضاته ببعث الدلائل وارسال الرسل وانزال الكتب.

**يوه سه:** چې مراد له دې هدايت څخه ارائة الطريق دی دون الدلائل الموصلة الى المطلوب لکه په دې آيت کې چې مراد دی. اهدنا الصراط المستقيم لان ارائة



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الطريق حاصلة فطلبها طلب الحاصل وهو مستحيل عقلاً دون الهداية الموصلة فانها مترقب فطلبه واجب فافهم، نو ځکه پر محض ارائة خدای ٔ دا بناء کړه.

**پوه سه:** چي (شاكرًا كفورًا) دواړه لفظه حال دي من الهاء في هديناه السبيل اى مقدرين احد الامرين الشكر على هداية وقبولها او الكفر والانكار.

إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَاْ وَأَغۡلَٰلٗا وَسَعِيرًا ۝

موږ مهيا كړي دي د كفارو لپاره، سلاسلاً جمع د سلسلة ده يعني ځنځيران چي دوى په تړل کېږي بيا و اوور ته غورځول کېږي (اغلال) جمع د غل ده چي پر لاسو يې ورپېچلي وي تر غاړې پورې (وسعيرًا) او اوور په نهايت ګرمى سره، دا خو وه د كافرانو قرارګاه.

إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ يَشۡرَبُونَ مِن كَأۡسٖ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ۝

ابرار جمع د بر ده يعني نيكو كاران، والمراد بهم المؤمنين الصادقون في ايمانهم، په قاموس کي وايي چي مصدر د ابرار بِر بكسر الباء بمعنى صلة الرحم والخير، او فراخي په احسان کي والصدق والطاعة وكل ذالک صفات المؤمنين كما لايخفى، په صحاح کي وايي چي (كأس) لوښى دى يعني صراحي وغيره بما فيه الشراب اى المشروب مطلقًا لبنًا كان او عسلاً او خمرًا او ماءً يعني تخصيص په خمر پورې نه لري، لكه په پښتو کي خمر خاص شرابو ته وايي او هر يوه ته د لوښي او ما فيه دواړو ته هم كاسې وايي كما يقال كأس خال وشربت كأسًا.

(كان مزاجها) اى ما يمزج، والضمير راجع وكأس ته چي مؤنث سماعي دى كه په معنى د شرب سي، ويحتمل ان يكون الضمير راجعًا الى الاناء بمافيه (كافورًا) قال عكرمةؒ طعمها ككافور في طيب الطعم والريح الطيب، او عطاءؒ وايي چي كافور اسم لعين الماء في الجنة.

عَيۡنٗا يَشۡرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفۡجِيرٗا ۝

(عينًا) بدل دى له كافور ځكه نوم دى د اوبو په جنت کي، او يا بدل دى له محل ځكه من كأس على تقدير مضاف اى ماء عين (يشرب بها) الباء زائدة اى يشربها (عباد الله) بندګان د خداى ٔ اى الذين عبدوا الله وحده مخلصين له الدين



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کريم: الا لله الدين الخالص (يفجرونها تفجيرا) له يوه ځايه بل ځاى ته د منازلو د دوى يعني په ډېره آسانى. و قصورو ته د دوى که لېږي وي او که نژدې. د ابر جوزب څخه چا پوښتنه وکړه چي دا مشروبات په ذريعه د څه شي يوې خوا او بلې خوا ته بيايي؟ هغه ورته وويل چي په نلانو کي د سرو زرو پر هره خوا چي د جنتي ورته ضرورت وي من الاعالي والاسافل.

## يُوفُونَ بِالنَّذْرِ

چي دوى وفا کوي په نظر سره.

**يوه سه:** چي دا جمله مستأنفه بيانيه ده يعني چي جواب د سوال مقدر ده مابالهم يثابون بذالک يا په جواب کي د سوال الابرار ما هم؟ فهو تعريف للابرار بانهم يؤدون الواجبات او له خداى څخه بېرېږي، نو پرهېز کوي له کبائرو او صغائرو گنهو څخه او پر بندگانو د خداى رحم کوي او په نذر سره وفا کوي، والنذر في اللغة ان توجب على نفسک کذا في الصحاح نو دوى وفاء کوي بما ليس بواجب من الله يقتضى بايفائهم بما فرض بالطريق الاولى.

## وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا

او دوى بېرېږي له هغې ورځي څخه چي شر د هغې ورځي (يعني مکروهيت) سره پاشلى چي هيڅ ځاى نه وي خالي لکه عرب چي وايي چي يو ځاى چي ډېر اوور واخلي او سره منتشروي، لکه د موټرانو د تيرو کارخانه چي اوور واخلي استطار الحريق، يا سپيدې چي بنه روښانه سي دوى وايي استطار الصبح، مقاتل وايي چي دا شر يعني د قيامت د ورځي شر اسمانو ته ورسېږي فانشقت، آسمانونه ټوکر ټوکر سي ستوري گرده راتوى سي او لمر او سپوږمۍ خپل نور بايلي او ملکي هم بېرېږي ددې شر انتشار په مځکه کي هم سته لکه غرونه چي له خپلو ځايو څخه ميده ميده فکانت صبا نبسا، وغارت المياه او اوبه ټولي په مځکه تنوزي.

**درويش وايي:** چي په دې آيت سره ويخافون آه د عباد الله وحسن عقيدة ته اشاره ده.

## وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا

او عباد الله ته ډودى ورکوي پر محبت د خداى (يا معنى دا ده چي دى په خپله محبت ورسره لري ولي چي دى په خپله وږى وي) مسکين او يتيم ته.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه**: چي مسکین هغه چا ته ویل کیږي چي د صبا دوډۍ په کور کي نه لري وهذا غاية المسكنت، او بعض علماء وايي چي يو نصاب نه لري وهذا ابتداء المسكنت، واليتيم من لا اب له الى وقت البلوغ، قال رسول الله ﷺ لايتيم بعد البلوغ، او يتيم د حيواناتو هغه دی چي مور نه لري، او يتيم د جواهراتو هغه دی چي مثل نه لري لكه درّيتيمة.

**درويش وايي**: چي د يتيم حال او د مسكين حال خو تاسي واورېدی واما حال فحاله ان رسول الله ﷺ لم يكن له اسير من اهل الاسلام لكن نزلت في اسير من اهل الشرك فكان النبي ﷺ بالاحسان اليهم يعني ظلم دي نه پر کوي بلکې د خوراکي موادو احسان دي ورسره کوي كذا قال قتاده، وقال المجاهد وسعيد بن جبير المراد المسجون من اهل القبلة في مجالس المسلمين او الكافرين وقيل الاسير المملوك يعني مريی، وقيل المرئة اى الزوجة كما قال رسول الله ﷺ اتق الله في الضعفين المملوک والمرئة، رواه ابن عساكر عن ابن عمرؓ عن ام سلمةؓ، وايضًا ورد عن رسول الله ﷺ اتق الله في الصلوة وما ملكت ايمانكم، يعني لمونځونه پر خپلو وختو کوئ او د ماملكت ايمانكم سره احسان کوي، رواه الخطيب، وروى البخاري عن عليؓ مرفوعًا اتقوا الله في ما ملكت ايمانكم (يعني مريان او مينځياني) وروى البغويؒ اتقوا النساء فانهن عوان عندكم، قال لبغويؒ اختلفوا في سبب نزول هذه الآية قال مقاتلؒ نزل في رجل من الانصار اطعم في يوم واحد مسكينًا ويتيمًا واسيرًا.

**إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾**

دا جمله حال ده من ضمير ويطعمون بتقدير القول اى قائلين لمطعم لهم اما تحقيقًا او تقديرًا بلسان الحال، او مجاهد او سعيد بن جبير وايي لم يتكلموا به لكن علم الله من قلوبهم فاثنى عليهم وهذا اولى و احرى (لوجه الله) لفظ د وجه زائد دی معنی د آيت دا ده اى لطلب مرضاته وثوابه (لانريد منكم) موږ د تاسي څخه نه غواړو عوضًا ماليًا چي موږ ته مال راکړئ ولا بدنيًا چي زموږ خدمت وکړئ (ولاشكورًا) او نه شکر په خوله، په حديث شريف کي راغلي دي چي عائشه ﷺ يې روايت کړی دی چي دې به صدقه واستول الى اهل بيت (يعني المحتاجين) لم تسئال المبعوث اليهم شيئًا في ذالک فان ذكره دعاء عائشهؓ په


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مثل د هغه ليبقى ثواب الصدقة لها خالصًا عند الله.

إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا

دا علت دی د اطعام لوجه الله او له عدم څخه ستاسي نه جزاء او نه شكور بلكې موږ بېرېږو له غضب څخه د خدای، عن انس قال قال رسول الله ﷺ ان الصدقة تطفئ غضب الربه.

**درويش وايي**: خصوصًا اذا كانت الصدقة موصوفة بالصفات المذكورة (يومًا) ظرف دی د نخاف يعني في يوم، ويحتمل ان يكون مفعول به د نخاف (عبوسًا) دا اسناد د فعل دی و زماني ته، ومعنى العبوس رويها ترش گردد از شدت اهوال، نو عبوس چي صفت د مخ و زماني ته چي د يومًا اسناد يې وكړی مجازًا، نو عبوس صفت دی د مخ بسبب ضيق الصدر (قمطريرًا) الكلبي وايي شديد العبوس، او اخفش وايي چي قمطرير اشد ما يكون من الاناو اطولها مع بلاء او قاموس الشديد بيا قاموس يې باب بيان كړی دی اقمطر اشتد نفسه وترقي من الادنى الى الاعلى.

فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا

**پوښتنه**: دا واقع خو تېرو له په قيامت كي پيدا كېږي نو د ماضي د تعبير حكمت څه دی؟

**ځواب**: حكمت يې تنبيه ده پر قطع او يقين، و كلمة الفاء للسببية يعني لاجل خوفهم واجتنابهم من موجب العذاب في ذالک اليوم وقاهم الله.

(شر ذالک اليوم) اى مكارهه وشدائده (ولقى هم) اى بعد العرض (نضرة) تازګي او نورانيت د مخ (وسرورًا) خوشحالي د زړه

وَجَزَاهُم بِمَا صَبَرُوا جَنَّةً وَحَرِيرًا

او خدای جزاء او ثواب وركړي په هغه وخت كي چي جزا نه طلبول كېږي بيله خدايه (بما صبروا) على طاعات الله (دي ته صبر على الشيئ وايي) وعن معاصيه (دي ته صبر عن الشيئ وايي) وعلى الجوع وفي القتل في الجهاد (دي ته صبر في الشيئ وايي)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي صبر سره مختصر والی په لفظ کي شامل دی لجميع الطاعات و الاجتناب عن جميع المعاصي والصبر في الجهاد والضلال صرف په تبدل د صلة يعني صبر على الشيئ والصبر عن الشيئ والصبر في الشيئ.

(جنة) ای دخلوها (وحريرًا) وربښمين کالي د اغوستلو لپاره.

مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَآئِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ﴿١٣﴾

تکیه کړې وي (دا عبارت حال دی له ضمير منصوب څخه في جزائهم (فيها) ای في الجنة (على الارآئک) ای السرر في الحجال.

پوه سه: چي سرر جمع د سرير ده يعني پلنګ يا چپرکټ، او حجال جمع د حجلة ده هغه نوي خېمه ده چي د زوم او ناوي لپاره جوړېږي حسب عادة العرب، البيهقي له ابن عباس رضی څخه روايت کړی دی قال لايکون الارآئک حتى يکون السرير في الحجلة ولا الحجلة بدون السرير من غير حجلة واذا اجتمعا کان ارآئکة (لاترون) حال دی من فاعل متکئين، دوی يعني اهل الجنة نهويني (فيها) په جنت کي.

پوه سه: چي مراد له شمس څخه عين لمر نه دی، بلکې الحرارة الشديدة والزمهرير شدة البرد، فالحاصل ان هوا الجنة معتدلة غاية الاعتدال لکه په دنيا کي عين د پسرلي په وخت کي.

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَالُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا ﴿١٤﴾

(دانية) يعني قريبة عطف على متکئين (عليهم) ای على اهل الجنة (ظللها) فاعل د دانية دی، سايه د درختي د جنت چي حامل د مېوو اطيب دي (وذللت) نژدې به وي (قطوفها) مېوې د درختي د جنت چي په ولاړي به هم خوړل کېږي او په پروتي به هم، ولي چي مېوې د جنت په اراده سره د جنتي لوړي او کښته کېږي نو دوی پر هر هيئت چي وي مېوې خوړلای سي.

وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا۠ ﴿١٥﴾

يعني غلمان د جنت پر دوی باندي ښيښنک په لوښو کي د سپينو زرو چي په هغو کي شيدې، اوبه، عسل او خمر موجود وي (اکواب) جمع د کوب ده ای اواني، هغه لوښي چي چښکه او لاسي نه لري تا چه پر ځای يې ښيښنګ ممکن



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي (كانت) اى الاكواب (قواريرًا) اى الكونها پر مثال د ښيښو په صفائي کي د رنګ چي ما فيها يې د دباندي څخه معلومېږي.

قَوَارِيرَاْ مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ⑯

بدل من الاول يعني صفائي د ښيښه وي چي په رنګ کې يا زرغونه يا بل رنګ وي مګر سپين والى يې د سپينو زرو وي. وهذا كالمتضادين اجتماع في اواني الجنة (قدروها تقديرًا) صفت ثانيه دى د اكواب يعني د اوبو اندازه کړې وي خادمانو د جنت من الغلمان وغيرهم پر اندازه د اوبډو د دوى چي نه زياتېږي د دوى اوبه او نه کمېږي.

**درويش وايي:** وذالک لالهام الله تعالى اياهم هذا القدر الرى وعدم الزيادة والنقصان فيها لانه لا علم للخدمة بالغيب فافهم.

وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيلًا ⑰

**درويش وايي:** چي مظهري داسي دا آيت نوشته کړى دى مزاجها كافورًا، او روح البيان مزاجها زنجبيلاً، وفي روح المعاني مزاجها زنجبيلاً، وفي المصاحف المطبوعة مزاجها كافورًا، نو اولاً ته په دې پوه سه چي زنجبيل چي په پښتو يې شونډ بولي او په اردو يې سونټ بولي يو ډېر خوشمزه لرګى دى چي د مځکي د کښت څخه پيدا کېږي، او دا زنجبيل چي ميده سي و چايو ته لږ اندازه ورواچوي چاۍ ډېري خوشمزه ګرځي چي اکثره پښتانه دغه زنجبيل چاۍ ته اچوي او د چايو خوند تېز ګرځوي، او کافور يو خوشبوئي لرګى دى دانې دانې دى چي هر قسم بدبويي دفع کوي، نو خوانندہ ګرامي فقير په دې تشويش کي سرګردانه ؤ چي دا دوه لفظه مرادف خو هم نه دي نو څرنګه په يوه آيت کي كما ههنا د دوارو استعمال روا دى؟ په دې اضطراب کي مبتلا وم اخيرًا كه ګفته اند كه هر كه جوئينده بود يائينده بود، وقال روح المعاني والظاهر ان اهل الجنة قد يشربون من كأس كان مزاجها زنجبيلاً. ويشربون من كأس كان مزاجها كافورًا، يعني ان الغلمان وخدمة الجنة دا تبديل د كأس زنجبيل يا كأس د كافور د دوى پر غاره کړي، لان النعمة الجديدة يجدد فائدة النعمة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درویش وایي:** فدفع الله عزوجل على قلبي الاضطراب المذكور ولله الحمد والمنة.

**درویش وایي:** وفي روح البيان بعد قوله كان مزاجها زنجبيلاً هذه العبارة.

عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّى سَلْسَبِيلًا ﴿١٨﴾

(عينًا فيها) اى في الجنة، بدل من زنجبيل، (تسمى سلسبيلاً) لجريان مائها في الخلق سهلاً وفي عبارة القرآن في روح المعاني هذه العبارة موجدة، وقال الاعرابي لم اسمع لفظ السلسبيل الا في القرآن وكان العين انما سميت بذالک لسلاستها وسهولة ساعتها، وفي المظهري هذه العبارة موجودة يعنى كما سرى عينًا فيها تسمى سلسبيلاً والله اعلم.

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴿١٩﴾

(ويطوف عليهم) عطف على الجمل السابقة او طواف كوي پر جنتيانو (ولدان) دا ولدان په رنګ د ښوو ځوانانو خداى پيدا كوي په آخرت كي لپاره د خدمت د جنتيانو، و ولدان او نابالغه هلكان د كافرانو يجعلهم الله خدام اهل الجنة (مخلدون) اى لايموتون او نه زړيږي (اذا رئيتهم) چي ته يې و وينې ايها المخاطب الغير المعين، نو ته به ګمان كوې د ملغلرو چي وه يې پاشي، اما كونها لؤلؤ فباعتبار حسن الصورة واما كونها منشورًا چي دوى په مختلف خدماتو كي د جنتيانو آمد و رفت كوي، اخرج ابن المبارك وهناد والبيهقي عن ابن عمرؓ ان ادنى اهل الجنة يسعى عليه الف خادم هر يو پر جلا جلا خدمت وتلى ابن عمرؓ هذه الآية. واخرج ابن ابى الدنيا عن انسؓ قال قال رسول الله ﷺ ان اسفل اهل الجنة اجمعين من يقوم على رأسه (اى من الولدان عشرة الاف خادم) واخرج ابن الدنيا عن ابى الدنيا عن ابى هريرة ﷺ ان ادنى اهل الجنة منزلاً چي سهار او ماښام ده ته ولاړ وي پنځه زره خادمان من الولدان. واخرج ابن المنذر وعكرمة ان عمر ﷺ دخل على رسول الله ﷺ وهو راقد (پروت ؤ پر يوه بوريا) من جريد النخل فاثر في جنبه المبارک، فبكى عمرؓ، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي پر څه شي ژاړې؟ عمر ﷺ ورته وويل ذكرت لكسرى و ملكه وهرمز و ملكه وصاحب الحبشة وملكه وانت رسول الله، او ته پر لرګو د جريد النخلة پروت يې. فقال رسول الله ﷺ اما ترضى ان لهم الدنيا ولنا الآخرة فانزل الله تعالى هذه الآية.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ۝

چې ته و وينې، ايها المخاطب الغير المعين مفعول يې محذوف دی ای الجنة ونعيمها (ثم) ای في الجنة (رئيت) ته به و وينې (نيعمًا) ای كثيرًا ولهذا لنكرة دلالة على الكثرة (وملگا كبيرًا) او ملك لوی يعني هر جنتي لره به سلطنت وي لوی، وعن ابن عمرؓ ادنی اهل الجنة منزلة لن ينظر الى احبابه وازواجه من الحور العين او مع زوجاته في الدنيا وخدمه و سرره مسيرة الف سنة يری اقصاه كما يری ادناه وقبل ملك لايزال يسلم عليه وسلم عليهم الملائكة ويستأذنونهم في الدخول في داره فيه مايشاؤن ويرون فيهم رب الجليل.

عَٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ ۖ وَحُلُّوٓا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ

ثياب و سندس ته مضاف دی مبتداء ده يا خبر يا فاعل دی د ماقبل، او سندس رقيق الديباج واستبرق ای ديباج مغلظ (خضر) يعني زرغونه، وعن جابرﷺ قال في الجنة شجرة ينسب السندس، وعن عمر بن الخطابؓ ان النبيﷺ من لبس الحرير في الدنيا لم يلبسه في الارض، وزاد في حديث ابی هريرةؓ من شرب الخمر في الدنيا لم يشربها في الآخرة (وحلوا) عطف دی على يطوف زيور ورکړه کېږي.

**پوهه:** چې (اساور) صيغه د منتهى الجموع ده ولذا لم يدخله التنوين لانه غير منصرف بسبب واحد، كذا في كتب النحو جمع د اسورة ده اسورة جمع د سوار ده. په پښتو يې بنګړي بولي او په اردو يې کنګهن بولي او په فارسي يې دست برنجن بولي، او (فضة) سپينو زرو ته وايي يعني د سپينو زرو بنګړي.

**پوهه:** چې بعض بنګړي د سرو زرو هم وي.

**پوهه:** چې بعض علماء وايي چې بنګړي د سپينو زرو د خادمانو په لاس وي او سوار الذهب واللؤلؤ د جنتيانو دي يتبلغ حلية المؤمن حيث يبلغ الوضوء بلغه ابو هريرةؓ الى النبيﷺ.

**درويش وايي:** چې د دې حديث معنی دا نه ده چې پر مخ يا پر پښو به يې هم داغونه وي لکه دا بناء پر عرف د دوی دی چې بنګړي خلک په لاس کوي، وعن عقبة بن عامرؓ من شرب الخمر في الدنيا لم يشربها في الآخرة، من شرب من آنية الذهب والفضة لم يشربه في الآخرة، وعن كعب الاحبار ان الله ملگا يصوغ لاهل الجنة من اول الى يوم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القيامة ولو ان حليًا من حلى اهل الجنة الى الدنيا لذهب ضوء الشمس والقمر، وعن عقبة بن عامر رضي الله عنه ان كنتم تحبون حلية الجنة وحريرها لم تلبسوها في الدنيا.

وَسَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ﴿۲۱﴾

معطوف على الجمل السابقة، په دوی خدای څیښني مشروب پاک یعني چي له اقذارو څخه پاک وي ومسي الدنيا چي خلګ لاسونه پکښي وهي كخمر الدنيا لاغول فيها ولاهم منها ينزفون (نه د سر درد لري نه نشه كخمر الدنيا) وقال ابو قلابة و ابراهيم لايصير الماء المشروب في الجنة ولا بخسًا بل رشحًا (يعني خوله) في ايديهم كريح المسك بلكې دوی طعام وخوري په دنيا كي بداخير الامر غائط پيدا كېده او په جنت كي هرڅه اطعمه چي وخوري چي اخيريې سي ماء طهور به وچښي و يتطهر بها بطونهم ويسر ما اكلوا رشحًا يخرجون من بطونهم وجلودهم اطيب من المسک الاذفر (اى الخالص) ومن شرب من ماء الجنة نزع الله ما كان في قلبه من المسک الاذفر (اى الخالص) ومن شرب من ماء الجنة نزع الله ماكان في قلبه من بخل وحسد.

**درويش وايي:** چي دا ټوله كارونه د قدرت دي په دې ځای كي نه چلېږي د طبيعت يا د حكمت كار، قال الشيخ يعقوب الكرخي رحمه الله ان السابقين المقربين يصلون الكأسات من تحت العرش بلا واسطة والمقتصدين يعني الابرار يعطيهم الكأسات الملائكة وغيرهم الذين دخلوها بعد المغفرت او العذاب يعطيهم الولدان انتهى.

اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۲۲﴾

په تحقيق سره دغه (اى نعيم الجنان) ده ستاسي لپاره جزاء لاعمالكم الحسنة في الدنيا، او ستاسي سعي چي اعمال حسنه يې نتيجه سوه محمود او مقبول كوشش ومرضيًا عندنا مجازًا منا. نو دا قول د خدایٔ و دوی ته دی يعني د دوی شكر وايي ولي چي خلكو ته وليدی خپل سعي د غير له خوا من المسكين واليتيم وغيرهم.

اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ﴿۲۳﴾

په تحقيق سره موږ نازل كړی دی پر تا باندي قرآن په نازلولو سره (نحن) يې تاكيد دی.


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه:** چي په خواصو د ابواب په علم د اعلی چي باب د تفعيل دی د تدريج لپاره دی او باب د افعال د مرة واحدة لکه نزول د تورات د انجيل او انجيل په قرآن مبارک کي خو دواړه صحيح دي، ولي قرآن مبارک په يوه شپه جبرئيل امين له لوح محفوظ څخه نقل کړی و بيت العزة ته چي په اول آسمان کي دی او له هغه ځايه څخه يې و عليه الصلوة والسلام ته په (۲۳) کاله په حسب د وقائع او احوالو عليه الصلوة والسلام ته راواستاوه، په دې آيت مؤکد په انا سره او تاکيد د جملې په تقديم المسند اليه چي نحن دی پر جزاء فعلي چي نزلنا دی او اضافت خدای او ځان ته وکړی للاشعار بان الحكمة والصواب منحصر في هذا النوع من التنزيل ای المنزل، نو گويا دغه د تنزيه خدای پوري خاص ده والحكيم لايفعل الا فيه حكمة بالغة.

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا ﴿۲۴﴾

الفاء للسببية ای ان عرفت حال الابرار والفجار وتاخير جزاء الفريقين الى دار القرار فاصبر على اذى الكفار ولاتعجل في طلب عقوبتهم ولا يحزنك تاخير نصرتک عليهم او دغه چي ته پوه سوې چي قرآن من عند الله دی نو خپل صبر وکړه پر طاعت او ځان منع کړه له معصيت څخه د خدای عزوجل لانه الآمر الناهي.

(ولاتطع منهم) او ته اطاعت مه کوه له دوی څخه د آثم يعني مرتکب الاثم چي دا اثم ته روا بولي که څه هم کفر نه وي خصوصًا و تاته مثلاً چي زموږ خدايانو ته دبري مه وايه يا مرتکب د کفر وي او تا ته هم دعوت د کفر درکوي.

**فائده:** چي په او سره يې کلام راوړی مطلب يې سلب کلي دی چي عموم السلب يې بولي يعني مه د آثم په خوله کوه او نه د کفور او نه د دواړو په خوله کوه. او که چيري په ځای کي د او واو راغلی وای چي معنی يې رفع د ايجاب کلي ده او په بل تعبير معنی سلب جبري دی، نو د آيت معنی به دا وي چي د آثم او کافر د دواړو په خوله مه کوه او د يوه په خوله انفرادًا که کوې پروا نه لري. وهذا ليس مقصود في هذه الآية كما لايخفى.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۲۵﴾

**پوه سه:** چي مراد له ذکر څخه د خدای لمونځ دی لکن عبر عن الصلوة بالذكر تسمية للشئ وهو الصلوة يذكر جزئه فان التحريمة ذكر من اذكار الصلوة او يقال



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

افعال الصلوة کلها ذکر قال علیه الصلوة و السلام ان هذه الصلوة لیس فیها شیئ من کلام الناس انما هی التسبیح و التکبیر و تلاوة القرآن، رواه مسلم (بکرة) ای اول النهار وهو صلوة الفجر واصیلاً وهي اخیر الصلوة الیوم وهي الظهر و العصر ومن اللیل فاسجد له و اراد المغرب و العشاء.

وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ﴿٢٦﴾

مراد له تسبیح څخه لیلاً طویلاً صلوة التهجد دی، یعني نصف اللیل او ثلثة او الاکثر منه.

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا ﴿٢٧﴾

په تحقیق سره دوی (ای کفار مکة) تلوار او بیړه خوښوي (ای الدار العاجلة ای الدنیا) او دوی پرېږدي ایښې ده و مخ ته خپل ورځ درنه، یعني د هغې ورځې ثقیل لپاره عمل نه کوي لانهم ینکرون هذا الیوم الثقیل وهو یوم القیامة والا لآمنوا وعملوا صالحًا.

**پوهه:** چي ثقیل والی د ورځې د قیامت پر کافرانو دی لانهم یرون مقرهم ای النار المؤبدة.

نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ۚ وَاِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ تَبْدِيْلًا ﴿٢٨﴾

موږ پیدا کړي دي خلک، او محکم مو پیدا کړي دي بندونه د اعضاؤ د هغو او که زموږ اراده سي موږ به په عوض کي د دوی امثال د دوی پیدا کړو (تبدیلاً) مصدر دی لپاره د تاکید.

**پوهه:** چي په دې آیتو کي تشنیع د حال د کفارو دی علی کفرهم في مقابلة نعیمهم و ذکر ایجادیهم وتمکینهم لانها اصل النعم وفي جملة واذا شئنا تسلیة و علیه الصلوة و السلام ته چي ته برداشت د اذیت د دوی کوه او خدای ج وعده ورسره کوي چي زه به دوی هلاک کړم او په بل قوم به یې بدل کړم چي ستا مطیع به وي، وقد هلکهم الله عزوجل یوم بدر.

اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿٢٩﴾

په تحقیق سره دغه (ای هذه السورة او هذه الآیات) موعظت او پند دی، نو چا


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه چي وغواړي يعني اراده د تقرب الى الله وسلوک سبيل الله (اتخذ الى ربه سبيلاً) يعني بالايمان والطاعة و دوام الذكر وتلاوة القرآن والاخلاص واتباع النبي ﷺ قائلاً رضينا بالله عزوجل ربًا وبالاسلام دينًا و بمحمد ﷺ رسولاً وبالقرآن امامًا والمسلمين اخوانًا.

**وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٣٠﴾**

او نسي پيدا كېدلاى مشيت ستاسي اى خلكو (يا مشية الكفار باتخاذ السبيل الى الله عزوجل يا بشيئ من الاشياء وفي قرت من الاوقات الا في وقت مشية الله) په تحقيق خداى ؑ دى خبر په امور ماضيه ؤ سره او په امور مستقبله ؤ سره او حكيم دى چي عبث او بې فائدې كار نه كوي.

**يُدْخِلُ مَنْ يَشَاءُ فِي رَحْمَتِهِ ۚ وَالظَّالِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٣١﴾**

خداى ؑ داخلوي هغه څوک چي مشيت يې ورته وسي په خپل رحمت كې، اى في جنته لان محل الرحمة هو الجنة يعني خداى عزوجل داخل كړي دده په زړه كي ايمان او تصديق بالقرآن و رسوله ييا نو توفيق د طاعاتو وركړي و حفظه او نفرت وركړي عن الكفر والمعصية.

**بوه سه:** چي لفظ د (والظالمين) منصوب دى على شريطة التفسير وتفسيره مابعده (اعد لهم عذابًا اليمًا) آراسته كړى يې دى عذاب درد وركونكى چي دوږخ دى.

**فائده:** اليم كه څه هم مجرد دى لكن دلته په معنى مؤلم سره دى يعني اسم فاعل دى له بابه د افعال كما في قول الشاعر:

امن ريحانة الداعي السميع (اى مسمع)
يورقني واصحابي يجوج (بيده دي)

ولهذا البيت قصة طويلة مذكورة في كتب الادب.

**درويش وايي:** تمت بعونه تعالى سورة الدهر (۲۵) من شهر المبارك رمضان (۱۴۳۳) وقت العصر.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة المرسلت مكية وهي خمسون اية وفيها ركوعان بسم الله الرحمن الرحيم

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ﴿١﴾ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ﴿٢﴾ وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ﴿٣﴾

فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ﴿٤﴾ فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ﴿٥﴾ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ﴿٦﴾

اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾

الواو للقسم، والمرسلات بمعنى الطوائف المرسلة، جمع د مرسلة ده، يعني طائفة مرسلة من الملائكة يعني الطائفة من الملائكة كل يوم او كل عام او كل حالة، او د عرفًا معنى ده متتابعة من عرف الفرس هغه وېښتان چي په كثرت سره د آس پر غاړه پراته وي، فهو من باب التشبيه البليغ بان شبه الملائكة المرسلون في تتابعهم بشعر عرف الفراس، والعاصفات تندو بادو ته وايي به امتثال كي د امروبه او عصفًا مفعول مطلق دى، والناشرات السحاب في الجو العالي (نشرًا) يې مفعول مطلق دى او فارقات هغه تهوته ده د وريځي چي باران وكړي بيا سره جلا سي، نشرًا مفعول مطلق دى، بيا په هغو ملكو قسم دى چي دوى القاء د ذكر يعني الوحي و انبياء عليهم السلام ته كوي، چي دوى يعني الملائكة عذر وايي د اهل الحق في الدنيا والآخرة، او بنډرا كوي د اهل باطل لپاره لعدم اتباعهم الحق، وجواب للقسم (انما توعدون لواقع) هغه شى چي ستاسي سره يې وعده كړه كېږي من قيام القيامة والجزاء اما بالجنة او النار لواقع اى لا محالة لانه تعالى اخبر به واخبار الله متحقق الوقوع.

فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَاِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴿٩﴾

نو څه وخت چي تورسي مخان يعني محو سي نور د دوى، وجواب اذا يفصل جلا والى به كېږي بين اهل الجنة واهل النار، او هغه وخت چي آسمانونه سره څيري سي او پرچه پرچه سي.

**پوښتنه:** په قرآن مبارك كي لفظ د سماء راغلى دى، تا يې ترجمه په آسمانو يعني په جمع وكړه؟

**ځواب:** الالف واللام في السماء للجنس فيصح معناه بالفرد كما هو شائع في العربية.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ۝ وَاِذَا الرُّسُلُ اُقِّتَتْ ۝

چي غرونه له ځپلو ځايو څخه وخېژي او ټوټه ټوټه د ځپلو ځايو څخه روان وي چي د ځمکي ډب ځايونه به ډک کړي، او رسلان ښکاره سي او جمع سي چي پر ځپلو امتو شاهدي ورکړي يعني چي امتيان انکار وکړي له تبليغ څخه.

لِاَيِّ يَوْمٍ اُجِّلَتْ ۝ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ۝

**پوه سه:** چي (لاى يوم) متعلق دى په مابعد پوري چي اجلت دى قدم عليه لاقتضائه صدر الكلام باعتبار الاستفهام اجلت معنى يې اخرت ده وضرب الاجل لذالك الوقت استفهام دى لپاره د تعظيم او تهويل (ليوم الفصل) بدل دى من لاى يوم وبيان له وجملة لاى يوم معترضة.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ۝

ته څه شي خبر کړې چي څه شى ده يوم الفصل، تعجيب اخر وتعظيم امر (يعني ددې ورځي) يعني كنهه ولم تر مثله والمخاطب غير معين. وقيل هو رسول الله ﷺ لكن پر هر تقدير مقصود تعجيب و شان ته ددې.

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝

(ويل) مصدر دى په معنى د وقوع د شر او هلاک دى، وفي الاصل كي مصدر دى په تقدير د فعل دى لكن عدول وكړه سو ورفع ته بجعله مبتدا ء للدلالة على الثبات والدوام اى الشر والهلاک والجملة دعائية، اخرج احمد والترمذي وابن جرير وابن ابى حاتم والحاكم والبيهقي وابن ابى الدنيا وهناد عن ابى سعيد الخدري ﷺ عن رسول الله ﷺ ويل واد (يوه شېله ده د اور) يهوي به الكافر (چي كافر كښته پکښې روان وي څلوېښت (۴۰) كاله قبل ان يبلغ قعر (وبيخ ته د هغې شېلې) په بل روايت كي راغلي دي چي تو له نوونه او ويني دالته جمع كېږي، په روايت كي راغلي دي چي كه دې شېلې ته غرورواچول سي ويلې به سي.

(يومئذ) يعني اذ النجوم طمست تر دې ځايه پوري (للمكذبين) يعني چي يوم الفصل دروا غ بولي لكه مشركان د مكې بلكې د لويې وچې د هند، جاپان او دهريان كالروسية.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَمْ نُهْلِكِ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۷﴾

آيا موږ نه دي هلاک کړي مخکښي خلک بالعذاب لاجل تکذيبهم بيوم الدين نحو قوم نوح و قوم عاد و ثمود والاستفهام للتقرير کمامر، وروسته تر دوی تابع کړخولي دي موږ نور کافران ککفار مکة السالکين الاولين في تکذيبهم الرسل.

كَذٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۸﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۹﴾

داغه رنګه (کذالک مصدر محذوف دی ای فعلاً مثل ذالک الفعل) داسي فعل مناسب د دوی د عمل سره کوو بالمجرمين چي دوی جرم والا وي.

اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿۲۰﴾ فَجَعَلْنٰهُ فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿۲۱﴾

آيا موږ تاسي نه ياست پيدا کړي (استفهام تقريري دی) د اوبو څخه چي حقير دي قدرًا هو نطفة الوالدين، نو موږ وګرځول هغه (ای الماء المهين المذکور) په ځای کي د قرار چي محکم دی ای رحم المرئة.

اِلٰى قَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۲۲﴾

تر يو اجل معلوم پوري چي ادنی يې شپږ مياشتي او اکثره مدت يې هم په علم کي د خدای دی او ابو حنيفة وايي چي اکثره مدت يې دوه کاله دی.

فَقَدَرْنَا ۖ فَنِعْمَ الْقٰدِرُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۴﴾

موږ اندازه ايښې ده بعث لره دده في بطن امه وقت ولادته وعمله واجله ای الموت ورزقه و شقي او سعيد، عن ابن مسعود قال حدثنا رسول الله ﷺ وهو الصادق المصدوق ان خلق احدکم يجمع في بطن امه اربعين يومًا نطفة (تصرفات د قدرت پر ځای وي) ثم يکون علقة مثل ذالک ثم يکون مثل ذالک ثم يبعث الله اليه ملکًا باربع کلمات فيکتب عمله واجله وشقي او سعيد ثم ينفخ فيه الروح الی اخير الحديث الطويل (فلنعم القادرون) ای موږ ښه قدرت والا يو پر هر شي (ويل يومئذ للمکذبين) چي تکذيب کوي په قدرت زموږ وهم الکفار من ای نوع کانوا وفي الوقت الحاضر کفار مکة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا ﴿٢٦﴾

آيا موږ نه ده ګرځولې مځکه جمع کونکې د دوی، احياءً چې دوی ژوندي وه پر خپل شان، و امواتًا چې دوی لره وي د مځکې په نس کې يعني په قبرو کې بعض مفسرين وايي چې استفهام تقريري دی ای حمل المخاطب على الاقرار، او بعض مفسرين وايي چې استفهام انکاري دی داخل دی پر حرفي دی او نفي د نفي اثبات دی والمآل واحد.

وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ شَامِخَاتٍ وَأَسْقَيْنَاكُمْ مَاءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾

او موږ پيدا کړي دي په مځکه کې (رواسي) غرونه محکم پر مځکه لتکون اوتاد الارض (شامخات) لوړ لوړ نسبت د يوه و بل ته، او موږ په تاسي څښلي اوبه چې تندی د سړي ورماتوي، تنکير د ماءً لپاره د تعظيم دی چې دا اوس على الاغلب له چينو څخه يا له کارېزو څخه د مځکې يا د برمو څخه د مځکې کما في الحاضر او ګاهې د اوبه پيدا کېږي د لوړو غرو په چينو کې.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾

بامثال هذه النعم، قال مقاتل" وهذه الامور المذكورة اعجب من البعث بعد الموت فما لهم يرون هذه وينكروا البعث بعد الموت.

انْطَلِقُوا إِلَى مَا كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾

جمله مستأنفه ده في جواب ما يصلح ويضع المكذبين تقرير الجواب انطلقوا.

انْطَلِقُوا إِلَى ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾

ولاړسئ و هغې سايې ته چې درې ښاخه ده، قال المفسرون اريد به دخان جهنم، قال البيضاوي وغيره الدخان العظيم المرتفع من جهنم نشر نشر ويتفرق ذو الذوائب.

**پوهه**: چې بيضاوي په خصوص کې د هغه ذکر الثلثة ذکر البيضاوي وغيره وجوهًا لا يرضيه غيره، مظهري وجه د خصويت په درو کې چې دخول د جهنم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منحصر دی په درو کي احدها الکفر بالله دی وتکذیب الرسل صریحًا وعبارة کقول الکفار افتری علی الله کذبًا، وثانیًا اتباع الهوی وتکذیب الرسل وآیات الله اقتضاء کقول اهل الهوی بتأویلات فاسدة عن المجسمة والقدریة والخوارج والمرجئة علی ظواهر النصوص القطعیة علی اجماع الامة المرحومة کما ان المسجمة یکذبون قوله وجوه یومئذ ناضرة الی ربها ناظرة و ما انت علیه من وزن الاعمال والصراط علی جهنم والروافض والخوارج درواغ بولي ما تواتر من رسول الله فی مدح ابی بکر وعمر وعثمان وعلي ﷺ، وثالثًا اتباع الشهوات في ارتکاب الکبائر کالزنی واللواطة، والصغائر وترک الواجبات فهذا الامور الثلثة تصلح انتکون لانشقاق دخان جهنم الی ثلث شعب.

**درویش وایي:** چي توجیهات د مظهري تکلفات بلا امتنان احد ولي چي مظهري څو شعب سره یو ځای کړي بیا وایي دا اول شعب الدخان سبب، بیا یو څو شعب من سوء العقائد سره یو ځای کړي وایي دا سبب دوهم شعب الدخان بیا په معاصي د روافض وغیره وګرځوي وای دا دریم شعب الدخان دی، غرض زما د مراد دا دی چي مظهري ګاهي یو شعب چي کفر دی مثلاً شعبه وګرځوي ګاهي د خوارجو روافضو یا بیا بل شعبه د دخان بولي، نو دده پر تفصیل که (۱) کافر (۲) مجسمه (۳) خوارج (۴) روافض (۵) مرجئه (۶) د ابوبکر، عمر، عثمان، علي ﷺ فضیلت چي نه مني (۷) اتباع الشهوات پر داسي د ول تر سل خو د پر پېږي او که یوه معتبره وي بل بیا جلا اعتبار نه وړکوي یرجح بلا مرجح.

**درویش وایي:** چي په تېر آیت انطلقوا ذی ثلث شعب بیان د کثرت د دخان د جهنم دی، او معنا دلته د لفظ د ثلث علی سبیل الاتفاق وارد سوی دی، والله اعلم او روح المعاني په تخصیص کي د درو شعبو درې سببه راوړي دي چي هغو درو ته د مظهري په دغونه اسبابو د تثلیث چي ده بیان کړي دي یوه لا هم نسته. فالاولی کما قال الفقیر الثلثة شعب اشارة الی کثرة د خان جهنم فافهم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَّا ظَلِيلٍ وَّلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ ﴿۳۱﴾

سايه نه ده، كظل العرش وظل الجنة للمؤمنين (ظليل) صفت د ظل ذى يعني دا ظل ذي ثلاث شعب واقعي سايه نه لري ولي په واقع كي دود دى (ولا يغني عن اللهب) اى لايرد لهب جهنم صفت لموصوف محذوف والتقدير ولا ظل يغني من اللهب.

إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿۳۲﴾ كَأَنَّهُ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿۳۳﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۳۴﴾

الضمير راجع الى الظل من حيث المعنى اى يكون المراد به النار لان لفظ مذكر او كه له ظل څخه سايه مراد وي يعني ظل ذى ثلث شعب فالضمير راجع الى غير دل عليه الكلام اجهنم (ترمى) تعليل لعدم الاغناء (بشرر) په پښتو غرځى. بولي لكه خلگو چي په كلك يخ وچ بوټي د تنوت سره كښېښول چي اور به يې واخستى يوه خوا او بلي خوا ته به يې غور ځكي پورته كېدې چي د اور كوچنى. كوچنى. ټوټې وي (كالقصر) يعني هره سره غور ځكه يې لكه خونه د اوريا يوه قريه د اوريا قلا د اوركذا في القاموس (كانه جملات) گويا دا قصر لكه اوښ، نو د جملات معنى ډېراوښان (صفر) جمع د اصفر ده ولي چي د اوښ ويښتان اور واخلي او رېږي ژړ معلومېږي (ويل يومئذ) يعني هلاكت دى د مكذبينو لپاره چي تكذيب د اوراو عذاب يې كاوه يعني په دنيا كي، جمله دعائيه ده للشر وقد مر معناه تفصيلاً.

هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿۳۵﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿۳۶﴾

چي دوى اى الكفار نطقا نطقا يفيدهم او لاينطقون نطقا اصلاً لفرط الدهشة والحيرة. او نه به اجازه وي دوى ته چي دوى عذر وكړي. لعدم العذر لهم.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۳۷﴾

عطف على ان لايؤذن جمله دعائيه ده لانه يدل على ان الاحوال مطلقا والاعتذار مطلقا.

هَٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ جَمَعْنَٰكُمْ وَالْأَوَّلِينَ ﴿۳۸﴾

دا ورځ ده د فيصلي بين اهل الجنة واهل النار، چي سره جمع مي كړه تاسي والاولين من الكفار الاولين الآخرين وكذا القدماء من المؤمنين والكافرين.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾

نو که وي تاسي لره يو چم او حيله لپاره د خلاصون له عذاب څخه، نو هغه چم تاسي وکړئ، هلاکت دی مکذبينو لره په دې دنيا کي لکه په دنيا کي چي بعض وخت دفع کوله.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٤٢﴾

په تحقيق هغه کسان چي له شرک او له معاصيو څخه يې علی تفاوت درجاتهم پرهېزکاوه په سايو کي به وي.

**سوال:** جنت خو تېوله سايه نه ده بلکې رڼا پکښي سته، لان النور نعمة عظيمة؟

**ځواب:** دا لفظ يعني في ظلال محمول پر حقيقت نه دی چي يکلخته سايه به وي بلکې دا لفظ کنايه ده له ډېر والي څخه د درختو (وعيون) او جاري ويالې به وي (۱) من ماء غير اسن (چي رنګ به يې تغير نه لري لکه او به د دنيا چي يو ځای ودرېږي بدبويه سي) (۲) ولبن لم يتغير طعمه (لکه د دنيا شيدې چي يو وخت خيدک سي) (۳) وخمر لذة للشاربين (چي خالص خوند وردي څښونکي لره يعني بېله سردرده يا خمار د عقل لکه د دې دنيا په شرابو کي چي اول وار ډېر دردسر ورسره وي او په اخير کي خمار او نشه ورسره وي) (۴) وعسل مصفی چي د مچمچې، د شمعي له موادو څخه به هم خلاص وي (وفواکه مما يشتهون) او مېوې رنګارنګ چي د دوی اشتهاء ورته کېږي يعني لذيذة عزيزة نو ماکل او مشارب د مربوط په اشتهاء پوري د جنتيانو دی بخلاف ماکل و مشارب فانها قد تکون لغايت العطش والجوع کما في ايام شهر رمضان.

كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾

وخورئ او وڅښئ يعني يقال لهم من جانب خدمة الجنة والغلمان (هنيئًا) په پښتو وايي دارو درمان دي سه، په پارسي وايي درمان شد ترا لکه د دنيا او به چي ګاهي له ډېري تندي په کرنکي کي ولاړي سي، يا ډوډۍ او غوښي د دنيا د سي پر نس ور درد کړي حتی ګاهي انسداد الامعا ورپيدا سي چي بې افريشنه يې علاج نه کېږي (بما کنتم تعملون) من رسوغ والايمانيات في قلوبکم ومعالجاته امراض



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السيئات بتداوي الطاعات مثلاً كه يو معصيت ځني صادرسي سمدلاسه د ګولي وروسته داوبو غرپ پسي وکړي.

**فائده:** جمله د ان المتقين الى اخيره جمله مستانفه ده يعني سائل چي حالات د سيئنو واورېدی ګويا دی پوښتنه کوي چي د متقينو به څه حال وي؟

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾

موږ د غسي جزاء ورکوو و مخلصينو ته د اعمالو د طاعاتو.

**درويش وايي:** چي د احسان تفسير په حديث طويل کي د جبريل د پوښتنو د عليه الصلوة والسلام جبريل وويل ما الاحسان؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک.

**درويش وايي:** وهذا الحديث الطويل قد رواه البخاري في صحيحه.

كُلُوا وَتَمَتَّعُوا قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾

خوراک کوي او نفه اخلئ (دا کلام مستأنف و خطاب دی و مکذبينو ته په دنيا کي على وجه التهديد) لږ زمانه، بېشکه تاسي مجرمين ياست، هلاکت دی مکذبينو لره بالجنة حيث يجرمون نعيمها د ژوند د دوی په دنيا کي، دا زمانه که څه هم د بعض کفارو لپاره طويله وه غاية الطول لکن بالنسبة الى ايام الآخرة في نار الجحيم قليلة جداً، اخرج ابن المنذر عن مجاهد ان النبي ﷺ قال لوفد ثقيف آمنوا وامرهم بالصلوة الخمس فقالوا لکن لاينجى فانها مسبة والتحية وضع يده على رکبته و وجهه على الارض کذا في القاموس، وقالوا فانها مسبة اى عار لنا لکه يو چاته چي سرى بنکنځل کوي، فنزلت هذه الآية.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾

او چي کله وويل سي دوی ته چي رکوع وکړئ نو دوی رکوع نه کوي (هذه الجملة معترضة لذم الكافرين)

فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٠﴾

نو په کومه خبره وروسته تر قرآن دوی ايمان راوړي؟ الاستفهام للانکار اى



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لايؤمنون بشيئ من الحجج والبيان، اذا لم يؤمنوا بالقرآن لان احسن الكلام كلام الله تعالى وهو مشتمل على وجوه الاعجاز لفظًا ومعنىً وعلى الحجج الواضحة والبراهين الساطعة.

**درويش وايي:** چي ولله الحمد والمنة په توفيق دده ددې جزء (٢٩) تبارک الذي په يوه پر مکرم وخت کي پاى ته ورسېدى اخيره ورځ د رمضان المبارک ساعت (١٠) بجې پايه تکميل ته ورسېدى، يو جزء (٣٠) يعني عم يتسآئلون باقي دى د هغه تفسير په شرافت د مياشتي د روژې چي يو څو ساعته وروسته پوره کېږي د (٣٠) تفسير دي هم خداى عزوجل په خپل فضل او احسان پاى ته ورسوي، والله على كل شيئ قدير، والسؤال عنه تعالى في اخير اجزاء رمضان المبارک مستجاب ان شاء الله تعالى:

**درويش وايي:** تاريخ شروع سورة النباء في وقت الصبح بعد مضى (٣) ايام من الفراغ عن رمضان الشريف يوم الثلثاء (١٤٣٣) هجري قمري.

اللهم بحرمة الله المتعال والقرآن العظيم وبحرمة اسمک العظيم الاعظم وفقني لتفسير هذا الجزء الآخرين للقرآن العزيز بالخير والصحة الكاملة والتوفيق الكامل من الله العزيز الرؤف الرحيم واحفظني من جميع الآفات والامراض المنافعة من هذا المرام، يا الله تفسير مي مه يتيم کوې .... بيت:

**هغه ورځ به د فقير د ښادى ورځ وي**
**چي تفسير پر والناس باندي دربږي**

ع: ... باكريمان كارها دشوار نيست

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ٠٧٤٩٨٤٩٥٦٩



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

## الجزء الثلاثون

## عمّ ٣٠

# تفسير الولي حنفي

## حضرت مولانا شيخ حبيب الله الولي

الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة القراءة والتجويد

كاسي روډ كوټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

سورة النبا مكية وهي اربعون اية وفيها ركوعان بسم الله الرحمن الرحيم

عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ ۝١ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ ۝٢ الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ۝٣

(عم) اصلها عنما بحذف الالف في الاستفهام چي وروسته تر حرف جر راسي نحو عم، وفيم ولم لپاره د تخفيف لكثر الاستعمال وفرقًا بينها وبين الموصولة او بل حرف فيم ورسره ضموي لبقائها على حرف واحد بعد الحذف. والاستفهام في كلامه تعالى مستعار من التهويل والتفخيم في شان ما وقع فيه الاستفهام فان الله تعالى لايخفى عليه شيئ في الارض ولا في السماء حتى يحتاج الى الاستفهام.

**پوه سه:** چي ضمير د يتسآئلون راجع دی و اهل مكه ته، وذالک چي نبي ﷺ دعوت ورکړی د توحيد د معبود بالحق او خبريې ورکړی د بعث بعد الموت. وتلى عليهم القرآن اهل مكه په خپل مابين كي خبري سره شروع كړي ما ذا جاء به محمد كذا ذكره البغوي واخرج ابى حاتم عن ابن جرير عن الحسن، نحوه ويحتمل ان يسئلوا عن محمد ﷺ والمؤمنين لپاره د استهزاء.

**پوه سه:** چي النباء هو الخبر الذي له شان (يعني عظمت لري) او دا هم جواب دی د لوی شان د مسؤل عنه كانه قيل من ای شيئ يتسآئلون هل اخبركم به احد، وروسته يې د نباء عظيم شان بيان كړی چي هغه خارج له عقولو څخه د دائرة الخق دی يتسآئلون على طريقة قوله تعالى لمن الملک اليوم؟ لله الواحد القهار، او بعض مفسرين وايي عن النباء العظيم استفهام اخر دی يعني امن النباء العظيم ام من غيره لكن حذف عنه حرف الاستفهام لدلالة المذكور عليه.

**سوال:** د يتسآئلون په تأويل چي ضمير و اهل مكه ته راجع دی او اهل مكه خو دمخه نه دي ذكر سوي؟

**ځواب:** په عدم ذكر كي د دوی تحقير او اهانت دی للاشارة ان ذكر اهم مما يصان به ساحة الحكيم چي قرآن كريم دی.

(الذي) موصول سره د صله صفت دی للنباء.

**پوه سه:** چي هم ضمير راجع دی الى ما رجع اليه الضمير المرفوع في يتسآئلون وهم كفار مكة دي پر تقدير دذي چي سوال استهزاءً او انكارًا وعلى



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هذا فمعنى قوله (فيه مختلفون) يعني بعض د دوی قطعًا يې انکار کاوه او بعض
په شک کي دي، او دا هم احتمال سته چي ضمير دي راجع وي و اهل مكة مؤمنهم
و كافرهم اجمعين وعلى هذا فالمعنى ان منهم من يصدق ويسئال عن مزيد كشف
الحال و ازدياد اليقين وهم المؤمنون، ومنهم من ينكر ويسئاله استهزاء وانكارًا
وهم كفار اهل مكة دي.

كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ۝ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ۝

(كلا) ردع او منع ده عن الاختلاف المبني على انكار بعضهم (سيعلمون) يعني يوم القيامة يعني الكافرون والمنكرون كونه عند فراق ارواحهم من ابدانهم في القبر (ثم كلا سيعلمون) يعني يوم القيامة.

**پوښتنه:** د دوه تکرار څه فائده ده؟

**ځواب:** مبالغة په تکرير د وعيد دوه واره يو په قبر کي او بل بعد البعث.

**فائده:** کلمه د ثم لپاره د دلالت پر دې ده چي وعيد ثاني يعني يوم القيامة ابلغ دی تر اول.

**فائده:** په راتلونکو آيتو کي ذكر الله سبحانه وتعالى العلائم الدالة على التوحيد والقدرة على البعث بعد الموت و وجوب شكر المنعم الحقيقي په مباهث د هغو شيانو چي سړی عبادت او توحيد ته رابولي لکه قرآن عزيز او الرسول الكريم ﷺ، فقال:

أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا ۝

آيا موږ نه وه ګرځولې مځکه، يعني جنس مځکه ستاسي لپاره فراش يعني د پرېوتو او د نوري ګذارې لپاره يا ستاسي د نورو امثالو لپاره كسائر الحيوانات، والاستفهام يا لپاره د تقرير دی ای حمل المخاطب باعثه كول د مخاطب پر اقرار چي هو، يا استفهام لپاره د انکار دی ونفي النفي اثبات في المعنى فالمآل واحد.

وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا ۝ وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجًا ۝

او غرونه پر مځکه لکه موږې (لپاره د دې چي مځکه و نه ښوري په تاسي سره) او ما تاسي نه یاست پیدا کړي اصناف يعني الذكور والاناث، دا يوازي په



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انسانانو پوري نه دی خاص بلکې ټولو اصنافو د حیواناتو نر او ښځې دي، وهذا کله لبقاء نسل الی الیوم الموعود وهو النفخة الاولی.

وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ۝ وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ۝ وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ۝

موږ ګرځولی دی خوب ستاسي لپاره قطع د ټوله عمل ستاسي یعني چې په اعضاء سره د بدن اړه لري تاچې ستاسي بدونه استراحت وکړي.

**فائده:** سبت قطع ته وایي ځکه د شنبې ورځ سبت بولي، ولې خدای پاک پر بعض یهودانو چې د دریاب پر غاړه اوسېدل د ماهیانو ښکاریې منع ګرځولی ؤ.

(اللیل لباسًا) چې هر شی یې پټاوه په خپل تورو الي باندي.

**پوهسه:** چې دې ته په عربیت کي تشبیه بلیغ وایي او په شپه کي عمومي آوازونه بند وي فتسریح النائم (والنهار معاشًا) او موږ ګرځولې ده ورځ معاشًا ای شیئًا للمعاش والرزق په ورځ کي هر سړی په یوه دنده او کار اخته وي یا تجارت یا دکان داري یا موټروانی یا مزدوري الی غیرها من اکساب الدنیا کما لایخفی.

وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ۝ وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ۝

او موږ بناء کړي دي لوړ پر تاسي اووه آسمانونه سخت محکم چې پر دوی باندي مرور د ډېرو زمانو هیڅ تاثیر نه دی کړی (یعني الی ان یأتي امر الله) او موږ پیدا کړی دی سراج چې مراد ځني لمر دی (وهاجًا) چې بربښي لکه څراغ، او مقاتل وایي جعل له نورًا و حرارةً، دی وایي چې وهج هو جمع والحرارة.

وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ۝ لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا ۝ وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ۝

او موږ نازل کړي دي یعني اورولي مو دي (المعصرات) قال مجاهد و مقاتل والکلبي رحمهم الله المراد منها هي الریاح التي تسیر السحاب وهو روایة العوفي عن ابن عباس رض فعلی هٰذا کلمة من للنسبة وقال ابو العالیة والضحاک المعصرات هی السحائب (وریخي) وقال الفراء المعصرات هي السحائب یتجلب بالمطر ولم یمطر کالمرئة المعصرة التي لم یلد لا اتی حیضًا ولم تحض بعد.

**درویش وایي:** وهذا یخالف سیاق الکلام فیما بعد ولان الکلام في انعاماته تعالی وما قال الفراء فلیس بنعمة وقال ابن کیسان هي المغیثات من قوله وفیه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعصرون فعلی هذه التأویلات کلمة من للابتداء.
(ماءً ثجاجًا) قال قتادة متتابعًا پرله پسې، وقال ابن زید کثیرًا ولا اختلاف بینهما الا في اللفظ (لتخرج) چي موږ را وباسو په دغه باراني اوبو (حبًا) داني چي انسانان یې خوري لکه غنم، اوربشي، جوار، وریجي الی غیرها من الثمرات (ونباتًا) وابنه، شوتل، شپیشتي چي دواب یې خوري (وجنات) باغونه د مېوو لکه انګور سېب وغیرها (الفافًا) چي ښاخونه یې یو پر بل له سببه د کثرت پېچل سوي وي، قالوا هذا من محسنات البساتین کما نری في بساتین الدنیا، وبالفارسیة درهم پیچیده وبیک دیګر نزدیک شده، علماء وایي چي الفافًا مفرد لفظ نه لري کالاوزاع بمعنی الجماعات المتفرقة وکالاخیاف، مظهري وایي مفرد یې لف دی کجذع وجذاع یا جمع د لفیف ده کشریف واشراف یا واحد د لفظ نه لري.
**درویش وایي:** چي حاصل د کلام الهي دا دی چي دا اورېدلي شیان چي تاسي ته ثابت سو او خدای عزوجل پر اختراعاتو د دغو شیانو قادر دی نو قادري الی اعادتها وفي جملة ذالک الانس والجن وان تلک الامور العظام لایتصور وجودها الا من فاعل حلیم ولاتکون عبثًا او منافیًا للقدرة نو سامع چي دا واورېده شوق یې پیدا سو و معرفت ته د صفات د وقت الفصل فاستأنف الکلام.

إِنَّ يَوۡمَ ٱلۡفَصۡلِ كَانَ مِيقَٰتٗا ۝١٧

په تحقیق ورځ د فصل بین الحق والباطل (کان) في علمه وحکمه (میقاتًا) وقت د ثواب او عذاب وقتًا معینًا لهما.
**یوه سه:** چي فقیر داسي وویل في علمه وحکمه یعني په تقدیر ازلي کي د خدای عزوجل ددي لپاره چي ثبوت د یوم القیامة یوم الفصل غیر مقید بالزمان الماضي کما یتوهم من قوله کان لانه امر مقرر و مقدر قبل حدوث الزمان ایضًا فافهم.

يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَتَأۡتُونَ أَفۡوَاجٗا ۝١٨

هغه ورځ چي پوه کړل سي (یوم ینفخ) بدل دی له یوم الفصل څخه یا عطف بیان دی یا خبر ثان د کان دی (في الصور) په شپېلۍ یا قران کي، روی عن ابن مسعود رض بسند صحیح الصور کهیئة القرآن (لاکقرن الدنیا) ینفخ فیه (یعني



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرافيل) او وهب بن منبه وايي چي صور من لؤلؤ بيضاء في صفاء الزجاجة (ښيښنه) وفيه ثقب (سري ستنه) بعدد كل ذي روح، مراد له دې نفخه څخه نفخة ثانيه ده للبعث حتى ترد الارواح الى اجسادها، نو هغه ژوندي سي.

(فتأتون افواجًا) افواج حال دى له فاعل څخه د تأتون والمعنى جماعات مختلفة. له قبرو څخه كماهو عادت العرب چي دوى مړي په قبرو كي ښخوي او حيث كانت تلك الابدان المتزقه والاوصال المتفرقة الى مكان الحساب، عن ابى ذر رضي الله عنه قال حدثنا الصادق المصدوق ﷺ ان الناس يحشرون يوم القيامة على ثلاثة افواج، يوه ډله طاعين كاسيين راكبين (اى على مركوب يناسب ذالك اليوم وقومًا يمشون يسعون) يوه ډله پياده روان وي چابك چابك (وفوج يسحنون) كشول كېږي على وجوههم، رواه النسائي والحاكم والبيهقي.

**درويش وايي:** چي د افواجًا په تفسير كي مظهري وايي په روايت د معاذ بن جبل رضي الله عنه چي زما امت به لس صنفه وي د هغو صنفو بيان يې كړى دى په اخير كي يې ويلي دي چي دا روايت ابن عساكر كړى دى وقال ابن عساكر هذا حديث منكر وفي اسناده مجاهيل (په سند كي يې مجهول كسان دي) بيا يې د خطيب بغدادي روايت راوړى دى چي په هغه كي وايي يحشر امتي (١٠) صنف ثم بين الخطيب ينقل المظهري چي هغه مثل الاول له وضع څخه خالي نه دى، روح المعاني خو اول ويلي دي اى كل امة بامامها كما قال سبحانه و تعالى يوم ندعوا كل اناس بامامهم (وهذا صحيح) بيا يې ويلي دي جماعات مختلفة الاحوال حسب اختلاف الاعمال وهذا ايضًا صحيح، وروسته يې يو حديث په روايت د ابن مردوية له براء بن عاذب رضي الله عنه څخه راوړى دى چي مفصل جماعات يې پكښي راوړي دي، په اخير كي يې ويلي دي چي ابن حجر وايي دا حديث موضوعي دى او روح البيان هم ورته جماعات بيان كړي دي.

**درويش وايي:** چي زما شخصي نظريه دا ده چي كه د دغه آيت فتأتون افواجًا تفصيل د دې فوجو او جماعاتو له يو عالم څخه څوك وغواړي جواب دې داسي وركړي الله ورسوله اعلم، ولي چي خداى عزوجل په دې ګناه څوك نه نسي چي ته ولي تفويض د علم و خداى ته وكړى، او كه په تفصيل بيان كي يوه جمله پر خداى



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او رسول باندي دروغ ووايي خداى عزوجل يې نسي، اخرج البخاري وغيره، قال رسول اللهﷺ من كذب علي متعمدًا فليتبوأ مقعده من النار او كما قال.

وَفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾

سره ټوک ټوک به سي آسمان (له آسمان څخه معنى جنسي مراد ده چي ټولو ته شامل سي)

**پوه سه:** چي قراء د كوفې يې په تخفيف د تا وايي كما في المصاحف المطبوعة في الزمان الحاضر، او قراء باقي يې په تشديد د تا وايي للمبالغة والتكثير (لكه د روښ چي د مخه وويل چي د سماء څخه معنى جنسي مراد ده) وهذا عطف على تأتون افواجًا.

**سوال:** په زمانه كي د نزول د قرآن خو دا شيان نه دي واقع سوي فكيف يصح التعبير عنها بالصيغ الماضية؟

**ځواب:** ذكر ماضي ده او مراد استقبال دى لكون هذه الامور متحققة الوقوع لا محالة، نو مستقبل يې لكه ماضي دى ولهذا عبر بالصيغ الماضية وعلى هذا فقس وسيرت (فكانت ابوابًا) په تقدير د مضاف اى ذات ابواب يا محمول پر مبالغه دى اى كانت السماء من كثرة الشقوق كانت كلها ابوابًا.

وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾

او ولاړ به سي غرونه مع شدتها د مخه څخه د ځكي في الهواء كالهواء (دا غرونه چي هوا غوندي سوه په كښته ځايو كي ځكي لوېږي لتسوى الارض) فكانت سرابًا: نو وګرځي د غه غرونه چي د خپلو ځايو څخه ولاړه.

**پوه سه:** چي سرب په اصل كي ذهاب ته وايي كذا في الصحاح، او اصل معنى د سراب دا ده چي سېږي ته په دښت كي اوبه برېښي اما سرا به په رائ العين كي وي والمراد ههنا صارت الجبال شيئًا لاحقيقة لها متفرق اجزائها تفرقًا تامًا.

**پوه سه:** چي رب جل وعلا چي ذكر كړه چي الناس اجمعين يې لپاره د حساب په ورځ د قيامت جمع كړه كبرى بقوله جل ذكره فتأتون افواجًا اشتاق السامعين الى تفصيل احوالهم فذكر الطاغين اولًا لان الترهيب اعم من يرصد عند الاذهان فقال:



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابًا ﴿٢٢﴾

چونکه جهنم مؤنث سماعي ؤ ځکه يې ضمير د مؤنث په کانت کي ورته راجع کړی)

**پوه سه:** چي رصد انتظار ته وايي او هغه ته هم وايي چي د يو شي انتظار پکښي کېږي (کارصاد الرياضيين العلم باحوال حرکات الکواکب) ونيز گفته شده که ترهيب بهتر است از ترغيب، والمعنى على تقدير کونه الرصد موضع الانتظار چي ملائکه د عذاب او ملائکه د رحمت سره جمع وي انتظار کوي په نېز د پل صراط د خلگو، اما ملائکة العذاب فيرصدون الکفار تا چي ټينگ يې کړي او دوږخ ته يې ور وغورځوي ليعذبونهم، واما ملائکة الرحمة فيرصدون المؤمنين لي ليجرسنهم في مجاوزتهم على جسر جهنم من فيح جهنم د لمبو ځخه د دوږخ او د چنگکانو ځخه د صراط چي کلاليب يې بولي، نو پر دې تقدير د دې آيت معنى دا ده چي پل صراط ممر د ټولو خلگو دی يعني که مؤمنان وي او که کافران وي ويدل عليه قوله تعالى وان (نافيه دی) منکم الا اوردها، البيهقي روايت کړی دی له انس رضي الله عنه ځخه قال سمعت النبي ﷺ يقول الصراط تېره دی لکه تېره والی د توري، وان الملائکة يحفظون المؤمنين والمؤمنات وان جبريل آخذ بحجزتي (د پرتگانۍ تړ ځای چي عليه الصلوة والسلام ويل په اور به گډ نه سي يجب امته) وانا اقول رب سلم سلم (زما امت سالم وگرځوئ د دوږخ ځخه) بلکې ټوله انبياء عليهم السلام د خپلو امتو لپاره يعني د مؤمنانو لپاره د سلم سلم نعرې وهي او چنگکان پورته کوي چي مؤمنان ځني وژغوري، قال البيهقي عن مقسم عن ابن عباس رضي الله عنهما رواية على جسر جهنم (يعني پر پل سراط)

(۷) د پوښتنو ځايونه سته چي د بندگانو ځخه پوښتنې کېږي (۱) پوښتنه د لا اله الا الله که هغه بنده پوره اجراء کړه ورتېر سي بنده (۲) بيا د لمونځو پوښتنه ځني کېږي فان جاء بها تامة (۳) بيا ورتېر سي چي په هغه کي د زکوة پوښتنه کېږي فان جاء بها تامة وترتېر سي (۴) بيا د روژې پوښتنه ځني کېږي که يې د هغه جواب مثبت ورکړی نو (۵) د سوال ځای ته ورتېر سي، فيسئال عن الحج يعني که پر فرض ؤ، که يې دا جواب هم مثبت ؤ مثلاً ويې ويل چي مسکين وم حج نه ؤ را باندي فرض، درويش وايي وهکذا في سوال الزکوة په دريم ځای کي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۶) ځای د عمرې پوښتنه ځني وکړي.

**درويش وايي:** چي دا پر مذهب د هغه چا يوه عمره واجب بولي په عمر کي يو وار کي دا جواب هم مثبت ؤ (۷) بيا و اوم ځای ته ورته تېرسي نو په دې ځای کي پوښتنه د مظالمو ځني کېږي فان خرج منها سالمًا فبها ونعمة والا فيقال يعني ملکو ته انظروا فان له تطوع نفلي عبادات (د هر قسم څخه چي وي اکمل بها اعماله الواجبة) فاذا فرغ من هذه المواضع کلها ملکي يې بوزي جنت ته. اللهم فضلاً ورحمة وغفرانًا فانک غفور رحيم.

(للطاغين) دا کلمه يا خبر ثاني ده کانت يا صفت د مرصادًا.

**پوه سه:** چي طاغي هغه چا ته وايي چي تر اندازه تېروي په عصيان کي، ولايکون ذالک حتى يقع في الکفر وتکذيب القرآن والرسول، اما صريحًا فيسمى کافرًا واما التزامًا (يعني دی خو خپل ځان کافر نه بولي، لکن دده له مذهب څخه کفر پر ده لازم وي کالروافض والخوارج والمجسمة ونحو ذالک من فرق اهل الاهوا کما نقل في مواضعه (مآبا) مرجع د د خبر آخر لکانت.

## لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحۡقَابٗا ۝٢٣

ضمير مؤنث راجع و جهنم ته دی چي مؤنث سماعي دی کمامر (احقابًا) جمع د حقب ده.

**درويش وايي:** چي په تفسير کي د حقب اختلافات کثيره دي في کتب اللغة وفي التفاسير الموجودة عند الفقير، بعض مفسرين وايي چي يو حقب (۸۰) سنه التي کل سنة (۱۲) شهر التي کل سنة منه (۳۰) يومًا وکل يوم الف سنة قال البغوي وروى مالک ذالک عن علي ابن ابی طالبؓ وکذا روى ذالک عن ابی هريرةؓ وقال مجاهدؒ الاحقاب (۴۳) حقب کل حقب (۷۰) کال دی او هر کال (۷۰۰) مياشتي دی او هر کال (۶۳۰) ورځي دی و کل يوم (۱۰۰۰) سنة. وقال مقاتل بن حبان الحقب الواحد سبعة عشر الف سنة ولما کانت هذه المدة متتابعة وقد دلت الآيات المحکمات على خلود الکافر في النار والعذاب کما قال الله تعالى وفي العذاب هم خالدون وعليه انعقد الاجماع، وروى السدي عن مرة عن عبدالله قال لو علم اهل النار انهم يلبثون (چي دوی به پاتېږي) في النار عدد



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حصئ (د شكو د دنيا) لفرحوا دوى خوشاله واى يعني ددې سببه چي عدد د حصئ الدنيا خو متناهي ده يو وخت به تېر سي مونږ به له عذابه خلاص سو، ولو علم اهل الجنة انهم يلبثون في الجنة عدد حصئ الدنيا لحزنوا (دوى به غمجن واى ولي حصئ الدنيا خو متناهي دى يو وخت به ختم سي مونږ به بيا څه كوو؟

**درويش وايي:** چي ددې حديث په مقتضى كي دا معلومه سوه چي دوږخيانو لره خلود بلا موت ولا الخروج او جنتيانو لره خلود بلا موت ولا الخروج وهذا معنى التابيد للفريقين.

لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾

دوى نه سي څكلاى په دوږخ كي نه هيڅ هوا او نه د ځيښلو شى مګر نه تودې ايشولي اوبه په غايت الحرارة كي (وغساقا) او نونه د اهل النار، او كعب الاحبار وايي الغساق عين في جهنم يسيل اليها حمة كل ذى حمة (زهر د هر زهرجن حيوان من حية و عقرب وغير ذالك)

**پوه سه:** چي جزاءً منصوب دى على المصدرية اى مفعول مطلق دى د فعل محذوف اى يخرجون جزاءً، د وفاقا معنى دا ده چي موافق او يوافق وفاقا د دوى د عملو سره، مقاتل" وايي چي موافق دى عذاب د دوى د عملو سره اذ لا ذنب اعظم من الشرک سواءً كان شركا في الذات اى وجوب الوجوب لكه مجوسيان چي صانعان د عالم دوه ذاته واجب الوجوب دي يو خالق د خير د شيانو دى لكه مېوې بارانو نه وغير ذالک چي دوى هغه د يزدان په نامه بولي، او بل خالق د شر او د بدو شيانو دى لكه ماران، لړمان لېويان الى غير ذالک چي دوى و هغه ته اهرمن يا شيطان وايي، او شركا في العبادة: لكه بت پرستان، يا شرک په افعالو كي لكه معتزله چي وايي چي خالق د افعالو د بندګانو بندګان دى او دوى مخالف دي ددې آيت والله خلقكم وما تعملون، او شركا في الماهية كما يقول النصارى عيسى ابن الله واليهود عزير ابن الله.

إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾

اى لايقولون ولا يعتقدون.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**بوه سه:** چي دا جمله علت ده د ماقبل من الجزاء بالنار نو كافران عقيده د بعث بعد الموت ته نه لري او نه هم عقيده لري جزاء ته مطلقا، واما اهل الاهواء فهذه الصفة اى الانكار مطلقًا موجودة في بعضهم، فان المرجئة لايعتقدون الحساب والجزاء وكذا الروافض وايي چي شيعة علي رضي الله عنه و محبيه لايعذبون بشيئ من الكبائر والصغائر.

## وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّابًا

او دوى تكذيب يعني درواغ بولي زمونږ آيتونه عطف على كانوا، مظهري وايي دا صفت عامه دى و مشركانو ته و جميع اهل الاهواء كما ذكرنا بعضهم (مثلا روافض انكار كوي د مناقبو څخه د ټولو اصحاب الكرام رضي الله عنهم او دا دعوى هم كوي چي مرتد وه يا منافقين وه مګر درې كسه علي والحسن والحسين رضي الله عنهم، او دوى دا هم وايي چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه او نور لكه ابوبكر، عثمان رضي الله عنهما چي خداى ج دوى ته قدرت په مځكه كي وركړى افسدوا في الارض چي صحابه شر الامم دي و اسوء القرون دي.

**درويش وايي:** چي معاذ الله وقد قال الله تعالى كنتم خير امة آه وقال الله عزوجل الذين اخرجوا من ديارهم الى قوله تعالى الذين مكناهم في الارض اقيموا الصلوة آه وقال الله عزوجل لقد رضى الله عن يبايعونک تحت الشجرة تعلم ما في صدورهم (يعني په كال د حديبيې) وقال الله عزوجل السابقون الاولون من المهاجرين والانصار، الى غير ذالک من الآيات التي لاتحصى.

**درويش وايي:** اخرج ابن حاتم وابن شاهين عن علي بن ابى طالب رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان اصحاب الكبائر من الامم كلها (يعني د هر امت چي وي) چي مړه سي بې توبې من دخل جهنم (يعني چي نه يې نبي شفاعت وكړي او نه يې رحمت عامه د خداى عزوجل خلاص كړي) نه يې په دوږخ ستر ګي شنې (يعني لكه د كافرانو وي) ولايقرنون مع الشياطين (او نه يې په تناؤ تړي د شيطانانو سره (يعني لكه كافران) او نه ځنځير پر راپيچل كيږي (يعني لكه د كافرانو) او نه به په تودو اوبو اوبيده وركول كيږي او نه د قطران كالي په اغوسته كيږي (يعني لكه په نورو كافرانو چي اغوستل كيږي) حرم الله اجسامهم على الخلود (يعني



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي خالدين فيها ابدًا به وي لكه كافران) او حرام كړي يې دي مخان د دوى پر اور لاجل السجود، نو بعض د دوى به په اور تر پښنو پوري (يعني چي دا يې ادنى درجه ده) او بعض د دوى به يې اور تر بجلكو پوري وي، او بعض د دوى به اور تر حنجره پوري وي يعني هغه د ب ځاى د ځيگر او د بعض اور به تر غاړو پوري وي على قدر ذنوبهم واعمالهم، او بعض به يو كال په دوږخ كي وي بيا به را ايستل كېږي او هغه چي اقصى درجه به په دوږخ كي وي په قدر د دنيا به وي يعني د څه وخت څخه چي دنيا پيدا سوې ده او فناء سوې ده يعني اووه زره كاله.

**درويش وايي:** چي دا حالات د امت حتى امت محمد ﷺ ..... بيت:

عطائ شفاعت چنانش دهند ..... كه امت تمامى زدوزخ رهند

وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ كِتَٰبًا ۝٢٩

**پوه سه:** چي كل شيئ منصوب دى په فعل مضمر سره على شريطة التفسير، اى مو ږ ضبط كړي دي هر شى له اعمالو څخه د طاغين او ظالمانو.

**سوال:** په دې كي څه فائده وه چي احصينا كل شيئ يې اولا نه و وايه، نو به نصب د كل شيئ ظاهر واى؟

**ځواب:** هر ځاى چي ورته خبره وكړل سي ددې فائده دا وي چي كل شيئ په نصب سره قاري د قرآن واوري و نصب ته يې حيران سي او طالب د ناصب وگرځي وروسته چي احصيناه پسي راسي او دى په ناصب پوه سي انتظار يې دفع سي، او هر علم چي تر انتظار وروسته پيدا سي هغه الذ و اكد في الذهن كي وي، مولى جامي ؒ وايي:

چه خوش باشد كه بعد از انتظارى ... با اميد رسد اميد وارى

وتحقيق ذالک في علم المعاني، او لفظ د كتابًا منصوب دى على التميز او الحالية يعني مكتوبًا، او مراد له كتابت څخه كتابت په لوح محفوظ كي دى يا په صحف كي د كرام الكاتبين.

فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ۝٣٠

نو وڅكئ، ليس من ذوق الفم بل بمعنى جربوا و كلمة الفاء للسببية، والمعنى ذوقوا العذاب بسبب احصاء و اعمالهم خطاب مع الطاغين (فلن نزيدكم) ايها


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الطاغون مادمتم في النار (الا عذابًا) په صحيح حديث کي چي روايت يې طبراني کړی دی راغلي دي چي دا آيت اشد ما في القرآن دی على اهل النار.

**درويش وايي:** چي تر دې ځايه پوري بيان د احوالو د طاغينو ؤ، په وروسته آيت کي خدای عزوجل بيان د احوالو د متقينو کوي.

**نکته:** بيان د فريق اول يې دمخه کړی لان الانذار اهم او لکثرة الفريق الاول غاية ولکثرة.

## اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ مَفَازًا ۙ حَدَآئِقَ وَاَعْنَابًا ۙ

په تحقيق هغه کسانو لره چي له کفر څخه و سائر القبائح من اعمال الکفرة ځانونه ساتئ خوفًا من عذاب يوم القيامة (مفازًا) ای فوزًا ونجاتًا، نو مفازًا مصدر ميمي دی يا ځای د نجات سته يعني الجنة، نو مفازًا ظرف مکان دی (حدائق) جمع د حديقه ده بدل بعض دی مفازًا څخه که په معنی د موضع وي والا فبدل الاشتمال.

**پوه سه:** چي حديقه هر هغه باغ بولي چي دېوال پر راګرځېدلی وي وفيه چي په هغه کي خورما او نوري مېوه داره درختي وي چي په بل عبارت يې روضه هم بولي (واعنابًا) او د انګور تاکان چي په جوو کي وي يا سپاره تاکان وي يعني چي د لرګو بام يې ورته جوړ کړی وي او دوی يې پر اچولي وي.

**پوه سه:** چي اعنابًا بعد النعيم في قوله وحدائق، وجه د فضيلت د انګورو پر نورو مېوو چي تر نورو مېوو فضيلت د کثرة انواعه لونًا وطعمًا او سرعة الهزم في المعدة.

**درويش وايي:** چي که ته تفصيل د انواعو د انګورو غواړې، نو کندهار ته ولاړ سه چي اقسام د انګورو تفصيلاً درته معلوم سي.

## وَّكَوَاعِبَ اَتْرَابًا ۙ وَّكَاْسًا دِهَاقًا ۭ

او ښځي چي حوري يې بولي.

**فائده:** د ښځي خيګر چي واطي نه وي وهلی جګ ولاړ وي، او دې ښځو ته تواهد هم وايي او کواعب جمع د کاعب ده تا د تانيث يې په مفرد کي نه راوړه لان هذا اللفظ صفت خاصة د ښځي دی کالحائض يعني نر ته کاعب نه وايي لکه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حائض چي نه ورته وايي، او څه وخت چي ښځه نر وطي کړي د تيو سرونه يې کښته ولاړ سي كما يدل عليه التجربة (اترابًا) چي په سن سره برابر وي (وكاسًا دهاقًا) صراحي ګانې به وي چي نه لاستى لري او نه چوښکه چي هر طرف او به ځني څيښل کېږي، قال ابن عباسؓ والحسن وقتادهؒ مملو يعني ډک به وي يا په او بو يا په شيدو يا په عسلو يا په خمر، وقال سعيد بن جبير متتابعة يو په بل پسي او عكرمهؒ وايي چي د دهاق معنى صافية ده.

لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّلَا كِذّٰبًا ۟

حال دى من الضمير في المتقين الراجع الى مفازًا وهو الحدائق والجنات (فيها) ضمير راجع وكاس ته دى اى لايسمون في شربها لكه كاسات د دنيا چي شراب به پكښې وه (لغوًا) باطلي خبري لكه كاس د دنيا چي به پکښې وه (ولاكذابًا) اى دروغ.

**فائده:** دا لفظ كسائي په تخفيف د ذال وايي على انه مصدر د الكاذبة وقيل هو الكذب او بعض علماء چي مشدد او مخفف په معنى كي يو دي او نور قراء يې په تشديد وايي بمعنى التكذيب يعني يو وبل ته وايي چي دروغ مه وايه، والحاصل انه لايوجد في الجنة الكذب.

جَزَآءً مِّنْ رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا ۟

مصدر د فعل محذوف دى اى جزى جزاء من ربك (عطاء) اى اعطى عطاء كما في السابق (حسابًا) صفت دى د عطاء والمعنى كافيًا وافيًا محاوره د عربو احسبت فلانًا حتى قال حسبى بس مي ده او ابن عتيبهؒ وايي عطاء حسابًا اى كثيرًا، في القاموس هذا بحسبه اى بعدده (نو پر دې تقدير يستقيم المقابلة بما سبق اى ماذكر په حق د طاغينو يعني د و طاغينو ته يجزون جزاء موافقًا لاعمالهم و اباطيلهم او متقينو ته جزاء ورکول کېږي موافق د اعمالو سره د دوى وعلى قدرها، وهذا غير صحيح اى في جانب المتقين بلكې متقينو ته په فضل د خداى عزوجل تر عدد د اعمالو د دوى بالا ورکول کېږي كما في قوله تعالى كمثل حبة انبتت سبع سنابل (يعني وږي) في كل سنبلة مائة حبة په هر وږي كي سل دانې وي (اي‌ږدن يا باجيرى)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي د دې معنى دا ده چي متقينو ته ثواب د يوه عمل په (۷۰۰) ورکول کيږي، وروسته رب جل وعلا وايي: والله يضاعف لمن يشاء والله واسع عليم، او بله وجه د عدم صحت يې دا ده چي حساب د عمل او ثواب د هغه په اخلاص پوري د عاملينو او احسان د دوی هم اړه لري لکه په حديث طويل کي د بخاري راغلي دي چي جبريل په رنګ د انسان په محضر کي د صحابه کرامو ﷺ راغلی او د عليه الصلوة والسلام څخه يې پوښتني وکړې: ما الايمان وما الاسلام په اخير کي يې ورته وويل ما الاحسان (يعني په عمل کي د خير) عليه الصلوة والسلام جواب ورکړی الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک الحديث. او بل په مراتبو کي د قرب د عاملينو هم ثوابونه فرق راوړي فان المقربين يعطون الاجر الجزيل على القليل من العمل حتى چي ابرار ته (چي تر مقربينو کم دي په درجه کي) پر عمل کثير نه ورکوي لما روى البخاري ومسلم په روايت د ابى سعيد الخدري قال قال رسول الله ﷺ لاتسبوا اصحابي زما اصحابو ته ښکنځل مه کوئ او بد مه پر وايا ست فان احدکم (مخاطب وروسته خلک دي تر اصحابو) لو انفق مثل احد ذهبًا په مثل د احد د غره سره زر، ما تصيب مد (ومقدار ته د مد چي يو سېر دی په پاکستاني سېرو) ولا نصيفه او نې نيم مد ته صحابه کرام ﷺ انتهى الحديث.

رَّبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الرَّحْمٰنِ لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ خِطَابًا ۝

رب او خالق د اسمانو او د ځمکي او چي په مابين کي د ځمکو دی چي کائنات الجو يې بولي من السموات وغيره (الرحمن) مفيض د خير او جود على کل موجود بحسب حکمته او بقدر استعداد المرحوم، او دا اسم جليل په جر سره د الرب القريب ذکرًا، وقيل للرب الاول يعني في قوله تعالى جزاء من ربک.

**پوه سه**: چي قرائت د جر يې قرائت د عاصم او ابن عامر دی او نور قراء دا اسم جليل په رفع سره وايي چي خبر د مبتدا، محذوفي دی ای هو الرحمن (لايملکون) ای اهل السموات والارض (منه) ای من الرحمن (خطابًا) ای لايمکن احد ان يخاطب لعظمة جلاله، او الکلبي وايي لايملکون الشفاعة الا باذنه تعالى، او داسي ويل سوي دي لايمکن لاحد الاعتراض عليه تعالى في اعطاء بعض المؤمنين اجر اکثر من بعضهم ولي چي دوی ټول به بندګان او مملوک د خدای


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عزوجل دي والاجر تفضل منه ولايستحق عليه تعالى شيئًا من الاجر. له ابن عمر رض څخه روايت دی عن رسول اللهﷺ انما اجلكم ای مدت د عمر ستاسي (يعني چي خدای عزوجل تاسي ته لږ لږ عمرونه درکړي دي يعني نسبت د نورو امتو تر عمرو) چي رسول اللهﷺ يې په دغو الفاظو تعبير وکړی زموږ د عمرو د مازديګر څخه تر ماښامه پوري، بيا عليه الصلوة والسلام داسي وويل: انما مثلكم (حال ستاسي) مثل اليهود والنصارى كمثل رجل استعمل عمالاً (د يوه کار شروع وکړي مثلاً سرای جوړوي) نو مزدورانو ته يې وويل چي من يعملني الى نصف النهار على قراط (هو سدس درهم) فعمل اليهود الى نصف النهار على قيراط قيراط، ثم قال ای الرجل المذكور من عملني من نصف النهار الى صلوة العصر على قيراط قيراط فعمل النصارى من نصف النهار الى صلوة العصر على قراط قراط. من يعمل من صلوة العصر الى مغرب الشمس على قيراطين قراطين الا لكم الاجر مرتين، نو يهود او نصارى ؤ ته درد ورغلی وقالوا نحن اكثر عملاً واقل اعطاءً، قال الله تعالى فهل ظلمتم شيئًا من اجر عملكم شيئًا قالوا لا قال الله تعالى هذا فضلي اعطيته من شئت رواه البخاري.

**پوه سه:** چي مراد د عليه الصلوة والسلام من قوله من صلوة العصر الى مغرب الشمس الاشارة الى اعمار هذه الامة قصيرة واعمالهم قليلة، والمراد بالقراطين التكثير مطلقًا لاتعين الكثرة كما في قوله تعالى فارجع البصر كرتين والله اعلم بمراد رسولهﷺ.

## يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا ۖ

ظرف لقوله تعالى لايملكون او لقوله لايتكلمون. والاول اظهر لقربه.

**درويش وايي:** چي په روح کي اختلاف کثير دی، اخرج ابن جرير عن ابن مسعود رض الروح في السماء الرابعة وهو اعظم من السموٰات (ای التي تحتها والجبال) والملائكة (ای سائر الملائكة) او البغوي رح دا هم زياته کړې ده چي دا ملکه تسبيح وايي د خدای ج دوولس زره (۱۲۰۰۰) واره يخلق الله من كل تسبيحة ملكًا يعني يوم القيامة ويجيئ صفًا واحدًا، او له علي بن ابي طالب رض څخه روايت دی چي الروح يوه ملکه ده چي دي لره اوويا زره مخه دي او هر مخ لره اوويا زره ژبي دي او هره ژبه اوويا زره تسبيح وايي، يسبح بتلك اللغات كلها.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او په يوه روايت كي د ابن عباسؓ راغلي دي الروح ملک واحد چي لس زره وزرلري، وفي رواية اخرى عن ابن عباسؓ چي الروح اعظم د ټولو ملكو دی په جسم كي وزاد البغوي في رواية عنه انه اذا كان يوم القيامة قام هو ای الروح وحده صفا والملائكة صفًا واحدًا (اى جميعها) فيكون الروح اعظم خلقة منهم، او مقاتل بن حبانؒ وايي چي الروح اشرف الملائكة الى الله، او الضحاكؒ وايي چي مراد په دې كي له روح څخه جبريل امين صاحب الوحي الى الانبياء دی، لكن روح البيان وايي چي تفسير د روح په دې آيت په جبريل امين سره ضعيف دی كه څه هم جبريل امين مشهور دی بكونه روح القدس او روح امين سره دی، دليل يې دا ويلی دی چي په اتفاق سره د علماؤ اسرافيل اعظم جثة من جبريل وغيره من الملائكة فلو كان احد يقوم صفًا واحده يكون اسرافيل اولى به من جبريل، ثم قال صاحب روح البيان والله اعلم بمراده من الروح، واخرج مجاهد عن ابن عباسؓ مرفوعًا الروح جند من جنود الله ليسوا بالملائكة لهم رؤس و ايد و ارجل ثم قرء يوم يقوم الروح والملائكة صفًا يقول هؤلاء جنده الروح وهؤلاء اى الملائكة.

**درويش وايي**: والله اعلم بمراده في كتابه.

## لَا يَتَكَلَّمُوْنَ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿۳۸﴾

خبري نسي كولای (دا جمله تاكيد ده د لايملكون منه خطابًا فان هؤلاء الخلائق افضل الخلق واقربهم الى الله تعالى اذا لم يقدروا على التكلم فكيف غيرهم) مگر نه هغه كسان چي اجازه و هغه ته الرحمن وركړي يا په خبرو كي يا په شفاعت سره، استثناء من فاعل لايتكلمون او من فاعل لايملكون. والاول (چي استثناء سي له فاعل څخه د لايتكلمون) اظهر لاتصاله به لفظًا، والثاني افضل معنى فان الاذن في الشفاعة والكلام غير مختص بالروح والملائكة (وقال صوابًا) اى الماذون له حقًا وصدقًا واعتقد به فالقول ههنا كناية عن الاعتقاد لان الاعتقاد مبطن لايظهر الا بالقول عطف من اذن له الرحمن يعني قال في الدنيا صدقًا ولم يقل باطلاً وكذبًا واكذب الكذب الكفر بالله العظيم لانه لايمكن امكان صدقة.

**درويش وايي**: چي مقصود دا دی چي د مشرک په باره كي د خبرو او شفاعت امكان نسته.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ مَاٰبًا ۝

اشارة الی ما سبق من الیوم المذکور بالصفات المذکورة، مبتداء ده الحق یې خبر دی ای هو الحق.

**فائده:** خبریې معرفه راوړی لافادة القصر یعني کونه حقًا ثابت لاشبهة فیه، وقیل معنی د قال صوابًا قال لآ اله الا الله فالکفار لایؤذن لهم ان یتکلموا او یعتذروا.

(من شآء) نو که د چا خوښه وي و دي پلټي و خپل رب ته لار د قرب بطاعته واتباع رسله، او د هغو کسانو چي خدای د سرې هدایت کوي.

**پوه سه:** چي د فاء لپاره د سببیت ده فان کون ذالک حقًا سبب دی د اتخاذ السبیل الی الله او کلمة د الی ربه متعلق ده په مآبًا پوري.

اِنَّآ اَنْذَرْنٰكُمْ عَذَابًا قَرِيْبًا ۚ

یعني ایها الکفار والمشرکین موږ بېرولي یاست تاسي له هغه عذاب څخه چي نژدې دی یعني عذاب القیامة.

**پوښتنه:** په زرو کلنو تېر سوه خو یوم القیامة نه دی راغلی، نو دا څرنګه قریب ده؟

**ځواب:** ما هو آت (چي راتلونکی وي) هغه قریب دی، نعم ما مضی فهو بعید یا مراد ځني عذاب القبر دی دا خو نژدې دی، یا مرګ دی الذي قیل فیه الموت اقرب من شراک النعل (د چوتې تربند)

يَّوْمَ يَنْظُرُ الْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ

لفظ د یوم ظرف دی متعلق دی په عذابًا پوري (چي اسم مصدر دی په معنی د تعذیب) چي وګوري هر سړی چي څه شی ما دمخه کړی دی په لاسو سره.

**پوه سه:** چي نسبت یې و لاسو ته وکړی له دې سببه چي اکثره اعمال جوارح د لاسو څخه صادرېږي، دا لیدل به یا په صحیفه کي د اعمالو وي او یری جزائه في القبر او په آخرت کي هم، وقیل الید کناية عن القدرة والقوة او کلمه د ما استفهامیه ده منصوبة المحل بقدمت او یا منصوب په ینظر سره.

**پوه سه:** وعن عثمان رضی قال قال رسول الله ﷺ ان القبر اول منزل من منازل الآخرة فمن نجامنه فما بعده الیسر (وروسته حال یې آسانه دی) و ان یجوز منه فما بعده



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اشد منه، او كه يې نجات نه کړی پيدا له عذاب القبر څخه نو وروسته وار په وار سختېږي عذاب يې.

**درويش وايي:** چي احاديث صحيحه په عذاب القبر کي ډېر دي او دا هم د اهل السنة والجماعة مذهب دی بخلاف المعتزلة چي هغه د عذاب القبر څخه منکر دي، کتابونه د عقائدو په دې باب مطالعه کړه.

**درويش وايي:** چي په ورځ د قيامت د رب العزة دومره هيبت او دبدبه او خوف پر اهل محشر من المؤمنين والكافرين باندي پروت وي چي په حديث طويل کي راغلي دي چي انبياء عليهم السلام د نفسي نفسي ناره وهي، يعني خلک مؤمنان ورسي چي زموږ شفاعت و خدای ته وکړه له آدم عليه السلام څخه رانيولي هر نبي دا غه ورته وايي نفسي نفسي فاذهبوا الى غيري كما قال السعدي الشيرازي قدس سره:

در آن روز که از فعل پرسند و قول ..... اولو العزم را تن بلرزد زهول

يو له احاديث صحيحهؤ څخه هغه حديث دی چي بخاري او مسلم راوړی دی عن ابن عباس رضي الله عنه قال مر النبي ﷺ بقبرين فقال انهما يعذبان في كبير يعني چي ځان يې ځني ساتلای آسان کارؤ، يوه قبر ته يې اشاره وکړه چي صاحب د دې قبر لا يستنزه من البول، او دس يې بنه نه وچاوه يعني بولي به يې وکړې په لوټه يا په خاوره به يې ذکر له بولو څخه بنه نه پاکاوه، او بل قبر ته يې اشاره وکړه چي د خلکو تر منځ به يې شيطانت کاوه.

**بوه سه:** چي شيطانت چي په عربي يې نميمه بولي که څه هم گناه کبيره ده لکن ځان ځني ساتل آسان کارؤ ولي چي نميمه نه دنياوي گټه وه او نه اخروي الى اخير الحديث... بيت:

بجائی که دهشت خورد انبياء ..... تو عذر گناه را چه داری بيا

وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا

او وايي کافر کاشکي زه خاوري وای. يعني في الدنيا فلم اخلق يعني نه وای پيدا سوی او نه وای مکلف سوی. وهو في محل الرفع على انه خبر د ليت دی يا معنی دا ده کنت ترابًا في هذا اليوم يعني خدای بعث کړی نه وای.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**فائده:** مؤمنان د جن لره ثواب او عقاب سته فلا يعودونه ترابًا وهو الاصح، فيكون مؤمنوا الجن مع هؤلاء الانس في الجنة او في الاعراف وتصيبهم ما يناسب مقامهم ويكون كفار الجن مع كفار الانس في النار، اخرج عن عبد الله بن عمر چي ورځ د قيامت چي راسي مخکه سره فراخه سي يعني غرونه، ودانی، قلاوي او کوټې د انسانانو ټوله له منځه ولاړسي خدای پاک ژوندي کړي مخلوق ټوله يعني الانس والجن والدواب والوحش وحشي مخلوق په دنيا کي فاذا کان ذالک خدای عزوجل کسات د بې ښکرو حيوانانو د ښکرورو حيوانانو څخه واخلي، فاذا فرغ من القصاص بين الدواب قال لها کوني تربًا ولي دوی لره خو جنت او دوږخ نسته، فيقول الكافر من الانس والجن ياليتني کنت ترابًا يعني لکه حيوانات.

**درويش وايي:** چي زه په ثلث اخير کي د شپې د دوشنبې پر (۱۵) د شوال تخمينًا له سورة النباء څخه فارغ سوم په توفيق د خدای، اوس سورة النازعات شروع کېږي، اللهم وفقني لتفسير هذه السورة الى اخيرها في هذا الجزء من السور، انک على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير وصلى الله تعالى على سيدنا محمد و على اهل واصحابه اجمعين.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ النّٰزِعٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سِتٌّ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة النازعات مكية وهي خمس او ست و اربعون آية. دا قول د روح المعاني دی، و تسمى بالساهرة و الطامة مكية اتفاقًا او آيتونه يې (۴۹) دي د كوفي د قراؤ په نيز، او په نيز د غير كوفيينو (۴۵) دي، او له ابن عباس ؓ څخه روايت دی چې دا سورت وروسته تر عم نازل سوی دی.

وَالنّٰزِعٰتِ غَرْقًا ۝١ وَّالنّٰشِطٰتِ نَشْطًا ۝٢ وَّالسّٰبِحٰتِ سَبْحًا ۝٣

**پوهه:** چې كلمه د واو لپاره د قسم ده و جواب القسم محذوف يعني تاسي بعث كېږئ او حساب در سره كېږي كما يدل عليه مابعده، والمراد بالنازعات غرقًا هغه ملكي دي چې كاږي روحان د كافرانو، غرقًا في النزع چې ډېره سختي كوي په نزع كې نغرقًا اسم اقيم مقام المصدر فهو مفعول مطلق من غير لفظ العامل چې نازعات دی نحو قعدت جلوسًا محاورة العرب، يقال اغرق في القوس (كوشش و كړئ نو شونكی د لندې او پوره والی يې وكړي په قوت او په شدت كې) والمراد بالناشطات نشطًا هغه ملكي دي چې ارواح د مؤمنانو په ډېر نرمي سره كاږي محاورة العرب نشط الدلو (را ويې كښېنه سو لاغه په آساني سره د څاه څخه) ولې چې مؤمن په مصائبو كې د دنيا داسي وي لكه دی چې په محبس كې بندي وي نو ملكي ناشطات دی له محبسه خلاصوي د بدن حلاً رفيقًا (نرم) لكه زنګون بنده او بنې كذا حكى عن الفراء.

وفي الحديث في ارواح المؤمنين كانما انشط من عقال (لكه د اوښ زنګون بند چې په ارامي ور خلاص كړي) وعن البراء بن عاذب ؓ قال قال رسول الله ﷺ چې مؤمن چې حال د انقطاع د دنيا څخه او د اقبال د آخرت يعني زكندن يې وي نازل سي ملكي سپين مخان يې وي لكه د لمر، او د دوی سره ورسره وي كفنونه د جنت او خوشبويي د جنت حتى د ومره لېري ورته كښېني كمد البصر، وروسته ملك الموت يعني عزرائيل ؑ ورته راسي چې د سر سره ورته كښېني فيقول ايها النفس المطمئنة (اى نفس او روح چې په اطمنان كې دي ژوند تېر كړی ؤ) اخرجي الى مغفرة الله ورضوان (چې خدای عزوجل بخښنه درته كوي او در څخه راضي دی) قال ﷺ نو روح داسي په آساني سره له بدنه راووزي لكه يو څاڅكی او به چې له ژې څخه راوزي، نو



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا روح چي په ډېر لطف سره عزرائیل له بدنه راوباسي نو هغه نوري ملکي چي لېږي ورته ناستي وي سمدلاسه د عزرائیل په لاس کي هغه طرفة العین (یعني یو چشم زدن نه پرېږدي) حتی چي په هغه کفن کي یې وپېچي چي هنوط (یعني خوشبویي پکښې وه) او دغه روح د مؤمن په هغه کفن کي لکه اطیب بوی د مسک ولاړېږي الی اخیر الحدیث وان العبد الکافر اذا کان في انقطاع من الدنیا تنزل من السماء ملائکة چي تور مخان یې وي او زېړ لباس لکه کراسته ورسره وي نو دوی کښېني مد البصرد مختصر څخه ثم یجيء ملک الموت علیه السلام حتی تجلس عند راسه و سرته د کافر او داسي ورته ووایي ای خبیثه نفسه راووزه و غضب ته د خدای قال رسول الله ﷺ فتفرق في البدن له بېري نو عزرائیل په زوره راکش کړي لکه چنګکان د لندو وړیو څخه چي څوک راکشوي، نو عزرائیل چي روح د کافر له بدنه راوېستی هغه ملکي چي ګوښه ناستي وي طرفة العین دده په لاس کي نه پرېږدي بلکې په هغو کراستو کي یې وپېچي ویخرج منها کانتن ریح جیفة (او ولاړېږي له روح څخه د کافر لکه ډېر بد بوی د یو مردار حیوان، او په روایت کي داسي راغلي دي چي د نزع په وخت کي د کافر تو له رګو نه د بدن پرې سي، رواه احمد.

**فائدة مهمة:** د بیان مذکور څخه د نزع د روح د مؤمن او کافر دا ښکارېږي چي روح او په بل عبارت نفس جسم لطیف دی په اندازه د جسم کثیف چي په سترګو لیدل کېږي په ټوله بدن کثیف کي ساري دی او په سترګو نه لیدل کېږي لکه هوا خارجي دا روح پیدا دی د عناصرو اربعهٔ څخه. والتفصیل في کتب الصوفیة الکرام.

**بوه سه:** چي (والسابحات سبحًا) بل قسم دی پر طریقه د عطف او سبح چابک تګ ته وایي یا په اوبو کي لکه ماهیان، یا په هوا کي لکه باز ښرخک یا په زمان حاضر کي طیاره په دې آیت کي خدای عزوجل قسم واخستی په هغو ملکو سره چي تېز رفتاره وي د آسمان څخه مځکي ته په امر د خدای وبالعکس. وهذا تعمیم بعد التخصیص ولي چي اول ملکي خو لپاره د قبض د روحانو راکښته کېدلی په تمام سرعت سره، او دا ملکي لپاره د عمومي احوال لپاره سبحًا مفعول مطلق د سابحات دی

فَالسّٰبِقٰتِ سَبْقًا ۙ فَالْمُدَبِّرٰتِ اَمْرًا ۘ

(فالسابقات سبقًا) عطف دی علی السابحات او سبقًا مفعول مطلق دی ای



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التي تسبق سبقًا الى ما امروا به و وكلوا عليه والسبق كناية عن الاسراع فيما امروا به لان السبق الذي هو التقدم في السير من لوازم السرعة، مجاهد رح وايي چي دا هغه ملكي دي چي سبقت كوي د ابن آدم په خير سره او په عمل صالح سره، او مقاتل رح وايي چي دا هغه ملكي چي وړاندي كوي روحانو ته د مؤمنانو وجنت ته، او مظهري دا پر زياته كړې ده چي ارواح د كافرانو دوږخ ته وروړي چي د دې ملكو ذكر په حديث كي د براء بن عاذب رضي الله عنه تېر سو چي د عزرائيل رح سره ملګري دي چي عزرائيل رح قبض كه د مؤمن او كه د كافر وي يو ګړى دوى نه وړ پرېږدي الحديث.

(فالمدبرات امرًا) عطف دى على السابحات.

**پوه سه:** چي ابن ابی الدنيا له ابن عباس رض په تفسير كي د مدبرات امرًا چي دا هغه ملكي دي چي د ملك الموت سره ملګري دي عند قبض الارواح بعض د دوى روح له آسمان و خوا ته پورته كوي او بعض ملكي پر دعاء د ميت آمين وايي، او بعض د ميت استغفار وايي حتى يصلى عليه اى صلوٰة الجنازة، او قبر ته ورشوه كېږي، وقال البغوي رح قال ابن عباس رض (يعني دا دده بل تفسير دى) چي دا ملكي دى چي د خداى عزوجل دوى مسلط كړي پر هغو كارو چي خداى ج و دوى ته ښوولي وي عمل په هغه سره، او عبد الرحمن بن سابط وايي چي تدبير چي كوي په دنيا كي، څلور ملكي دي، جبرئيل رح و ميكائيل رح و ملك الموت رح واسرافيل رح، اما جبرئيل رح موكل بالرياح (پر بادو باندي او پر لښكر د مؤمنانو او پر وحي د انبياء ع)، واما ميكائيل رح موكل بالامطار والنباتات، واما عزرائيل رح موكل على قبض الارواح للمؤمنين والكافرين مع اعوانه، واما اسرافيل رح فهو ينزل بامر عظيم يعني نفخة الصعق ونفخة البعث بعد الموت.

يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾

متعلق دى په جواب پوري د قسم محذوف، والتقدير لتبعثن ولتحاسبن يوم ترجف الراجفة وذالك اليوم باعتبار اجزائها فان مقدار ذالك اليوم خمسين الف سنة من النفخة الاولى الى دخول اهل الجنة جنة واهل النار نارًا، البيهقي روايت كړى دى عن مجاهد فقال رجف ترجف ترجيف الارض والجبال وهي الزلزلة.

(تتبعها الرادفة) دا جمله په ځاى كي د حال ده د فاعل څخه د ترجف، مفسرين



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي مراد د راجفة النفخة الاولى چي نفخة الصعق يې هم بولي، او مراد د رادفه څخه نفخة ثانيه ده چي نفخة البعث يې هم بولي، كذا اخرج البيهقي عن ابن عباس رضي الله عنه.

**درويش وايي:** چي اوله نفخه چي راجفه يې بولي ولې په دې سره زلزله پيدا كېږي فيحرك بها كل شيئ ويموت بها الاحياء كلها، او دوهم چي رادفه يې بولي چي دا وروسته ده تر راجفه، حليمي وايي انفقت الروايات ان بين النفختين اربعون سنة وفي بخاري و مسلم عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اربعون قالوا يا ابا هريرة رضي الله عنه اربعون يومًا قال ابيت (نه سم ويلاى) قالوا اربعون شهرًا قال ابيت نه سم ويلاى، ددې معنى دا ده چي د ابى هريره رضي الله عنه هېره وه په هغه حديث د ابى هريره رضي الله عنه چي دا اوس تېر سو چي وروسته خداى پاک د آسمان باران اوروي ددې باران سره خلک له قبرو څخه راووزي لكه نباتات چي له مځكي څخه راوزي، ددې تو هم په جواب كي چي نباتات خو په مځكي كي تخم لري نو هغه تخم راشين سي انسانان څه تخم لري؟ ابو هريره رضي الله عنه داسي ويلي دي چي ټول له اعضاء او هډوكي خاوري كېږي مګر نه يو هډوكى چي عجب الذنب يې بولي (او پښتانه يې د لكى هډوكى بولي، ومنه يخلق الخق ثم يرسل ارواح هره ورځ په خپل بدن كي داخل سي كما قال الله تعالى و اذا النفوس زوجت.

قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ۝٨ أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ ۝٩

زړونه په دغه ورځ (منصوب په فعل سره چي واجفة دلالت پر كوي) واجفة: خبر دى د قلوب ولا باس بتنكير القلوب لتخصيصه بيومئذ د واجفة معنى دا ده چي مضطراب اضطرابًا شديدًا، ضمير په (ابصارها) كي راجع و قلوب ته دى بحذف المضاف اى ابصار اصحابها (خاشعة) اى ذليلة من شدة الخوف په پښتو كي وايي ستر ګي يې مړې نيولي وي، دا جمله خبر بعد الخبر ده د قلوب يا صفت ده د واجفة.

يَقُولُونَ أَإِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِي الْحَافِرَةِ ۝١٠

دوى داسي وايي (دا علت دى د واجفة او خاشعة يعني له دې سببه دا حالت پر دوى طاري سو چي دوى په دنيا كي منكر بعث بعد الموت وه او دا يې ويل (انا لمردودون) مونږ به بيرته مرد ېږو؟ په استفهام انكاري سره (في الحافرة) اى في الحيوة الاولى.

**پوه سه:** چي حيوة اولى حافرة په دې بولي چي عرب داسي مقوله لري رجع



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فلان رد الحافرة يعني طريقة جاء فيها فحفرها كقولهم عيشة راضية يا يې تشبيه د قابل په فاعل سره كړې ده فافهم. او ابن زيد وايي چي حافرة اورته وايي.

**درويش وايي:** چي د اور حال خو وروسته دی.

ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا نَّخِرَةً ﴿۱۱﴾ قَالُوْا تِلْكَ اِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿۱۲﴾

آيا چي موږ وګرځو هډوكي (هذا القول يعني الاستفهام انكار بعد الانكار الاول دی كمامر) بوسيده يعني زاړه (قالوا تلک) دوی به وېيل اشارة ورجعة ته د المفهوم من قوله انا لمردودون في الحافرة مبتداء ده (اذًا) كما يقوله محمد ﷺ لوقوعه في وسط الجملة يعني اذا كان فتلک الرجعة (كرة خاسرة) ای رجعة دی تاواني رجعه دی يعني ان كان كما يقول محمد ؐ نو موږ په دې ر تاوان كي يو ولي موږ ده تكذيب كړی و.

فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿۱۴﴾

قال في الصحاح المراد به الزجر بالصوت، يقال زجرته فانجر قال الناس يخرجون بالصوت كما في قوله تعالى والزاجرات زجرًا يعني الملائكة تتجر السحاب بالصوت (فاذا هم بالساحرة) نو دوی پر مخ د مځكي پر سر وي، يعني دوی ټول به د مځكي پر سر وي.

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿۱۵﴾ اِذْ نَادٰىهُ رَبُّهٗ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿۱۶﴾

آيا وتاته يا محمد (ﷺ) رسېدلې ده قصه د موسى (عليه السلام) (استفهام د تقرير دی يعني قد اتاک) جمله معترضه ده لپاره د تسلي د عليه الصلوة والسلام پر تكذيب د قوم د عليه الصلوة والسلام ده لره او تهديد دی د قوم د عليه الصلوة والسلام په دې معنی چي قوم ته عليه الصلوة والسلام به اشد تر دې اشد ور ورسېږي، كلمه د باء په (بالواد) كي په معنی د في ده چي پاكه شپله وه ای المتعلق بموسی ؑ وقت ندائه ربه د طوی په شيله كي.

**پوهه:** چي طوی بضم الطاء مع التنوين چي په تاويل د مكان چي منصرف سي او بعض يې بې تنوينه وايي په تاويل د بقعة چي غير منصرف سي للعلمية والتانيث.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۱۷﴾

ولاړ سه و فرعون ته چي دی طاغي دی غاية الطغيان چي دعوه د ربوبيت يې کړې ده.

**پوه سه:** چي فرعون د يو خاص سړي نوم نه دی بلکې هر څوک چي د عمالقه د قوم مشر وي هغه ته فرعون وايي، ورنه نوم د فرعون موسیٰ ولید بن الريان ؤ، لکه قيصر چي د خاص سړي نوم نه دی بلکې هر څوک چي د روميانو مشروي هغه ته قيصر وايي، يا د فارسيانو مشر ته کسریٰ وايي، او د حبشې مشر ته النجاشي وايي، او د نصاری ؤ مشر ته جورج وايي او د مسلمانانو مشر ته په قديمه اصطلاح کي خليفة المسلمين وايي يا امير المؤمنين او په اصطلاح جديد کي يا رئيس الدولة يا رئيس الجمهور وايي الی غير ذالک.

فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰٓى اَنْ تَزَكّٰى ﴿۱۸﴾ وَاَهْدِيَكَ اِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى ﴿۱۹﴾ فَاَرٰىهُ الْاٰيَةَ الْكُبْرٰى ﴿۲۰﴾

(فقل) عطف علی اذهب (هل لک) میل (الی ان تزکی) ای تسلم وتطهر من الشرک، وعن ابن عباس رضی الله عنه بان تشهد ان لا اله الا الله (واهديک) زه به لار دروښيم و عبادت او توحيد ته د خدای ج (فتخشی) ته به وبيرېږې له خدای ج څخه يعني له عذاب څخه د خدای ج، نو به واجبات پر ځای کوې او له محرماتو څخه به ځان ساتې.

**فائده:** معطوف دی پر محذوف ای ذهب موسیٰ (فاراه) په فرعون يې ولیدل يعني چي هغه طلب د صدق د موسیٰ ع وکړی په دعوی کي د رسالت دده (الآية الکبری) چي هغه لکړه د موسیٰ ع وه چي مار کېدل به. مظهري وايي چي تو له معجزې په دلالت دده کي پر صدق دده برابري وې، انتهی، فقير وايي چي تولي معجزې سره برابري وې، نو خو بايد لفظ د جمع يې راوړی وای، ای الآيات او بل په واقع کي موسیٰ ع مقابله په لکړه ورسره وکړه.

فَكَذَّبَ وَعَصٰى ﴿۲۱﴾ ثُمَّ اَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿۲۲﴾ فَحَشَرَ فَنَادٰى ﴿۲۳﴾

فرعون يې تکذيب وکړی، يعني پر سحر يې حمل کړه کما في موضع آخر من القرآن العزيز (وعصی) يعني عصيان د خدای ج او د رسول بعد ظهور صدقه بالمعجزات (ثم ادبر) له دې ځايه ولاړ سو، مظهري وايي حين رئ الحية مسرعا في مشيه آه.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درویش وايي:** الآن خصص الحق ان ما قلنا سابقًا هو الحق چي آية كبرى لكړه وه چي مار سوه (يسعى) دا جمله حال ده له ماقبل څخه د ادبر، والمعنى څغاستى له ايمان راوړلو څخه، يا يسعى في الفساد (فحشر) اى الجنود والسحرة (فنادى) في مجمعه.

فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ اللَّهُ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولَىٰ ﴿٢٥﴾

(فقال) بيان دى د نادى، كلمه د فاء لپاره د تفسير ده، نو و ويل ده زه ستاسي رب يم، الاعلى هغه اعلى چي تر ما لوى خداى تاسي لره نسته، او بعض مفسرين وايي چي فرعون پر خپل شكل كوچني بتان جوړ كړي وه او رعايا ته يې تقسيم كړي وه چي دا ستاسي خدايان دي وانا ربكم الاعلى زه د ټولو رب يم.

(فاخذه الله) نو دى ونيوى د خداى دنيوي او اخروي عذاب.

**پوه سه:** چي نكل په لغت كي ضعف او عجز ته وايي ويقال لما يمنع الشئ عن الشئ (چي يو شى له بل شي څخه منع كوي) له دې سببه يې اطلاق كېږي پر قيد د يو دابة يعني چي ويې تړي ولي چي دا به منع كوي له څغاستي څخه، او لجام ته د دابې هم وايي يعني ملونه چي د آس په خوله كي وي لكونهما مانعين عن السير.

**پوه سه:** چي نكال اسم مصدر دى نو نكال يقال نكلته اذا فعلت به من عقاب شديد ما يمنع غيره عن ارتكاب مثله لكه په فرعون سره يې اغراق في الماء وليدى او په آخرت كي به احراق بالنار وويني.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰ ﴿٢٦﴾

يعني په دغه اخذ او نكال كي عبرت دى او نصيحت دى د هغه چا لپاره چي د خداى څخه بېرېږي، او روح البيان وايي چي د فرعون د انا ربكم الاعلى مراد دا ؤ چي زه رب اعلى د هغو كسانو يم چي زما تر امر لاندي دي من الملوك والامراء، وبالجملة ان فرعون لم يراد اى مراد يې نه ؤ چي زه خالق د آسمانو او د مځكي رب اعلى يم لانه بدهي البطلان ده.

**پوه سه:** چي په راتلونكي آيت كي رد دى پر هغو كسانو چي د بعث بعد الموت منكر وي چي بيان د خپل عالي قدرت ورته كوي، حاصل دا چي زه پر راتلونكو شيانو قادر يم نو ستاسي پر بعث بعد الموت باندي هم قادر يم، فقال.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ ۚ بَنٰىهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا ﴿٢٨﴾ وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ ضُحٰىهَا ﴿٢٩﴾ وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰىهَا ﴿٣٠﴾ اَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعٰىهَا ﴿٣١﴾

مبتداء ده محذوف الخبر تقديره انتم اشد خلقًا ام السماء اشد خلقًا منكم، والاستفهام للتقرير اى حمل المخاطب على الاقرار او مراد له سماء څخه سماء و ما فيها من الشمس والقمر والنجوم بقرينة ذكر الارض والجبال في مقام التفصيل وحاصل الآية ان السماء وما فيها اشد خلقًا منكم البتة لانهم بعض فيها والكل اعظم واشد خلقًا من الجزء بالبداهة فلما قدر الله على ذالک فالاعادة اهول من الله (بنٰها) جمله صفت دى د السماء.

**سوال:** السماء خو معرفه دى او جمله من حيث الجملة خو په حكم كي د نكره ده؟

**ځواب:** ان اللام للعهد الذهني مثل لقد امر على اللئيم يسبني، اى لئيم من اللئام، نو د دې دوو مقدمو څخه ماده د برهان جوړيږي، تقديره ان الله عزوجل بني السماء التي هي اشد منكم وكل من هو قادر على بنائها يا هو اضعف منها وهو الانسان بالبعث بعد الموت.

(رفع سمكها) السمک الارتفاع والمعنى جعل ارتفاعها بمقدار من الارض (فسواها) اى خلقها بلا فطور (واغطش ليلها) او تاريكه يې كړځولې ده شپه د آسمان.

**پوه سه:** چي اضافت د تاريكي يې و آسمان ته وكړى لحدوث الظلمة بحركة الشمس التي هي فيها الى ماتحت الافق (واخرج ضحٰها) او را ايستلې يې ده رڼا د ورځي بطلوع الشمس من الافق.

(والارض بعد ذالک دحٰها) او ځمكې يې وروسته تر خلق د آسمان وغوړول لپاره د سكنٰي.

**پوه سه:** چي الارض منصوب دى على شريطة التفسير، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى خلق الله الارض باقواتها في يومين قبل دحوها ثم استوى الى السماء فسواهن سبع سموات في يومين بعد ذالک ثم الارض بعد ذالک دحٰها في يومين، نو ځمكه سره د مافيها من الاقوات او سره د دحو په څلور ورځي كي پايه تكميل ته ورسېدل (اخرج منها مائها) را ويستلې خداى له ځمكي څخه اوبه د ځمكي چي چينې او كاريزونه يې پكښې پيدا كړه.



Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

**پوښتنه:** مرعى خو ځر ځاى ته د حيواناتو وايي، نو هغه يې ځرنګه له ځمکي څخه را ويستل، ځر ځاى خو عين ځمکه ده؟

**ځواب:** دا تسميه د حال ده چي وابنه دي په اسم سره د محل چي ځمکه ده او يا مرعى مصدر ميمي په معنى د مفعول دى.

وَالْجِبَالَ أَرْسٰهَا ۝ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ ۝

او خداى عزوجل غرونه پر ځمکه پيدا کړه تا چي ځمکه ونه ښوري لان الارض موضوعة على الماء (متاعا لكم) چي ستاسي فائده سي ايها الناس او ستاسي د حيواناتو لپاره.

**پوه سه:** چي متاعًا په معنى تمتيعًا دى منصوب دى على العلية لدحى و ارسى على سبيل التنازع.

فَإِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ۝

**درويش وايي:** چي هم دا اوس خداى عزوجل شروع کوي په بيان سره د احوالو د آخرت د دوى وروسته تر احوالو د معاش د دوى بقوله عزوجل متاعًا لكم آه، بالفاء الدالة على ترتب مابعدها على ماقبلها والطامة اعظم الدواهي (لويه د بلاؤ ته وايي لانه مشتق من تم اذا علا كما في المثل جرى الوادي فطم على القرى ولايخفى ان الطامة صارت علما ليوم القيامة او د الحسن" څخه روايت دى چي طامة الكبرى هو بعد النفخة الثانية، والطم في اللغة الغلبة ته وايي او بحر ته هم وايي لانه يغلب كل شئ والطامة عند العرب الداهية التي لايستطاع من ذالك سميت القيامة طامة لانها تعظم الدواهي كلها وتغلبها وروسته يې تاكيد وکړى په كبرى سره لمزيد تاكيدها في الطم واذا ظرف يتضمن معنى الشرط.

يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ مَا سَعٰى ۝ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِمَنْ يَّرٰى ۝

(يوم) بدل دى (يتذكر الانسان) يې جزاء ده، ور پياد به سي و انسان ته چي ده يې عمل کړى ؤ من الكفر والمعاصي چي دده په صحيفه کي نوشته وي، ګويا د مخه د دوى هېر کړي وه لفرط الغفلة او يا له سببه د طول د مدت يې (وبرزت) ماضي په معنى د مضارع ده عبر بالماضي لتحقق وقوعها (الجحيم لمن يرى) اى.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکل من یری، مقاتل" وايي يكشف الغطاء عنها (ای الجحیم چي مؤنث سماعي دی) اما الكافرون فيد خلها واما المؤمنون فيمرون عليها على الصراط.

فَأَمَّا مَنْ طَغَىٰ ۝ وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ۝ فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَىٰ ۝

نو هر چا چي سر کښي کړې وي يعني له حدود څخه د عصیان په کفر کي داخل سوي وي، او مختاره کړې یې وي حیوة د دنیا پر آخرت باندي باتباع الشهوات وهوى النفس الامارة بالسوء، نو په تحقيق سره د وږخ یې ځای دی.

**پوه سه:** چي هي ضمير فصل دی لپاره د حصر واللام في الماوی یدل على المضاف ای ماءواه، د ابو موسى الاشعري ﷺ څخه روایت دی من رسول اللهﷺ من احب دنیاه اخر آخرته ومن احب آخرته اخر بدنياه فأثروا ما يبقى على ما يفنى رواه احمد، وعن ابی هريرة قال رسول اللهﷺ حجبة النار بالشهوات وحجبت الجنة بالمكاره، په پښتو حجاب د اور شهوات د دنیا دي او حجاب د جنت مکاره د دنیا دي، متفق عليه، او له مسلم څخه روایت دی ان الدنيا ملعونة وملعون ما فيها الا ذكر الله وما والاه وعالم او متعلم، رواه الترمذي وابن ماجه.

**درویش وايي:** چي یو شاعر ویلي دي:

گر نفسی نفس درفرمان تست ...... شبه میا ورکه بهشت آن تست

نفس کشد هر نفسی بوی پست ..... هرکه خلافش نفسی زد برست

**درویش وايي:** چي محمد بن الحسن" وايي چي زه یو وخت بیده وم چي دروازه د بره سخته ټکبډ له. فقلت من ذالک؟ فقال رسول الخليفة هارون الرشيد يدعوک، فخفت على نفسي وقمت ومضيت معه، وقلت ما الحال قال دعوتک في مسئلة ان ام محمد يعني زه بیده وم ما هغې ته وویل چي زه امام عادل یم و امام العدل في الجنة. هغې راته وویل چي ته ظالم او عاصي یې قد شهدت على نفسک بالجنة فكذبت بذالک على الله او پر خدای چي څوک دروا غ وایي قصدًا ماینه پر طلاقه ده نو زه هم پر تا حرامه سوم، محمد بن الحسن" وايي ما ورته وویل یا امیر المؤمنين چي ستا څخه یو معصیت صادر سي ته په دغه وخت کي یا وروسته د خدای بېرېږې؟ هارون راته وویل والله اني اخاف الله خوفًا شديدًا، فقال محمد بن الحسن" ان لک جنتان لا جنة واحدة لقوله تعالى: ولمن خاف مقام ربه جنتان، او



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماینه دي هم نه ده دربانډي طلاقه، وامرني بالانصراف رخصت یې راکړی، فلما رجعت داري رئیت البدرة متبادرة الي، یوه بدره تخمینًا لس زره روپۍ. کېږي دا یې په طور د انعام راکړه، والله اعلم.

وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَىٰ ۝

او هغه څوک چي بېرېږي له درېدو څخه په ورځ د قیامت لحساب ربه، او نهي کړی یې ؤ نفس امارة بالسوء له خواهشاتو څخه خپل، په صحاح کي وایي چي هوی میل د نفس دی فیما یشتهیه قبل سمی هو الآن صاحبه لانه یهوی صاحبه الی کل داهیة (وهري بلا ته) او په آخرت کي الی الهاویة (یوه درجه ده په اور کي)

**یوه سه:** چي هوی رأس المنهیات واساس المحرمات، ابوبکر وراق ؒ ان الله عزوجل ما خلق خلقًا اخبث من الهوی، مظهري وایي وهو ای الهوی قبیح عقلاً وشرعًا (فان الجنة هي المأوی) جنت به دده ځای وي ای لیس له المأوی غیر الجنة کما یدل علیه ضمیر الفصل للحصر.

يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا ۝ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَاهَا ۝

پوښتنه کوي ستا څخه یا محمد (ﷺ) یعني قریش د قیامت په باره کي چي کله دی ثبوت او وجود د هغه، عن عائشة ؓ کان رسول الله ﷺ حتی نزلت هذه الآیة (فیم انت من ذکراها) والحاصل ان النبي ﷺ لشدة حرصه علی جواب هؤلاء السائلین کان یسئل الله فنزلت هذه الآیة په څه شي کي یې ته د تعین څخه د قیام الساعة، ولي دده تعیین یعني په اخفاء کي یې حکمت سته وانه لایرجی علمها نو علیه الصلوٰة والسلام دده څخه منع سو.

**فائده:** کلمه د ما فیم استفهامیه انکاریه ده.

إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَاهَا ۝

یعني عدة انقضاء عند انقضائها مفوض الی ربک لا یعلمها غیره تعالی حاصل د کلام دا دی چي د قیام القیامة علی التعیین د جهت د حکمت خفي په نېز د خدای دی لایعلمها غیره تعالی فلا فائدة في طلبها.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخۡشَىٰهَا ﴿٤٥﴾

يعني ته د دې لپاره نه يې استول سوی چې تعيين د وخت د قيامت وکړې بلکې د دې لپاره چې خلک له قيامت څخه وېروې يعني د قيامت د سختو حالاتو څخه هغه څوک چې سختو اهوالو څخه د قيامت بېرېږي حتى يجتنب من موجباتها من الكفر والمعاصي وخص من يخشاها لانه المنتفع بمواعظ القرآن.

كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَهَا لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا عَشِيَّةً أَوۡ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

(كانهم) اى الناس، چې دوی و ويني (لم يلبثوا) دوی درنګ نه دی کړی په دنيا کې يا په قبرو کې مګر يو د ماخستن وخت يا د څاښت وخت، لشدة الهول ولغاية طول هذا اليوم.

**درويش وايي:** چې تفسير د سورة النازعات په ثلث اخير کې د شپې د چهار شنبې په توفيق د خدای عزوجل پای ته ورسېدی وپسې تفسير د سورة عبس دی ان شاء الله العزيز.





Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة عبس مكية وهي اثنتان واربعون اية بسم الله الرحمن الرحيم اربعون اية فيها ركوع واحد كذا في

**پوهه:** چي دا سورة سورة الاعمی هم بولي او سورة الصاخة يې هم بولي الی غير ذالک من الاسماء.

ذکر البغوي ان ابن ام مکتوم ﷺ چي نوم يې عبد الله بن شريح ؤ راغلی و رسول الله ﷺ ته، او عليه الصلوة والسلام خبري کولې د عتبة بن ربيعه، اباجهل بن هشام، العباس بن عبد المطلب او امية بن ابني خلف سره، او عليه الصلوة والسلام دوی ته دعوت د اسلام ورکاوه، عبد الله ابن مکتوم چي په سترګو ړوند ؤ داسي يې عليه الصلوة والسلام ته ورناری کړي يا رسول الله اقرئني (ماته يو سورت د قرآن ووايه) وعلمني مما علمک الله، بيا بيا به يې ورناره کړه دی يعني عبد الله ام مکتوم چونکه په سترګو ړوند ؤ په دې نه پوهېدی چي عليه الصلوة والسلام د چا سره په خبرو اخته دی (که ړوند نه وای دومره دلاوري يې پر عليه الصلوة والسلام کله کوله) حتی چي د عليه الصلوة والسلام پر چهره اثار د کراهت پيدا سو لقطع کلامه او په زړه کي يې دا ور وګرځېدل چي دا مشران او صناديد د قريشو به وايي چي دده تابعان يا ړنديان دي يا مريان او يا د ټېري کښتي درجې خلک دي، نو ده مبارک تندی تريو کړی و اعرض عنه او دده د خبرو جواب يې ورنه کړی و اقبل علی القوم الرؤسا. کما کان فانزل الله تعالی:

عَبَسَ وَتَوَلّٰىٓ ۝١ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ۝٢ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰىٓ ۝٣

تندی يې تريو کړی او مخ يې ګرځني واړاوه دا چي راغلی ړوند، ای الاعمی وهو ابن ام مکتوم ؓ.

**فائده:** محل د ان جائه الاعمی نصب دی علی تنازع الفعلين، وکان رسول الله ﷺ اذا جاء ابن ام مکتوم يکرمه ويقول مرحبًا بمن عاقبني الله فيه ربي ويقول هل لک من حاجة (کار خو دي نسته) له سيدتنا عائشة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دوه واره دی خپل د خوا جای نشين ګرځولی دی پر مدينه باندي په دوو غزاؤ کي.

**فائده:** په دې آيت کي يعني چي اعمی لفظ يې ووايه چي دی معذور ؤ چي قطع د عليه الصلوة والسلام د خبرو يې وکړه.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**فائده:** ابن ام مكتوم مؤذن ثاني د عليه الصلوة والسلام ؤ په مياشت كي د روژي كما جاء في الحديث الصحيح قال رسول الله ﷺ ان بلالاً يؤذن بليل يعني لصلوة التهجد فكلوا واشربوا الى ان يؤذن ابن ام مكتوم.

**درويش وايي:** چي دا عادت تر دې اوسه پوري جاري دی في الحرمين الشريفين ولايخص بشهر رمضان، وكان ابن ام مكتوم من المهاجرين الاولين مات بالمدينة، وقيل شهد القادسية وعن انس رئيته بالقادسية وهي قرية من قرى الكوفة له راية سودا و عليه دروع ويقال لفتح عمر يوم القادسية فانه ظفر على العجم واخذ منهم غنائم كثيرة.

(ومايدريك) كلمه د ما يا استفهاميه ده للانكار يعني ته يا محمد څه خبريې يعني نه يې خبر، يا نافيه ده يعني نه يې خبر، والمآل واحد، په دې آيت سره اشاره ده و عذر ته د عليه الصلوة والسلام يعني انك لو علمت حال الاعمى تا اعراض نه واى ځني كړى مقبلاً الى غيره من صناديد قريش وعند الاعمى لانه لم ير استغنائك، اى شغلك بصناديد قريش.

**فائده:** په دې آيت اجلال دى د نبي ﷺ من وجوه (۱) موجب د انكار او سبب ده، او د اعراض په ابتداء كي كلام په لفظ د غيبت ذكر كړى او اسناد يې و ده مبارك ته په لفظ د خطاب ونه كړى ايهامًا بان ذالك اى الاعراض كانه من غيره وليس من شانه ذالك الفعل اى الاعراض عن الاعمى وتوجيه ذالك انه ورد في الحديث النبوي انما الاعمال بالنيات په دې ځاى كي خو هم غرض د عليه الصلوة والسلام له ده څخه اعراض مطلقًا نه ؤ بلكې عليه الصلوة والسلام په دې پوهېدى چي ابن ام مكتوم خو صحيح مسلمان دى ده تاخير في تعليمه اويا يې تولى او انحراف وكړى او صناديد د قريشو كه عليه الصلوة والسلام په تعليم د ابن ام مكتوم ځان اخته كړى واى ځني تلل او انتظار يې نه كاوه او صناديد د قريشو كه ايمان راوړى واى الا من معهم خلق كثير او فراخه سوى به واى دائره د اسلام جدًا. نو ددې غرض له كبله تولى د اعمى څخه د عليه الصلوة والسلام څخه نه ده صادره سوې وان ظاهرًا لكه صادره. (لعله يزكى) اصله يتزكى اى يتطهر عن الشرك الخفي والجلي و رزائل النفس وتعلق القلب لغيره تعالى.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ الذِّكْرَىٰ ۝٤ أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَىٰ ۝٥ فَأَنتَ لَهُ تَصَدَّىٰ ۝٦

اصله يتذكر فادغم التاء في الزاء يعني د خداى عذاب او ثواب ورپه ياد سوى واى فيزيد خشوعه وتضرعه ولوجهه الى الخالق جل سلطانه (فتنفعه الذكرى) ده ته به فائده ورسوي ستا موعظت وان لم يبلغ درجة التزكى التام، په كشاف كي وايي چي يزكى اشاره و مقام ته تخلية بالخاء المعجمة اى عن الاثام والمعاصي و قوله او يذكر اشاره ده و مقام ته د تحلية بالحاء المهملة اى ببعض الطاعات (اما من استغنى) او هغه څوک چي مستغني وي د ايمان و ما عندك من العلوم والمعارف كصناديد قريش فيما نحن فيه (فانت له تصدى) بحذف احدى التائين تخفيفًا اى تتعرض له بالاقبال عليه والاهتمام بارشاده واستصلاحه وهم صناديد قريش دون الاعمى، قال ابن عباسؓ في تفسير قوله تعالى و اما من استغنى عن الله بايمان بالتوحيد عليه وبماله من المال وفي روح المعاني فيه مزيد تفصيل فارجع اليه بالتامل.

وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَن جَاءَكَ يَسْعَىٰ ۝٨ وَهُوَ يَخْشَىٰ ۝٩ فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ۝١٠

يعني پر تا هيڅ جرح نسته چي دى تزكيه خپل په ايمان را و رو ونه كړي، (حاصل دا حتى چي ته حرص كوې پر اسلام د هغو معرضًا عن المتعلم الاعمى بل عليك البلاغ المبين) او هغه څوک چي راسي و تا ته په داسي حال كي چي سعي كوي په تحصيل كي د ماعندك من العلم والقرآن (وهو يخشى) الواو للحال او دى بېرېږي د خداى عزوجل له عذاب څخه دا حال مرادف د يسعى دى او متداخل.
(فانت عنه تلهى) ته ځان د هغه څخه مشغول كړې په صناديد سره د قريشو سره.

**فائده:** مرادف هغه حال دى چي ذو الحال يې يو وي او مداخل هغه حال دى چي و د بل د ضمير حال وي كما في كتب النحو.

**پوه سه:** چي دا جمله تفصيل دى د عبس و تولى و بيان لما عليه العتاب وهو اهمال الطالب وهو الاعمى وبذل الجهد في الغافل مع ان الاولى عكس ذالك.

كَلَّا إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۝١١ فَمَن شَاءَ ذَكَرَهُ ۝١٢

(كلا) ردع او منع ده اى لاتفعل مثل ذالك ابدًا (انها) اى القرآن.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**سوال:** قرآن خو مذکر دا رجاع د ضمير مؤنث سبب يې څه دی؟

**ځواب:** مؤنث ضمير چې يې ورته راجع کړی تاويل د قرآن په آياتو سره او يا په سبب د تانيث ده يعني تذکرة (تذکرة) نصيحت دی موجب لذکر الله (فمن شاء ذکره) که د چا خوښه وي اتعاظ و ذکر الله (ذکره) ای حفظه ای القرآن.

**پوهه:** چې په دې آيت کې يې اختيار و خلګو ته و سپاره، په دې کې توبيخ د معرضين عن القرآن دی وهم الکفرة الفجرة خصوصًا في هذه الايام چې قوم خبيث د يهود انو د عليه الصلوة والسلام پوښتو ګراف په ډېره بېشرمۍ او اهانت اميزی سره دنياوالو ته پېش کړی دی او امريکايانو يې هم تائيد کوي، اللهم اشغل الظالمين بالظالمين واخرجنا من بينهم سالمين.

**پوهه:** چې اختيار چې يې من شاء ته وسپاره توبيخ دی معرضين عن القرآن وثناء للشائقين العاشقين علی تذکر القرآن.

فِىْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿۱۳﴾ مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ﴿۱۴﴾ بِاَيْدِىْ سَفَرَةٍ ﴿۱۵﴾ كِرَامٍۢ بَرَرَةٍ ﴿۱۶﴾

په صحفو کې ای مثبتة مکتوبة في صحف.

**پوهه:** چې (صحف) يا صفت دی د تذکرة يا خبر ثاني دی لان، يا خبر د مبتداء محذوف وفي دی ای هي في صحف، والمراد بالصحف اللوح المحفوظ.

**سوال:** لفظ د لوح محفوظ خو مفرد دی او صحف خو جمع د صحيفة ده؟

**ځواب:** لوح محفوظ چونکه مشتمل پر ټولو صحفو د ټولو انبياؤ عليهم السلام فکانه صحف، يعني نسختها الملائکة عن اللوح المحفوظ او صحف الانبياء بدليل قوله تعالی وانه لفي زبر الاولين، وقوله تعالی وانه لفي صحف الاولی صحف ابراهيم و موسی او المصاحف التي اکتبها الصحابة الکرام رضي الله عنهم عن النبي ﷺ (مکرمة) ای عند الله (مرفوعة) القدر عند الله (مطهرة) چې مس د لاس د جنب او نفسا والمحدث پاک دی (سفرة) جمع د سافر ده ای الکاتب ومنه يقال الکتاب وجمعه اسفار کما قال ابن عباس ومجاهد، فالمراد الملائکة الکرام او الانبياء، او يا کاتبان د وحي، او نور علماء وايي چې مراد رسولان دي يعني جمع د سفير ده بمعنی الرسول و سفير القوم الذي يصلح بينهم والمراد بهم الرسل من الملائکة ومن البشر وکذا کتبة الوحي وعلماء الامة فان کلا منهم سفيرين



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرسول والأمة، قال رسول الله ﷺ الذين الكتاب وهو ما هر به يعني ښه يې زده کړې فهو مع السفرة الكرام او هغه قاري القرآن چي ډېر په تکليف يې زده کړي له اجران دوه ثوابه خدای پاک ورکوي، يو ثواب د تکليف چي په زده کړه کي ده پر ځان يو وری بل له دې سببه چي اخير يې زده کړی، رواه الشيخان، وبهذا يظهر ان للماهر اجور غير متناهية (كرام) على الله يعني دوی د نورو قراؤ څخه جلا دي دوی هغو ته کمال زده کوي او طلب د بخښي ورته کوي (بررة) انقيادي صفت دی لعد الصفت لسفرة، وعلى هذا فقس حال العلماء.

قُتِلَ الْإِنسَانُ مَا أَكْفَرَهُ ﴿١٧﴾

(قتل الانسان) ای لعن لعنت دې وي پر انسان كافر (ما اكفره) څه شي دی کافر کړی، دا ښېرا ده وانسان کافر ته په ډېره بده ښېرا چي لعنت دی و تعجب لكفرة او سره د دې چي ده اتيان د واعي ډېر موجود دی پر شكر او ايمان راورو دده، مظهري وايي: وهذا الكلام مع اختصاره يدل على سخط عظيم وذم بليغ، قال مقاتل وكذا اخرج ابن المنذر عن عكرمة چي دا آيت نازل سوی دی په شان کي د عتبة بن ابى لهب، قصه يې دا ده چي اهل سير وايي چي عليه الصلوة والسلام خپل يوه لور ام کلثوم و عتبه ته په نکاح ورکړې وه وزوج اخيه اختها.

**تنبيه:** دا دواړې نکاحوي قبل النبوة وې والا فكلا يجوز نكاح المسلمة لمطلق الكافر فضلاً عن الشرک، نو وروسته تر نبوت د عليه الصلوة والسلام تبت يدا ابى لهب وتب آه، نو ابو لهب خپلو دوو زامنو ته وويل چي زما بود وباش پر تاسي حرام دی که تاسي د محمد دواړې لوڼې ور طلاقي نه کړې او هنوز يې واده نه ؤ سوی فطلقهما، وجاء عتبة حين طلق ابن کلثوم الى النبي ﷺ وقال كفرت بدينک، زه ستا له دينه منکر يم وفارقت ابنتک او عليه الصلوة والسلام ته يې ور حمله کړه قميص يې پر ځيري کړی، قال رسول الله ﷺ اما انى اسئال الله فاقول ان يسلط عليک كلباً من كلابه، اتفاقاً عتبه و شام ته راهي ؤ مع نفر من قريش حتى نزلوا مكاناً من الشام يقال له الزوراء ليلاً، فطاف عليهم اسداً (يو زمری راشوه سو او پر دوی شا خوا وګرځېدی) فقال عتبه انى اخاف دعوة محمد، نو دده ملګرو خپل ټولو له بارونه سره را جمع کړه عتبه يې پر سر د هغو ځايو ورواچاوه او ګرده بيده سوه، ولي چي د ورځي هم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سترګي سوي وه، نو څه وخت چي دوی تولهٔ د خوب په دریاب کي غرق سوه زمری خو اول شاو خوا وګرځېدی بیرته ولاړی، د عتبه ملګرو دی په خپل منځ کي پرې ایستلی ؤ، دوهم وار بیا زمری راغلی او تربیدو خلګو یې کرار کرار پښې اړولې څو د بارو پر سریې د خلګو په مابین کي د عتبه سر پرې کړی او ولاړی.

**پوښتنه:** رسول اللهﷺ خو د کلب د تسلط خواست کړی ؤ پر عتبه خو زمری مسلط سو؟

**ځواب:** کلب که څه هم په عرف عالم کي سپي ته وايي لکن په عرف کي د عربو هر درنده حیوان ته هم کلب وايي فافهم.

**پوښتنه:** د عتبه خو دوه وروڼه نور هم وه یعني عتیبه و معتیب ابنی ابی لهب د هغو حال څرنګه سو؟

**ځواب:** هغو وروسته تر واقعه مذکوره ایمان راوړی و کانا مع النبيﷺ په ورځ د حنین د غزاء.

مِنْ اَیِّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ ﴿۱۸﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ ؕ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ﴿۱۹﴾ ثُمَّ السَّبِیْلَ یَسَّرَهٗ ﴿۲۰﴾

له څه شي انسان پیدا کړه سوی دی. په دې آیت کي موجبات د ایمان او د شکر نعمتو د خدای عزوجل بیانوي، نو ابتداء یې له اول څخه د خلق وکړه لکونه اسبق النعم.

**پوه سه:** چي ضمیر د خلقه راجع دی و غیر مذکور ته المفهوم من المقام وسیاق الکلام والاستفهام للتقریر ای حمل المخاطب علی الاقرار بانه خلقه الله من نطفة (من نطفة) له مني څخه د نر او ښځي یې پیدا کړی دی.

**فائده:** په دې ځای کي مراد له انسان څخه عمومي انسانان دي، فلا یرد السوال بآدمؑ و حواؑ و عیسیؑ، له دې څخه حاصل دا دی چي تکبر بد شی دی.

تکبر عزازیل را خوار کرد ...... بزندان لعنت گرفتار کرد

**پوه سه:** چي من نطفة بیان دی لما ابهمه في قوله من ای شئ خلقه ای خلقه الله من نطفة (خلقه) في الرحم تامًا بعد الاربعینات الثلثة (فقدره) ای کتب الملک المؤکل بالرحم باربع کلمات شقي او سعید وما الاجل و مقدار عمله و اجله ورزقه (ثم السبیل یسره) اضمار علی شریطة التفسیر، معطوف علی قدره یعني ورته آسانه یې کړه لار د وتلو له نس څخه د مور.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**يوه سه:** چي کوچنی چي د مور په نس کي وي سر يې لوړ وي چي د خروج وخت يې سي سر کښته کړي او پښې يې لوړې وي، او که د مخه پښې راووځي وروسته سر دا چه کوچنی دی د مور لپاره خطر دی اپرېښن غواړي، او دا هم احتمال لري سهل له طريق الحق و سبيل الوصول الى الله تعالى ببعث الرسل وانزال الكتاب ليتم عليه الحجة.

**درويش وايي:** چي دا معنى بعيد ده او متبادر خروج له بطن ښځه د مور، او بعض مفسرين وايي: سهل عليه الحيوة الدنيا وما يتوقف عليه لان الدنيا سبيل اما الى الجنة واما الى النار وليست دار القرار، قال رسول الله ﷺ كن في الدنيا كانك غريب او عابر سبيل، رواه البخاري والترمذي وابن ماجه، دا ټولي خبري خو صحيح دي لكن كوچنى چي د مور په نس كي وي هغه لارد وتلو متبادر ده دا نوري خبري ډېري وروسته دي د طفوليت زمانه په مابين كي راځي تر سرحده د بلوغ، نو ثم السبيل يسره مناسب معنى هو الاول، والعلم عند الله تعالى.

**ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ ۝ ثُمَّ إِذَا شَاءَ أَنشَرَهُ ۝**

مرګ يې هم په نعمتو كي ذكر كړی لكونها موسلة الى القرار، واما التخلف في كالكفار فلسوء الاختيار، قال رسول الله ﷺ تحفة المؤمن الموت، رواه الطبراني واما كونه سببًا الى النار فلسوء اختياره الكفر والانكار، قال رسول الله ﷺ قيل (يعني په خوب كي) سيدًا بيني دارا و وضع فيه ماءدية (د مېلمستيا شيان) وارسل داعيًا (يو بلونكى و دې مېلمستيا ته يعني عمومي مهماني وه) فمن اجاب الداعي دخل الدار واكل من الماءدبة ورضى عنه السيد (يعني زما په مجرد دعوت زما مهمانى ته راغلې) ومن لايجب الداعي لم يدخل الدار ولم ياكل من المادية وسخط عنه السيد (او سيد هم ځني راضي سي چي زما مهمانى ته نه راغلې) فقال الله السيد و محمد الداعي والدار الاسلام والماءدبة الجنة، رواه الدارمي من حديث الجرسي والبخاري ايضًا (فاقبره) اى امر الله الناس ان يدفنوه في صيانة عن السباع.

**درويش وايي:** وهذا نعمت اخرى حيث صيت (چي وساتل سو انسان) يعني داسي يې ونه کړه لکه نور حيوانات چي مردار سي لکه پسه، بزه وغيرهما چي مردار سي يو ځای يې وغور ځوي نور حيوانات پر تول سي و يې خوري.



Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

(ثم اذا شاء انشره) وروسته هر وخت چي د الله اراده سي نو له قبره يې راژوندی کړي يعني بعد النفخة الثانية لاسرافيل.

**درویش وايي:** چي قيد د قبر اتفاقي دی ورنه هر ځای چي دده تخم پروت وي يعني عجب الذنب پروت وي پر هغه راژوندی کېږي، وقد مر في القرآن الکريم ان من قيد على الاحياء من النفخة قادر على الاحياء من التراب ايضًا، ولي قلاوي د خنو ډېري دي او د اوبو قلا چا نه ده ليدلې، او دا خبره پر ژبه د رسولانو خدای عزوجل را استولي ده ولو لا البعث والجزاء بالجنة او النار لکان الشاکر کالکافر وهذا قبيح جدًا وصدور القبيح محال على القادر المتعال عقلاً و نقلاً.

كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَا أَمَرَهُ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ إِلَىٰ طَعَامِهِ ﴿٢٤﴾

(کلا) ردع عما عليه الکافر من الکفر والانکار مع تلک الدلائل الموجبة للايمان والنعماء الموجبة للشکر والاحسان (لما يقض ما امره) بعد ما علم ووضح تلک الدلائل الواضحة لم يقض الى الآن ما امره تعالى من الايمان وشکر النعم الجليلة (فلينظر الانسان) و دي ګوري انسان په نظر د اعتبار دون الکبر والانکار (الى طعامه) اى مطعوماته يعني الى اسبابها الظاهرة.

أَنَّا صَبَبْنَا الْمَاءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾

اى المطر من السماء (صبًا) مفعول مطلق دی لتاکيد، وروسته موږ څيري کړه مځکه لپاره د راوتلو تا چي وږي تر راووځي او سبب بعيد يوې ده د مځکي نو پر دې اسناد و خدای ته مجاز دی اسناد و سبب ته دی.

فَأَنبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَائِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾

داني راشنې کوي لکه غنم، جوار وغيرهما او د انګورو تاکان قسم قسم لعل انګور، سره کشمش، سپين کشمش، توران وغيرهما او قضبًا شپيشتو ته وايي، او په قاموس کي وايي چي قضب کل شجرة نبيت وطالت اغصا على الارض لکه هندوانې، چمبر خيال، بادرنګ الى غير ذالک يعني چي ساق قائم على الارض نه لري، او بعض اهل لغت وايي قضب هغه وبنو ته وايي چي مرة بعد اخرى رېبل کېږي لکه شپيشتي، شوتل وغير ذالک (وزيتونًا ونخلاً) او د زيتون درخته او د خورما

درختـه (وحدآئق غلبًا) پـه قـاموس كي وايي چي حدائق جمع د حديقـه ده يعني باغچه يا باغ او د غلبًا معنى دا ده چي گڼې درختي پکښې وي يعني نږدي نږدي چي په پښتو يې گڼې درختي بولي.

**بوه سه:** چي هر تخم چي په مځکه کي واچوې او لندوالى د مځکي ور رسېږي بعد مدة قليلة د تخم د سر خوا وچوي او ترمځکي را ووځي او د پاى خوا يې هم وچوي هغه يې ريښې وگرځي، ذالک تقدير العزيز العليم الحکيم.

وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا ﴿۳۱﴾ مَّتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ﴿۳۲﴾

او فاكهه چي مراد ځني صرف خواپاكي وي، فقهاء وايي چي من حلف لا يأكل فاكهة لايحنث باكل التمر والعنب والزيتون لان العطف يقتضى التغاير اى عطف الفاكهة على ما قبلها لان ماقبلها مؤكل للتعين يعني د غذاء لپاره دون التفكهه صرفًا، نور د تفكهه مثال مالته، نارنج، نارنگي، شفتالو، شليل وغيره، او داغه رنگه نه حانتېږي چي يوه ميوه غذاء او دواړه وي لکه انار فافهم (وابًا) په قاموس كي وايي چي اب مرعى د حيواناتو او وښو ته وايي.

(متاعًا لكم) فائده ده ستاسي لپاره لکه غنم، جوار وغيرهما (متاعًا) مفعول له دى) او ستاسي د چارپايانو لپاره فائده ده.

فَاِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ﴿۳۳﴾

نو څه وخت چي راسي صاخة (په قاموس كي وايي چي صاخة شدة الصوت. والمراد بها نفخة الصور الثانية)

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِ ﴿۳۴﴾ وَاُمِّهٖ وَاَبِيْهِ ﴿۳۵﴾ وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِيْهِ ﴿۳۶﴾

په هغه ورځ به تېښتي هر سړى له ورور څخه او له موره څخه او له پلاره څخه او له مايني څخه او له زامنو څخه.

وجه او سبب يې د تېښتي څه دى؟ بعض مفسرين وايي لاشتغاله بشان نفسه او په دې هم پوهېږي چي نفع مي نه ور رسېږي، او بعض مفسرين وايي لبغضهم وكراهتهم لكفرهم وسوء حالهم، په حديث شريف كي له حضرت علي ﵁ څخه روايت دى چي خديجة الكبرى ﵂ له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي زما دوه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عیالونه په جاهلیت کې مړه سوي دي هغه به په قیامت چېرې وي تعني في الجنة او النار؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل هما في النار، د خدیجه رضي الله عنها مخ متغیر سو، علیه الصلوة والسلام چې د دې مخ ته وکتل نو بیې ورته وویل لو رئیت مکانهما لابغضتهما ته به پر مبغوضه سوې وای، الی اخیر الحدیث رواه احمد.

**یو سه:** چې یوم یفر بدل دی من اذا في قوله تعالی فاذا جاء.

**فائده:** د فاذا جائت الصاخة شروع په احوالو کې د معاد د دوی وروسته تر بیان ده او د معاش د دوی والفاء لترتیب ما بعدها علی ما قبلها.

## لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ۝٣٧

هر سړي ته له خلکو څخه یو حال شدید سته چې دی پر را ګرځوي د شان د غیر، د سیدتنا عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې دې له علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه کیف یحشر الناس؟ قال ﷺ حفاط (لڅي پښې) عرات (لغ پغ) دې ورته وویل و کیف تحشر انشاء قال حفاط عرات، عایشې رضي الله عنها ورته وویل واسویاه (دا یو لفظ دی چې د ډېر غم په حالت کې یې عرب وایي) الرجال والنساء حفاط عراة ينظر بعضهم بعضًا، فقرء علیه الصلوة والسلام في جوابها هذه الآية يوم يفر آه، روى هذا الحديث الطبراني والبيهقي والبغوي، په بخاري او مسلم کې دا لفظ زیات راغلی دی الامر یومئذ اشد من ذالک یعني من ان ینظر بعضهم الی بعض.

## وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ۝٣٨ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ۝٣٩

مخان (ای وجوه المؤمنین او یا معنی داده وجوه کثیرة ای من الناس المفهوم من قوله تعالی کل امرئ آه (یومئذ) ظرف دی متعلق بما بعده (مسفرة) یعني مثل ضباء الصبح (ضاحکة مستبشرة) صفت دی د وجوه په اعتبار د اصحابو الوجوه یعني خاندي به خوشحاله به وي.

## وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ۝٤٠ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ۝٤١

او ځیني مخان به په دې ورځ (چې مخان د کفارو دي کما سیصرح به الله) پر دوی به ګرد او غبار پروت وي (ترهقوها) پر دوی سرېږه (قترة) ای سواد وظلمة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿أُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَفَرَةُ ٱلۡفَجَرَةُ ۝٤٢﴾

الفجرة جمع د فاجر ده و معناه ظاهر.

**درويش وايي:** چي بحمد الله و حسن توفيقه لهذا العبد الضعيف المعمر تخمينًا في عمر (۹۹) كاله په ورځ د مازديګر د يکشنبې د ورځي تخمينًا (۸) د ذو العقدة الحرام (۱۴۳۳) فارغ سوم و لله الحمد و المنة.

**درويش وايي:** چي ما په ابتداء کي ددې تفسير د شروع نېټه نه وه ليکلې هم دا اوس چي وار په وار اخير او اتمام ته نژدې کېږي د فقير طمع و تمام ته زياتېږي، نو ما نن له کاتب څخه ددې تفسير د شروع پوښتنه په ټليفون کي وکړه هغه راته وويل چي له ابتداء څخه تر دې اوسه پوري نهه (۹) کاله تېر سوي دي.

**درويش وايي:** چي ما ابتداء د تفسير ايوبي په مکه مکرمه کي کړې ده چي په هغه کال زما زوی حاجي عبد الحکيم هم په حج کي زما ملګری ؤ هغه وويل چي د تفسير ايوبي صرف شروع تا په مکه مکرمه کي وکړه، ده وويل چي هغه کال د شروع تر اوسه پوري لس کاله تېر سوي دي لکن کاتب هغه شروع نه ده حساب کړې، ولي چي هغه شروع جزوي تېر ګاوه د مسلسل شروع له حساب څخه يې نهه (۹) کاله کېږي، وکلاهما على الحق.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او
pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ التَّكْوِيْرِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ تِسْعٌ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً

**پوه سه:** چي روح البيان دا سورة د سورة التكوير په نامه نومولی دی او مظهري يې نوم الكورت بيان كړی دی، او روح المعاني په اول عنوان كي سورة التكوير ويلی دی او وروسته يې دوه نومه نور زيات كړي دي سورة كورت و سورة والشمس كورت.

**درويش وايي:** چي دا سورة مكية دی باتفاق المفسرين او آيتونه يې نهه ويشت (۲۹) دي عند المظهري، وفي تفسير التيسير اته ويشت (۲۸) دي او روح البيان په ترديد سره ويلي دي چي آيتونه يې (۲۸) يا (۲۹) دي، والله اعلم.

**فائده:** له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل چي كه چا ته دا خوښه وركوي چي زه و يوم القيامة ته په سترګو وګورم نو سورت د اذا الشمس كورت و اذا السماء انفطرت و اذا السماء انشقت دي په غور سره مطالعه كړي چي يوم القيامة ورته رأى العين ورګرځي؛ رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن.

إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا النُّجُومُ انكَدَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا الْجِبَالُ سُيِّرَتْ ﴿٣﴾

كلمه د اذا شرطي ده او لفظ د الشمس مرفوع دی په فعل محذوف سره چي تفسيري يې كورت دی، وكذا كل ما عطف عليه يعني ضوء يې ولاړه سي او تاريک پاته سي، اخرج ابن جرير وابن ابی حاتم والبيهقي من طريق ابی طلحة عن ابن عباس رضي الله عنهما ای اظلمت او په نورو ډېرو احاديث شريفه ؤ كي راغلي دي في تفسير تلک الآيات چي خدای پاک و غورځوي لمر، سپوږمۍ او ستوري په درياب كي او باد دبور يعني د كښېني بار پر را والوزوي او پكي يې حتی يصير نارًا (واذا النجوم انكدرت) او چي ستوري له آسمان څخه را ايله سي او پر مځكه ولوېږي، له دي محاوري څخه اخستل سوی دی انكدر الطير ای سقط (مرغه را ايله سو) وقال الكلبي يمطر السماء يومئذ بنجومه (واذا الجبال سيرت) او غرونه له ځيلو ځايو څخه ولاړ سي بيا توته توته سي فكانت هباء منبثا. مثل ريګ روان.

وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ ﴿٤﴾ وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ ﴿٥﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴿٦﴾

يعني هغه اوښاني چي پر حمل يې لس مياشتي تېري سوي وي، جمع د عشراء او



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تر هغه وخت چي لنګېږي دغه نوم دی چي وضع حمل يې پر تمام د کال کېږي (يعني دوولس مياشتي او اوښان هغه نفيس مال د عربو دی چي ګرده عمر د دوی په لګيو پسې وي (عطلت) معطل پرېښول سي چي شپانه نه وي ورسره، ولي چي احوال د قيامت و ويني او يا مراد له عشار څخه وريځي دي يعني وريځ وي باران نه وي (واذا الوحوش حشرت) ابی ابن کعب رض وايي چي سره ګډوډ سي، او بعض مفسرين وايي جمعيت للقصاص بين الدواب پښتانه وايي چي د کلی او ښکروري کسات به سره کښل کېږي، وروی عکرمة عن ابن عباس رض حشرها موتها قال حشر کل شئ الموت الا الانس والجن (واذا البحار سجرت) قال ابن عباس رض او رپکښي بل سي ټول له دريابونه اور وګرځي چي لمبې وهي وهذا قول ابی رض، وقال مجاهد ومقاتل چي دريابونه ټول له سره يو سي خوړ او تريخ بلکي ټول له لوی رودونه لکه فرات، رود نيل، او هلمند رود يو درياب سي د تودو ابو چي حميم يې بولي د اهل النار لپاره.

وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ ۝ وَإِذَا الْمَوْءُدَةُ سُئِلَتْ ۝ بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ ۝

چي نفوس د انسانانو سره يو ځای سي يعني قرنت باجسادها بان ردت اليهما او قرنت کل نفوس ومن يطبقها ... فيضم الصالح الى الصالح والفاجر الى الفاجر او قرنت بکتابها او يعملها فالنفوس المترددة باعمالها السيئة والمطمئنة باعمالها الحسنة او نفوس المؤمنين بالحور العين ونفوس الکفرة بالشياطين.

**پوه سه:** چي په وخت کي د جاهليت عربو له لوڼو څخه داسي بد وړل چي ژوندی به يې دفن کولې، مؤدة يې له دې سببه بولي واد ثقل ته وايي نو دوی چي به ژوندی نجلۍ ښخه کړه دېري خاوري به يې پر واچولې چي درنه سي او ژر مړه سي، عربو دا کار يا د فقر له سببه کاوه او يا د عار له سببه چي که لويه سي مېړه به غواړي او هغه به يې وطي کوي دا دوی خپل پيغور باله.

**فائده:** دا پوښتنه له مؤدة څخه لپاره د تبکيت ده وائد چي پلار يې وُ کتبکيت النصاری بقوله تعالى: يا عيسى انت قلت للناس اتخذوني وامي الهين من دون الله، په دې آيت سره غرض تبکيت د نصاری وُ دی چي دوی په دغه ويل والا فلا فائدة في هذا السوال من عيسى لانه تعالى يعلم انه لم يقله. (باى ذنب قتلت) ته يې په کومه ګناه چي تا کړی وُ ته يې قتل کړې وائد دی يعني پلار دی.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**مسئله:** الواد گناه كبيره ده لانه قتل النفس بغير حق، او واد په حكم كي دي يعني گناه كبيره د اسقاط الحمل بعد اربعة اشهر تمام خلق الجنين، ونفخ الروح فيه واسقاط الحمل قبل اربعة اشهر حرام دي.

**مسئله:** كه يې حامل ښځه پر نس ووهل له هغې څخه كوچنی پيدا سو مړ، لكن تام الخلقة او ناقص الخلقة چي انسان څني جوړ دي، يو مريي يا ښځه تاوان دي واذا ولدت حيًا ثم مات ففيه كمال الدية.

**مسئله:** عزل د ذكر قبل الانزال له مينځي څخه روا دي ولا يجوز عن الحرة الا باذنها لكنه يكره مطلقًا لما روى مسلم عن خذامة بنت وهب سئلوا عن رسول الله ﷺ من العزل (اى عزل الذكر قبل الانزال) فقال رسول الله ﷺ ذالك الواد الخفي ثم قرء واذا الموؤدة سئلت الآية.

وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا السَّمَآءُ كُشِطَتْ ﴿١١﴾

چي صحيفه د اعمالو وويشل سي پر عاملينو لپاره د حساب د اعمالو چي مؤمن ته په راسته لاس وركول كېږي او كافرانو ته په چپه لاس وركول كېږي يا د شا له خوا وركول كېږي يعني چپه لاس يې تړشا ورو باسي عملنامه وركړي، اخرج ابن المنذر عن ابن جريج انه قال اذا مات الانسان دده عملنامه كرام كاتبين سره ويېچي ثم تنشر يوم القيامة فيحاسب بما فيها (چي په عملنامه كي څه نوشته وه هغه پر برابر حساب ورسره كېږي) وعن مرثد بن وداعة اذا كانت يوم القيامة تطايرت الصحف من تحت العرش فتقع صحيفة المؤمن في يده من جنة عالية وصحيفة الكافر في سموم وحميم (يعني دغه پر نوشته وي لكه د مؤمن پر صحيفه چي نوشته وه في جنة عالية.

(واذا السمآء كشطت) او هغه وخت چي آسمان يعني جنس آسمان زائل كړه سي، لكه د پسه څخه چي پوست وكاږي غوښي يې ښكاره سي، يا يو شی چي پرده پر هوا ره وي پرده څني ايسته كړي هغه ښكاره سي دلته هم ما ور السموات من الجنة والعرش ښكاره سي.

وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ ﴿١٢﴾ وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴿١٣﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ ﴿١٤﴾

او هغه وخت چي اور بل سي لاعداء الله، او هغه وخت چي جنت نژدې سي لپاره د متقينو، وفي آية اخرى وازلفت الجنة للمتقين غير بعيد، نو خبر به سي هر نفس.

**پوښتنه:** نفس خو نكره دي په اثبات، نو ترجمه يې په هر نفس سره څنګه روا ده؟



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**ځواب:** نعم لکن عموم يې په اعتبار د مقام دی (ما احضرت) ای ما فعلت من خير او شر، وهذا جواب لاذا الشرطية في قوله تعالى اذا الشمس كورت وفيما عطف عليه، والمراد بذالک الزمان الزمان المتبع الشامل لجميع ما ذكر من النفخة الاول الى دخول الجنة والنار.

## فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ۝١٥ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ۝١٦

کلمه د لا رد ده کلام ای ليس الامر كذالک ای کما يزعمون الكفرة من ان القرآن سحر او شعر او اساطير الاولين بيا خدای پاک وکړه په قسم سره (بالخنس) جمع د خانس ده وهو المتاخر، عرب وايي خنس الرجل عن القوم خنوسًا ای تاخر، واصل الخنوس الرجوع الى جانب، نو ځکه شيطان ته خناس وايي ولي دی چي خپل خرطوم پر زړه د بنده کښېږدي للوسوسة هغه چي د قرآن تلاوت يا ذکر د خدای شروع کړي دی ځني را ترشا سي واذا غفل رجع الى الوسوسة.

**فائده:** نو معنی د آيت دا ده چي زما دي قسم وي بالكواكب الرواجع وهي ما عدا النيرين يعني لمر او سپوږمۍ پنځه ستوري دي المريخ بالكسر ويسمى بهرام ايضًا، وزحل ويسمى كيوان ايضًا، وعطارد ويسمى كاتب ايضًا، والزهرة وتسمى اناهيز ايضًا، والمشتري ويسمى ترجيس ايضًا، وهذه الخمسة مع النيرين تسمى السبع السيارة لكن لا خنوس للنيرين (الجواري الكنس) جوار جمع د جارية ده بمعنى السير السريع، والكنس جمع د كانس ده وهو الداخل في الكنائس المستتربه، عرب وايي كنت الوحش لما دخل في كناسته الذي يتخذه من اغصان الشجر (چي ځانګي بې بولي) والمراد بها على ما اخرج الفريابي وسعيد بن منصور وعبد بن حميد وابن ابى حاتم والحاكم وصححه من طرق عن علي رضي الله عنه الكواكب ای جميعها لانها تختس نهارًا مع طلوعها عن العيون مع طلوعها وكونها فوق الافق، وتكنس بعد في المغيب فتكون تحت الافق كما تنكس الظبا، وروى تفسيره عن الحسن رحمه الله ايضًا واخرج ابن ابى حاتم عن امير المؤمنين علي رضي الله عنه هي النجم خمسة (وتسمى في عرف اهل الهيئة الخمسة المتحيرة) زحل، عطارد، مشتري، مريخ و الزهرة، والخنس الزواجع من خنس اذا رجع او وی ته ولي خنس وايي په دي آيت لانها تجرى مع الشمس والقمر وترجع حتى تخفى تحت ضوء الشمس فخنوسها رجوعها بحسب



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرؤية وكنوسها اختفائها تحت ضوء الشمس وتسمى المتحيرة لاختلاف احوالها فيما يشاهد هذا في روح المعاني وروح البيان.

وَالَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴿١٧﴾ وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾

او شپه (عسس) اى اقبل بظلامه او ادبر فهو من الاضداد) او سپيدې چې راوچوي ابتداء (وقيل امتد ضوئه) په تحقيق دا (قرآن) قول دى كريم دى على رسول الله، يعني چې خداى په را استولى دى، دده له ځانه جوړ كړى نه دى كما يزعمون من ان القرآن متقول بلكې قرآن د خداى دى چې په واسطه د جبرئيل يې را استولى دى.

**پوه سه:** چې مراد له رسول ځنخه يا جبرئيل دى.

ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾

چې خاوند د لوى قوت دى چې قرى د قوم د نورو ابو ځنخه پر وزر راپورته كړې او د آسمان و خواته يې چپه را واړوي، او يوه نعره يې پر قوم ثمود وكړه ټوله يې هلاک كړه، او جبرئيل آسمان ته چې ځي او راځي په يوه چشم زدن كې الى غير ذالک، او كه مراد په رسول كريم سره محمد ﷺ سي نو د هغه قوت په جذب كې د خلكو دى الى الله تعالى من الارشاد، له دې ځنخه ته قوت د جذب د عليه الصلوة والسلام ولګوه چې نوح ﷺ نهه نيم سوه (۹۵۰) كاله قوم ته تبليغ وكړى وما آمن قومه الا قليل اى اصحاب سفينة واحدة چې مجموع حساب يې اتيا (۸۰) كسانو ته رسيږي، او رسول كريم ﷺ په قوم كې درويشت (۲۳) كاله تېر كړه واشهر دينه في الآفاق وكان الناس يدخلون في دين الله افواجًا چې په حجة الوداع كې دده سره ملګري مؤمنان يو لک او ځلورويشت (۱۲۴۰۰۰) زره كسان وه من الصحابة وسعد رسول الله ﷺ الى السماء السابعة مالم يستطع جبرئيل فوق ذالک، كما قال الشيخ السعدي الشيرازي قدس سره:

چنان گرم درتيه قربت براند ...... كه درسدرة جبرئيل ازو باز ماند
بدو گفت اى عامل وحى بتر خرام ...... بگفتا فراتر مجالم نماند
اگر يک موئ برتر پرم ...... فروغ تجلى بسوزد پرم

ثم الى الارض في اقل من ساعة، ورئ ربه جل وعلا ولم يستطع لكه موسى چې له خداى ځنخه خواست وكړى: رب ارني انظر اليک فقال الله تعالى لن تراني (يعني د دنيا په ستركو لكن) لكن انظر الى الجبل فا استقر مكان فسوف فلما ربه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تجل الى الجبل جعله دگا وخسر موسى صعقًا الآية.

(عند ذى العرش) اى الله سبحانه (عند متعلق په ما بعد پوري دى يعني) (مكين) صاحب د جاه او منزلت دى (مطاع) فرمان وړونکی دی د عالميانو، قال الله تعالى: من يطع الرسول فقد اطاع الله.

**پوه سه:** چي ثم ظرف مكان دى للبعيد اى عند ذي العرش امين على الوحي يعني په وحي کي زيادت يا نقصان نه کوي، ويحتمل ان الظرف اعني ثم متعلق بمطاع يعني مطاع في الملاء الاعلى، قال من اطاعة الملائكة اياه يعني جبرئيل انهم فتحوا ابواب السموات ليلة المعراج بقوله افتح الباب لرسول الله ﷺ وفتح خزنة الجنة ابوابها وهذا بعينه اطاعة لرسول الله ﷺ.

وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴿٢٣﴾

يعني محمد (ﷺ) عطف على انه وايضًا جواب للقسم. فان كان المراد فيما سبق محمد ﷺ فهذا من قبيل وضع المظهر موضع المضمر يعني چي صاحبكم دى په ځاى د مظهر دى فهو (بمجنون) يعني چي څلوښت كاله قبل دعوى النبوة تاسي دى په عقل كامل آمين مكه بالى، اوس نو بيا څرنګه حكم د مجنون باندي كوئ وليس الا مكابرة دا رد دى د هغه قول د اهل مكه افترى على الله كذبًا ام به جنة (ولقد رآه) ضمير مرفوع راجع دى و صاحبكم ته اعني محمد (ﷺ) او ضمير منصوب راجع دى اى ذى العرش فعلى هذا قوله تعالى (بالافق المبين) ظرف مستقر دى حال دى من الضمير المرفوع، والمعنى رءى محمد (ﷺ) ذا العرش ليلة المعراج ذا العرش حال كون محمد ﷺ بالافق الاعلى على منتهى سموات السبع لانه لا مكان لله عزوجل.

وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾

(وماهو) يعني محمد ﷺ (على الغيب) اى ما يخبر بما يوحى اليه (بضنين) اى ليس بخيل بتبليغ ما يوحى اليه وتعليم احكامه.

وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَّجِيمٍ ﴿٢٥﴾ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾

او نه دى دا (قرآن) د شيطان مردود قول، يعني چي شيطانانو به آسماني خبري غلا كړي و كاهنانو ته به يې القاء كولي قرآن هغسي نه دى. دا آيت رد دى د هغه قول د



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهل مکه چي دوی به ویل محمد کاهن دی العیاذ بالله. (فاین تذهبون) الفاء لسببية والاستفهام للانكار على ذهابهم الى الباطل يا اهل مکه چي صاحب ستاسي کاهي کاهن بولئ او کاهي يې شاعر بولئ او کاهي يې مجنون او کاهي يې مفتر بولئ.

إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِينَ ﴿٢٧﴾ لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ أَنْ يَّسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾

نه دی دا (قرآن) مګر ذکر د ټوله عالم لپاره ای الانس والجن لان رسول الله ﷺ الى كافة وهو رحمة للعالمين وفيوض القرآن شاملة للملائكة ايضا كما يدل عليه قوله تعالى بايدي سفرة كرام بررة.

**پوهه:** چي په قاموس کي ليکي: الذکر بالکسر الحفظة للشئ كالتزكار والشئ الذي يجرى على اللسان والثناء والشرف والصلوة والدعاء وكتاب فيه تفصيل الذي وضع الملة وفي روح البيان اى موعظة والتذكر. (لمن شآء منكم ان يستقيم) اى القرآن لمن يتبع الحق خصوصا من حيث المنتطعون، بدل بعض دی من العالمين والاستقامة لفظ شامل جامع لجميع الاحكام، عن سفيان بن عبد الله الثقفي رضي الله عنه قال قلت لرسول الله ﷺ قل لي والاسلام قولا لا اسئل احدا بعدک وفي رواية غيرک، قال عليه الصلوة والسلام قل آمنت بالله ثم استقم وهو اخير مقامات الاسلام، له سليمان بن يسار رحمه الله څخه روايت دی چي آيت نازل سو لمن شاء ان يستقيم قال ابو جهل الينا يعني اختيار يې مونږ ته راکړی ان شئنا استقمنا وان شئنا لم نستقم فانزل الله تعالى:

وَمَا تَشَآءُوْنَ إِلَّآ أَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٩﴾

ای الاستقامة على الحق، فانه تعالى رب كل شئ بيده الملک فمن شآء الاستقامة فذالک من فضل الله ونعمته تعالى.

**درویش وایي:** چي د جمعې په ماخستن د ذی القعدة الحرام پر نهه (۹) (۱۴۳۳) تفسير د سورة التكوير پای ته ورسېدی، ولله الحمد والمنة وعلى رسوله الصلوة والسلام التحية وعلى آله واصحابه البررة.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الانفطار مكية بسم الله الرحمن الرحيم هي تسع عشرة اية

إِذَا السَّمَاءُ انفَطَرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا الْكَوَاكِبُ انتَثَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿٣﴾

هغه وخت چي آسمان (اى جنسه) سره څيري سي يعني ټوټه ټوټه سي. او چي ستوري را ولوېږي متفرق، او چي دريابونه يو و بل ته سره ور ايله سي. واختلط الملح والعذب. نو ګرده يو درياب و ګرځي.

وَإِذَا الْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿٥﴾

او چي کله قبرونه لغ سي يعني خاوري څني ايسته سي او مړي څني راووزي (علمت نفس ما قدمت واخرت) جواب د اذا دی وهذا نظير مامر في اذا الشمس كورت الى قوله علمت، بعض مفسرين وايي ما قدمت من عمل صالح او سيئ يا ما قدمت من سنة حسنة او سنة سيئة، وقيل ما صنعت و ما اخرت اى ترک من العمل، وقيل ما قدمت من الصدقات واخرت من الزكوة، وقيل ما قدمت الدنيا على الآخرة او بالعكس، وقد مر نظيره في قوله تعالى: ينبأ الانسان بما قدم واخر.

يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴿٦﴾

اى انسانه (يعني الكافر) ته څه شي غولولی او خطا ايستلی يې. او تا ته يې بنائسته کړی دی غرورًا ملصقًا (بربک) موجبًا للجرئة على عصيانه وترک ما امره به (الكريم) چي تجاوزکونکی دی يعني ژر سزا نه نسي.

**پوه سه:** چي يا ايها الانسان جمله معترضه ده د توبيخ پر بد کار، المفهوم من قوله تعالى علمت نفس ما قدمت واخرت نزل في الوليد بن المغيرة كذا قال البغوي، واخرج ابن ابى حاتم عن عكرمهؓ انها نزلت في ابى بن خلف وقال الكلبي نزلت في الاسيد بن كلدة ضرب النبي ﷺ فلم يعاقب الله عزوجل فانزل هذه الآية يقول ما الذي غرک بربک الكريم حيث چي عذاب يې دستي نه در کړی.

**فائده:** خداى عزوجل خپل ذات موصوف کړی په کريم سره له دې سببه چي منشاء د غرور ده کرم ده خداى دی چي مجرم ژر نه نيسي. او شيطان هم سړی په دغه د خداى کرم سره د خداى غرور کوي و يقول ان شاء قربک وان شاء عذبک ولا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعاجل بالعقوبة وهو المعنى من قول مقاتلؒ غره عفو الله حيث لم يعاقبه في اول مره
يعني چي عليه الصلوة والسلام يې وواهه، وقال السديؒ من عفو الله ورقفه
والاستفهام للانكار اى في ما غرک بربک الكريم يعني په دې عدم تجاوز د خدای
ته غره نه سي لانه مقتضى كرمه تعالى وعدم تعجيله بالعقوبة لا يقتضى اهمال
الظالم مطلقا وتسوية الموالي والمعادي فكيف واذا انضم اليه صفات القهر
والانتقام وفيه مبالغة في الانكار على الكفر فان عدم انتقامه ان يشكر ولا يكفر
ويستدعى الجد في الطاعة وعدم عصيانه لا الانهماک في عصيانه اغترارًا بكرمه.

**حکایت:** ان امرئة رفعت الى قاض چي زما مېړه پر ما بله ښځه په نکاح کړې ده،
فقال لا سبيل في الاعتراض عليه فان الله تعالى اباح له مثنى وثلث ورباع، ښځي
ورته وويل لو لا الحياء لبرزت بک حسنى وسألتک ان من كان في الجمال والحسن
مثنى هل يجوز له الاشتغال بغيري فسمع قولها رجل من اهل القلوب فصاح وغشى
فلما اقذف قال الهاتف يقول الم تسمع قول ال....... ولو لا الحجاب الكبرياء
والعظمة لا برزت لكم حسنى طالبًا حبًا مثلي هل يجوز له ان يشغل بغيري بل يجوز
له الاشتغال بغيري ومن مثلي وان يكون مثلي فاطلبني تجدني.

له جابرؓ څخه روايت دی اذا قام الرجل الى الصلوة قال قال رسول اللهﷺ
خدایؐ و ده ته مواجه سي يعني په نظر د قبول فاذا التفت په لمانځه كې چي دی بل
شي ته وګوري قال تعالى يا ابن آدم الى من تلتفت الى من هو غير مني اقبل الي
فاذا التفت الثانية يقول الله عزوجل مثل الاول فاذا التفت الثالثة صرف الله تعالى
عنه وجهه اى رضائه، رواه البزار، ابوبكر الوراقؒ وايي: لو قال لي ما غرک بربک
الكريم لقلت غرني كرم الكريم.

الَّذِیۡ خَلَقَكَ فَسَوّٰىكَ فَعَدَلَكَ ۙ﴿۷﴾ فِیۡۤ اَیِّ صُوۡرَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ؕ﴿۸﴾

هغه ذات چي ته يې پيدا كړى يې من تراب اى في خلق آدم عليه السلام ثم من نطفة ثم
وثم اى من علقة ثم من مضغة بعد ما لم تكن شيئًا (فسواک) اى فجعلک بشرًا
سويًا في الخلق وجعل اعضائه سليمة معدة لمنافعها (فعدلک) اى فصرفک
الى اى صورة شاء وفارقت عن سائر الحيوانات فتبارک الله احسن الخالقين (في
اى صورة) په كوم صورت كي چي وغواړي.



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

**پوهه:** چي ما زائد دی لتاکید التنکیر والتنکیر للتکثیر. قال مجاهد والکلبي ومقاتل" في اي شبیه من اب وام او خال او عم (رکبک) تا ته يي ترکیب درکړی ګاهي تور ګاهي سپین غنم رنګه، ګاهي ډیر جګ، ګاهي میانه قد، ګاهي قصیر.

**فائده:** په دې آیت کې دلیل دی پر ربوبیت او قدرت کامل د خدای عزوجل للتنبیه علی ان قدر علی ذالک المذکور اولاً قدر، ثانیًا بالبعث بعد الموت مؤکدة والتوبیخ والانکار علی الشرک والغرور فان من شانه کذالک لایجوز کفرانه.

کَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ ﴿٩﴾ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَاتِبِينَ ﴿١١﴾ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴿١٢﴾

(کلا) ردع ومنع عن الاغترار بکرم الله) بلکې تاسي انکار کوئ بالدین، بالاسلام وبالجزاء د عملو، په ورځ د قیامت واضراب عن الاغترار بکره یعني ای خلکو ستاسي امر او حال مقصور پر اغترار بکرم نه دی بلکې مع ذالک تکذبون بالدین (وان علیکم لحافظین) او په تحقیق پر تاسي حفظه سته، ای والحال چي کرام کاتبین چي ستاسي اعمال او اقوال ټول د ملکو سره دي (کرامًا کاتبین) چي کریم دي پر خدای ځاندي او ستاسي د عملو نوشته کونکي دي (یعلمون ما تفعلون) دوی خبر دي په هغه څه چي تاسي یې کوئ من خیر وشر، وروسته الحافظین بتلک الافعال تعظیمًا لهم تنبیهًا علی انه لایفوط عن علمهم شئ من الاعمال والاقوال.

**فائده:** په دې آیت سره توبیخ دی علی تکذیبهم.

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿١٣﴾ وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ﴿١٤﴾

په تحقیق هغه کسان چي نیکوکاران وي وصدقوا في ایمانهم واجتنابهم عن المنهي عنه من العقائد الفاسدة والاخلاق الذمیمة والاعمال القبیحة وامتثال اوامره، واخرج ابن عساکر" في تاریخه سماهم الابرار لانهم مع الانبیاء بالابناء والآباء یعني في نعیم، (وان الفجار) الذین ستر الدین والدیانة بالکفر والمعاصي والفجور (لفي جحیم)

**پوهه:** چي ان الابرار الی اخیر السورة متصل دی بقوله تعالی علمت نفس ما قدمت واخرت، في روح البیان وما ادراک جزائه ای عذابه، روی سلیمان بن عبدالملک قال لابی حازم المدني لیت شعري مالنا عند الله تعالی فقال اعرض اعمالک علی کتاب الله تعالی تعلم مالک عند الله، قال فاین اجد في کتاب الله



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى قال ان الابرار لفي نعيم وان الفجار لفي جحيم، قال سليمان فاين رحمة الله، قال ان رحمت الله قريب من المحسنين، انتهى.

يَّصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِيْنَ ﴿١٦﴾

دوی به ورداخلیږي په ورځ د جزاء، او نه به وي دوی ورک له جحیم څخه (ای بعض الفجار والمراد بالفجار کفار دي لانهم الفرد کامل منهم) (بغائبین) لخلودهم فیها. او المعنی ماهم کانوا عنها غائبین قبل ذالک او کانوا یجدون سمومها في القبور. وعن عبدالله بن عمر رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ چي يو ستاسي څخه چي مړ سي (عرض علیه مقعده بالغداة والعشي) نو ښکاره سي پر ده ځای دده سهار او ماښام (ان کان من اهل الجنة فمن اهل الجنة وان کان من اهل النار) نو دا ورته وویل سي چي دا خو ستا ځای دی حین یبعثک الله یوم القیامة، وفي الحدیث البراء بن العاذب رضي الله عنه قال ذکر رسول الله ﷺ ذکر حال الکافر في القبر یسئال عن دینه فیقول هاه هاه (کلمه د متحیر ده) لا ادري فینادی من السماء کذب، فافرشوه من النار والبسوه من النار (یعني بستریې هم داور او کالي یې هم د اور وي) وافتحوا له بابًا الی النار، انتهی.

وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَآ اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿١٨﴾

او ته یا محمد (ﷺ) څه شي خبر کړې چي یوم الدین څرنګه شی دی (ثم ما ادراک) تاکید د اول دی لپاره د تعظیم ددې ورځي.

يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ۖ وَالْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴿١٩﴾

هغه ورځ به مالک نه وي هیڅ یو نفس بل نفس لره د هیڅ شي. ای شیئًا من ینفع شیئًا مفعول دی ای اذا کانت النفس کافرة مشرکة (والامر یومئذ) او حکم به په دغه ورځ خدای لره وي، یعني وحده.

**پوښتنه**: امر خو په دنیا کي هم خدای عزوجل لره دی وحده في الحقیقة؟

**ځواب**: هو! په دې دنیا کي بعض خلک وایي چي د فلاني سرای یا باغ الی غیر ذالک د فلاني دي، لکن په قیامت کي دعوه د یو شي د اشیاء هم قطع سي لمن الملک الیوم؟ لله الواحد القهار، یعني ددې پوښتني د جواب سړی نه سي پیدا کېدای، نو خدای عزوجل ددې پوښتني جواب په خپله ورکړي لله الواحد القهار.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الْمُطَفِّفِينَ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ وَهِيَ سِتٌّ وَثَلَاثُونَ آيَةً

عن ابن عباس رضي الله عنه قال لما قدم رسول الله ﷺ المدينة كانوا اهلها من اخبث الناس كيلاً، فانزل الله تعالى قوله.

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴿١﴾ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ﴿٢﴾ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ﴿٣﴾

هلاکت دی سپک تلونکو لره، فاحسنوا الکیل بعد نزول الآية رواه الحاکم والنسائي وابن ماجة بسند صحيح، وقال السدي "قدم رسول الله ﷺ المدينة او په مدينه کي يو سړی ؤ يقال له ابو جهينة له صاعان يکيل باحدهما چي هغه کوچنی پيمانه وه و يکتال بالاخری چي هغه لويه پيمانه وه. فانزل الله تعالى: ويل للمطففين، وبين مراده الذين (اذا اكتالوا) ای اخذوا الکیل او وزنوا ولم يذكر الوزن اکتفاء بذکر الوزن في القرينة الثانية ولعل الکيل کان غالبًا کان هو الغالب في الاستعمال على الناس بقوله (اذا اكتالوا على الناس يستوفون) خپل حق يې پوره غوښتی، او کله چي پيمانه ورکوي هغوی ته يا يې په وزن ورکوي (يخسرون) ای ينقصون الکيل والوزن في هذه الصورة.

**پوهه:** چي دا د خيانت سبب دی په کيل او وزن کي چي بل ته يې ورکوي.

**پوهه:** چي تطفيف په کيل او وزن کي يو شی حقير دی نو چي دا فعل حقير موجب سو د ويل او د عذاب نو کثير دی بالطريق الاولی، قال رسول الله ﷺ خمس بخمس (۱) ما نقض العهد قوم الا سلط عليهم عدوهم، وعده نه ده ماته کړې هيڅ قوم مگر مسلط کړی دی خدای عزوجل پر هغو باندي دښمن د هغو (۲) وما حكموا بغير ما انزل الله الا فشا فيهم الفقر (حکم نه دی کړی هيڅ قوم په ماسوی د هغه چي خدای نازل کړی دی مگر پر هغوی فقر او مسکنت راغلی دی) (۳) وما ظهرت فيهم الفاحشة الا فشا فيهم الموت (او عامه سوې نه ده په دوی کي زنا مگر پر هغو عام مرگ راغلی دی) (۴) ولا نقصوا المکيال والميزان الا اخذهم الله بالسنين (ای القحط) او پيمانه يې سپکه کړې نه ده مگر چي غلي پر بندي کړل سوي دي او قحط پر راغلی دی) (۵) وما منعوا الزکوة الا حبس الله منهم المطر (او زکوة يې نه دی



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منع کړی مګر باران پر بند سوی دی) نو مدینې والو دا نصیحت واورېدی او عمل یې باندې وکړی، وروی ابن عباس رض قال رسول الله ﷺ ما ظهر الغلول في قوم (یعني له غنیمت څخه غلا کول ولو بمقدار شراک النعل) الا القى في قلوبهم الرعب (ېېره له دښمن څخه) وما فشى الربوا في قوم الا كثير فيهم الموت، وما نقص قوم المكيال والميزان الا قطع الله عنهم الرزق (یعني بقطع الامطار) ولا حكم بغير حق الا فشاء فيهم الدم، وما خطر قوم (اى نقض قوم) بالعهد الا سلط عليهم العدو، بعض مفسرین وایي چې قطع د رزق په تطفیف ورکول کېږي بجعله فقيرًا لا يقدر على شئ، وقد يكون بمنع الرزق مع قدرته عليه فلا يقدر الكل منه في حقه (له سببه د غایت حرص على جمعه) قال البغوي كان ابن عمر رض يمر بالبائع فيقول اتقن الله في الكيل والوزن اوف الكيل والوزن فان المطففين يوقفون يوم القيامة دونه، نو چې خوله د دوی تر انصافو د غوږو ورسېږي.

**درویش وایي:** چې د یو شي کېلي والی یا وزني والی د خلکو په اصطلاح پورې اړه لري، مثلاً په دیارو کي د عربو خورما، غنم، اوربشي وغیرها کیلي دي، او سره زر، سپین زر او وسپنه وغیرها وزني دي، او په دیار کي د افغانستان ټول شیان وزني دي بیله ګچو چې هغه په پیمانو خرڅېږي، او سمبټ نه وزني دي او نه کیلي بلکې عددي دي، او که یې سمبټ را نیول یا په وزن خرڅېږي ولکل قوم اصطلاح مختلف.

**پوښتنه:** دا تطفیف څرنګه امکان لري، خو بائع او مشتري دواړه حاضر دي په سترګو ورته ګوري؟

**ځواب:** دا خیانت یو چم دی د سرعة اليد في الكيل والوزن کي کېږي، سعدي المفتي رح وایي ان التفعل لپاره د تکثیر دی لان البخس اذا كان من عادتهم كانوا يكثرون التطفيف.

**پوه سه:** چې دا فعل د ډېر خست د طبع کېږي ولې چې تطفیف خو د یو ښخي کم شي دوی کوی ولې په کثیر خو سړی پوهېږي، وعن علي رض چې یو سړي زعفران خرڅول د ډېریې درانه ورکول حضرت علي رض ورته وویل اقم الوزن بالقسط ثم اربح بعد ذالك ما شئت، حضرت علي رض دی امر کړی په تسویه سره چې عادت یې سي او قدر واجب د ثقل څخه جلا سي، وعن مالک بن دینار رح انه دخل على



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جارله چي زكندن يې ؤ فقال يا مالك جبلان من نار، اى مالكه دوه غرونه دي د اور
او ماته وايي چي وروخېژه، مالكؒ وايي ما چي يې د ماينې ځخه پوښتنه وكړه
هغې راته وويل چي ده دوه منونه درلوده چي د چا ځخه به يې شي رانيوى په درانه
من او چي خرڅوى به يې هغه كوچنى من به يې وروه ايستى ...... بيت:

تو كم دهى وبيش ستانى دروزن ...... روزى بود كه ترا ازبيش خبر كنند

أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ ﴿٤﴾ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥﴾

ذكر الظن مكان اليقين اشاره ودې ته ده چي يو سړى چي فقط ظن يې وي پر
بعث بعد الموت لاينبغي موجبات تلك الشدائد فضلاً من انيكون مستيقنًا كما
يدعيه المؤمن، والاستفهام للانكار وفيه توبيخ وتعجيب من مالهم (اؤلئك) اى
المطففين فاعل دى د الايظن (انهم مبعثون) چي موږ بعد الموت بعث كېږو قائم
د مفعولي د يظن دى (ليوم عظيم) متعلق دى په مبعثون پوري، اى لحساب يوم
عظيم، او المعنى في يوم عظيم وهو يوم القيامة عظمها لعظم ما يكون فيه.

اخرج ابن المبارك عن الحسنؒ لقد مضى بين ايديكم اقوام لو ان احدهم انفق
عدد هذا الحصى لا به بېږداى چي نجات به نه كړم پيدا اله عظمته دډې ورځي.

يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦﴾

هغه ورځ چي خلګ درېږي لرب العالمين اى من القبور اى لحسابه وجزائه.

عن ابن عمرؓ عن النبيﷺ قال يوم يقوم الناس لرب العالمين حين يغيب
احدهم في رشحه (په خوله كې خپل) الى انصاف اذنيه، متفق عليه واخرج
الحاكم مثله عن ابى سعيد الخدريؓ وفي الصحيحين عن ابى هريرةؓ مثله.

كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ ﴿٧﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّينٌ ﴿٨﴾ كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ﴿٩﴾

هيڅ كله نه (كلا) ردع عن التعطفيف وتم الكلام) په تحقيق كتاب د فجارو
يعني صحيفې د اعمالو د دوى التي كتبها الحفظة والمراد بالفجار الكفار
(سجين) مشتق دى من السجن بمعنى الحبس، في القاموس السجين على وزن
السكين الحبس الدائم الشديد، او اخفش يې هم ترجمه په حبس شديد سره كړې
ده، وقال عكرمهؓ في خسار وضلال، ولما كان اى ما في الكتاب من الاعمال



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موجبًا لكونهم في الحبس الدائم والخسار والضلال، اسند ذالک الی الکتاب والا فالظاهر من الاحاديث والاثار اسم موضع فيه کتاب الفجار، کذا في القاموس وکون الکتاب في ذالک الموضع بان يوضع صحف اعمالهم هناک.

(وما ادراک ما سجين) تفخيم تهويل لشانه وقال الزجاج ليس ذالک مما کنت تعلمها ولاقومک (کتاب مرقوم) چي هغه يو کتاب دی چي پټ دي په هغه کي عملونه د دوی لکه يو مرقم پر جامه باندي چي نه ځيرېږي او نه محو کېږي، او يا معنی دا چي معلم په علامه سره دی من راه عرفه لاخير فيه، البغوي" وايي ليس هذا تفسير السجين بل هو کتاب مذکور ان کتاب الفجار آه. وقال البيضاوي هذا تفسير للسجين لقب به الکتاب المذکور لانه سبب للحبس. وقال المظهري والظاهر ان السجين مقر ارواح الکفار ومقر صحف اعمالهم.

وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُكَذِّبِيۡنَ ۝١٠ الَّذِيۡنَ يُكَذِّبُوۡنَ بِيَوۡمِ الدِّيۡنِ ۝١١

هلاکت دی په دغه ورځ د مکذبينو لپاره (ای مکذبين الحق) هغه کسان چي انکار کوي له ورځي څخه د جزاء د اعمالو چي ورځ د قيامت ده، صفت عامه دی د مکذبينو کقولک فعل ذالک الفاسق الخبيث.

وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖۤ اِلَّا كُلُّ مُعۡتَدٍ اَثِيۡمٍ ۝١٢

او تکذيب په ورځ د قيامت نه کوي مګر هغه څوک يې کوي چي مجاوز تر حد وي په جهل کي او په تقليد کي د آباء او اجداد حتی انکروا لقدرة الله علی الاعادة بعد الموت (اثيم) متعلق بالشهوات المشتغل بها عما ورائها وحمله علی الانکار عما ورائها.

اِذَا تُتۡلٰى عَلَيۡهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ ۝١٣

او کله چي پر دوی تلاوت وکړه سي د آياتو زموږ يعني آيتونه د قرآن دوی وايي دوی وايي دا د پخوانيو خلکو د درواغو قصې دي. قال خبر د مبتداء محذوفي دی ای هي اساطير الاولين، اساطير يا جمع د اسطار ده يا د اسطر ده ای الاحاديث التي لاحقيقة لها.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾

(كلا) ردع عن التكذيب وعما قالوا، وقال مقاتل اى لايؤمنون (بل) اضراب دى عن الردع لعدم درک قلوبهم الحق وتميزه من الباطل (ران) حفص" دلته پر بل باندي سكته كوي او نور راويان يې ادغام كوي د لام د بل په راء كي.

**پوه سه:** چي رين غلبې ته وايي ولاجل ذالک يقال ران الخمر على قلبه اى غلب عليه اذا سكره، حاصل د معنى دا دى چي غلبه وكړه پر زړه د دوى تاريكيو د ماكانوا يكسبون يعني المعاصي حتى چي ړانده سوه زړونه د دوى عن التميز بين الحق والباطل، عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ چي گناه وكړي يو بنده نو پر زړه يې يو تور ټكى پيدا سي، نو كه يې توبه وكښل او پښېمانه سو او استغفر الله يې وويل نو زړه يې پاک سي له هغه تور ټكي څخه، وان زاد زادت كه يې په گناه كي زيات وب وكړى هغه تور ټكي يې ډېرېږي حتى چي پر ټوله زړه يې غلبه وكړي فذالكم الران الذي ذكر الله تعالى في كتابه (كلا بل ران على قلوبهم ما كانوا يكسبون) رواه البغوي وكذا رواه احمد والترمذي وصححه يعني قال هذا حديث صحيح والنسائي وابن ماجه والنسائي.

كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوْبُوْنَ ﴿۱۵﴾

(كلا) ردع عن كسب المعاصي والدوام عليها الموجبة للرين) (انهم) يعنى الكفار (عن ربهم يومئذ) اى يوم الدين يوم يرى سبحانه المؤمنون (لمحجوبون) په حجاب كي وي بحجب ظلمات المعاصي فلا يرون سبحانه وتعالى كما لايرون الحق من الباطل، سئل مالک عن هذه الآية فقال لما حجب اعدائه فلم يرون تجلى لاوليائه حتى روه قال الشافعي" ففي هذه الآيات دلالة على ان اوليائه يرونه.

ثُمَّ اِنَّهُمْ لَصَالُوا الْجَحِيْمِ ﴿۱۶﴾ ثُمَّ يُقَالُ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۱۷﴾

وروسته تر دې چي دوى له خداى" څخه محجوب دي دوږخ ته به داخلېږي، بيا به وويل كېږي دوى ته اى من خزنة جهنم دا هغه عذاب دى چي تاسي يې په دنيا كي تكذيب كاوه.

كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْاَبْرَارِ لَفِيْ عِلِّيِّيْنَ ﴿۱۸﴾

(كلا) دلته په معنى د حقًا دى، تكرير للاول يعني حقًا ان التطفيف او بيان د



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای بیان کړی حال د ابرارو لکه دمخه چي یې بیان کړی حال د فجارو اشارة الی ان التطفیف فجور کما ان الایفاء ورع عن تکذیب العذاب.

ترجمه: په تحقیق کتاب د ابرارو په علیین کي دی، قال الفراء علیین نوم دی د یو ځای، پر صیغه د جمع لا واحد له من لفظه لکه عشرین، او بعض محققین وایي چي هو منقول من الجمع علی وزن فعیل مأخوذ دی له علو څخه. له براء بن العاذب ﷺ څخه روایت مرفوع دی الی رسول الله ﷺ چي علیین د یو ځای نوم دی په اووم آسمان کي تحت العرش، وقال ابن عباس رضي الله عنهما علیین لوح زبرجد خضراء تحت العرش اعمالهم مکتوب فیها ومن هذا قیل هو کتاب لاعمال الخیر که د ملکو وي او که د مؤمنانو د انس او جن، وقال عطاء عن ابن عباس الجنة وقال الضحاک هو سدرة المنتهی، والله تعالی اعلم.

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾

ته یا محمد (ﷺ) څه شي خبر کړې چي علیون څه شی دی. کتاب دی لیکل سوی (یشهده المقربون) صفت دی د کتاب کما مر في ویل للمکذبین هناک.

**پوه سه:** چي یشهده المقربون صفت دی کما في روح المعاني ای یحضرونه علی ان یشهد من الشهود بمعنی الحضور و حضور کتابه من حفظه في الخارج، او یشهدون بما فیه یوم القیامة علی انه من الشهادة وعلی الوجهین المراد بالمقربون جمع من الملائکة علیهم السلام کذا قالوا، واخرج عبد بن حمید من طریق خالد بن عرعرة ان ابن عباس سئل کعبًا عن هذه الآیة فقال ان المؤمن یحضره الموت وحضره رسل ربه عزوجل لایستأخرون ساعة ولا یستقدمون فاذا جاء وقته قبضوا روحه فیقولون هذا عبدک فلان ورفعوه الی ملائکة الرحمة ویدعون له بما شاء الله ان یدعوا له فنحن نحب ان شهدنا الیوم کتابه فینشر کتابه من تحت العرش فیثبتون اسمه فیه وهم مشهود وذالک قوله تعالی کتاب مرقوم یشهده المقربون، بیا ابن عباس له کعب څخه پوښتنه وکړه عن قوله ان کتاب الفجار لفي سجین، فقال ان العبد الکافر یحضره الموت ویحضر رسل ربک جل وعلا فاذا جاء ساعته قبضوا روحه فدفعوه الی ملائکة العذاب فاروه ماشاء الله ان یؤده من النشر العذاب ثم هنطوا الی الارض السفلی وهو سجین وآخر شیطان ابلیس فاثبتوا کتابه فیها وهو معنی قوله تعالی ان کتاب الفجار لفي سجین الی اخیر الحدیث.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ۝ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ۝

په تحقیق ابرار (ای الاتقیاء والسعداء) به په نعمتو کي وي، وروسته یې بیان کړی کیفیت د نعمتو اولها (علی الارآئک) جمع د اریکة ده یعني پلنګان په حجلة کي.

**پوه سه:** چي عرب اطلاق د اریکة پر نفس سریر نه کوي بلکې هغه سریر ته وایي چي په حجلة کي وي، حجلة یوه خونه یا خېمه ده چي ښائسته یې کړي د ناوي او د زوم لپاره په ښو ښو پردو وغیرها چي دواړه سره جمع سي نو اریکه یې بولي، وقد مر بیانه ایضًا (ینظرون) اکثره مفسرین وایي ینظرون الی ما اعطاهم الله من الکرامة والنعم وقال قتادة" ینظرون الی اعدائهم کیف یعذبون في النار.

تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ ۝

(دوهم صفت دی) بربېښي به تاته (ایها المخاطب) خوشحالي د نعمتو د دوی په مخانو کي، والخطاب لکل من هو اهل الخطاب یعني چي دوی ته وګوري د دوی پر مخانو آثار د خوشحالۍ ښکاریږي، جعفر صادق رحمه الله وایي یعني مثل تلاء لوء الشمس في وجوههم، دوبځانه مخان یې خندان وي.

يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ۝ خِتَامُهُ مِسْكٌ ۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ ۝

(دریم صفت دی) په دوی به څښل کېږي شراب صافي.

**پوه سه:** چي یسقون متعدي و دوو مفعولو ته دی یو یې واو دی چي په ځای کي د فاعل دربدلی ذی او دوهم من رحیق لان کلمة من په معنی د بعض ده. (مختوم) ای ما یختم به (مسک) مشک وي چي معروفه خوشبویي ده: او یا د معنی د مختوم دا ده ای ممنوع من مس الایدي الی ان یفک ختامه الابرار (وفي ذالک) ای الرحیق والنعیم رغبت دي کوي رغبت کونکی یعني التنافس لایلیق علی النعم الدنیویة لقلتها وفنائها بل التنافس یلیق بالنعم الاخرویة لکثرتها وبقائها.

وَمِزَاجُهُ مِن تَسْنِيمٍ ۝ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ۝

(ومزاجه) ای ما یمزج الرحیق (من تسنیم) قال البغوي" شراب ینصب علیهم من علو في غرفهم ومنازلهم. او بعض مفسرین وایي تنصب من فوق العرش، فان العرش بمنزله السقف للجنة، او بعض مفسرین وایي چي تسنیم یجري في الهواء



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مقسمًا فينصب في الاولى اهل الجنة على قدر ملئها، فاذا امتلئت امسك، وقال الضحاك هو شراب اسمه تسنيم وهو من اشرف اشربت الجنة او ابن مسعود روايت كړی دی له ابن عباس څخه، وهو خالص للمقربين يشربونها صرفًا ويمزج لغيرهم (يعني غير المقربين ته خالص نه وركوي نور شراب ورسره ګډوي كما يدل عليه ظاهر قوله عينًا يشرب بها المقربون)

**پوه سه:** چي باء په معنى د من ده يعني منها المقربون. مظهري وايي چي مراد د مقربون څخه اصحاب د كمالات دنيويه دي بالاصالة او بالوراثة وهم الصديقون. البغوي وايي چي يوسف بن مهران پوښتنه وكړه د تسنيم په باره كي له ابن عباس څخه قال هذا مما قال الله تعالى فلا تعلم نفس ما اخفي لهم من قرة اعين يعني ابن عباس حواله د علم و خدای ته وكړه.

إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾

په تحقيق هغه كسان چي ګناهګاران دي (يعني كفار د قريشو يعني ابوجهل، الوليد بن المغيرة والعاص بن وائل و امثالهم من مشركي مكة) دوی به په هغو كسانو پوري چي ايمان يې راوړی ؤ خندل به. لكه عمار، صهيب، خباب، بلال وامثالهم رضي الله عنهم من فقراء المؤمنين، مشركينو به په دوی پوري خندل د استهزاء له كبله دوی چي به تېرېدل مشركينو به ويل چي دا دي جنتيان راغله شنه د خندا به ولاړه.

وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا انْقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمُ انْقَلَبُوا فَكِهِينَ ﴿٣١﴾

او كله چي به مؤمنان تېرېدل پر دوی يعني كفار مكه باندي دوی به په سترګو او په ورځو اشارې ورته كولې د پسخند پر دول، او كله چي به دوی خپلو كورونو ته ولاړه نو په داسي حال كي به ولاړه چي پر خپلو پسخندو به يې لذت او خوند اخستی.

وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ هَٰؤُلَاءِ لَضَالُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ ﴿٣٣﴾

او كله چي به دوی، يعني كفار مكه مسلمانان فقيران وليدل، نو دوی به ويل په تحقيق دغه كسان يعنون فقراء المؤمنين ګمراهان دي يعني محمد (ﷺ) خطايستلي دي فضلوا عن دين ابائهم وتركوا لذات لما يرجون من الجنة وثمارها وغيرها من النعيم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درويش وايي:** چي پښتانه يو متل وايي چي: غلبېل كوزي ته ويل څو مره دې پر سوري دي دي، دا متل د اهل مکه د مشركينو سره ډېر ښايي دی چي دوی د اصنامو بتانو دين حق باله كه څه هم هغه د دوی په لاسو تراشلي ډبري وې.

(وما ارسلوا) او نه وه لېږل سوي (ای الكفار) پر دوی (ای علی المؤمنين) حفاظت كونكي د اعمالو د دوی او خپل پر ځانو د رشد او هدايت يقين يې كاوه. وما ارسلوا حال دی له فاعل څخه د قالوا.

فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾

(فاليوم) نن ورځ چي دوی مؤمنان په منازلو كي د جنت وويني چي پورته او كښېنته كېږي، نو هغه كسان چي ايمان يې راوړی وٌ په دنيا كي پر كافرانو به خاندي چي ځنځيران پر پښو چلي وي او لاسونه يې په طوق زير ذقن ور تړلي وي چي سرونه نسي كښېنته كولای چي اغلال يې بولي، قال ابو صالح وذالک ان يفتح الكفار ابوابها (دروازې د دوږخ) ويقال لهم اخرجوا ووځئ له دوږخ څخه، نو دوی چي دروازې د دوږخ خلاصي ووينې فاقبلوا اليها ليخرجوا والمؤمنون ينظرون اليهم فاذا انتهوا اليها غلقت، دروازې بيرته ورته بندي سي فبقوا متحيرين كذالک يفعل بهم مرارًا والمؤمنون يضحكون پر خاندي به كما كانوا يضحكون على المؤمنين في الدنيا. (على الأرائک ينظرون) پر خپلو كرسيو يا پلنګانو به ناست وي (على الأرائک حال دی) ورته ګوري به.

هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

آيا جزاء وركړه سوه كفارو ته د هغو كارو چي دوی به په دنيا كي پر مسلمانانو خندل، يعني پر فقراوٌ د مؤمنانو كما مر في صدر السورة.

تم تفسير سورة التطفيف بعونه تعالی قبيل خروجي الی صلوة الفجر من حجرتي يوم الاحد (٢٠) ذي القعدة الحرام سنه (١٤٣٣)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الانشقاق مكية بسم الله الرحمن الرحيم هي خمس وعشرون اية

اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ۝١ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝٢ وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ ۝٣

(السماء) مرفوع بفعل مقدر يفسره مابعده، والمعنى اذا السماء افتتحت بغمام ابيض يخرج منها، وكلمة الباء للآلة كما في قولك انشقت الارض بالنبات، او په دې غمام كې ملكې وي په لاسونو كې يې صحائف د اعمالو وي او فيه ملائكة وكان اشد و افظع فيكون انشقاق لنزول الملائكة بالاوامر الالهية (واذنت) اى استمعت وانقادت (لربها) لامره بالانشقاق (وحقت) اى حق لها الانقياد اذا الممكن لانه لابد من الانقياد (واذا الارض مدت) او هغه وخت چې مځكه سره فراخه سي ولا يبقى جبل ولا بناء، واخرج الحاكم عن ابن عمر رضي الله عنه اذا كانت يوم القيامة مدت الارض كالاديم وحشر الخلائق، عليه الصلوة والسلام وايي ثم ادعى اول الناس فاخر ساجدًا فيؤذن لي فاقول يا رب اخبرني هذا يعني جبرئيل انك ارسلته الي وجبرئيل ساكت لايتكلم حتى يقول الله عزوجل صدق ثم اذن لي في الشفاعة عبادك في اطراف الارض (يعني ستا بندګان په اطرافو كې د مځكې ماته وبخښې) فذالك هو المقام المحمود.

وَاَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ۝٤ وَاَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ۝٥

او مځكه راغورځوي هغه څه چې په دې كې دي من الموتى والكنوز (وتخلت) او مځكه ځان خالي كړي په تكلف كما هو مقتضى باب التفعل، حتى لايبقى في بطنها شئ (واذنت لربها) دا انقياد وكړي د امر د خداى په القاء او التخلية كې (وحقت) اذا الممكن لابد له من الانقياد كمامر.

**پوه سه:** چې جواب د اذا محذوف دى يدل عليه ما بعده اى يلاقي الانسان ما كدح (اى فعل) ويؤتي كتابه بيمينه فينقلب الى اهله مسرورًا او بشماله فيدعوا ثبورًا، وروى ابو القاسم الختلي في الديباج بنسد حسن عن ابن عمر رضي الله عنهما عن النبي ﷺ في قوله تعالى: اذا السماء انشقت الى اخير الآية قال انا اول من ينشق عنه الارض فاجلس جالسًا في قبري فيفتح لي باب الى السماء پر برابر د قبر زما



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حتى ينظر الى العرش ثم يفتح لي باب من تحتي حتى انظر الى الارض السابعة حتى چي زه ثرى و وينم وروسته بله دروازه زما پر راسته لاس خلاصه سي چي جنت و وينم او منازل د اصحابو زما و وينم، وروسته مځکه په ښوريدو سي تر ما لاندي زه ورته ووايم مالک الارض؟ مځکه ووايي چي زما رب زه امر کړې يم چي ځان خالي کړه نو زه ځان يکلخته خالي کوم له هغه څه څخه چي په ما کي وي، وذالک قوله تعالى القت ما فيها وتخلت او کما قال ﷺ.

## يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ﴿٦﴾

اى انسانه (خطاب الى الجنس) بيشکه ته مشقت کښونکى يې (کدح الانسان جهده في خير او شر (الى ربک) اى الى لقاء ربک يعني الموت وما بعده (کدحًا) اى سعيًا بليغًا مفعول دى د تاکيد (فملاقيه) عطف دى پر کادح ضمير يا راجع دى و کدح ته يعني فملاق کدحه اى حزاء ما عمل او يا ضمير و رب ته راجع دى اى فملاق ربک بعد الموت يعني يقوم الناس لرب العالمين.

**پوه سه:** چي يا ايها الانسان جمله مستأنفه ده لپاره د بيان د وعد او وعيد.

**فائده:** خداى عزوجل چي انسان ذکر کړى او ملاقات د هغه د خپل ځان سره اجمالاً بيا يې تفصيل شروع کړى بقوله عزوجل.

## فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا ﴿٨﴾

هر چي هغه سړى چي عمل نامه يې په راسته لاس کي ورکړل سي، وهم المؤمنون کلهم، نو ژر دى چي حساب ورسره وکړه سي حساب آسان، امام بخاري په خپل سند سره له ابن ابى مليکة څخه روايت کړى دى چي د عايشي ﵂ دا عادت وُ چي يو شى به يې وا وريدى له عليه الصلوة والسلام څخه او نه به په پوهيدله نو د عليه الصلوة والسلام څخه به يې بالفور پوښتنه کول او ځان به يې په پوه کاوه، نو عليه الصلوة والسلام يو وخت داسي وويل: من حسب عذب که د چا سره حساب وکړه سو (يعني په ورځ د قيامت) هغه ته عذاب ورکول کيږي، عايشي ﵂ پوښتنه ځني وکړه چي آيا خداى پاک داسي نه وايي: فسوف يحاسب حسابًا يسيرًا؟ قال ذالک العرض لا نفس عرض د بنده د عملو دى پرده (يعني فلاني کار دي کړى



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی بنده وایي هو) وهکذا الی یقره بذنوبه، خدای پاک ورته ووایي څه ما بخښلی یې عمل نامه په راسته لاس ورکړي، لکن من نوقش له د چا سره چي مناقشه وسوه په حساب کي هغه هلاکیږي، مثلاً فلانی بد کار دي کړی دی بنده ورته ووایي هو خدای پاک ورته ووایي ولي دي کاوه وهکذا... سعدي شیرازيؒ وایي:

برادر زکار بدان شرم دار ...... که در روی نیکان شوی شرمسار
بجایٔ که دهشت خورد انبیاء...... تو عذر گناه را چه داری بیا

وَّيَنْقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ۝٩

او را رهي سي له ځایه څخه د حساب یسیر و اهل ته خپل ای الی عشرته المؤمنین ورفقائه في طریق السعادة والکرامة خوشحاله سي په خپل حال سره چي له اهل نجات څخه وګرځېدی قائلاً هاؤم اقرؤا کتابیه.

وَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ۝١٠ فَسَوْفَ يَدْعُوا۟ ثُبُورًا ۝١١ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ۝١٢

او هغه څوک چي عملنامه یې تر شا په لاس ورکړه سي، اخرج البیهقي عن مجاهدؒ في هذه الآیة یجعل کتابه وراء ظهره فیأخذ به الکتاب وقال ابن السابت وېیچي چپه لاس دده تر څټ ګرېږي وباسي وشاته او کتاب یې را واخلي.

**پوه سه**: چي ثبور و هلاک ته وایي یعني تمنی د هلاک وکړي و یقول وا ثبوراه ندا و هلاک ته یعني چېري یې راسه ما هلاک کړه، د عربو دا عادت دی چي په حال کي د ډېري سختی وایي: یاویلتي، یا وایي: یا ثبوراه یا هلکتاه الی غیر ذالک.

**پوښتنه**: په سورة الحاقة کي ورآء ظهره نه دی ذکر سوی صرف دا ذکر سوي دي بل اکتفی بشماله یعني و اما من اعطی کتابه بشماله؟

**ځواب**: هورې مراد دا دی یؤتي کتابه بشماله حال کونه خلف الظهر.

(ویصلی سعیرًا) داخل به سي دوزخ ته یعني بایدي خزنة النار.

إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ۝١٣ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ۝١٤ بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ۝١٥

په تحقیق دی وُ په خپل اهل کي یعني په دنیا کي خوشحاله وُ بالمال والجاه غافلاً عن الآخرة والحساب، دا جمله علت دی لقوله تعالی: ویصلی سعیرًا.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(انه ظن ان لن يحور) رجوع به خدای ته و نه کړي لپاره د حساب او جزاء تکذیبًا بالبعث (دا تعلیل دی د سرورًا) ولي نه په تحقیق خدای دده په ده سره خبر ؤ. دا علت دی د اثبات د رجوع و خدای ته ای لیحورن و لیعذبن لان الله بصیر بما عمل فلا یهمله بل ینقم منه.

## فَلَآ أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ ﴿١٨﴾

نو قسم دی په شفق سره (بعض مفسرین وایي چي لا زائد دی ای فاقسم، او بعض مفسرین وایي چي فلا نفي د کلام سابق دی چي الن یحور اقسم زما دي قسم وي، نو پر لا وقفه خفیفه دي کوي، بعض مفسرین وایي چي کلام پر خپل ظاهر دی یعني دا خبره بې قسمه ضروري ده قسم ته ضرورت نسته. له شفق څخه مراد شفق بیضاء دی وروسته تر حمراء د لمر لوېدو وروسته) (و اللیل وما وسق) او زما دي قسم وي په شپه او په هغو شیانو چي شپه یې جمع کوي بعد ما کان منشرًا بالنهار من الدواب وغیر ذالک، او په سپوږمۍ. سره هغه وخت چي جمع سي نور دده چي لیالي بیض یې بولي چي ګرده شپه سپوږمۍ ولاړه وي (١٣-١٤-١٥)

## لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾

**پوه سه:** چي د لترکبن تاء په دې آیت کي ابن کثیر، حمزه او کسائي بفتح التاء وایي، نو یا به صیغه د مخاطب واحد مذکر وي خطابًا للنبي ﷺ، قال مجاهد والشعبي" یعني لترکبن یا محمد سماء بعد سماء ففي هذه الآیة بشارة للنبي ﷺ بالمعراج، والاحادیث الواردة في صفت المعراج وقصته قد مر ذکرها في سورة الاسری (یعني سبحان الذي اسری بعده الخ) ویجوز ان یکون المراد انه تتبع رتبة بعد رتبة في القرب والرفعة حتی جبرئیل تر سدرة المنتهی پوري ورسره ؤ په سدرة المنتهی کي ځني پاته سو، سعدي شیرازي" وایي:

چنان ګرم در تیه قربت بماند ..... که در سدره جبرئیل ازو باز ماند
بدو ګفت سالار بیت الحرام ..... که حامل وحی بر تر خرام
ګفتا فراتر مجالم نماند ..... اګر یک سر موی بر تر پرم
فروغ تجلی بسوزد پرم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ويجوز انيكون المراد يقعد درجة بعد درجة في القرب الى الله والرفعة ويجوز على صيغة الواحد المؤنث والضمير حينئذ راجع الى السماء اى لتركبن السماء حالاً بعد حال، هذا كله على انيكون الباء مفتوحة. على صيغة جمع المخاطبين فالمعنى لتركبن ايها الناس حالاً بعد حال وامرًا بعد امر في مواقف القيامة، وقال مقاتل يعني الموت ثم الحيوة وقال عطاء حالاً بعد حال في الدنيا فقيرًا مرة وغنيًا مرة اخرى. وقال عكرمة حال بعد حال وضيع لم بشئ ثم غلام ثم شاب ثم شيخ وقال مالک بن دينار عن ابن عباس يعني الشدائد والاهوال والموت ثم البعث ثم العرض وقيل غير ذالک.

**درویش وايي:** چي دا ټوله احتمالات عقليه دي او ټوله خو مراد نه دي، ولي عموم د مشترک باطل دی فالعلم عند الله.

فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾

استفهام دی للانکار والتعجيب دا جمله مرتبط ده بقوله لتركبن طبقًا عن طبق يعني انقلاب د دوی له يوه حال څخه و بل حال ته دليل دی چي محول الاحوال سته (لايؤمنون) حال دی له ضمير مجرور څخه د لهم، والعامل فيه معنى د فعل چي له مقام څخه فهمیږي ای ما يعملون. (واذا قرئ عليهم القرآن) او څه وخت چي دوی ته وويل سي قرآن دوی سجده نه کوي کلمه د اذا متعلق ده فلا يسجدون پوري. په نيز د ابو حنيفة دا آيت سجده تلاوت دی، والجملة الفعلية معطوفة على لايؤمنون.

**فائده:** دا آيت خو ظاهرًا دلالت کوي پر وجوب د سجدې فانه تعالى ذم من سمع القرآن ولم يسجد، نو يا به له سجود څخه مراد نفس خضوع وي مجازًا وهو الظاهر لاطلاق القرآن على كل آية وان لم يكن آية السجدة سره ددې په سماع سره د نفس قرآن سجده تلاوت نه لازمیږي اجماعًا، واما انيكون المراد بالسجود سجد التلاوة دی واللام في القرآن للعهد والمراد آية السجدة فحينئذ يكون دليلاً لابی حنيفة بوجوب سجدة التلاوة او سره ددې چي متعين آية د سجدة التلاوة سجده تلاوت يې فرض دی للشک في تأويل هذه کمامر بل بدليل ظني لکه خبر واحد يفيد الوجوب واحتج ابو حنيفة وصاحبيه بحديث ابی هريرة عن رسول الله ﷺ اذا قرء ابن آدم آية السجدة فجسد اعتزل الشيطان يبكی ويقول تأويله امر ابن آدم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالسجود فسجد فله الجنة وامرت بالسجود (يعني لآدم) فلم اسجد فله النار، رواه مسلم، وجه الاحتجاج ان الحكم (وهو الله تعالى) اذا سمع من غير الحكيم (وهو الشيطان) اذا سمع كلامًا ولم ينكره.

**درويش وايي:** چي مسائل او اختلافات د سجود التلاوة په كتابو كي د فقه مطالعه كړه.

## بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾

بلكې هغه كسان كافران دي تكذيب د قرآن كوي. او خداى ښه پوهېږي په هغه چي دوى يې په زړونو كي ساتي.

**پوهه سه:** چي كلمه د بل د اضراب لپاره ده يعني نه يې د عدم سجود عند سماع القرآن كوي هغه تكذيب د ټوله قرآن كوي، او خداى عزوجل خبر دى بما يوعون اى يجمعون من الاشراك والعداوة للنبي ﷺ او جمله حال ده له فاعل څخه د يكذبون.

## فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾

نو زېرى وركړه په دردناك عذاب سره، كلمه د فاء لپاره د سببيت ده او اطلاق د بشارت تهكم بهم واستهزاء بهم چي په ځاى كي د انذرهم بشرهم وواييه.

## إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾

مگر نه هغه كسان چي ايمان راوړى دى دوى، نو استثناء ده يا استثناء منقطع ده په معنى د لكن، فالمعنى الذين آمنوا غير مبشرين بالعذاب بلكې دوى لره اجر او ثواب دى غير ممنون يا معنى دا چي غير مقطوع چي ثواب د جنت دى چي قطع كېږي نه، يا معنى چي پر دوى منت او احسان نه اچول كېږي، يا معنى دا چي غير منقوص كم كېږي هم نه.

**درويش وايي:** چي الحمد لله والصلوة على نبيه وعلى آله وصحبه اجمعين تفسير د سورة الانشقاق قبيل آذان الظهر پر يوه بجه د ذى القعدة الحرام (۲۰) (۱۴۳۳) تاريخ پاى ته ورسېدى. وروسته تفسير د سورة البروج شروع كېږي ان شاء الله العزيز العليم، اللهم وفقني لتفسيره بالخير والعافية والصحة والسلامة، آمين.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۝۱ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۝۲ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۝۳

زما دي قسم وي په آسمان سره چي هغه خاوند د بروج دی، برج په لغت کي ظهور ته وايي وروسته يې حسن يعني قلعه ته نقل کړی لظهورها کما يقال تبرجت المرئة ای ظهرت.

**پوه سه:** چي ظاهر د قرآن خو دا دی چي په آسمان کي قصور يعني خوني سته چي هغو ته بروج وايي، د پخوانيو خوانينو پر خپل قلعو پر څلور کونجه د هغې کلا به يې يو يو لوړ منار جوړ کړی ؤ چي هغه ته به دوی بروج وايه، قال عطية العوفي چي بروج هغه کلاؤ ته وايي چي په هغو کي پهره داران وي، ويدل الحديث المروي في بخاري و مسلم في ليلة المعراج ثم رفع لي البيت (يعني في السماء السابعة) دارًا بحذاء الكعبة، او وهب بن منبهؒ وايي ان لله في السماء السابعة دارًا يقال لها البيضاء يجتمع فيه ارواح المؤمنين الى يوم القيامة.

**فائده:** بعض مفسرين وايي چي مراد له بروج څخه بروج مصطلحه د اهل هيئت دي يعني الحمل والثور والميزان وغيرها، مظهريؒ وايي وهذا ليس بشيئ بلکې معامله د بروج د اهل هيئت يې و کفر ته متجر کړې ده، او روح البيان په دې باره کي لوی تحقيق په اوراقو کړی دی، او داغه رنګه روح المعاني هم چي د هغو ټولو رانقل کول به سر درد وګرځي د متعلمينو لپاره د تفسير ايوبي، نو بنه به دا وي چي د بروج څخه مراد هغه دي چي ظاهر د قرآن کريم دلالت پر کوي ای القصور والبيوت، او که څوک غواړي چي د دې بروج دي غايت تحقيق وکړه سي، نو روح البيان ته دي رجوع وکړي چي په اوراقو تفصيل يې کړی دی، داغه رنګه روح المعاني او مظهري دي مطالعه کړي، فقير د تفسير ايوبي متعلمان په دې جنجال نه اخته کوم والعلم عند الله.

(واليوم الموعود) عطف دی پر والسماء، يعني هغه وخت چي وعده يې کړه سوې ده يعني يوم القيامة (وشاهد) ای يوم الجمعة او يا جنس شاهد چي په حق سره ورکوي نو اشهد ان لا اله الا هو وغير ذالک (ومشهود) ای يوم عرفة او جنس يا شهد شاهد صدق.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**فائده:** ورځ د جمعې يې ولي شاهد وبلل ولې چې خلک پر خپلو کورو ناست وي ورځ د جمعې پر راسي، او ورځ د عرفات يې مشهود وبلل ولې چې عرفات پر خپل ځای وي خلک ورځي.

**فائده:** اقسم الله بهذه الامور لتعظيمها. روى احمد والترمذي عن ابى هريرة قال رسول الله ﷺ اليوم الموعود يوم القيامة والمشهود يوم عرفة ده والشاهد يوم الجمعة، او په ورځ د جمعې ساعة (تنكير لپاره د تقليل دی) لا يوافقها عبد مؤمن يدعوا الله فيها بخير الا استجاب له ولا يستعيذ من شر الا اعاذه الله منه.

**فائده:** دا ساعت هغه وخت دی چې امام په منځ کې د دوو خطبو کښېني ولا شک في قلته، وقيل بعد صلوة العصر الى غروب الشمس ولاشک في طوله في الجملة. والله تعالى اعلم الا ان يقال ان المراد اخير وقت العصر، سعدي شيرازي وايي:

در دنيا كه بگذشت عمر عزيز ..... بخواهد گذشت اين دمی چند نيز
گذشت آنچه در ناصوابی گذشت ..... در اين نيز هم در نيابی گذشت

**درويش وايي:** الاظهر دا ده چې مقسم به جنس شاهد دی يشهد بالحق وجنس الحق المشهود به، قال الله تعالى: شهد الله انه لا اله الا هو والملائكة واولو العلم فالشاهد هو الله والملائكة او كرام كاتبين والانبياء ومحمد ﷺ والمؤمنون خصوصًا امة محمد ﷺ و اولو العلم منهم ومن يشهد بالحق الخصومات واقامة الحدود والمشهود به هو كلمة التوحيد وصدق الانبياء وتبليغهم واعمال بني آدم وكل حق اشهد به شاهد صدق وعدل.

قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۙ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۙ

(قتل) مظهري وايي جواب د قسم قيل هو قتل دی لكن دی وايي چې دا ضعيف دی لشذوذ جواب بدون لام التاكيد، بلكې جواب د قسم محذوف دی يعني اقسم ان كفار مكة ملعونون، او روح البيان وايي چې جواب قتل دی محذوف لام التاكيد، او روح المعاني وايي جواب د قسم لطول الكلام والاصل لقتل آه، وقيل على حذف اللام وقد والتقدير لقد قتل اى لعن اصحاب الاخدود آه جمله دعائيه. او هغه توجيه چې بعض مفسرينو کړې ده چې دا جمله دعائيه نه ده بلكې جمله خبريه ده يعني قتل اصحاب الاخدود اى هلكوا فلا حاجة الى توجيه عدم ايراد لام التاكيد.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درويش وايي:** چي دا خبره خلاف الظاهر والظاهر انها دعائية.

الخد في الارض لکه والی په مځکه کي طول يې څلوښت ګزه ؤ عرض يې دوولس ګزه ؤ او عمق يې تخمينًا پنځه ګزه ؤ، له صهيب ﷺ څخه روايت دی چي په يمن کي يو بادشاه ؤ فيمن قبلکم، نو ده يو ساحر درلودی چي ساحر سپين ږيری او کلان ساله سو نو باچا ته يې وويل چي زه خو سپين ږيری سالخورده سوم، نو ته يو غلام (يعني ځوان) ماته را واستوه چي زه سحر ورزده کړم، نو باچا يو ځوان ور واستاوه په لار، دا ځوان چي به ساحر ته تلی نو په لار کي يو راهب ؤ (يعني د نصاری بزرګ سړی) غلام چي پر راهب تېرېدی دده خبري به يې واورېدې په زړه کي به يې خوند ورکړی نو به يو ګړی ورسره کښېنستی. نو ساحر ته چي به ورغلی نو هغه به وواهه چي ولي دومره ناوخته راغلې، او څه وخت چي به له ساحر را رهي سو بيا به يو ګړی د راهب سره کښېنستی او دده خبري به يې واورېدې، نو کور ته چي به راغلی د کور انسانو او قريبانو به هم وواهه چي ولي دومره ناوخته راغلې، فشکی ذالک الی الراهب فقال راهب اذا خشيت الساحر فقل حبسني اهلي. يعني چي ساهر د ځنډ پوښتنه در څخه وکړي ورته ووايه چي زه مور او پلار وځنډولم. واذا خشيت اهلک فقل حبسني الساحر. زه نن ساحر وځنډولم. نو دي ځوان په دې حيلو د ساحر او د قريبانو له ضرب او کوب څخه ځان خلاصاوه، يوه ورځ چي دی کور ته راتلی په لاره کي يوه دابة عظيمة وه مثلاً لوی آپي مار ؤ يا بل ورته شی ؤ چي د خلکو د آمد و رفت لاره يې بنده کړې وه، نو ده له ځان سره دا وويل چي زه به نن د ساحر او د راهب امتحان وکړم چي راهب افضل دی که ساحر. فاخذ حجرًا (يعني ملئ الکف) بيا يې په آله کي د ډبري وغور ځول چي په پښتو يې مچلوغزه بولي، او د ځان سره يې داسي وويل چي خدايه که حال د راهب افضل وي په نېز ستا نو فاقتل هذه الدابة چي د خلکو د آمد و رفت لار بېله سي فرماها فقتلها. نو لار د خلکو خلاصه سوه، فاتی الراهب فاخبره بالواقعة المذکورة نو راهب ورته وويل يا بني اذ بلغ امرک ماتری لکن ته به د دوو امتحانو سره مخامخ سې لکن ما چا ته مه ور ښيه يعني زما معلومات چا ته مه ور کوه، نو غلام کښېنستی مورزاده ړنديان به ورته راتله او پس خلګ به ورته راتله او نور مريضان نو خدای به دده په



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دعاء بنه کوله فسمع جلیس الملک بذالک چي په سترګو ړوند سوی ؤ فاتاه مع هدی کثیرة وقال هذا لک ان شفیتني فقال لا اشفی احدًا انما یشفی الله فان آمنت بالله دعوت الله ان یشفیک الله فآمن بالله ودعی الله الغلام فشفاه، فاتی الملک فجلس الیه کما کان فقال الملک من رد علیک بصرک؟ قال ربي فقال الملک ولک رب غیري فقال ربي وربک الله، ملک ورته په درد سو ضرب او کوب یې شروع کړی حتی دل علی الغلام فجیئ بالغلام فقال الملک یه بني قد بلغ من سحرک ما تبرئ به الاکمه والابرص وتفعل کذا و کذا، فقال الغلام لا اشفی احدًا انما یشفی الله فلم یزل یعذبه حتی دل علی الراهب راهب یې وروښوی، نو یې راهب راوستی راهب ته یې وویل ارجع عن دینک فلم یرجع نو یې آره راوړه پر مابین د سر یې ورکښېښول چي راهب دوه ځایه سو، بیا یې غلام راوستی او ورته وه یې ویل چي ارجع عن دینک فابی هغه منع وکړه، نو یې د نفرو په لاس ورکړی چي د جګ غره سر ته یې پورته کړئ له هغه ځایه یې راپوري وهئ چي ټوټه ټوټه سي، فقال الغلام اکفناهم بما شئت (ما خلاص کړئ له دوی څخه بما شئت چي ستا خوښه وي) یو وار غر په زلزله سو دوی یعني د ملک نفر ټوله د غره څخه راولوېدل او غلام سالم راغلی ملک ته فقال الملک ما فعل اصحابک (یعني چي درسره کړي مي وه) فقال الغلام زه زما خدای له دوی څخه خلاص کړم، بیا ملک نور نفر راغوښتل چي غلام بوزي په یوه کوچنی کښتۍ کي یې کښېنوي چي په عربي یې قرقور بولي د دریاب منځ ته یې بوزي، نو که یې رجوع له دین څخه وکړه خو بیرته یې راولئ او که یې رجوع ونه کړه په دریاب کي یې وغورځوئ، فقال الغلام اللهم اکفناهم بما شئت، نو کښتۍ چپه سوه دوی ټوله پکښي ډوب سوه یعني اصحاب الملک او غلام سالم راووتی نو ملک ورته وویل ما فعل اصحابک یعني چي ما ته په لاس ورکړي، غلام ورته وویل چي زه زما خدای خلاص څخني خلاص کړم دوی غرق سوه، نو غلام ملک ته وویل چي ته ما نسي وژلای مګر په دې تو ګه مي وژلای سې چي زه درته وایم قال الملک و ما هو هغه څه شی دی؟ غلام ورته وویل چي ستا رعایت ټوله سره را جمع کړه او زما د بغل ځولی څخه غشی را واخله او په لندۍ کي یې کښېږده، وقل بسم الله ورب الغلام



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو ما په وولـه، كه دا كار وكړې نو ما به مړ كړې ملک هم دغسي وكړه يعني خلک يې ټول سره را ټول كړه په يو خلاص ميدان كي يې دى په دار كړى غشى يې په لندۍ كي كښېښو او داسي يې وويل: بسم الله ورب الغلام ثم رماه فوقع السهم في صندعه فمات، فقال الناس كلهم آمنا برب الغلام، درې واره خلک ملک ته راغله چي دې مجمعې خو ټولو ايمان راوړى برب الغلام هغه ستا كوشش ناكامه سو چي ته ځني بېرېدلې حتى چي خلک ايمان را نه وړي هغو خو ايمان راوړى، نو ملک اخدود وكيندل او اور يې په بل كړى يو بت (صنم) يې د اخدود النار دمخه كښېښو چي كه څا دې بت ته سجده ونه كړه او د دين څخه بېزاره نه سو، نو په دغه اور يعني اخدود كي به غورځول كېږي، نو دا كار شروع سو حتى چي يوه ښځه مؤمنه چي يو كوچنى يې په غېږ كي ؤ دې يو څه درنګ وكړى له اور څخه يعني چي د ملک خبره ومني كه نه، نو هغه ددې د غېږي كوچني ورته وويل: يا اماه اصبري فانک على الحق، رواه مسلم في صحيحه.

(ذات الوقود) صفت النار وصفت النار به لكثرة التهاية، قال الربيع بن انس″ نجى الله تعالى الذين القوا فيه بقبض ارواحهم من قبل ان تمسهم النار وخرجت النار الى من على شفير الا من الاكفاء فاجر قتيرة.

إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ۝٦ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ۝٧

هغه وخت چي دوى به ناست وه پر كنارو د اخدود (قال مجاهد″ كانوا قعوداً على الكراسي يعني پر كرسيو باندي) او دوى پر هغو كارو چي د مؤمنانو سره يې كاوه اى الاحراق بالنار حاضر وه اى لم يكن هذا الفعل على غفلة منهم، او يا يشهد عند الملک بعضهم لبعض عند الملک چي فلاني هيڅ تقصير نه دى كړى فما امر به، وهذا معنى قوله تعالى (شهود) او يا معنى د شهود دا ده حضور لم يكن هذا التعذيب على غفلة منهم، يا معنى د شهود دا ده يشهدون على انفسهم يوم القيامة حين يشهد عليهم السنتهم وارجلهم وايديهم بما كانوا يعملون.

وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ۝٨

(وما نقموا) اى ما انكروا كره الكفار (منهم) اى من المؤمنين (الا ان يؤمنوا) اى لايمانهم فعلى هذا هو مفعول له او صيغه د مضارع يعني يؤمنوا په



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنی د ماضی ده بقرينة وما نقموا چي ماضي ده ای لان آمنوا (بالله) يعني دوی خدای نه پیژندی لفرط جهنم وشقاوتهم نو ایمان بالله منکر ګڼي موجبًا د عذاب د مناتو يې بولی (العزيز) چي هغه غالب دی في ملكه على كل شيئ فينبغي ان يخشى عذابه (الحميد) چي محمود دی منعم دی فينبغي ان يرجى ثوابه.

﴿ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ﴾ ⑨

هغه ذات چي ده لره بادشاهي ده د آسمانو او د مځکي يعني و ما فيهن لا اله غيره، دا جمله تقرير دی د دې چي خوف او رجا په خدای حصر ده خدای عزوجل چي ځان موصوف په دغو صفاتو سره کړی للدلالة على كون المؤمنين محقين پر حق، ولې چي خدای عزوجل په حقه سره پیژني يعني لآ اله الا الله حق داره د ثواب دی او كفار ظالمان دي فيما فعلوا بالمؤمنين نو دوی مستحق د لعن او عذاب دي، او خدای حاضر او ناظر دی پر هر شي يجازي على حسب ما عمل العباد من خير او شر.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ﴾

په تحقيق هر څوک چي عذاب ورکوي و مؤمنينو او مؤمناتو ته.

**پوهه:** چي دا موصول عام دی اصحاب الاخدود وغيرهم دواړو ته شامل دی يعني مؤمنان چي اخدود ته اچول سوي وي او غيرهم.

**فائده:** داسي مکائله چي پيښه سي مؤمن که اظهار د کلمة الکفر وکړي قلبه مطمئن بالايمان نو ورته رخصت دی کما في قصة عمار بن ياسر، وما جاء في الحديث ان اصحاب مسيلمة الكذاب چي په ژوند کي د عليه الصلوة والسلام يې دعوه د نبوت کړې وه، دوه کسان د مؤمنانو يعني من اصحاب رسول الله ﷺ يې نيولي وه يوه ته يې ويلي وه چي ته شاهدي ورکړه چي زه نبي يم هغه ورته ويلي وه نو هغه پرېښو، او هغه بل ته يې وويل چي ته شاهدي ورکړه چي زه نبي الله يم هغه ورته وويل ته مسيلمة الكذاب يې هغه قتل کړی، نو عليه الصلوة والسلام وويل چي هغه يوه چي شاهدي د مسيلمة الكذاب د نبوت يې وکړه هغه اخذ بالرخصة وکړی، او هغه بل چي انکار يې ورته وکړی هغه اخذ بالعزيمة وکړی يعني صبر پر قتل عزيمة ثواب يې د شهيد في سبيل الله دی لكن هلته اقرار روا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی چي د قتل یا د قطع العضو په پرې کېدو سره، او په نفس ضرب و کوب یا د بند په صورت کي نه دی روا اظهار د کفر.

ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ ﴿١٠﴾

بیا توبه ونه کاږي له دغه معصیت څخه نو هغه لره دی عذاب د دوږخ ای في القیامة یعني دوی مستحق د عذاب دي ابدًا که کافر وُ او که مؤمن داسي کار وکړي نو هغه و مشیت ته د خدای عزوجل پرېږدو ان شاء غفرله وان شاء عذبه عذابًا موقتًا لا ابدًا، ویحتمل ان المراد بالموصول الکفار دي فقط لان الکلام في اصحاب الاخدود هم کفار کما مر في القصة.

**یوه سه**: چي حریق په معنی د محرق دی لکه الیم په معنی د مؤلم، دا جمله یا تاکید د ماقبل جملي ده یا مراد ځني عذاب حریق دی په دنیا کي لان الغالب ان من حفر بیرًا لاخیه وقع فیه. وقد مر فیما سبق انه قد خرجت النار من الاخدود وقد حرق من کانوا علی شفیر الاخدود من الکفار فاحرقهم.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ

په تحقیق هغه کسان چي ایمان یې راوړی او صالح عملونه یې کړي وي د هغو لپاره جنتونه دي چي بهېږي به لاندي تر هغو (ای من تحت اشجار الجنة) ویالي د شیدو، اوبو، عسلو او د شرابو چي هیڅ د سر درد او غلول به نه وي پکښي کما في شراب الدنیا.

ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ ﴿١١﴾ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾

(ذالک الفوز الکبیر) ای بالنسبة الی الدنیا وفیها (ان بطش ربک) ای اخذ ربک بالعذاب (لشدید) یعني په سختۍ سره وي لا یمکن مدافعته، دا جمله متصل ده په هغه جمله پوري ان الذین فتنوا المؤمنین کانها تعلیل لها، وجملة ان الذین معترضة بینها لپاره د ذکر د جزاء د مؤمنانو وروسته تر جزاء د کافرانو کما هو عادة في القرآن العزیز.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾

په تحقیق هغه (ای الله) پیدا کوي خلک اول وار او بیرته یې ګرځوي په آخرت کي للجزاء، او یا معنی دا ده یبدء البطش الکفار في الدنیا ثم یعیده علیهم في الآخرة لانه لآ اله غیره حتی یمکنه دفع بطشه (وهو الغفور) لذنوب المؤمنین (الودود) المحب لمن اطاعه والمحبوب الیهم (ذو العرش) خالق العرش ومالکه القاهر علی کل شيئ (المجید) بالرفع لانه خبر بعد خبر دی لهو ومجده تعالی کونه عظیمًا في ذاته وصفاته واجبًا وجوده تامت قدرته وحکمته (فعال لما یرید) لایمنعه شيئ مما اراد، خبر بعد الخبر دی د هو و جملة هو یبدء ویعید الخ مادحة لله تعالی یوضح یا یفعل بالمؤمنین من المغفرة و الودة و للکارهین بانواع التعذیب.

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾

(هل) استفهام دی لپاره د تقریر یعني قد اتاک قصه د جنود (جمع د جند ده په معنی د لښکر چي دوی را جمع سوي وه پر انبیا علیهم السلام (فرعون) بحذف المضاف ای جند فرعون (وثمود) چي امثال د جنود د فرعون دی اهلکوا بالغرق ای جنود فرعون او یا بصیحة لجبرئیل علیهم کجنود ثمود او نحو ذالک ثم ادخلوا نارًا.

**درویش وایي:** چي ددې قصو د نقل فائده دا ده چي علیه الصلوة والسلام ته تعلیم د صبر کوي او ښروي قوم دده چي قریش د مکې دي چي پر تاسي به هم ورته حالات راسي لاشتراکهم في الکفر والانکار علی الانبیا علیهم السلام.

بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَاللَّهُ مِن وَرَائِهِم مُّحِيطٌ ﴿٢٠﴾

بلکې هغه کسان چي کفرېې اختیار کړی دی من قومک اول بنزول العذاب من الجنود الماضیة والامم السابقة لانهم سمعوا قصه د سابقینو امتو او د عذاب د هغو او آثار د خراب او د هلاک د هغو ومع ذالک (هم في تکذیب) په تکذیب کي تنوین لپاره د تعظیم دی ای في تکذیب عظیم للقرآن چي اشد دی تر تکذیب د امم ماضیه لان القرآن معجز، آیة کریمه: وان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا الآیة، کریمه: ولا یأتون بمثله ولو کان بعضهم لبعض ظهیرًا، دون الکتب الماضیة (والله من ورآئهم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محيط) احاطه ذاتيه بلا كيف (يعني احاطه له متشابهاتو څخه ده)

بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿۲۱﴾ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾

اى شريف عظيم عالي المرتبة في الكتب السابقة معجزة لفظه و معناه (في لوح) اخرج الطبراني ؒ عن ابن عباس ؓ ان رسول الله ﷺ قال ان الله خلق لوحًا محفوظًا مخلوقًا من درة بيضاء وصفاتها، ورقي يې د سورو ياقوتو دي وكله نور و كتابته نور لله تعالى في كل يوم ثلاث مأة و ستون (۳۶۰) كتبه ده يخلق و يرزق ويحي ويميت ويعز ويذل ويفعل مايشآء، قال البغوي ؒ بسنده انه في صدر اللوح لآ اله وحده دينه الاسلام محمدًا عبده ورسوله فمن آمن بالله عزوجل وصدق بوعده واتبع رسله ادخله الجنة و اللوح لوح طوله مابين السماء و الارض وعرضه مابين المشرق والمغرب وحافتاه الدر و الياقوت ودفتاه (وقايه يې) ياقوة حمرآء وقلمه نور و كتابته نور و كل شيئ فيه سطور هذا ما نقل المظهري، وقال مقاتل ؒ اللوح المحفوظ عن يمين العرش (د سړي خيال دا سي چي مقاتل ورختلى دى او ليدلى يې دى، ولي چي چاته يې حواله ونه كړه)

**درويش وايي**: چي روح المعاني بعينه دغه حديث روارى دى په اول كي يې ويلي دي والعهدة على الراوي، روح المعاني زياته كړې ده ونحن نؤمن به ولا يلزمنا البحث عن ماهيته وكيفية كتابته ونحو ذالک.

(محفوظ) صفت دى د لوح اى محفوظ من الشياطين ومن الزيادة والنقصان ولهذا سمى باللوح المحفوظ ومنه ينقل كل كتاب من الكتب المنزلة.

**درويش وايي**: چي په توفيق د رب جل سلطانه وقدرته التامة تفسير د سورة البروج په وخت كي د څاښت د ورځي د يكشنبې (۲۰) د ذى القعدة الحرام (۱۴۳۳) پاى ته ورسېدى، و ما توفيقي الا بالله العلي العظيم، والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين.

الهى عبدک العاصي اتاکا ..... مقر بالذنوب وقد دعاکا
فان ترحم فانت لذاک اهل ..... وان تطرف فمن يرحم سواکا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الطارق مكية وهي سبع عشرة آية بسم الله الرحمن الرحيم

قال الكلبي اتى ابو طالب عم النبي ﷺ او عليه الصلوة والسلام ته يې ډوډۍ او شيدې راوړې فبينما جالس يأكل اذ انقض بخم فامتلاء بيته نورًا، ابو طالب وبېرېدۍ عليه الصلوة والسلام ته يې وويل ما هذا؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل: هذا بخم رمى به وهو آية من آيات الله فعجب ابو طالب فانزل الله والسماء والطارق آه، او روح المعاني وايي سورة الطارق مكية بلا خلاف وهي سبع عشر آية وفي التيسير ست عشرة آية.

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ① وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ② النَّجْمُ الثَّاقِبُ ③

زما دي قسم وي په آسمان او په طارق.

**پوه سه:** چي طارق په اصل کي اسم فاعل دی من باب طرق طروقًا و طرق اذا جاء ليلاً، قال الماوردي اصل الطرق الدق (ټکول) ومن ثم سمي المطرقة (يعني سندان) لانه يدق به الحديد، وسمي به الطريق طريقًا لانه يطرق لانه يضرب بالرجل (په پښتو) وسمي طارق الليل طارقًا لاحتياجه الى طرق الباب لاحتياجه الى طرق الباب غالبًا (و ټکولو ته د دروازې په غالب کي) ولي چي دروازې ترلي وي د شپې له خوا، ثم اتسع فيه في كل ما ظهر بالليل كائنًا ما كان (هر شی چي وي) والمراد ههنا الكوكب البادي بالليل، وما قال الراغب عبر عن النجم البادي بالليل لاجنفتا من ظهوره المظلمة، قالت هند بنت عتبة يوم احد: نحن نبات الطارق اى ابونا كالنجم علوًا و شرفًا.

(وما ادراک ما الطارق) ته څه شي خبر کړې چي طارق څه شی دی. هغه ستوری دی روښانه (ثاقب: الثقوب سوراخ کردن) چي سوری کوي په ضياء سره ظلمات د شپې، وحاصل المعنى النجم المضئ في الليل بالغاية، يعني ستاره روشن و رخشنده و فرد وان چون شعله آتش لانه يثقب باضائه ما يقع عليه او الافلاک.

**پوه سه:** چي مراد جنس النجوم او جنس الشعب دی التي يرجم بها او للعهد فالمراد به الثرياء (پېروني) كذا قال ابن زيد وتسمية العرب النجم وقيل الزحل.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

# إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿٤﴾

**پوه سه:** چي دا جمله ده او کلمه د ان نافيه ده او لما په معنی د الا دی يعني نسته هيڅ نفس مګر پر ده حافظ (ساتونکی) سته من النفوس الطيبة والخبيثة وهو الله تعالى، آية کريمه: وکان الله على کل شيئ رقيبا.

**درويش وايي:** چي په مناسبت ددې آيت دوو صحيح حکايتونو ته غوږ ونسئ (۱) امير المؤمنين عمر رضي الله عنه يوه ورځ د يو پسه د رانيولو لپاره له مدينې څخه دباندې ووتی يوه لويه رمه د پسو يې وليدل، نو شپانه ته يې وويل چي يو پسه راباندي خرڅ کړه، شپانه ورته وويل چي پسونه زما نه دي زما د بادار دي زه مريی يم، عمر رضي الله عنه ورته وويل (يعني امتحانًا) چي يو را باندي خرڅ کړه که دي بادار پوښتنه درڅخه وکړه چي هغه فلانی پسه چېري دی ورته ووايه چي هغه لېوه راڅخه يوړی، شپانه ورته وويل: فاين الله؟ خدای به چېري وي، نو دې خبري د شپانه چي متضمن معنی لره د مراقبت وه عمر رض ته يې ډېر خوند ورکړی، نو د بادار د نامه پوښتنه يې څني وکړه شپانه نوم ورو ښوی، عمر رض د مريي مالک ته ورغلی چي ستا د پسو رمه سره د مريي په هر څو چي خرڅوې راباندي خرڅ يې کړه، خو خير د مجموع سودا يې ورسره وکړه، نو شپانه يې راوغوښتی چي ته پر ما حرا او آزاد يې او ټوله رمه د پسو ما تا ته بخښلې ده او يوه مينځه چي عمر درلوده هغه يې آزاده کړه او مريي ته يې په نکاح ورکړه او لوازمات د کور عمر رض پر غاړه واخستل، وروسته چي به عمر رضي الله عنه دی (مريی) وليدی نو به يې ورته وويل فاين الله، دا د يوه حکايت پښتو ژباړه وه او د مراقبت يعني وکان الله على کل شيئ رقيبا فائده په دنيا کي والآخرة خير وابقى.

(۲) دا حکايت که څه هم په فارسي دی خو درويش به يې په پښتو درته ترجمه کړي ان شاء الله العزيز، ولي اکثره خوانندګان د تفسير ايوبي په فارسي نه پوهيږي، په مکه مکرمه کي يوه فاحشه ښځه وه او يو بل سړی چي طاؤس يماني نومېدی او هم ډېر خوب صورت او خوش طبع او ډېر عابد او زاهد شخصيت و، نو دې فاحشې قصد وکړی چي زه به طاؤس يماني د خدای له طاعت څخه په معصيت اخته کوم، نو دا راغله په لاره کي د طاؤس يماني ودرېدل او خوږې خوږې خبري يې ورسره شروع کړې، طاؤس وپوهېدی چي ددې مقصد څه دی او


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې هم دعوت د زنی ورکړی. طاؤس ورته وویل چې ځای یې راسي، نو طاؤس د مخه ښځه په پسې داسي ځای ته چې طاؤس ورسېدی چې آمد و رفت د خلکو ډېر ؤ طاؤس ښځي ته وویل چې هم دغه ځای دی ستا د مقصود. ښځي ورته وویل سبحان الله، دا څنګه ځای دی زما او ستا د کار دا ټول خلک به راته ګوري او ته به زنا کوې؟ طاؤس ورته وویل الیس یرانا الله في کل مکان؟ دې خبري پر ښځي ډېر تاثیر وکړی او ملکه (قابلیت) د وکان الله علیکم رقیبًا یې پکښي پیدا کړه. او دا آیت هم طاؤس ورته ووایه یستخفون من الناس ولا یستخفون من الله. نو ښځي توبه نصوح وکښه له زنا څخه ابدًا. دا ؤ دویم حکایت د وکان الله رقیبًا په باره کي.

او ابن عباس رض وایي هم الحفظة من الملائکة وقیل حافظ یحفظه من الآفات.

**پوښتنه:** حفظه د ملکو څخه خو ډېري دي او داغه رنګه الحافظین من الآفات کي خو حافظ مفرد راغلی دی؟

**ځواب:** له حافظ څخه مراد جنس دی چې پر واحد او کثیر دواړو یې اطلاق صحیح دی. او دا چې په قرآن مجید کي راغلي دي وان علیکم لحافظین بصیغة الجمع منافات نه لري. والله اعلم.

فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ ۝

کلمه د فاء لپاره د سببیت ده فان الحفظة سبب لوجود المراقبة کما مر تفصیله وامثلته په ضمن کي د حکایاتو علی اعماله حتی چې په دې سره به دلیل ووایي علی صحة الاعادة بعد الموت فیستوجب بالله ورسوله باتباع ما امر من الاعمال والانتهاء عما نهی من الاعمال.

خُلِقَ مِن مَّاءٍ دَافِقٍ ۝ يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ ۝

(خلق من ماء) مراد له اوبو څخه دوې نطفې دي د نر او د ښځي چې سره یو ځای سي په رحم کي د ښځي (دافق) صفت د اوبو دی اسناد و ابو ته مجاز دی ولي دافق خو ذکر د نر دی او کما في عیشة راضیة ای مرغیة، نو هغه فاعل دی په معنی د مفعول ای مدفوق والدفق هو العب بمرة فالاسناد علی الحقیقة (یخرج) صفت اخری لماء (من بین الصلب) ای صلب الرجل ای ظهره، په صراح کي وایي چې د لغت یو


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كتاب دی الصلب الشدید باعتبار الشدة سمی الظهر صلبًا لان الظهر اقوی اعضاء الانسان (والترائب) ای ترائب المرئة، په قاموس کي وایي: الترائب عظام الصدر ما بين الترقوتين (د دوو ګرو تر مابين) او ما بين الثديين (د دوو تیو تر مابين)

**فائده:** د جماع په وخت کي دي نر د ښځي پر ځيګر زور نه کوي، ولي انزال يي د سختی سره مخامخ کيږي، بلکې د د بري خواته دي زور کوي چي د ښځي انزال په آساني سره وسي.

إِنَّهُ عَلَىٰ رَجْعِهِ لَقَادِرٌ ۝ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ ۝ فَمَا لَهُ مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ ۝

په تحقیق هغه (ای الله عزوجل) په بیرته راګرځولو سره (ای اعادته بعد الموت) (لقادر) لامکان الاعادة ای من قدر علی خلق الانسان علی النظام البدیع کمامر فلا یجوز انکار الاعادة بعد ما اخبر به المخبر الصادق وهو رسول الله ﷺ شهد بصدقه المعجزات المتتالية (یوم تبلی السرآئر) متعلق برجعه یا متعلق دی په مضمر پوري چي رجعه دلالت پر کوي ای یبعث یوم یظهر الخفایا چي خلګو به پټ ساتل من الاعمال والعقائد والنیات یعني یوم القیامة (فماله) ای الانسان المنکر للبعث (من قوة) یو قوت په خپل ځان کي.

**فائده:** فماله جزاء د شرط محذوف ده والتقدیر فاذا رجع ماله (ولا ناصر) نه یو مرسته کونکی چي له ده څخه عذاب دفع کړي.

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ۝ وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ۝ إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ۝

(والسماء) معطوف دی پر دمخه قسموا (ذات الرجع) ای ذات المطر سمی به لانه یرجع کل عام ویتحرک الکواکب الذي فيها يتحرک فيها بعد یوم او بعد شهر او بعد سنة (والارض ذات الصدع) او زما دي قسم وي په مځکه سره چي سره وچوي او نباتات څني راووزي یا چیني یا کاريزونه. (انه) په تحقیق دا (یعني القرآن) دا جواب د قسم دی (لقول فصل) قول فاصل بین الحق والباطل وبین الحلال والحرام.

وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ۝

نه دی قرآن مسخري او ساتيري او باطل بلکي حق خبري دي باید چي اوریدونکي یې په سماع د قبول واوري او زړونه ورته خاشع سي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾

بیشکه دوی (یعني کفار مکه) دوی حیلې او چمونه کوي په ابطال د امر د علیه الصلوة والسلام و اخفاء نور الحق یحیلهم (و اکید کیدًا) ای استدراجهم من حیث لا یعلمون او یا معنی دا ده چې خدای د دوی د کید جزاء ورکوي په آخرت کې سمی جزاء کید کیدًا للمشاکلة مثل جزاء سیئة سیئة (فمهل الکافرین) ته مهلت ورکړه کافرانو ته ولا تشتغل بالانتقام ولا تستعجل باهلاکهم (امهلهم) تاکید و تغییر الباب من التفعیل الی الافعال زیادة تحسین لعبارة القرآن ای امهالاً یسیرًا هذا وعد بالنصرة من الله تعالی.

**پوهه:** چې دا آیت منسوخ دی په آیة القتال سره په کشف الاسرار کې وایي چې په منځ کې د نزول دې آیة او د واقعې د بدر چې علیه الصلوة والسلام په درې سوه دیارلس (۳۱۳) یا (۳۱۵) کسه یې بری پیدا کړی د مشرکانو د مکه چې تعداد یې (۱۰۰۰) ته بالغ ؤ او (۷۰) کسه یې ځني مردار کړه په شمول د فرعون الامة ابوجهل او (۷۰) یې ژوندي په حصارت ونیوله.

**حکایت:** ابن سماک رح چې د برجسته عالمو د هارون الرشید د زمانې، نو دی ورغلی هارون الرشید ته چې عمومي سلطان د مؤمنانو ؤ پر بوریا ناست ؤ، هارون ورته وویل چې ماته یو څه نصیحت وکړه، ابن السماک ورته وویل لتواضعک في شرفک یعني چې پر بوریا ناست یې افضل من شرفک، هارون ورته وویل ما سمعت احسن من هذا، یا امیر المؤمنین من اعطی جمالاً و مالاً و سلطانًا و شرفًا فتواضع في شرفه وعف في جماله واتی من فضل ماله وعدل في سلطانه، هارون خپل کاتب را وغوښتی دا تېرې خبرې یې ټولې نوشته کړې، ثم قال هارون زدني: ماته نور څه وعظ وکړه، ابن سماک رح ورته وویل چې تر شرق او غرب پورې سلطنت ستا وي چې ملک الموت در ته راسي څه به دې په لاس کې وي؟ هارون الرشید ورته وویل زدني، قال ابن سماک رح هما موضعان اما الجنة و اما النار قال هارون حسبي ثم غشي علیه بېهوښه سو، ابن السماک وویل دعوه حتی یموت دی چې په هوش کې راغلی لویه جائزه یې ابن السماک ته ورکړه، یو سرې هارون الرشید ته



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وويل د شيطانت په لهجه چي ابن السماک ستا د بيهوشي په حالت کي وويل چي مديې بنوروئ چي مړ سي، فسئله هارون الرشيد عن ذالک القول يعني عن ابن السماک، قال ابن السماک يا امير المؤمنين ما احسن من ايقال ان هارون مات خشية الله، فاستحسنه الرشيد وزاد في احترامه، قال الحافظ الشيرازي:

بمهلتی که شهرت دهد زراه مرو .... ترا که گفت که این راه بترکستان گردد

فطوبى لمن قصر امله وطال عمره وحسن عمله، اللهم اجعلني منهم آمين، د چهارشنبې په ورځ د مازديگر پر (۲۵) د ذي القعدة الحرام (۱۴۳۳) له تفسير څخه د سورة الطارق فارغ سوم، اللهم منک واليک.

سورة الاعلى مكية بسم الله الرحمن الرحيم هي تسع عشرة اية

سورة الاعلى مكية وهي (۱۹) آية وتسمى سبح، والجمهور على انها مكية، وحكى ابن الفرس على انها مدنية لذكر صلوة العيد فيها وصدقة العيد وهي في المدينة، وذكره الجلال الدين السيوطي بما اخرج البخاري وابن سعيد وابن شيبة عن البراء بن عاذب ﷺ ان اول من قدم علينا من اصحاب النبي ﷺ مصعب بن عمير وابن ام مكتوم يقرائنا القرآن ثم جاء عمار و بلال وسعيد ثم جاء عمر بن الخطاب ﷺ في عشرين نفر ثم جاء النبي ﷺ حتى قرئت سورة الاعلى في سور مثلها. ثم ان ذكر صلوة العيد وصدقة فيها غير مسلم واطال صاحب روح المعاني الكلام فيها فارجع اليه.

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ﴿١﴾ الَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٢﴾ وَالَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ﴿٣﴾

**پوهسه:** چي تسبيح تنزيه ته وايي و اسم الله ما يصح اطلاقه عليه تعالى بالنظر الى ذاته كلفظ الله په نېز د هغو کسانو چي اسم ذات المجردة يې بولي او باعتبار صفته من السلبية كالقدوس (يعني له هر عيبه پاک) او الصفات الثبوتية كالعليم (اى صاحب العلم العظيم) او باعتبار فعله كالخالق (يعني پيدا کونکی د مخلوق، او لکن اسماء توقيفي دي په نېز د بعض علماؤ او اعلى صفت د رب دی ويمكن ان يكون صفة الاسم (لان اسم الخطير خطير) لكن الاول اولى دی لاتصاله به ومعنى علوه تعالى علوه عن وصف الواصفين .... بيت:

عمر تمام گشت بپايان رسيد عمر .... ما همچنان در اول وصف تو مانده ايم



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بل علم العارفين ومعنى اعلويته تعالى الزيادة المطلقة في العلو، وقال المفسرين چي معنى د علو د خداى عزوجل دا نه ده چي جهت يې لوړ دى او بدن يې غټ دى، معنى علوه تعالى علو جهته والاكبر جثته، ولي چي ده لره جهت نسته ولا هو جسم بل معنى علوه استحقاق نعوت الجلال والكبرياء فمن عرف علوه وكبريائه تواضع وتذلل بين يديه كعبادة الصالحين والعارفين، او كه صفت د اسم سي نو اسماء د خداى عزوجل پر غير د خداى ايښوول يې كان يسمى الوثن (يعني بت) بالرب والاله لكه عرب د جاهليت چي مسيلمة الكذاب رحمان اليمامة بالله، او داغه رنګه دي نوم د خداى په وخت كي د اوږمى. او په حال كي د بولو او غائطو، كذالك يكره كثرة اليمين به، كبعض العوام چي پر هر شي وايي والله بالله، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى اى قل سبحان الله واليه ذهب كثير الصحابة والتابعين وقال قوم هو امر بالتنزية مطلقًا قولاً وعملاً واعتقادًا، او البغوي " له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي روايت كړى دى په معنى كي د آيت اى صل بامر الله تعالى ويحتمل انيكون امرًا بالتسبيح في الصلوة في الركوع والسجود سبحان ربي العظيم سبحان ربي الاعلى.

**فائده:** وتوصيفه بالاعلى اشارة الى موجب التسبيح فان علو شانه عن ادراك العقول وكمال قهرمانه واقتداره يمنع عن تسميته الا بما سمى به نفسه.

**پوه سه:** چي مفعول د خلق يې نه كړى ذكر لعمومه كل شيئ اى خلق كل شيئ من الجواهر والاعراض وافعال العباد لا كما قال المعتزلة ان خالق افعال العباد العباد (فسوى) يعني هر شي يې متناسب الاعضاء غير متفاوت پيدا كړى مثلاً د خره خوږونه د خره سره متناسب دي چي خداى عزوجل وركړي دي او د انسان غوږونه د انسان سره متناسب دي چي خداى عزوجل وركړي دي، نو كه يې سره بدل كړي چي د خره غوږونه انسان ته او د نسان غوږونه خره ته وركړي نا مناسب دي بلكي مكروه هيئت پيدا كوي، ولهذا قالوا ليس في الامكان الا لبقية النظام.

(والذي قدر) معطوف دى پر موصول اول اى قدر الاجناس الاشياء، وانواعها وافرادها ومقاديرها وصفاتها وافعالها وآجالها (فهدى) لما خلق لاجله من خير او شر وقال المجاهد " هدى الانسان سبيل الخير والشر والشقاوة وهدى الحيوان لمرعاتها (د څرځايو لپاره) وقال مقاتل والكلبي " هدى الذكر كيف يأتي الانثى،



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وقیل خدای عزوجل پیدا کړي منافع په شیانو کي او هدایت یې کړی دی انسان ته د استخراج د هغو منافعو مثلاً وسپنه په معدنیانو کي پیا لاري د استخراج له هغو څخه لکه تبر، کلنګ که څه هم کلونه پکښي تېر سي لکه کلاشنکوف، طیاره وغیرها، او په اوبو کي یې برق پیدا کړی دی. وقال السدي ؒ قدر مدة الجنین في الرحم ثم هدی الخروج من الرحم بعد تمام مدة الحمل. ومن عجائب الخلق التمساح (چي یو حیوان دی چي په مصر او نهروان کي پیدا کېږي) وایي دا حیوان د بره نه لري چي فضلات دي ځني ووځي، و ده ته یو مرغه خدای عزوجل پیدا کړی دی چي د هغه مرغه ته یې غذاء فضلات د تمساح ګرځولي ده، تمساح چي مرغه ویني خوله ورته خلاصه کړي هغه مرغه یې په خوله ور ننوځي د فضلاتو د خوړلو لپاره نو ددې مرغه پر منبو که د لوړي او کښتي خوا څخه خدای پاک دوه ښکرونه پیدا کړي دي ددې لپاره چي تمساح یې په نس کي بندي نه کړي او خوله پر پته نه کړي.

وَالَّذِیْٓ اَخْرَجَ الْمَرْعٰی ۝ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحْوٰی ۝

او هغه خدای دی چي پیدا کړي یې دي او شنه کړي یې دي څرځایونه د حیواناتو لپاره، د بعض حیواناتو شوندان او غاښونه یې داسي پیدا کړي دي چي شنه څوزان خوري، او بعض لکه پسونه وغیرها بیا د مځکي نرمي مرغی او وابنه خوري (فجعله غثاء) چي وخت یې پوره سي بیا وچ سي سره توک توک سي (احوی) تک تور سي.

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰٓی ۝ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ یَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا یَخْفٰی ۝

په قرائت د جبرئیل ؑ موږ تا ته قرآن و وایو، په حدیث کي راغلي دي چي جبرئیل ؑ به کله قرآن مجید و علیه الصلوٰة والسلام ته راوړی نو علیه الصلوٰة والسلام به چابک چابک خوله ورسره ښورو له مخافة ان ینسی حتی نزل هذه الآیة وقوله تعالی لاتحرک به لسانک لتعجل به ان علینا جمعه (ای في قلبک) وقرآنه. وقال مجاهد والکلبي ؒ فلم ینس رسول الله ﷺ بعد ذالک شیئًا و حاصل المعنیین سنجعلک قارئًا بالهام الله القرائة کما انزلنا علیک بلسان جبرئیل. له ابی موسی الاشعري ؓ څخه روایت دی چي علیه الصلوٰة والسلام وویل: عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فو الذي نفسي بيده لهو أشد تفصيا من الإبل في عقلها»

تاسي گرد ان او ساتنه د قرآن کوئ، زما دي قسم په هغه خدای وي چي زما روح د هغه په قدرت کي دی) چي قرآن اشد دی په ځان خلاصولو کي د اوښ د خپل زنگنو څخه، متفق علیه.

له سعد بن سعد څخه روایت دی ما من امرء یقرء القرآن ثم ینساه الا لقی الله وهو اجزم (گرک) قال العلماء چي دا حدیث محمول دی پر هغه چي په مصحف کي یې هم نسي ویلای، والله اعلم.

(الا ما شآء الله) نه چي د خدای اراده ورته وسي، والمراد عند الجمهور کما هو الظاهر، مراد ما نسخ تلاوته وحکمه معًا کما قال الله عزوجل ما ننسخ من آیة او ننسها ، والانساء نوع من النسخ یعني چي د علیه الصلوة والسلام هېر سي دا هم یو نوع د نسخ ده، مورږ نه نسخ کوو من ادنی چي په بل آیت کي راغلي ده.

**یوه سه:** چي الا ماشاء الله استثناء مفرغ ده من اعم الاحوال والمفاعیل ای لا تنسی شیئًا التي تقرئه الا ما تنساه ابدًا بان نسخت تلاوته فان النسخ نوع من الانساء وطریقه فکانه نسخ من الالسنة والصدور والمصاحف، فالمراد من النسیان النسیان بحیث لا یعقب التذکر اصلًا، ویجوز ان یراد بالنسیان او دا هم روا ده چي مراد له نسیان څخه معنی متعارف وي چي وروسته یې په یاد سي ودې ته نسیان متعارف وایي وهو المفهوم من المقام یعني النسیان علی القلة والندرة او ددې معنی تائید کوي چي علیه الصلوة والسلام یو آیت په لمانځه کي ساقط کړی نو د ابی بن کعب دا خیال سو چي دا آیت لکه چي منسوخ سوی دی نو د علیه الصلوة والسلام څخه یې پوښتنه وکړه فقال نسیتها، او داغه رنگه بعض صحابه کرامو ﷺ په صلوة اللیل کي به قرائة وایه علیه الصلوة والسلام وویل لقد ذکرني آیة کنت انسیتها وقال جعفر الصادق انه علیه الصلوة والسلام کان یقرء من الکتاب ای المصحف وان کان لایکتب لکونه امیًا وفیه معجزة له ﷺ.

(انه یعلم الجهر وما یخفی) په تحقیق الله پوهېږي په ښکاره (ای من القول والفعل) او په هغه څه چي پټ وي ای یعلم السر والعلانیة ویعلم جهرک بالقرائة مع جبرئیل او هغه سبب باعث پر دې فعل هم را معلوم سو یعني مخافة النسیان.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرٰى ۝ فَذَكِّرْ اِنْ نَّفَعَتِ الذِّكْرٰى ۝

(وينسرک لليسری) يعني مونږ به توفيق درکړو يعني وتاته به آسانه کړو عمل د جنت ومنه القرائة علی حسب ما انزل اليک وحفظه و العمل بمضمونه وهذا شان المحبوبية الصرفة، وقال ابن عباسؓ لليسری عمل الخير، وقيل نوفقک للشريعة السهلة الحنيفية البيضاء. (فذکر ان نفعت الذکری) ته نصيحت او وعظ کوه که نصيحت فائده کول شرط مستغن عن الجزاء بما سبق وانما اتی الشريطة لئلا يتعب نفسه و يتلهف عليهم بسبب الياس عن البعض، يعني نصيحت کوه خلکو ته که چېري نفع کول ستا تذکر.

**فائده:** تذکير يې په نفع سره د ذکرى مقيد کړی لما ان رسول اللهﷺ د ېر خله به يې دوی ته نصيحت کاوه او ډېل ټوله کوشش به يې کاوه حرصًا علی ايمانهم وکان لايزيد ذالک بعضهم الا کفرًا وعنادًا کابی جهل ونضر بن الحارث وامثالهما فامر الله عليه الصلوة والسلام بان يختص التذکير بمقدار النفع في الجملة چي ټوله وي يا بعض وي فمن يرجی منه التذکر او ځان په تکليف کي مه اچوه في تذکير من لا يزيده الذکر الا عتوًا ونفورًا کابی جهل وامثاله کما في قوله تعالی فذکر بالقرآن من يخاف وعيد.

**درويش وايي:** چي دا د مثال دا دی چي يو سړی پوهېږي چي دا ځمکه ترخه او بنږه ده هغه سړی ډېل بنه غنم په هغه ځمکه کي نه ضائع کوي، فالتذکر راجع الی النبيﷺ لا الی الله عزوجل، قال الله تعالی: وذکر ان الذکری ينفع المؤمنين.

زمين شوره وتلخ سنبل نيارد ...... درو تخم عمل ضائع مگردان

من آنچه بلاغست باتو ميگويم ...... تو خواه از سخنم پند گير و خواه ملال

**درويش وايي:** چي دا په ابتدائي حالاتو کي د نبوت وه.

سَيَذَّكَّرُ مَنْ يَّخْشٰى ۝ وَيَتَجَنَّبُهَا الْاَشْقَى ۝ الَّذِيْ يَصْلَى النَّارَ الْكُبْرٰى ۝ ثُمَّ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ۝

ژر دی چي پند به واخلي هغه څوک چي له خدای څخه بېرېږي، ولې هغه فکر وهي په آياتو کي مخافة عذابه (ويتجنبها الاشقی) ای الکافر فانه اشقی من الفاسق او يا مراد اشقی د کفره وّ دي لتوغله في الکفر واللام حينئذ للعهد، قيل



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هو الوليد بن المغيرة يا عتبة بن ربيعة دى. (الذي يصلى النار) هغه څوک چي رسيږي به (اى يدخل) و اور ته (اى نار جهنم او ما في الدرک الاسفل منها).

ثم لايموت فيها: فتستريح منها (ولايحيى) حيوة طيبة بنه ژوند.

قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾

په تحقيق پناه پيدا كړه هغه چا چي باطن يې له شرک څخه پاک ساتلى وي، وظاهره من النجاسة بالصلوة وماله من الخبث بالزكوة وقلبه من الاشتغال بذكر الله ونفسه عن الرزائل وجوارحه من الخبث بالمعاصي او جمله د قد افلح مستانفه ده (وذكر اسم ربه فصلى) او ذكر كړي نوم د خداى فصلى يعني الله اكبر ووايي، نو لمونځ ذكرى هذا هو المعنى الظاهر، واخرج البزار عن جابر بن عبد الله عن النبي ﷺ من شهد ان لآ اله الا الله واني رسول الله فصلى قال جابر هي الصلوة الخمس والمحافظة عليها والاهتمام بها وقالت الحنفية كبر للافتتاح الصلوة فصلى بقلبه ولسانه، فالمراد بالذكر تكبيرة الافتتاح، واما رفع اليدين الى شحمة للاذنين فسنة لكن لايختص بقوله الله اكبر عند الحنفية بلكي هر نوم چي پر تعظيم د خداى دلالت كوي مثل الله اعظم الله اجل.

**فائده:** الفاء التعقيبية يدل على ان التكبير ليس من الاركان لان العطف يقتضى التغاير بين المعطوفين، وقال الرازي مراتب د اعمالو د مكلف فاولاها ازالة العقائد الفاسدة عن القلب وهو المراد بالتزكى، والثانية استحضار معرفة الله بذاته وصفاته واسمائه وهو المراد بالمعرفة لان ذكر بالقلب ليس الا المعرفة، والثالثة الاشتغال بالخدمة والطاعة وهي بالصلوة فانها عبارة من التواضع والخشوع.

بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ ﴿١٧﴾

بلكي تاسي مختاره كړې ده دنيا، والخطاب للاشقيا، يعني تاسي اشقياء ژوند د دنيا مختاره كړى دى على حيوة الآخرة (والآخرة خير) او آخرت ښه دى لذاتها بالذات واجل نعمها رؤية الله والوصال ورضوان ذى الجلال والاكرام (وابقى) يعني لا انقطاع لها بخلاف نعم الدنيا فانها زائلة عنقريب ومع هذا مخلوطة بالغوائل والبلايا.


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**پوه سه:** چي جمله د خير وابقى حال ده له ضمير څخه د (تؤثرون) مؤكده ده، توبيخ والعقاب ان يؤثرون الدنيا دار الغموم ومع هذا لا بقاء لها ونعيم الآخرة مع ما يكون في غاية الندرة خالصة عن شائبة الضرر ودائمة لا مقطوعة ولا ممنوعة ولا حساب لها من جانب رب العزة جل وعلا.

إِنَّ هَٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

په تحقيق دا (يعني من قوله تعالى قد افلح من تزكى الى اخير الآيات) په مخكنى صحف كي يعني الكتب السماوية على الانبياء الماضيين، ولي دا كتاب يعنى القرآن المجيد جامع د امور ده ديانت وخلاصة الكتب كلها دى (صحف ابراهيم و موسى) بدل بعض دى بعد التعميم. له علي ﷺ څخه روايت دى ان رسول الله ﷺ كان يحب هذه السورة سبح اسم ربك الاعلى. رواه احمد. وفي حديث ابى بن كعب ﷺ عند الترمذي واحمد وابن ماجة كان رسول الله ﷺ اذا كان يوتر بثلاث قرء في الركعة الاولى سبح اسم ربك الاعلى وفي الثانية قل يا ايها الكافرون وفي الثالثة قل هو الله احد.

**فائده:** في هذه السورة تاثير عظيم في العروج الى مقامات الاولياء.

**درويش وايي:** چي اخير ته ورسېدى تفسير ددې سورة عند اذان العصر في يوم الاربعاء ٥ ذى الحجة الحرام (١٤٣٣) ولله الحمد على ان وفقني الفقير للتفسير هذه السورة.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ٠٧٤٩٨٤٩٥٦٩



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْغَاشِيَةِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ سِتٌّ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ﴿۱﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ﴿۲﴾ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿۳﴾

(هل) استفهام تقريري دی يعني قد اتاک، والمخاطب هو رسول الله ﷺ (الغاشية) ای الساعة التي تغشى كل شيئ باهوالها وشدائدها، او بعض مفسرين وايي چي مراد له غاشية څخه اور دی لقوله تعالى: وتغشى وجوههم النار، لكن وروسته عبارت چي پر ذكر د مؤمنانو او كافرانو دواړو مشتمل دی دلالت كوي پر صحت د اول تأويل.

**پوه سه:** چي په (وجوه) كي تنوين لپاره د تكثير دی وجوه كثيرة او وجوه الكافرين، نو له دې سببه يې مبتداء والی صحيح سو ولي چي نكره مخصصه ده ای وجوه كثيرة، يا مضاف و معرفة ته دی ای وجوه الكفار والمراد بها اصحاب وجوه، حذف المضاف واقيم المضاف اليه مقامه واعرب باعرابه واجريت عليه الاحوال التي كانت جارية على المضاف. (يومئذ) متعلق دی په غاشية پوري يعني يوم اذا كانت الغاشية (خاشعة) دليل به وي له غم او هول څخه (عاملة ناصبة) عمل به كوي او ستړي به وي په دوږخ كي. قال الحسن لم يعمل في الدنيا عمل د خير يې نه وكړی په دنيا كي بلكې د بتانو عبادت يې كاوه نو له دې سببه خدای پاک په كشولو د ځنځيرانو او اغلال په دوږخ كي عامل او ناصب وګرځول، وقال قتادة وهو رواية العوفي عن ابن عباس قال ابن مسعود چي دوی په اور كي داسي ګرځي لكه اوښان په لوړو او جګو ځايو كي، وقال الكلبي يجرون كشول كېږي پر مخانو په اور كي. وقال الضحاک چي دوی په اور كي د وسپني يوه غره په ختلو مكلف كېږي، او بعض وايي چي دوی حق لكه عبدة الاصنام وامثالهم يدخلون النار يوم القيامة.

تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ﴿۴﴾ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ ﴿۵﴾

داخلېږي به په اور كي (قال ابن عباس چي لمبې به وهي على اعداء الله) ځينښل كېږي به په دوی او به د ډېري تودې چينې، چي دوی د ډېر تږي سي او د اوبو



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ناري وهي، نو دوی ته به او به ورکول کېږي له چينې څخه، ابن ابی حاتمؒ له السديؒ څخه روايت کړی دی په دې قول کي انتهى حرها لايكون فوق حره، عرب وايي: قدرنا حره چي نژدې او بو ته چي خدای عزوجل دوږخ پيدا کړی او ور پر بلېږي، مفسرين وايي چي کله کافران دوږخ ته ورولي نو د ېر تږي وي او به غواړي نو د عين آنية او به ورکړل سي چي هغه داسي تو دې دي چي که پر يو غره د هغو او بو يو څاڅکی راولوېږي غر به ويلي کړي.

لَيۡسَ لَهُمۡ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٖ ۝٦ لَّا يُسۡمِنُ وَلَا يُغۡنِي مِن جُوعٖ ۝٧

اختلاف د راويانو سته په ضريع کي، له ابن عباسؓ څخه روايت دی قال قال رسول اللهﷺ چي ضريع د يو بوټي نوم دی په اور کي مشابه د ځوز سره دی چي تريخ دی تر مرغوني او بد بويه دی تر مردار حيوان او اشد حراً من النار اذا اطعم صاحبه لايدخل البطن ولا يرتفع الى الفم لايسمن ولا يغني من جوع، او سعيد بن جبيرؓ وايي هو الزقوم د رسول اللهﷺ په صحيح حديث کي د دې آيت په تفسير کي (لايسمن ولا يغني من جوع) نه په چاغېږي او نه د لوږې په وځي، عن ابی الدرداؓ قال قال رسول اللهﷺ يلقى على اهل النار الجوع حتى يعدل ما فيهم من العذاب وقد مر ذالک يعني ضريع ورله راوړي چي لايسمن ولايغني من جوع، قال قتادة، مجاهد و عکرمةؒ بنت لاعروق في الارض ذو شوكة تسمية القريش الشبرق فاذاهادا تعود الضريع وهو اخبث الطعام، قال الكلبيؒ لايقربه ذاته چي وچ سي ولي چي زهر قاتل ځني جوړېږي.

وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاعِمَةٞ ۝٨ لِّسَعۡيِهَا رَاضِيَةٞ ۝٩ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ۝١٠ لَّا تَسۡمَعُ فِيهَا لَٰغِيَةٗ ۝١١

مخان به وي په دغه ورځ (يعني به اصحاب الوجوه ای اصحاب وجوه كثيرة للمؤمنين، مبتداء مابعدها اخبار لها (د صحت د ابتدائيه وجه يې تېره سوه) ناعمة ای منعمة ذات بهجة و سرور (ينفعها) في الدنيا في طاعة الله، متعلق بقوله (راضية) ای في الآخرة (في جنة عالية) ای عالية القدر و المحل (لاتسمع فيها لاغية) نه اوري په جنت کي: مفعول به دی د لاتسمع لغواً و باطلاً او كلمة ذات لغو لان كلام اهل الجنة تسبيح وتهليل او د حكمت خبري دي.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فِيْهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿۱۲﴾ فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ﴿۱۳﴾

په جنت کي بهاندي چيني دي، لاتقطع جريانها ، والتنوين للتعظيم واخرج ابن جبان والحاکم والبيهقي والطبراني عن ابی هريرة ﷺ ان رسول الله ﷺ النهار الجنة رابهيږي د جبل مسک څخه (فيها سرور مرفوعة) په جنتو کي پلنګان پراته دي لوړ او جګ.

**پوهه:** چي سرر جمع د سرير ده چي پلنګ ته وايي، ابن عباس ﷺ ويلي دي چي د سرو زرو تختي دي چي بناشسته کړل سوي دي په زبرجدو او په يواقيتو او ملغلرو سره، بعض اهل علم وايي: ان الفرش في الجنة کما بين السماء والارض، قال ابن ابی الدنيا عن ابی امامة په تفسير کي د فرش مرفوعة لو ان اعلاها سقط الی اسفلها ما بلغها اربعين خريفًا.

**پوښتنه:** په دې آيت کي خو سرر مرفوعة راغلی دی نه د فرش مرفوعه بيان؟

**ځواب:** هو دا حديثونه د فرش مرفوعه راغلي دي لکن سرر مرفوعه هم پر قياس دي... مصرع: قياس کن ز گلستان من بهار مرا.

**پوښتنه:** د سرر مرفوعة چي دومره لوړ والی دی نو اهل جنت څرنګه ورختږي؟

**ځواب:** جنتي چي د ختلو اراده ورته وکړي هغه په خپله ورته راکښته کيږي.

وَّاَكْوَابٌ مَّوْضُوْعَةٌ ﴿۱۴﴾ وَّنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ﴿۱۵﴾ وَّزَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ ﴿۱۶﴾

او لوښي (اکواب) جمع د کوب ده، هناد له مجاهد څخه روايت کړی دی چي کوب هغه لوښي ته د اوبو وايي چي نه لاس لري او نه چښکه چي صراحي ورته وايي چي له هره ځايه سري وغواړي او به ځني څښبلای سي. (موضوعة) چي پراته دي پر غاړه د چينو چي آراسته دي د شرابو لپاره (ونمارق) او بالښتان دي (مصفوفة) په لويه غرفه کي پر صفو هر ځای هر ځای چي د جنتي زړه وغواړي هوري دي کښيني او تکيه دي و بالښت ته وکړي (وزرابي) جمع د زربية ده فرش وسيع او فراخه ته وايي (مبثوثة) اوار سوي يا متفرقه في المجالس.

قال صاحب المدارک لما انزل الله فيها سرر مرفوعة وفسره النبي ﷺ بان ارتفاع السرائر کذا والاکواب لا تدخل في الخلق لکثرتها وطول النمارق کذا



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وعرض الزرابي كذا انكر الكفار كيف يصعد على تلك السرر الرفيعة وكيف
الاكواب بهذه الكثرة وطول النمارق هذا الطول وبسط الزرابي هذا الانسباط ولم
نشاهدها في الدنيا رد الله تلك افلا ينظرون نظر اعتبار والاستفهام للتوبيخ.

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾

آيا دوی نه ګوري و اوښ ته چې څرنګه پیدا کړل سوی دی طویل او پرېوځي د
سپرتیا لپاره بیا ولاړ سي فلذا السرر ایضا طوع للمؤمنین کما یطاء طاء الابل
(والی السماء کیف رفعت) او و آسمان ته چې څرنګه یې لوړ پیدا کړی دی رفعًا
بعیدًا او ستوري د آسمان دومره ډېر دي چې په حساب نه حسابل کېږي لکثرتها
في الغاية فكذالك الاكواب.

وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾

او و غرونو ته نه ګوري چې څرنګه یې درولي دي یوې خوا ته میل نه کوي،
فکذا النمارق (والی الارض کیف سطحت) یعني سطح مستوي او یو بساط دی
فكذا الزرابي، او یا معنی دا ده افلا ینظرون الی انواع المخلوقات من البسائط
والمرکبات الشاهد علی کمال قدرة الخالق، نو په دې سره به دوی دلیل ویلی وای
علی قدرته علی البعث بعد الموت فیسمعوا الی اخبار المخبر الصادق بشهادة
المعجزات فیؤمنوا بالبعث.

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾

ته و دوی ته وعظ او تبلیغ کوه لتفکروا (انما انت مذکر) تعلیل د تذکیر یعني
پر تا صرف تذکیر دی لاعلیک ان لم یؤمنوا (لست علیهم بمصیطر) تاکید دی د
مضمون د انما انت مذکر، راغب اصفهاني وایي: ای لیس بمسلط علیهم قائم و
حافظ لکه په بل آیت کې چې راغلي دي لست علیهم بجبار.

إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ اللَّهُ الْعَذَابَ الْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾

مګر هغه څوک چې تولی یې وکړه (مخ یې وګرځوی) له ایمان څخه او کفر یې
مختار کړی، بعض مفسرین وایي چې دا استثناء متصل ده، نو دوی معذب سوه د
خدای له خوا په لوی عذاب سره في الآخرة کانه اوعد بالجهاد في الدنیا وعذاب



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النار في الآخرة، او بعض مفسرين وايي چي استثناء منقطع ده په معنى د لكن والخبر محذوف يعني من تولى وكفر فالله مسلط قاهر عليهم.

إِنَّ إِلَيْنَا إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ ﴿٢٦﴾

په تحقيق ده مونږ ته رجوع د دوی، جار او مجرور چي يې مقدم كړه له سببه د سختۍ د عذاب يعني رجوع ستاسي الى قهار جبار مقتدر على الانتقام (ان علينا حسابهم) لتحاسبهم على غلوهم (اى تجاوزهم) في الكفر.

**سوال:** كلمه د على خو اصل ده د وجوب او پر خدای خو شی نه دی واجب؟

**ځواب:** نعم لكن كلمه دلته مجازًا ده لپاره د تاكيد د وعيد ده.

**درويش وايي:** چي اختتام ته ورسيدی د سورة الغاشية تفسير په توفيق د خدای عزوجل په اخيرو شپبو كي د ذی الحجة الحرام، ولله الحمد والمنة.

سُورَةُ الْفَجْرِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ وَهِيَ ثَلٰثُونَ آيَةً

وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾

او قسم دی په سهار سره يعني په راچاودلو سره د سپيدو د ورځي، كذا روى ابو صالح عن ابن عباس رضي الله عنه، وقال عطاء هو صلوة الفجر، وقال قتادة هو اول فجر المحرم چي سنة قمريه له دي ځخه شروع كيږي، وقال الضحاك فجر اول من ذى الحجة لانه قرن بالليالي العشر، چي د ذی الحجه اوله ورځ وي روژه نيول يې ثواب لري (وليال عشر) التنكير للتعظيم، له ابن عباس څخه روايت دی چي مراد اولي ورځي د ذی الحجي دي وهو قول مجاهد وقتادة والضحاك والسدي والكلبي.

وعن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما من ايام احب الى الله ان يتعبد فيه من عشر ذى الحجة يعني هر عبادت چي وي كه روژې وي او كه مالي صدقه وي وغيرها، وروى ابو روق عن الضحاك هو العشر الاول من شهر رمضان، وروى ابو ايوب رضي الله عنه هي العشر الاواخر من شهر رمضان وايضا في العشر الاواخر ليلة القدر كما سيأتي وقال ايمان بن رباب هي العشر الاول من المحرم چي لسمه ورځ يې د عاشورا وي، وعن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ افضل الصيام بعد



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رمضان شهر الله المحرم وافضل الصلوة بعد الفريضة صلوة الليل اى التهجد.

(والشفع والوتر) زما دي قسم وي په جوت او تاک سره، قيل الشفع، كريمه: وخلقناهم ازواجًا والوتر هو الله الخالق روى ذالك عن ابى سعيد الخدري وهو قول عطية والعوفي، وقال مجاهد ومسروق نحوه وقال الخلق كله شفع يعني مقابل لري قال الله تعالى ومن كل شيئ خلقنا زوجين الكفر والايمان والهدى والضلالة والسعادة والشقاوة والليل والنهار والسماء والارض والبر والبحر والشمس والقمر والجن والانس والذكر والانثى والوتر هو الله الاحد.

سئل ابو بكر عن الشفع والوتر فقال تضاد الشفع التضاد من اوصاف المخلوقين كالحيوة والموت والعز والذل والغنى والفقر والعجز والقدرة والعلم والجهل والبصر والعمى والسمع والبكم والكلام والسكوت والغنى والضعف والوتر انفراد صفاته تعالى عن المقابل حيوة بلا موت وعز بلا ذل والقدرة بلا عجز وقوة بلا ضعف وعلم بلا جهل وغنا بلا فقر، وقال الحسن وروى قتادة عن الحسن هو العدد بعض منه شفع وبعضه وتر الى ما لا نهاية له، وقيل هو الصلوة بعضها شفع كصلوة الظهر والعصر والعشاء والفجر، والوتر هو صلوة المغرب فقط يا ومع وتر العشاء، وقال مقاتل بن حبان الشفع ايام الدنيا والوتر هو يوم القيامة لا ليلة لها، وقال الحسن الشفع درجات الجنان هي ثمانية، والوتر هو درجات النار چي اووه دي.

**پوښتنه:** علماء حضراتو خپله سعي مبذول کړې ده په تفسير کي د شفع او وتر شكر الله سعيهم لكن كاشكي هر مفسر په اخير كي د عبارت ورضم كړى واى والله اعلم؟

**ځواب:** د علماء حضراتو په دې عدم انضمام كي د والله اعلم غرض دا دى چي قرآن پاک معجز دى ولي چي دوه لکه شفع او وتر په تولـه فراخه لمن كي د عربيت ځوک نسي پيدا كولاى چي دومره معاني دې محتمل وي كما مرت وهذا وجهه فتدبر.

(والليل اذا يسر) او زما دي په شپه قسم وي چي دا تېره سي وبالعربية اذا سار وذهب كما قال والليل اذا ادبر، قال قتادة على عكس ذالک اى اذا جاء واقبل قيد به لما في التعاقب من قوة الدلالة على كمال قدرة الله والقدرة ووفور النعمة، والمراد بالليل كل ليلة، وقال مجاهد وعكرمة هي ليلة مزدلفة في الحج، او يا مراد دا دى اذا يسرى فيه، سئل الاخفش عن سقوط الياء لان الليل ما يسرى ولكن



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يسري فيه فعدل عن معناه فوجب ان يعدل عن لفظه يعني ان سقوط الياء ليدل على ان الفعل منفي عن الليل وان مسند الى ضمير.

هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ۝

آيا كافي نه دي دغه ډېر قسمونه، اى فيما ذكرت، په (قسم) كي تنكير د تعظيم لپاره دى والاستفهام للتقرير اى الحمل على الاقرار، يعني ته ووايه چي كافي دي يا الله دا ډېر ستا قسمونه (لذي حجر) يعني لذي عقل حجر و عقل ولي چي عقل منع صاحب دده له معاصيو څخه. والجواب ان ربک لبالمرصاد وما بينهما جمل معترضة چي لپاره د تاكيد د جواب ده.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۝ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ۝ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ۝

آيا تا ونه ليدل، رؤيت بصري نه دى بلكې رؤيت علمي دى يعني الم تعلم يا رسول الله ﷺ، استفهام د انكار دى داخل سو پر حرف نفي حسب القانون نفي د نفي اثبات دى اى تعلم علمًا يقينًا (كيف ربک بعاد)

تاريخ وايي: عاديان اطول اعمارًا و اشد قوة وه يعني سره د قوت خداى پاک عذاب پر مسلط كړى فاهلكهم، هو به پورته كړى پر سر به يې ايله كړى، نو عاديان چي يې هلاک كړه نو اهل مكه به نه كړي هلاک اذا شاء فما لهم لا يؤمنون بتوحيد الله وترک عبادة الاوثان (ارم) بدل دى له عاد څخه يا عطف بيان دى او دا لفظ غير منصرف دى العلمية، والتانيث بملاحظة القبيلة او عجمي لفظ هم دى.

**بوه سه:** چي ارم نوم د يوې قبيلې دى چي په دوى كي يو بادشاه ؤ چي د دوى رعايت داري يې پر ذمه وه فكان عاد في الاصل اسم قبيلة هو ارم بن عاد بن سام بن نوح ؑ، وقال الكلبي ؒ هو الذي يجتمع نسب عاد وثمود واهل الجزيرة (چي اوس يې الجزائر بولي) فاهلک الله عاد ثم ثمود وبقى اهل الجزيرة والله اعلم.

(ذات العماد) صفت دى د ارم، واللام للجنس الشامل للقليل والكثير د عماد، ومعناه ذات الخيام والاعمدة ولي چي دوى پوونده وه يطلبون الكلاء حيث كان فاذا هبت الربيع چي د مني باد به پر راوالوتى او د مځكي واښه به ختم سوه رجعوا الى منازلهم، او يا معنى دا ده ذات البناء المرتفع دوى به پنډ بنډ تيران راوړل او پر هغو به يې بام جوړ كړى او پر بام سربېره به يې عمارت جوړ كړى نو ځكه يې ذات العماد



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وبلل، روح البيان وايي چي جګوالی د يوه سړي ارتفاعه (۴۰۰) ګزه وه او د دوی کورونه په وادي القرئ کي وه، او بعض مفسرين وايي چي شداد، وقيل سموا بذالک لانه بني شداد بن عماد يوه بنګله بناء کړې وه چي په نامه د شداد بن عماد يې بلل (يعني نبي د هغې زماني چي ده ته دعوت د ايمان راوړلو او وعده د جنت ورکړه چي داسي او داسي ځايونه به پکښې وي. شداد ورته وويل چي زه هم جنت جوړلای سم) نو په ډېرو مصارفو يې ورته ځای جوړ کړی بلا تشبيه لکه جنت او نوم يې د بناء شداد بن عاد پر کښېښو چي مثل په دنيا کي د هغې بناء چا نه ؤ ليدلی، اخير چي دا بناء تکميل سوه نو دی او دده وزيران او دده د قوم اشراف ور روان سوه چي مسافت د يوه شبانه روز پاته ؤ بعث الله عليهم صيحة من جانب السماء چي دی او دده همراهان ټول له هلاک سوه دا بنګله يې ونه ليدل.

**درويش وايي:** چي تواريخ قديمه ؤ دا نه دي ويلي چي هغه بناء نو څه سوه والله اعلم، ظاهره داسي برېښي چي د شداد او دده د ملګرو د هلاکت سره هغه هم د خدای پاک له منځه يوړه، وقيل غير ذالک، او سعيد بن المسيب" وايي چي ارم ذات العماد بلدة يقال دمشق او قرطبي وايي هغه اسکندريه ده.

(التي لم يخلق مثلها في البلاد) هغه چي نه ؤ جوړ کړی چا د هغه مثل په ښارونو کي، دا جمله صفت اخری دی د ارم سواء کانت بلدة او قبيلة، ای مثل تلک الامة في القامة والقوة او مثل تلک البلدة في رفعة البناء والاستحکام.

وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾

او ثمود، دا عطف دی پر عاد، يعني چي وکړه ستا رب د ثمود له قوم سره.

**پوه سه:** چي ثمود يوه مشهوره قبيله وه سموا باسم جدهم الاعلی ثمود اخی جليس وهما ابناء عاد بن سام بن نوح" وکانوا عرباء (يعني فصيح عرب وه) وکانوا يسکنون الحجر بين الحجاز وتبوک وکانوا يعبدون الاصنام فبعث صالح عليه السلام (جابوا) ای قطعوا (الصخرة) مفرد د صخرة دی لويه ډبره يعني غرونه دوی لپاره د ځانو خوني په غرو کي جوړولې (بالواد) ای واد القری (وفرعون) عطف دی پر ثمود يعني ستا خدای څه وکړه د فرعون سره چي نبي موسیٰ عليه السلام يې ورته مبعوث کړی ؤ يعني فرعون يې په بحر قلزوم کي غرق کړی سره د قوم دده (ذی الاوتاد)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال ابن عباسؓ و محمد بن كعب القرضيؒ اى ذى البناء المحكم، وقيل مراد له اوتاد څخه الملک الشديد الثابت، مقولة العرب هم في العز ثابت الاوتاد و يزيدون تريدن الثابت الشديد، وقيل ذى الجنود والجموع الكثيرة وسميت الجنود اوتادًا لكثرة مضاربهم التي تريدنها في اسفارهم، وهي رواية عطيةؒ عن ابن عباسؓ، وقال الكلبيؒ الاوتاد جمع د وتد چي موږې ته وايي په بل تعبير مختبله، يعذبون الناس عليها اذا غضب، سړى به يې ستني ستخ پرې ايستى بين اربع اوتاد كل يد وكل رجل وتركه في الهواء كذالک يعني بين السماء والارض حتى يموت، وقال مجاهد ومقاتل بن حبانؒ سړى به يې ستني ستخ پرې ايستى پر مځکه ثم يمد يديه ورجليه على الارض بالاوتاد الاربعة ثم يضربونه، وقال السديؒ چي د مغضوب عليه دواړه لاسونه او پښې به يې په اوتاد اربعه سره ور وتړل پر مخي وروسته به يې لړمان او ماران پر شا ور ايله كړه په نېښو به يې وواهه.

**پوښتنه:** دا مختلف روايات به څرنګه سره جمع کېږي؟

**ځواب:** دى جبار ظالم شخصيت ؤ. كله به يې يو ډول عذاب په زړه كي وسنجاوه هغه به يې ور كړى كالحجر او كل به بل رنګه عذاب پر زړه ور وګرځېدى هغه به يې ور كړى.

الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾

هغه كسان (صفت دى د مذكوره جبارانو الى فرعون ذى الاوتاد يا خبر د مبتدا محذوف في دى اى هم) چي طغيان او سركښي يې تر حد تېره سوې وه، جار او مجرور متعلق دى په طغيان سره، دوى زيات كاوه په مځكه كي فساد، نو مسلط كړى پر هغوى رب ستا (الفاء سببية يعني په سبب د طغيان او كفر ددوى) عذابًا مختلفًا بعضها لبعض فهذه العبارة من قبيل اضافة الى الموصوف كاخلاط ثياب.

**پوهه:** چي اصل معنى د سوط خلط دى وشبهه بالسوط ما حل بهم في الدنيا من العذاب وفيه اشعار بانه بالقياس ما اعدلهم في الآخرة كالسوط اذا قيس بالسيف لان السوط يستعمل فيما يضرب في حد القذف وغيره من الحدود فافهم.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تتمه مظالم فرعون الجبار تاریخ دده د مظالمو خبري کوي چي فرعون یوه ډېره ښائسته ښځه په نکاح کړې وه چي نوم یې آسیه بنت مزاحم ؓ ، نو په اوله شپه چي فرعون او آسیه سره یو ځای سوه، نو دې د خپل ځان سره فکر وکړی چي زه مسلمانه یم او دی کافر دی ما به وطي کوي. نو فرعون چي دې ته ور نژدې سو د وطي لپاره یا د مقدمات د وطي من القبلة وغیرها نو آسیه ورته وویل یا فرعون انت شر خلق الله واخبثهم، فرعون ورته وویل څه کوې لېونی سوې که جن دربانديي کښېنستي مالي جنون وانما المجنون من کفر بالله الذي خلق السموٰات والارض وما بینهما وحده لاشریک له وهو علی کل شیئ قدیر، وانت تدعوا الالوهیة، نو فرعون حسب العادة څلور اوتاد ورته ښخ کړه په مځکه کي او ددې لاسونه او پښې یې پوري وتړل، آسیې ؓ خدای عزوجل ته خواست وکړی رب ابني بیتًا في الجنة ونجني من فرعون وعمله فقبضها ای زوجها و ادخلها الجنة العالیة، له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چي فرعون چي په ذی الاوتاد مسمیٰ سو له دې سببه چي دده د خزانه دار خربیل ماینه وه چي نوم یې ماشطه ؓ د فرعون د لور چي نوم یې هیجل ؓ سر یې ور ږمنځاوه، وکان خربیل مؤمنًا یکتم ایمانه من فرعون مائة سنة و کذا امرته، نو په دې منځ کي چي ماشطه د فرعون د لور هیجل سر ور ږمنځاوه ږمنځ یې د لاسه ولوېده فقالت: تعس من کفر بالله (هلاک دي وي هغه څوک چي د خدای له خدایي څخه منکر وي) فقالت بنت فرعون هل لک اله غیر من ابي؟ ماشطه ورته وویل الهي و اله ابیک واله السموٰات والارض اله واحد لاشریک له وله الخلق والامر، د فرعون لور ولاړه په ژړا پلار ته ورغله پلار یې ورته وویل چي پر څه شي ژاړې؟ لور یې ورته وویل چي ماشطه چي ستا د خازن ماینه ده ستا له خدایي څخه منکره ده، نو فرعون په غضب سو بالفور یې سړی ورواستاوه ماشطه چي راغله فرعون ورته وویل چي تا رشتیا دغسي ویلي دي، ماشطه ورته وویل صدقت فقال ویحک اکفري بالهک؟ فقالت لا اکفر بالله ربک ورب آبائک ورب السموات والارض لاشریک له. فرعون ورته وویل چي زه سخت عذاب درکوم دوې یا څلور میاشتي. هغې ورته وویل که ماته عذاب راکړې اوویا (۷۰) میاشتي زه له خپل اسلام څخه نه اوړم، راوي وایي چي ماشطي دوې لوڼې درلودې فجاء بابنتها الکبریٰ نو هغه یې ذبح کړه ددې په مخ کي وقال لها اکفري دې انکار وکړی، فرعون ورته وویل



Maktaba Tul Ishaat.com　　Scanned by CamScanner

والاذبحت الصغر چې د رضاع په وخت کې ده هغه درذبح کوم، نو د مور څخه يې بيطاقتي وسوه وقالت يا امه لا تجزعي (دا خبري خرق العادة وې) ستا لپاره خداى عزوجل په جنت کې خونه جوړه کړې ده، فلم تلبث الى ان ماتت ونقلها الى حوز رحمته تعالى، تمت حكايت مظالم فرعون ذى الاوتاد.

إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾

په تحقيق ستا رب دوى ته په انتظار دى، تعليل لما قبله و ايذان كفار قومه ﷺ سيصيبهم مثل ما اصاب المذكورين كما ينبئ عنه التعرض لعنوان الربوبية مع الاضافة الى ضميره يعني في ربک والمرصاد صيغه د ظرف ده اى المكان يترصد فيه السايلة (اى القافلة)

**پوه سه:** چې اطلاق د مرصاد پر خداى عزوجل مجازًا او استعارةً دى، شبه حاله تعالى في كونه تعالى محيط لاعمالهم ذرة ذرة بحال من قعد على طريق الكاملة ليترصدهم باخذ اموالهم ثم استعمل هذا في ذالک استعارة (كذالک في روح البيان) او يقال ان ملائكة ربک لمرصاد پر اووه ځايه (١) عن الايمان فان سلم ايمانه من النفاق نجا (٢) عن الصلوة فان اتم ركوعها وسجودها او هر لمونځ يې په وخت کې کاوه، نجا والا تردى في النار (٣) عن الزكوة (۴) عن صوم رمضان (٥) عن الحج المفروض عليه (۶) عن الوضوء والغسل عن الجنابة (٧) عن بر الوالدين وصلة الرحم، نو که يې په دې ځايو کې جواب درست راغلى قيل انطلق الى الجنة والا دفع الى النار.

**درويش وايي:** چې پر دې تقدير په بالمرصاد کې استعاره ته ضرورت نسته، البته حذف د مضاف اى ملائكة ربک لبالمرصاد.

فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾

هر چه يو انسان چې خداى يې امتحان وکړي بالفوز واليسر والغني واعطاء نعم الدنيا حتى يظهر انه يشكر الله او يكفر. دا ظرف متعلق دى په (فيقول) پورې (فاكرمه) يعني في الدنيا بالجاه والجلال (ونعمه) بالاموال والاولاد وغير ذالک (فيقول) خبر دى للانسان (ربي اكرمن) اى فضلني (ماته فضيلت راکړې نور شکر د نعمت نه وايي بالايمان والطاعة)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَمَّآ إِذَا مَا ابْتَلَـٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَهَـٰنَنِ ﴿١٦﴾

او چي كله يې امتحان واخلي په فقر والمرض وموت الاولاد حتى چي دا بنكاره سي چي دى صبر كوي كه يې نه كوي او رجوع و خداى ته كوي كه نه، او يجزع و يكفر من غير رجوع الى الله (فقدر عليه رزقه) نو تنګ كړي پر ده رزق دده (فيقول ربي اهانن) دلته يې داسي نه وويل اهانه وقدر عليه رزقه كما قال هناك فاكرمه ونعمه لان توسقه المال في الدنيا تفضل يوجب الشكر وقد يكون موجبًا للاكرام في الآخرة له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: لا حسد (اى غبتة) الا على اثنتين رجل اتاه الله تعالى القرآن فهو يقوم به آناء الليل و آناء النهار، ورجل آتاه الله مالاً فهو ينفق آناء الليل و آناء النهار. متفق عليه.

كَلَّا ۖ بَل لَّا تُكْرِمُونَ ٱلْيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحَـٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿١٨﴾

بلكي تاسي اكرام نه كوئ د يتيم (كلا حرف ردع دى عما يقولون چي نعمتونه د دنيا اكرام د خداى له خوا دي او فقر اهانت دى د خداى له خوا) قال ابن عباس رضي الله عنه الغني لم ابتله بالغنى لكرامته ولم ابتله بالفقر لهوانه عليه بل ذالك لمحض القضاء والقدر. انتهى، او بعض مفسرين وايي: اى ليس الامر كما يقولون فان الغني قد يكون استدراجًا من الله تعالى چي نه وي ورسره بل مع الشكر ايضًا لاتفضل عند الله الغني الشاكر على الفقير الصابر. وفي الحديث الذي رواه البخاري قال رئى سعدًا ان له فضل (اى بسبب انفاقه على فقراء المهاجرين. فقال رسول الله ﷺ هل ترزقون الا بضعفائكم) وعن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ ان فقراء المهاجرين يسبقون الاغنياء يوم القيامة الى الجنة باربعين خريف (۴۰) كاله.

**درويش وايي**: چي دا حديث مخصوص دى په اغنياء او فقراؤ پوري د عصر نبوي ﷺ دى كما يدل عليه عنوان ان فقراء المهاجرين آه ولا يقاس عليهم الاغنياء والفقراء من القرون الآتية حتى يوم القيامة فافهم. البته فقير صابر خو فضل لري پر غني شاكر في جميع الازمنة والله اعلم. وفي الباب احاديث كثيرة.

**فائده**: اليتيم من الاناسي من لا اب له حتى البلوغ، وقد ورد لا يتيم بعد البلوغ اى لاتنفقون عليهم ولا تحبون اليهم مع ان الله اكرمكم الله بالغنى په دې آيت سره:



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابتقال و ترقي ته دی من زمه بالقبيح من العقول الی اقبح من الفعل و الانتقال الی الخطاب لشدید التقریع وزیادة التشنیع مع ان رسول اللهﷺ قال احب البیوت الی الله فیه یتیم مکرم (چي ښه ورسره کیږي) بیت:

برحمت بکن آبش ازدیده پاک ..... بشفقت سیاهی از چهره پاک

(ولا تحاضون) او تاسي یو و بل مه باعثه کوئ (اصل تتحاضون ؤ یوه تا ـ یې ځني حذف کړه یعني بل څوک مه باعثه کوئ) علی طعام المسکین: فضلاً تعطوا اموالکم.

## وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ۝١٩ وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ۝٢٠

او تاسي خورئ میراث د یتیمانو (اکلا لما) مضاف ورسره محذوف دی ای ذالم ای جمعًا بین الحلال والحرام د ذوی اموال د ضعفاؤ من النساء والصبیان ای الیتامی جمع خورئ (وتحبون المال حبًا جمًا) او ستاسي خوښ دی مال کثیر مع حرص و شر، عرب وایي جم الماء الی الحوض ای کثر.

## كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ۝٢١ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ۝٢٢

(کلا) ردع او منع ده د مایفعلون څخه، مقاتل وایي ای لایفعلوا ما اومروا به. او یا جمًا په معنی د حقًا دی تحقیقًا لما یذکر بعده من الوعید وینحز عن تحسرهم حین لا ینفع التحسر (ودکت الارض دگا دگا) ای زلزلاً بعد زلزال حتی چي توک توک سي ما علیها من الجبال وغیرها من البناء حتی صارت هباءً منبثًا (کرده منتشر سي في اطراف الارض) (وجآء ربک) دا له متشابهاتو څخه دی نؤمن بما اراد الله عطف دی علی دکت، وتحقیق المتشابهات و اقوال الخلف والسلف في تفسیر قوله تعالی ان یأتیهم الله في ظلل من الغمام في سورة البقرة (والملک) المراد به الجنس ای جائت الملائکة جمعًا (صفًا صفًا) حال دی له ملک څخه ای جاؤا یصففون صفًا بعد صف حال من الملائکة. اخرج ابن جریر وابن المبارک عن الضحاک اذا کان یوم القیامة امر الله سبحانه وتعالی السماء الدنیا ای القریب من الارض فتشققت عن باهلها فتکون الملائکة علی ارجائها حین یأمرهم ینزلون لتکونوا علی اهل الارض ومن علیها ثم الثانیة ثم الثالثة ثم الرابعة ثم الخامسة ثم السادسة ثم السابعة ثم ینزل الملک الاعلی، نو پر تیوله مخکه اووه صفه راوګرځي و یقولون این المفر ملک اعلی چي نازل سي پر چپه طرف یې دوږخ وي حتی چي خلګ دوږخ ووینې پر یوه خوا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او پر بله خوا سره څغلي پر هره خوا چي ولاړ سي صفونه د ملکو پر را ګرځېدلي وي وذالک تأويل قوله تعالى اني اخاف عليکم يوم التناد وقوله تعالى وجاء ربک والملائکة صفا صفا وقوله تعالى وجيئ يومئذ بجهنم وقوله تعالى يا معشر الجن والانس ان تستطعتم ان تنفذوا من اقطار السموات والارض الآية، يعني که تاسي تېرېدای سئ له اطرافو څخه د آسمانو او مځکي فانفذوا يعني سره داوو صفو د ملکو نو تېر سئ، يعني لايمکن لکن ذالک وقوله تعالى وانشقت السماء فهي يومئذ واهية والملک على ارجائها.

وَجِاْیٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ وَأَنَّىٰ لَهُ الذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾

عطف على جاء، اخرج مسلم والترمذي عن ابن مسعودؓ قال قال رسول اللهﷺ راتګ کړه کېږي په جهنم سره لها سبعون الف زمام او وېا زره څنځيران پکښېږ وي على کل زمان سبعون الف ملک يجرونها الى المحشر راکشوي يې د حشر و ځای ته، وقال القرطبي المفسر الکبير يجاء بجهنم من خلقها الله شا و خوا پر اهل محشر را وګرځي لايبقى طريق الى الجنة الا الصراط فيمروا المؤمنون ويقع فيه الکفار، واخرج ابو النعيم عن کعب الاحبار اذا کانت يوم القيامة ونزلت الملائکة فصاروا صفوفا فيقول الله عزوجل لجبرئيل ايت بجهنم فيأتي تقاد بسبعين الف زمام على کل زمام سبعين الف ملک حتى چي دوږخ له خلګو څخه د سلو کالو پر مسافة وي زفرت يوه تو ده ساه وکاږي طارت بها قلوب الخلائق ثم زفرت الثانية فلا يبقى ملک مقرب ولا نبي مرسل حتى چي له بېري څخه پر زنګنو سي، ثم تزفر الثالثة فيبلغ القلوب الحناجر وتزيل عقول الخلق، نو بېرېږي هر سړی له خپل عمل څخه چي ابراهيم خليل الله به وايي نجاني لا اسئلک الا نفسي، ويقول موسىٰؑ في مناجاته لا اسئلک الا نفسي، وقال عيسىٰؑ اکرمتني في الدنيا لا اسئلک غير نفسي و مريم التي ولدتني .... بيت:

بجائ که دهشت خورد انبياء ..... تو عذری ګناه را چه داری بيا

و محمد رسول اللهﷺ يقول امتي امتي (ای اغفر امتي) لا اسئلک اليوم نفسي فيجيب جل جلاله ان الاولياء من امتک لاخوف عليهم ولا هم يحزنون و يقول الله عزوجل لاقرن (زه به خونکي کړم ستا ستر ګي)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درویش وايي:** چي خنكتيا د سترګو كنايه ده له خوشالى څخه، ولي چي سرى د ډېر خوشاله سي هم ژړا ورځي او چي ډېر غمجن سي هم یې تر سترګو اوښكي بهېږي، لكن د خوشالى اوښكي سړې وي او د غم اوښكي تودې وي، فقم وتقف الملائكة بين يدى الله ينتظرون ما يؤمرون... سعدي شيرازي" وايي:

عطاى شفاعت چنانش دهند ...... كه امت تمامى ز دوزخ رهند

(يومئذ) بدل دى د اذا دكت الارض وجيئ بجهنم (يتذكر الانسان) عامل دى ظرف دى، مراد له انسان څخه الذي قال ربي اكرمني و رب اهانني اى په ياد به يې ورسي خپل كفر او معاصي (وانى له الذكرى) انى استفهام انكاري دى، والمعنى ليس له منفعة فان شرط الايمان بالغيب دى اذ لا يدخل جنة الا مؤمن... بيت:

تو پيش از عقوبت در عفو كوب ..... كه سودى ندارد فغان زير چوب

يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ﴿٢٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗۤ اَحَدٌ ﴿٢٥﴾

وايي انسان تحسرًا، جمله مستانفه ده في جواب ما يقال ما يقول ذالك الانسان (يٰليتني) اى يقول كاشكي ما (قدمت) في الدنيا ايمانًا و اعمالاً صالحة (لحيوتي) د ژوند لپاره يعني د آخرت چي دا ژوند بيا نه موت لري او نه دفع.

(فيومئذ) عطف على يومئذ السابق والظرف متعلق بما بعده (لايعذب عذابه احد) عذابه منصوب دى په نزع سره د خافض اى مثل يعني نه به عذابول كېږي مثل عذابه هيڅ څوک الا من كان على شاكلته

وَّلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗۤ اَحَدٌ ﴿٢٦﴾

الضمير المجرور في عذابه و وثاقه اما راجع الى الله سبحانه وتعالى والاضافة الى الفاعل اى لايتولى عذابه و وثاقه في السلاسل والاغلال احد سواه والامر يومئذ كله لله، او يا ضمير راجع دى و انسان كافر معهود ته، والاضافة الى المفعول اى لايعذب احد من الزبانية مثل ما يعذبه الله احدًا، والمعنى لايعذب احد احدًا من الازل الى الابد كعذاب الله، ولا يوثق احد احدًا من الازل الى الابد كوثاق الله في السلاسل والاغلال.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾ ارْجِعِيٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾

**پوه سه:** چي په دې قول کي قال مقدر دی، جمله مستانفه ده کانه في جواب السائل ان ما کان حال الکافر فما بشان المؤمن و التقدير يقال للمؤمنين (يا ايتها النفس المطمئنة) ای نفس چي ارام وي په ذکر کي د خدای او په طاعت کي د خدای عزوجل لکه ماهی په اوبو کي چي مطمئن وي، او دا اطمنان هلته مؤمن ته پيدا کيږي چي رزائل الموجبة لکونه امارة بالسوء ده ته زائل سي او په محبت کي د خدای عزوجل فاني وي او په ده سره باقي وي چي دې ته صوفيه کرام فاني في الله باقي بالله وايي (ارجعي الی ربک) وګرځه د خپل رب طرف ته، يعني ملک الموت ورته ووايي (راضية) بالله ربًا و بالاسلام دينًا و بمحمد ﷺ رسولاً و بما قدر الله لها، حال دی من فاعل ارجعي، قال رسول الله ﷺ ذاق طعم الايمان من رضی بالله ربًا و بالاسلام دينًا و بمحمد رسولاً (متفق عليه) و بالمراد بالاسلام الايمان الحقيقي چي خالي وي له نفاق او رياء ځکه (مرضية) يعني خدای به له تا ځکه راضي وي او ته به له خدايه راضي يې، فان رضاء العبد بالله موجب لرضاء الله سبحانه منه، قال الحسن اذا ارد الله قبض روح المؤمن اطمئن ورضی عن الله ورضی الله عنه، عن عبادة بن الصامت ﷺ من احب لقاء الله احب الله لقائه و من کره لقاء الله کره الله لقائه، قالت عائشة ﷺ او بعض نسائه انا نکره الموت (موږ مرګ مکروه باله، ددې خيال دا ؤ چي د لقاء الله ځکه مراد مرګ دی) قال رسول الله ﷺ في جوابها ليس ذالک، يعني مرګ مراد نه دی، لکن المؤمن اذا حضره الموت وبشر برضوان الله و کرامته عنده فليس شيئ احب اليه مما امامه فاحب (ای المؤمن) لقاء الله و احب الله لقائه، وعن ابی هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذا حضر المؤمن الموت آتت ملائکة الرحمة بحريرة بيضاء فيقولن اخرجي (يعني يا ايتها النفس، دا ترجمه ما وکړه په اعتبار د تانيث اخرجي) راضية مرضية الی روح الله (ای رحمته) وريحانه و رب غير غضبان فيخرج کاطيب ريح المسک حتی ليناوله بعضه بعضًا حتی يأتوا ابواب السماء فيقولون ما اطيب هذه الريح اتي جائتکم من الارض فيأتون ارواح المؤمنين فلهم اشد فرحًا به من احدکم بغائبه يقدم عليه فيقول ماذا فعل فلان فيقول (يوه ملکه ووايي) فانه کان في غم الدنيا



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني دنيا يې سره جمع كوله، فيقول انه قد مات اما اتاكم دوى ورته وايي لا فيقول ذهب به الى امه الهاوية.

**درويش وايي:** چي دا حديث ئې پر اورد دی چي بيان د قبض روح الكافر پكښې سوی دی، موږ شكر مؤمنان يو د كافر په عذاب او سختی زموږ څه كېږي.

فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ ﴿۲۹﴾ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ﴿۳۰﴾

اى في جملة عبادي الصالحين الذين سئل سليمان عليه السلام الدخول فيهم، حيث قال وادخلني برحمتك في عبادك الصالحين، وسئال يوسف عليه السلام اللحوق بهم حيث قال توفني مسلمًا والحقني بالصالحين، ابليس چي د خدای عزوجل له درباره رانده سو او دا يې وويل لاغوينهم يعني اولاد د آدم، خدای پاک ورته وويل ان عبادي ليس لك عليهم سلطان، والفاء في (فادخلي) للسببية فان اطمئنان النفس وكونها راضية مرضية سبب لخلوص العبودية لله سبحانه وتعالى (وادخلي جنتي) داخل سه و جنت ته زما.

**پوه سه:** چي اضافت د جنت يې و ځان ته وكړى يقتضى تلك الجنة من اعلى الجنات كما لايخفى، قال البغوي" مات ابن عباس رض، قال سعيد بن جبار" مات ابن عباس رض في الطائف فشهدت جنازته فجاء طائرًا لم ير احد مثله فدخل نعشه فلم نر خارجًا عنه، فلما دفن تليت هذه الآية على شفير القبر لم يدر من تلاها يَآ اَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾ ارْجِعِيْٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ ﴿۲۹﴾ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ﴿۳۰﴾ او ابن ابی حاتم" له بريده رض څخه نقل كوي چي دا آيت په باره كي د سيد الشهداء حمزه رضي الله عنه دی ولا منافات، واخرج من طريق جوير عن ابن عباس رض ان النبي صلى الله عليه وسلم قال من اشترى هذه الآية يستعذب بها غفر الله له فاشتراها عثمان رضي الله عنه.

بعض صوفيان وايي چي معنى ددې آيت دا ده يا ايها النفس المطمئنة الى الدنيا ارجعي الى ربك بترك الدنيا والسلوك الى طريقه الصوفية.

**درويش وايي:** چي ددې معنى كه څه هم مضمون صحيح دى لكن اراده يې بعيده ده جدًا و واه جدًا.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الْبَلَدِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَهِيَ عِشْرُوْنَ اٰيَةً

لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ① وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِ ② وَوَالِدٍ وَّمَا وَلَدَ ③

زما دي قسم وي په دې ښار سره، يعني مكة المكرمة (وانت حل بهذا البلد) دا جمله حال ده له مقسم به ځخه.

**پوه سه:** چي خداى ﷻ قسم واخستى په مكه سره مقيدًا بحلوله و وجوده ﷺ لپاره د اظهار د مزيد فضل د مکې چي يو ددې فضل دا دى چي پر تولو بقاع د دنيا، او بل فضيلت ددې دا دى چي افضل الانبياء والرسل په دې کي پيدا سوى دى يعني بشرف المتمكن على فضلها في نفسها، رسول الله ﷺ چي له مکي ځخه هجرت کاوه نو مکې مکرمې ته یې وکتل او داسي یې وويل ما اطيبک من بلد (ځه عجيب پاک بلد يې اى مكه) و ما احبک الى الله ولو لا ان اخرجوني منک (چي نه واى ايستلى زه خپل قوم له تا ځخه يعني نه يې واى مجبور کړى په کثرت د ازار و ماتنه، ددې قيد فائده داده چي قوم خو ده ته نه وه ويلي چي ته زموږ ځخه وځه يعني که دا مجبوريت نه واى) ماسکنت غيرک (ما به سکونت نه کولاى په غير کي ستا) رواه الترمذي عن ابن عباس رضي الله عنهما وقال الترمذي حديث حسن صحيح.

وهذه معترضة لذم كفار مكة چي دوى حلال بولي ستا اخراج بلکې ستا قتل هم روا بولي مع انهم يحرمون (ازعاج الصيد عن مكانه وقتل في هذه البقعة الشريفة) وقيل معناه وانت حلال لك ان تصنع فيه من قتل واسير ليس عليک ما على الناس فيها من الاثم فهو وعد ما احال الله يوم فتح مكة شامل فيها وامر بقتل عبد الله بن حنظلة وهو متعلق باستار الكعبة، وسقيس بن خباية وغيرهما، قال رسول الله ﷺ يوم فتح مكة ان هذا البلد حرمه الله يوم خلق السموات والارض فهو حرام بحرمة الله تعالى الى يوم القيامة وانه لايحل في القتال فيه لاحد قبلي. ولم يحل لي القتال الا ساعة يعني تر هغو چي فتح کېدى فهو حرام بحرمة الله الى يوم القيامة، الى اخير الحديث.

(ووالد وما ولد) عطف على البلد، يعني زما دي قسم په والد وي چي مراد ځني آدم او ابراهيم عليهما السلام دي، او د ما ولد ځخه مراد ذرية د آدم عليه السلام او ټوله انبياء



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کرام عليهم السلام دي او اولاد د ابراهيم عليه السلام او يا محمد ﷺ دي لانه اشرف اولاد آدم عليه السلام او عليه الصلوة والسلام اب لجميع الامة لقوله عليه الصلوة والسلام انما انا لكم مثل الوالد للولد اعظكم و اعلمكم امور دينكم، او چي هغه آيت ورسره ضم کړي: النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ في تحريم نكاحهن على جميع الامة رفع المثلية و سبب حقيقة الابوة الا ان المثلية بالاب باعتبار يعلم امور دينكم ورفع المثلية باعتبار كون ازواجهم امهاتهم، لکن بايد دانست که حجاب بينهن وبين هر فرد از افراد الامة واجب زيرا كه اموميت شان باعتبار تحريم النكاح لا حقيقة الامومية حتى يرفع حكم الحجاب فافهم، وجواب القسم هو قوله تعالى:

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾

په تحقيق ما پيدا کړی دی انسان، اللام للجنس وما قيل انه للعهد فليس بشيئ (في كبد) كه مراد له انسان څخه جنس سي كما هو الصحيح، نو مراد له نصب څخه شدة او شفقت دی كذا روى عن ابن عباس رض وقتادة رح، وقال عطاء عن ابن عباس رض تفصيلاً في شدة حمله و ولادته ورضاعه و فطامه (د مور څخه پرې کول) و معاشه و حيوته ونبات اسنانه (چي غاښونه يې راځي) او په طلب معيشت کي مسکين وي روزانه کوي الى غير ذالک، مثلاً که موړ وي او ډېره دنيا لري له غلو څخه بېرېږي، فما قال المظهري انه يشارک فيها الانسان غيره من الحيوانات ليس بشيئ لان جميع ما ذكرته ليس مع الانسان شريک من حيوان ما كما لايخفى ولا حاجة الى ما اجاب عن ذالک بقوله فتخصيه بالذكر لشدة شعوره و عقله وادراكه فان تحمل المكائد مع شدة الشعور اشد من غير الشعور. بيا مظهري يوه عنديه ای وعندي که مضمون يې صحيح دی لکن له دې آيت څخه په مراحلو لېري دی والله اعلم.

**فائده:** په دې سره تسلي ورکوي و نبي ﷺ ته چي ته تحمل د مکابدو د قوم فيما وجد عليه من التبليغ زړه مه تنگوه لقوله لقد خلقنا الانسان في كبد وانت واحد من الاناسي.

أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾ يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾

آيا گمان کوي انسان (الضمير راجع الى الانسان، والاستفهام للانكار



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والتوبيخ باعتبار بعض افراده، بعض وايي چي وليد بن المغيرة وهو الذي كان رسول الله ﷺ منه في كبد (ان لن يقدر) كلمه د ان مخفف ده له مثقل څخه اسم يې ضمير شان محذوف دى والجملة قائمة مقام مفعول يحسب، يعني دا چي پر ده قادر نه دى هيڅ څوک، نكره په سياق كي نفي للعموم، په مكه مكرمه كي يو سړى ؤ د ابو الاشد په نامه چي ډېر قوي ؤ، ده به ويل چي ملكي د عذاب پر ما هيڅ قدرت نه لري، يا مراد د ابو الاشد الاحد الصمد دى ده به ويل چي پر ما خداى قدرت نه لري چي عذاب دي راكړي.

(يقول) دغه انسان به ويل، مقوله ده د قول دده دا وروسته قرآني جمله (اهلكت مالاً لبدًا) اى كثيرًا جمع د لبدة وهي ما تلبد واجتمع وكثر، دا خبره له فخره ده وكړه او د ريا ـ لپاره چي په عداوت كي د رسول الله ﷺ يې ډېر اموال صرف كړي دي چي كفار قريش هم په دې اقرار كاوه چي اعداء د عليه الصلوة والسلام وه.

أَيَحْسَبُ أَنْ لَمْ يَرَهُ أَحَدٌ ۝٧

دى ګمان كوي چي نه ويني دى څوک بل الله سبحانه وتعالى يره ويعلم به حين ينفق في معادات النبي ﷺ فيسئله من اين اكتسبه، او په څه شي كي مصرف كوي فينتقم منه ويجاوز به، كذا قال جبير بن سعيد وقتادة وهذه الجملة تاكيد ده د انكار او توبيخ ثم عد الله سبحانه وتعالى بنعمه عليه ليقرره چي دى اقرار كړي على انه سبحانه على كل شيئ قدير، فقال.

أَلَمْ نَجْعَلْ لَهُ عَيْنَيْنِ ۝٨ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ۝٩ وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ ۝١٠

موږ ده ته نه وې وركړي دوې سترګې چي په هغو سره به يې ليدى عالم الملک من الارض الى السماء حتى چي ده به ليدل په هغو سترګو په طرفة العين كي علويه ستوري چي د هغو او دده تر منځ عدة آلاف سنة مسافت ؤ.

**فائده:** څوک به له دنيا والو څخه دومره كوچنى شى لكه د سترګي غمى چي پر دومره مسافت دي د آلاف سنه دده رڼا ورسېږي وبهما يعرف ماينفعه وما يضره وبهما ينظر الى وجه العالم والى المصحف والى الشواهد (ولسانًا) وبه ينطق ويتكلم (وشفتين) دوه شونډان يستر بهما فاه ويستعين بهما على النطق والاكل


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والشرب والنفخ، وفي الحديث ان الله عزوجل ان نازعک لسانًا فيما حرمت عليک (يعني يا د چا غيبت وکړي يا درواغ يا ناحقه شاهدي اداء کړي وغير ذالک) فقد اعنتک بطبقتين (ما ستا سره کومک کړی دی په دوو طبقتينو يعني دوو شونډانو هغه پر راکش کړه) وان نازعک بصرک فيما حرمت عليک چي په بنائسته ښځي پسي وګوري وغير ذالک فقد اعنتک بطبقتين دوې طبقې يعني دوې سترګې پټونکي يعني سترګي پټې کړه، وان نازعک فرجک فيما حرمت عليک يعني ذکر دي يو نا محرمي ښځي ته پورته سو فقد اعنتک بطبقتين، دوه ورنونه پر راټول کړه تينګ يې ونيسه.

(وهديٰنٰه النجدين) او ښوولي مي دي ده ته دوې لارې، قال اکثر المفسرين طريقي الخير والشر، والحق والباطل، والهدیٰ والضلال يعني حق او باطل مو ده ته ښکاره کړی باعطاء العقل المميز بينهما، او پر هغه برسېره مو رسولان ور استولي دي، نو که څوک سره د هغه لار د ضلال مختاره کړي فلا عذر له.

فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَا أَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾

قيل چي لا دلته پر خپله معنی نه دی، ولي که لا پر خپله معنی وي نو پر ماضي نه داخلېږي (مګر درنحو: لاقام ولا قعد فهي ههنا په معنی د هلا دی) چي پر ماضي داخل سي حرف تنديم يې بولي (يعني پښېمانه کول) او چي پر مضارع داخل سي حرف تحضيض يې بولي (يعني باعثه کول پر هغه مستقبل کار) نو معنی يې دلته دا ده چي دی ولي نسو داخل په تکلف سره و عقبه ته بانفاق ماله فيما يجوز به العقبة.

**فائده:** الاقتحام الدخول في شديد و مجاوزته لعقوبة، والعقبة الطريق الوعر في الجبل، والمعنی ههنا فهلا اقتحم العقبة بانفاق ماله فيما يجوز به العقبة من الطاعات فتکون خيرًا له من انفاقه في عداوة الرسول ﷺ. والجملة معطوفة علی قوله اهلکت مالاً لبدًا.

(وما ادارک ما العقبة) ته څه شي خبر کړې چي عقبه څه شی ده، يعني ما تدري صعوبتها علی النفس وکثرة ثوابها.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾
أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾

نو مريبی ازادول دي لله تعالی، یا خوراکي شی ورکول دي هر شی چي ځ حسب القدرة په ورځ د لوږي و خاوند ته د لوږي من سغب لا جاع فالمسغبة مصدر میمي وكذا مقربة ومتربة او يتيمًا مفعول د اطعام دی، ذا مقربة چي ستا قریب وي په نسب کي لاشتماله على صلة الرحم، او مسكينًا ذا متربة چي ملحق په خاورو پوري وي نه تلتک یا شړی چي پر ځان یې واچوي او نه یو بستر لري چي لاندي یې هوار کړي، و وصف اليوم به مجازًا والنصب على المفعولية په یتیمًا او مسكينًا کي.

ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾

بیا دي وي له هغو کسانو څخه چي ایمان یې راوړی دی، لان الايمان شرط الطاعات كلها، او یو وبل ته دي وصیت سره کوي په صبر سره له کنهو څخه چي صبر عن الشيئ یې بولي وعلى طاعاته چي صبر على الشيئ یې بولي والمصائب چي صبر في الشيئ یې بولي (و تواصوا بالمرحمة) او یو دبله دي وصیت سره کوي پر بندګانو یا پر موجباتو د رحمت د خدای عزوجل.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾

دغه کسان اصحاب د یمن او برکت دي ای الموصوفون بالفصات المذكورة في انفسهم یا به یې عملنامې په ورځ د قیامت په راسته لاس کي ورکول کېږي.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾

او هغه کسان چي تکذیب کوي في دلائلنا على الحق من المعجزات وآيات القرآن نو دغه کسان دي اصحاب الشوم یا به یې عملنامې په ورځ د قیامت په چپه لاس کي ورکول کېږي، پر دوی باندي به اور وي، یعني په دوږخ کي به په بندو اوطاقو کي چي دروازې به یې بندي وي.

**درویش وایي:** وقد فرغت بتوفيق الله عزوجل من تفسير سورة البلد في الثلث الاخير من ليلة الاحد ١٥ ذی الحجة الحرام تخمينًا (١٤٣٣هـ)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الشمس مكية بسم الله الرحمن الرحيم فی خمس عشرة اية

وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا ۝١ وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰهَا ۝٢ وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰهَا ۝٣
وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰهَا ۝٤

قسم دی په لمر او په گرمی دده، قال مجاهد ضوئها حين تطلع الشمس، نو صفا سي ضوء دده، او قتادة وايي وهو النهار كله وهذا بعيد من اضافة الضوء الى الشمس، وفي القاموس الضحية كالعشية وقت صلوة الاضحى يعني لمر بنه را پورته سي تخمينًا نهه (۹) بجې، په دې وخت كي علماؤ يو لمونځ ټاكلی دی او ډېر فضائل يې بيان كړي دي چي په اول ركعت كي والشمس وضحها ووايي او په دوهم ركعت كي به والليل اذا يغشى وايي بيا به كښېني التحيات او اللهم صل به وايي، دريم ركعت ته چي ولاړ سی سبحانك اللهم به وايي وروسته الفاتحة وروسته والضحى وروسته الم نشرح بيا به سلام گرځوي، هر خواست چي خدای عزوجل ته كوي ودې كړي ان شاء الله تعالى قبول به سي.

(والقمر اذا تلها) ای تبلغ طلوعه طلوع الشمس وذالک في نصف الاول من الشهر او سبع غروب الشمس و ذالک في النصف الاخير من الشهر او تبع في الاستارة و كمال النور كذا قال الزجاج، و كلا الامرين في ايام البيض يعني: ١٣-١٤-١٥.

**پوه سه:** چي اسناد د تجلية و نهار ته مجاز دی كما في صام نهاره و الضمير المنصوب اما راجع الى الشمس فانها تتجلى اذا انتصب النهار يا وغير مذكور ته يعني جلية الظلمة او الارض او الدنيا كذا قال المظهري، وفيه بحث لان الاضمار قبل ذكر المرجع غير جائز، اللهم الا ان يكتفي بقرينة المقام فافهم.

(والليل اذا يغشاها) چي پټ كړي شپه لمر او آفاق يا ځمكه، والظروف اعني اذا تلها واذا جلها واذا يغشاها متعلقة بفعل القسم ای زه قسم اخلم په وخت كي او په دې وخت عند الجمهور، وفي تفسير البحر المواج لايجوز ذالک فان الاقسام لايكون في تلک الاوقات بل بتلک الاوقات.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰهَا ﴿۵﴾ وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰهَا ﴿۶﴾ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ﴿۷﴾

او قسم دی په آسمان او په هغه ذات چي آسمان يې بناء کړی دی وهو الله تعالى كذا قال الكلبي وعطاء.

**سوال:** حينئذ لازميږي بې ادبي بتقيم القسم بغير الله على المقسم به تعالى؟

**ځواب:** دا ترقي ده د ادنى چي سهار دی و اعلى ته چي خدای پاک دی وهو عين الادب.

**پوښتنه:** په نحو کي وايي چي کلمه د ما غير ذوى العلم لپاره ده، نو کلمه د من يې دلته ولي نه راوړه؟

**ځواب:** ما په اوصاف کي د اولى العلم شاذ دی دلته په والشيئ القادر الذي بناها او الشيئ الذي دل على وجوده وكمال قدرته بناها، وقال الفراء والزجاج كلمه د ما مصدريه ده، والمعنى والسماء وبنائها (والارض وما طحاها) يعني په مځکه مي دي قسم وي وبسطها چي دا يې فراش ګرځولې ده، وكذا الكلام في قوله تعالى (ونفس وما سواها) اى زما دي قسم وي په نفس وعدل خلقها وسوى بقضائها على ما تقتضيه الحكمة.

فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ﴿۸﴾ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ﴿۹﴾

وفي البحر المواج الهمها معطوفة على سواها، والمعنى ونفس وتسوية فالهما فجورها وتقواها انتهى، وتنكير نفس التكثير والتعميم كما في قوله تعالى علمت نفس ما احضرت او للتعظيم والافراد به نفس آدم عليه السلام وقال عطاء يريد جميع ما خلق من الانس والجن، والمراد بالهام الفجور التقوى ان يبين لها الخير والشر والطاعة والمعصية حتى ياتى بالخير والطاعة و بقى الشر والمعصية، كذا روى عن ابن عباس و عمران بن حصين رضي الله عنه. اِنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ مُزَيْنَةَ اَتَيَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَا: يَا رَسُوْلَ اللهِ اَرَاَيْتَ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ الْيَوْمَ وَيَكْدَحُوْنَ (يعني كوشش كوي) فِيْهِ. اَشَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضَى فِيْهِمْ مِنْ قَدَرٍ قَدْ سَبَقَ. اَوْ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُوْنَ بِهِ مِمَّا اَتَاهُمْ بِهِ نَبِيُّهُمْ. وَثَبَتَتِ الْحُجَّةُ عَلَيْهِمْ؟ فَقَالَ: "لَا.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَلْ شَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضَى فِيهِمْ. وَتَصْدِيقُ ذٰلِكَ فِي كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا" (رواه مسلم)

**فائده:** قدم الفجور على التقوى لان النفس امارة بالسوء، وايضا فيه رعاية رؤس الآيات يعني ونفس وما سعى ها الى ان قال فجورها وتقوى ها.

**فائده:** الواو الاول للقسم بالاتفاق وكذا الثانية والثالثة وما بعدها عند البعض، وليست للعطف للزوم عطف المعمول على معمولى العاملين في مثل قوله والليل اذا يغشاها فان الليل مجرور بواو القسم فاذا جعلت اذا جلها للعطف كان الواو قائما مقام الفعل والقسم.

**پوه سه:** چي ضمير مرفوع په زكها كي راجع دى و خداى عزوجل ته والضمير المنصوب الى من په دې اعتبار چي من عبارة له نفس څخه چي مؤنث سماعي دى فارجاع الضمير المؤنث الى من ليس باعتبار لفظه بل باعتبار معناه المراد به وهو النفس، والمعنى فازت وسعدت نفس طهره الله عن الرزائل بتجليات صفاته الكاملة عليها حتى صارت راضية بالله تعالى واحكامه عظمته بذكره (الا بذكر الله تطمئن القلوب) واخرج ابن جرير من طريق جبير عن ابن عباس رضي الله عنهما في قوله تعالى قد افلح من زكها افلحت نفس زكها الله كذا قال عكرمه رحمه الله، وروى مسلم والترمذي و ابن ابى شيبة والنسائي عن زيد بن الارقم رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال اللهم اني اعوذبک عن العجز والكسل (سستي او عاجزي ستا په عبادت كي) والجبن (او بزدلي په جهاد كي له كفارو سره) والبخل (اى في المال) والهرم (زړوالي) وعذاب القبر. اللهم آتى نفسي تقومها وزكاها انت خير من زكاها انت وهي مولاها (ستا مربى دى) اللهم اعوذبک من علم لاينفع به (يعني چي علم وي او عمل نه وي) ومن قلب لايخشع (داسي زړه چي تا ته خاشع نه وي يعني ستا څخه نه بيريږي)

**درويش وايي:** چي دعاء د سيد المرسلين ﷺ په دومره عجز او انكسار سره وه نو موږ بايد څرنګه دعاء وكړو؟ دغه دعاء پر موږ لازمه ده چي وايو اقتداء بالنبي ﷺ.

وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ﴿١٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِطَغْوٰىهَآ ﴿١١﴾ اِذِ انْۢبَعَثَ اَشْقٰىهَا ﴿١٢﴾

په خسران كي واقع كړي دي خداى هغه نفس چي تدسس يې مختاره كړى دى، والتدسس معناه الاخفاء. قال الله ام يدسه في التراب (يعني عربو چي ښځينه عيال

نه خوښاوه چې لور بې پیدا سوه نو دی به په دې فکر کې ؤ چې: باقي علی هوان چې په ذلیلو کالو کې به پسو نه پیایي ام یدسه في التراب ژوندی بې په قبر کې ښخه کړم، والمراد هـ الاهلاک فانه یستلزم الاخفاء ای خابت وخسرت نفس اهلکها الله تعالی بالاضلال او هو اهلک نفسه بکسب الضلالة (کذبت ثمود) تانیث د فعل مسند په تأویل د ثمود دی بالقبیلة، هذه الجملة الی اخیر السورة تاکید دی لقوله تعالی قد خاب من دسٰها والمفعول ما وقع التکذیب فیه محذوف دی (بطغواها) الباء للسببیة، والمعنی کذبت ثمود بسبب طغیانها نبیهم صالحاً في التوحید والنبوة حین قال صالح انی لکم رسول امین فاتقوا الله واطیعوني، دوی ورته وویل چې ته یو بشر یې مثلنا فأت بآیة ان کنت من الصادقین او دوی طلب وکړی له ده څخه چې ته یو غره ته اشاره وکړه چې له دغه غره څخه یوه اوښه عشراء (یعني چې د لسو میاشتو بلاربه وي، ولې چې اوښه پر لسمه میاشت لنګېږي، او دا اوښه به في الحالة لنګېږي جونګی به یې هم د مور غوندې غټ وي) نو صالح ﷺ خدای عزوجل ته خواست وکړی چې له دې غره څخه یوه اوښه راپیدا کړې، نو له دې غره څخه داسې اواز راووتی لکه یو حیوان چې لنګېږي، نو له دې غره څخه یوه اوښه راووته دا اوښه چې به چو کېده میل په میل کې په مربعه مځکه کې چو کېده، دستي یې جونګی وزېږاوه لکه خپل مور دومره غټ ؤ، د ثمود د قبیلې مواشي یې پر څاهانو (کوهیانو) ولیدل، نو دا اوښه ورغله چې پر څاه یې خوله کښېښول د څاه اوبه یې تولې وڅښلې. فجعل صالح ﷺ لها شرب یوم ولمواشیهم شرب یوم، فاراد وقتل الناقة لیس لهم الماء والکلاء، وذالک قوله تعالی (اذ انبعث) یعني ذمه واخسته د قتل د ناقة چابک حین حیث قال الله تعالی في موضع آخر، فنادوا ای قذار بن سالف فعقروا الناقة.

**درویش وایي:** چې دا دومره لوی حیوان خو یو سړی نسي وژلای نو قذار بن سالف چونکه د قوم مشرؤ د ډېر کسان یې نور له ځان سره ملګري کړي وه، او ښه چې له چراګاه څخه رازروانه وه، دوی لس یو ځای لس بل ځای مثلاً توري او غشي ورسره وه چا به تورو چا په غشو ویشتل اخیر یې د پښتو له تګه واچول او ذبح یې کړه، جونګي چې دا د مور حالت ولیدی میدان یې کړه مخ د هغه غره پر خوا چې موریې ځني راوتلې وه، درې ناري یې وکړې بیرته په هغه غره ننوتی.

(اشقها) هغه لوی شقي د ثمود د قبیلې وهو کمامر قذار بن سالف.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**فائده:** دا سړی په رنګ سور ؤ او شنې سترګې يې وې په قد ګردی سړی ؤ چې بالاؤ شقاوت دده تر نورو ملګرو دده ولې چې مشري د عقر دده پر ذمه وه، روى البخاري عن عبد الله بن زمعةؓ قال فقال رسول اللهﷺ اذ انبعث اشقها عزيز عارم في قومه مثل ابى زمعة يعني په قريشو کې، وعن ابن عمرؓ اشقى الناس عاقر ناقة ثمود وقاتل اخيه من ابنى آدمؑ يعني قابيل ماسفک على الارض من دم (اى بغير حقه ابن آدم قاتل لاخيه هابيل) دى ور شريک دى لانه اول من سن القتل، رواه الطبراني والحاكم وابو نعيم في الحلية.

فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ نَاقَةَ اللَّهِ وَسُقْيَاهَا ۝

نو وويل دوی ته د خدای رسول، يعني صالحؑ د مخه دوی ته ويلي وه (فقال: عطف دی پر انبعث) (ناقة الله) اضافت و خدای ته له دې سببه وکړی چې بيله اسبابو صرف په قدرت الهي سره پيدا سوې وه وناقة الله ذروا ناقة الله واحذروا عقرها (وسقياها) ددې دا وبو څښل.

فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْبِهِمْ فَسَوَّاهَا ۝ وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا ۝

(فكذبوه) في النبوة بعد رؤية المعجزة من اعاجيب قدرة الله (فعقروها) کما مر تفصيله، صيغه د جمع يې راوړه مع ان العاقر واحد وهو قذار بن سالف کما مر چې دی سبب آمر ؤ او نور خلک دده سره په عقر کې ورسره شريکان وه کما مره تفصيله. هغه د جونګې د درو نارو صالحؑ داسې تفصيل ورکړی چې ستاسې د عمر درې ورځې پاته دي. په اوله ورځ به مو مخان زړ وي، په دوهمه ورځ به مو مخان سره وي، په دريمه ورځ به مو مخان تک تور وي ثم تهلکون جميعًا (فدمدم) په بحر المواج کې وايي الدمدمة الاهلاک له يوه مخه چې استيصال يې بولي، عطاء او مقاتلؒ يې ترجمه په نفس سره کړې ده وفي القاموس الغضب ته وايي (بذنبهم) اى بسبب ذنبهم وهو تكذيب الرسول وعقر الناقة (فسواها) دا دمدمه يې پر ټولو جميعًا وکړه او ترلوی ترکوچني، تر نرا و تر ښځې يو نفر هم نه دی پاته سوی (ولايخاف) او خدای عزوجل نه بيريږي (عقباها) اى عاقبة الدمدمة او عاقبت اهلاک ثمود... تمت سورة الشمس بعون الله وتوفيقه.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الَّيْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِحْدٰى وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً

په روح المعاني كي وايي چي د دې سورت د آيتو په مكي والي او مدني والي كي اختلاف دى، فالجمهور على انها مكية واليه ذهب المظهري، وقال علي بن ابى طلحة مدنية، وقيل بعضها مكية و بعضها مدنية. او داغه نكه په شان نزول كې هم اختلاف دى فالجمهور على انها في شان ابى بكر الصديق رضي الله عنه وروى ذالك باسانيد صحيحة عن ابن مسعود و ابن عباس رضي الله عنهما وغيرهما، وقال السدي نزلت في ابى ايوب الانصاري رضي الله عنه.

وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ﴿١﴾ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ﴿٢﴾

الواو للقسم، او قسم په شپه دى چي پټ كړي لمر يعني چي ولوېږي يا ورځ پټه كړي او يا هر شى چي په تاريكيو كي د شپې پټ سي (والنهار اذا تجلى) او قسم په ورځ دى چي دا ښكاره كړي په صبح صادق هغه په ظلمت كي د شپې پټ شيان يا په طلوع سره د لمر وهو الاظهر لان ظلمة الليل من كل الموجود يؤول بطلوع الشمس.

وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿٣﴾ اِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ﴿٤﴾

اى قادر دى هغه ذات چي پيدا كړي يې دي نر او ښځي من كل نوع له بالتوالد و آدم و حوا مستثنى من التوالد وان القادر المطلق خالق لهما بغير توالد. وجواب القسم (ان سعيكم لشتى) شتى جمع د شتيت ده يعني ستاسي عملونه سره مختلف دي، بعض ستاسي ښه عملونه كوي چي ځان له اوره خلاص كړي او لوړ سي و درجاتو ته د قرب الى الله عزوجل و مدارج الجنة او بعض ستاسي سستي كوي ځان هلاك كړي بالكفر و نفس و المعاصي، قال البغوي عن ابى مالك الاشعري رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ كل الناس يصبح (يعني يدخلون في الصباح) فبائع نفسها فمعتقها من النار او موبقها اى مهلكها. ثم فصل الله سبحانه وتعالى.

فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ﴿٧﴾

نو هغه چي وركړي مال خپل في سبيل الله او اذى كل ما وجب عليه من صدقة الفطر والاضحية وصلة الرحم للعاجز من الكسب الى غير ذالك (واتقى الله) اى



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذاب الله فاجتنب محارمه، وفي الحديث البغوي" قال الصحيح اكفوا النار ولو بشق تمرة، له اوره ځان ساتئ که څه هم په نيمه خورما وي، رواه الشيخان وعدي بن ابی حاتم واحمد عن عائشة ﷞ والبزار والطبراني عن انس ﷜ (وصدق بالحسنی) او تصديق يې وكړی په ښه كلمه يعني لآ اله الا الله، قال ابو عبد الرحمن السلمي والضحاك وهي رواية عطية عن ابن عباس ؓ، وقال مجاهد بالجنة قال الله تعالى الذين احسنوا الحسنی ای الجنة وقيل ايقن الله بان الله سبحانه معطی كل خير وادفع كل شر (فسنيسره لليسری) ای للحالة ای موږ به ده ته آسانه كړو حالت يسری التي يؤدی الی سرور وراحة هي العمل الصالح وما يرضی الله سبحانه عنه ودخول الجنة.

وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ﴿١٠﴾

او څوک چې بخل كوي بالانفاق في سبل الخير بما امر الله به، وفي الحديث الصحيح (يعني كامل بخيل هغه سړی دی چې نوم دده مبارک په نيږد هغه سړي ذكر سي او دا سړی درود ونه وايي) رواه الترمذي والنسائي عن علي ؓ وابن حبان والحاكم عن انس ﷜ (واستغنی) يعني په شهواتو د دنيا دی له ثواب څخه د آخرت (وكذب بالحسنی) ای بالكلمة الحسنی يعني لآ اله الا الله (فسنيسره للعسری) يعني د سختي لاري، وقال مقاتل" يعسر عليه ان ياتي بعمل الخير كالطاعات والعبادات، وعن علي ﷜ قال قال رسول الله ﷺ ما منكم من احد الا وقد كتب عليه مقعده من النار ومقعده من الجنة، قالوا يا رسول الله پر هغه مكتوب باندي موږ تكيه ونه كړو او عمل پريږدو؟ قال رسول الله ﷺ ثم قرء فاما اعطی واتقی وصدق بالحسنی فسنيسره.. متفق عليه، قال البغوي" قيل نزل هذه الآية في ابی بكر ﷜ اشتری بلالاً عن مالكه الكافر ای امية بن خلف فرده وعشرة اواق، فانزل الله تعالى سورة والليل، واخرج ابن حاتم من طريق الحاكم عن ابان عن عكرمة ؒ عن ابن عباس ؓ چې يو سړی ؤ ميوه داره د خورما درختي يې درلودې. ددې درختو ښاخونه په سرای كي د يوه فقير وه چې عيال دار ؤ نو نخله والا چې راغلی چې خپل خورما وشكوي نو يوه دانه چې به د فقير په سرای كي ولوېده د فقير زوی به هغه راپورته كړه خولې ته به يې واچول، نو هغه درختي والا به پرراكښته سو هغه خورما به يې د فقير د زوی له خولې څخه وكښل، نو هغه فقير و عليه الصلوة والسلام ته شكايت



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وکړی د صاحب النخلة د ماجری، ولقی صاحب النخلة النبي ﷺ، نو علیه الصلوة والسلام هغه ته وویل: اعطني التي ذروعها في دار فلان الفقير بنخلة في الجنة، فقال الرجل لقد اعطيتها وان لي نخلا كثيرة ومالي فيها نخلة اعجب الى ثمرة منها، ثم ذهب الرجل ای صاحب النخلة ولقی علیه الصلوة والسلام سمع کلام الرجل ای صاحب النخلة فاتی اتعطني يا رسول الله التي اعطيت فلانًا يعني نخلة في الجنة قال له رسول الله ﷺ نعم (دې سړي که څه هم رسول الله ﷺ ته وویل لکن له وروسته خبرو څخه يې داسي فهمېدل چي راضي نه ؤ حیاءً من رسول الله ﷺ لقد اعطیتک، دې دریم سړي ورته وویل ته یې نه خرڅوې؟ هغه ورته وویل الا ان تعطيني ما لا ارید، دې سړي ورته وویل و لا اظنه اعطی مالک دی بل سړي وویل کم فيها من نخلة؟ څو درختې دې پکښې، هغه ورته وویل لقد جئت بامر عظيم (يعني دومره درختې به پکښې وي ثم سكت) مالک ورته وویل وویل انا اعطیک باربعين نخلة او بیا یې د شاهد انو ومخ ته سودا سره وکړه، هغه سړي چي سودا یې وکړه و علیه الصلوة والسلام ته ورغلی وقال ان النخلة قد صارت لي فهو لک فذهب رسول الله ﷺ الى صاحب الدار ای الفقير ذو العيال فقال النخلة لک، فانزل الله تعالى والليل اذا يغشى ها، قال ابن كثيرؒ غريبًا جدًا، وقال علي بن حجر عن اسحق بن نجیحؒ ان صاحب النخلة شكى الى النبي ﷺ من صبيان الجار الفقير فقال النبي ﷺ بعتها نخلة في الجنة فلقيه ابو الدحداح الى اخير القصة.

**درويش وايي:** چي غرابت د ابن كثير هم دفع سو كما لايخفى، فانزل الله تعالى والليل اذا يغشى الى قوله ان سعيكم لشتى، لكن پر دې تقدير قدح د ابو الدحداح ده.

**پوه سه:** چي مورد ددې حديث که څه هم خاص دی هغه ته اعتبار نسته، بلکې عموم ته د لفظ من اعطى آه، نو ځکه خدای پاک وویل وما من بخل واستغنى وكذب بالحسنى الآية، وليست هذه الجملة الوعيد في حق صاحب النخلة فانه رجلاً من الانصارؓ لم يكن ممن استغنى من ثواب الله ونعيم الجنة وكذب بالحسنى بل كان مصدقًا بالحسنى بل البخل المسوب للنار منع الزكوة المفروضة كما لايخفى، والله تعالى اعلم.


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُ إِذَا تَرَدَّىٰ ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾

الذي بخل به و منع زکوته المفروضة، یا کلمه د نفي دی یا استفهام انکاري دی والمآل واحد (اذا تردی) باب د تفعل دی من الردي وهو الهلاک، قال مجاهد اي مات اذا المراد استیجاب د عذاب او بمعنی السقوط في حضرت القبر او قعر جهنم (ان علینا) کلمه د علی لپاره د تاکید ده یعني التزمنا الهدایة بموجب قضائنا السابق والا فلا وجوب علی الله (الهدی) ای الاسناد الی الحق بنصب الدلائل وبیان الشرائع کذا قال الزجاج وقال الفراء من سلک الهدی بیان سبیل.

وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ ﴿١٣﴾ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾

او په تحقیق موږ لره دی الآخرة والاولی ای الدنیا ملکا و خلقا.

**پوه سه:** چي جار او مجرور چي لنا دی مقدم یې کړی تر آخرة والاولی چي مبتداء ده لپاره د حصر یعني که څوک آخرت غواړي یا دنیا غواړي نو له خدای څخه دي غواړي، ولې چي مالک حقیقي د دواړو یوازې او یوازې خدای عزوجل دی و بس، وبالعربیة فمن طلب عن غیري فقد اخطاء الطریق او نعطي ثواب الهدایة للمهتدین او فلا یضرنا ترکتم.

(فانذرتکم) ای خوفکم الفاء للسببیة فان کون الاولی والاول کلاهما لله تعالی خالصًا سبب د تخویف دی (نارًا تلظی) اصل یې تتلظی ؤ یوه تا یې څني حذف کړه.

**پوه سه:** چي معنی د لظی بلېږي او لمبې وهي، جمله د تلظی صفت د اور ده.

لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴿١٥﴾ الَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾

(لا یصلاها) نه د اخلېږي (صفت اخری دی د اور) و دې اور ته مګر شقي.

**فائده:** اشقی که څه هم صفت پر وزن د اسم تفضیل دی لکن دلته په معنی د شقي دی فهو اعم من الکافر والفاسق غیر مغفور له.

**درویش وايي:** چي موږ د اشقی تفسیر په شقي سره وکړی لان النار لایختص بالاشقی بمعنی التفضیل لان غیره ایضًا من اصحاب النار کما مر آنفا

(الذي کذب) هغه څوک چي تکذیب یې وکړی (یعني د رسول الله ﷺ) او تولی یې وکړه له ایمان څخه.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**سوال:** تاسي خو د الاشقى معنى په شقي سره وكړه چي مؤمن غير مغفور لهٔ ته مو هم شامل كړى، او تفسير د كذب به يعني رسول الله او د تولى عن الايمان به مو وكړه، نو دغه وار عموم او بيا خصوص څرنګه يو ځاى كېداى سي؟

**ځواب:** دا قيد احترازي نه دى بل لان العادة ومقتضى د ايمان ان لايكون المؤمن شقيًا لان الايمان يقتضي التقوى والسعادة والكافر المكذب هو الذي يكون شقيًا عاصيًا غالبًا، نو تقيد الشقي بوصف التكذيب والتولى خرج مخرج العادة كما في قوله وربائبكم في حجوركم چي قيد د في حجوركم خارج مخرج النار دى.

**پوه سه:** چي ښځه چي كوندهٔ سي او د هغه مېړه څخه يوه لور لري بيا د بل مېړه سره نكاح وكړي، نو د هغه زاړه مېړه لور د دا نوي مېړه ربيبه ده چي غالبًا د مور سره به وي د نوي مېړه په كور كي، نو د محرماتو د نكاح په جمله كي چي دا قيد راوړى جارى مخرج العادة دى، فرضًا كه دا نجلى د بل چا په كور كي هم وي نكاح يې د مور د مېړه سره نه ده روا.

**فائده:** ظاهره خو دا ده چي مراد له اشقى څخه كافر دى كما يدل عليه ظاهر النار على عمومها فان التلهب يوصف بها نار الدنيا وان كانت ضعيفة ونار جهنم كه څه هم ډېر ضعيفه درجه وي فهي اشد من نار الدنيا لكن الحصر في الآية بالنسبة الى الموجودين في زمان النبي ﷺ فالآية تدل على ان احد من الصحابة في النار، وقد الاجماع كلهم عدول، وقال الله في موضع آخر وكلا (اى كلا من الصحابة﷢) قد وعد الله الحسنى (اى الجنة) وقال الله تعالى كنتم خير امة اخرجت للناس، وقال الله تعالى: محمد رسول الله والذين معه اشداء على الكفار رحمآء بينهم، وفي الحديث لاتمس النار مسلمًا اتى او رئ من رائي (رواه الترمذي عن جابر﷜) وايضًا في الحديث: أَصْحَابِي كَالنُّجُومِ بِأَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمُ اهْتَدَيْتُمْ (رواه الرزين عن عمر بن الخطاب﷜)

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾

عطف دى پر لايصلها (كلمه د سين لپاره د تحقيق ده) (الاتقى) اى الذي اتقى الشرك الجلي والخفي (اى الرياء) والنفاق والمعاصي القالبية (اى البدنية) والنفسانية وغيرها (الذي يؤتي) چي وركوي خپل مال للفقراء وفي فك الرقاب وسائر وجوه الخير (يتزكى) بدل من يؤتى اى يطلب انيكون عند الله زاكيًا (پاك)



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰىٓ ﴿۱۹﴾ إِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلٰى ﴿۲۰﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضٰى ﴿۲۱﴾

او نسته هيڅ چا لره په نبز دده يو نعمت چي دی به مکافات او عوض ور کوي، هذه الآية نزلت في ابی بكر الصديق ﷺ (الا) استثناء منقطع ده ای لکن ابتغا (وجه ربه) مگر لپاره د رضا د خدای ؒ چي اعلی دی (ولسوف يرضی) ژر دی چي خدای راضي کړي بما يعطيه من الجزاء في الآخرة من اکرامه عطف دی پر سيجنبها، روات د احاديثو مبارکه ؤ وايي چي ډېر ضعفاء د مسلمانانو د کافرانو يا مريانو تر زد و کوب يې لاندي وه چي يو له هغو څخه بلال ﷺ ؤ.

تاريخ اسلامي خبري کوي چي ابي بن خلف چي بلال ﷺ يې مريی ؤ، بلال ؓ له ده څخه ايمان پټ ساته، اخير الامر ابی بن خلف دده په ايمان راوړلو خبر سو، نو قسم قسم عذابونه يې ور کول، يوه ورځ صديق اکبر ؓ پر لاره تېرېدی چي ابي بن خلف بلال ﷺ پر تود و رېگو پرې ايستلی ؤ او درنې درنې ډبري يې دده پر نس ايښي وې، بلال ؓ بغيره احد احد بل شی نه وايه، اميه بن خلف ورته ويل چي همېشه به تر دغه عذاب لاندي يې حتی تموت او تکفر بمحمد (ﷺ) ابو بكر الصديق ﷺ چي دا حال زار او احد احد دده واورېدل او وليدل زړه يې پر وسو، او وې ويل ای اميه هلاکت دي وي وتا ته دا د خدای دوست ته به تر کومه ايذا ور کوې؟ اميه ورته وويل که دي ډېر زړه پر سوځي زما څخه يې رانيسه، نو ابوبكر ؓ کور ته ولاړی فاخذ رطلاً من ذهب ومضى الى امية بن خلف او ورته ويې ويل چي بلال را باندي خرڅ کړه، نو ابوبكر ؓ په هغه رطل ذهب بلال ؓ له اميه څخه رانيوی او آزاد يې کړی نو بلال ؓ تر اخيره عمره پوري د عليه الصلوٰة والسلام په خدمت کي ؤ او د صلوٰة التجهد لپاره مؤذن ؤ، و ورد في الحديث ان بلالاً تؤذن بليل، نو عليه الصلوٰة والسلام وفرمايل چي تاسي په روژه کي خپل خورک کوئ تر هغو چي ابن ام مكتوم ؓ اذان کوي، هغه په سترگو ړوند ؤ تر هغو يې اذان نه کاوه چي خلکو به وويل اصبحت اصبحت سپيدې دي سپيدې دي فنزلت هذه الآية، راويان د تاريخ وايي چي لس کسان معذب د کافرانو له خوا مسلمانانو



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رانيولي او آزاد كړي دي، وفي الحديث الصحيح يرحم الله ابابكرؓ زوجني ابنته (اى عائشة) وحملني الى دار الهجرة (يعني المدينة المنورة) ابوبكرؓ دوه اوښان رانيولي وه يو د ځان لپاره يو د عليه الصلوة والسلام لپاره چي پر هغو يې هجرت وكړى، واعتق بلالاًؓ من ماله.

**پوه سه:** چي يو وار په شان نزول كي د عليه الصلوة والسلام راغلى دى يعني ولسوف يعطيک ربک فترضى يعني په باره كي د شفاعت د امت في يوم القيامة.

عطايى شفاعت چنانش دهند ...... كه امت تمامى ز دوزخ رهند

او يو وار په شان كي د ابوبكر الصديقؓ يعني ولسوف يرضى.

**فائده:** جواب د قسم اى و بالله لسوف يرضى ذالک الاتقى.

**درويش وايي:** چي دا وعده د كريم د ښيل جميع ما يتبعه باكمل الوجوه و اجملها.

لله الحمد والمنة والصلوة والسلام على سيد البرية تفسير د والليل په وخت كي د الصبح من ليلة الاثنين ٢٢ د ذو الحجة الحرام پاى ته ورسېدى، او ورپسې به تفسير د سورة والضحى وي ان شاء الله تعالى الكريم.

الحمد لله رب العالمين



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الضُّحٰى مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ هِيَ اِحْدٰى عَشْرَةَ اٰيَةً

قال المظهري اخرج البخاري و مسلم ان رسول الله ﷺ لم يقم ليلة او ليلتين فقالت امرئة (يعني ام جميل) فقال ما ارئ شيطانک (تعني الخبيثة جبريل) الا قد ترکک، فانزل الله تعالى:

وَالضُّحٰى ۝١ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝٣

وهو وخت ارتفاع الشمس و صدر النهار، علماء وايي تخصيصه بالاقسام دا وخت چي خاص کړی رب عزوجل په قسم اخستلو سره له دې سببه چي دا هغه وخت دی چي خدای د موسی سره په دغه وخت کي خبري وکړې، او دا هغه وخت دی د فرعون چي ساحران را جمع کړه هغو چي د موسی د لکړي معجزه وليدل چي د ساحرانو لکړي او رسی يې ټولي تيري کړې چي موسی را واخستل هغه وچه لکړه وه او ساحرانو ايمان راوړی او پر سجده پرېوتل خدای ته، نو دا وخت هم وخت د څاښت ؤ لقوله تعالى: وان يحشر الناس ضحى، نو دې وخت په دې اعتبار سره شرف پيدا کړی و لهذا اقسم الله تعالى به، او په دې وخت کي څلور رکعته لمونځ په يوه سلام سره يا دوه رکعته لمونځ عند ابی حنيفة والاول هو الاشهر، وقد صح ان النبي ﷺ صل الضحى يوم فتح مكة ثمانى ركعت في بيت ام هاني .

اهل تجربه د علماؤ وايي چي صلوة الضحى څلور رکعته دی په دې ترتيب چي په اول رکعت کي دي والشمس وضحها وايي، او په دوهم رکعت کي دي والليل اذا يغشى ها وايي، او په مابين کي دي التحيات ترپايه پوري ووايي او په دريم رکعت کي دي والضحى ووايي، او په څلورم رکعت کي دي الم نشرح ووايي، هغه وخت چي بنه لمر را پورته سي، والله اعلم.

ترجمه: زما دي قسم وي په وخت د څاښت او په شپه سره چي په خپلو تاريکيو سره عالم دنيا تاريکه وګرځوي او خلک ساکن سي د ارام لپاره او يا معنى دا ده چي رکد ظلامه واشتد وکمل.

**درويش وايي:** اخرج الحاكم عن زيد بن ارقم مكث رسول الله ﷺ اياما لم ينزل عليه الوحي (سبب د مکث الوحي يې نه دی بيان کړی چه شي ؤ) نو دا ابو لهب



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماینه ام جمیل راغله علیه الصلوة والسلام ته یې وویل: ما اری صاحبک الاقد ودعک وقلاک، فانزل الله تعالى والضحى آه، وقال سعید بن منصور وغیره عن جندب قال ابطاء جبرئیل على النبي ﷺ (سبب د ابطاء یې نه دی بیان کړی) فقال المشرکون قد ودع محمداً ربه وقلاه فنزل والضحى آه.

(ما ودعک رب وما قلی) تا ته رخصت نه دی درکړی ستا رب (یعني له نبوت څخه) او نه یې مبغوض ګرځولی یې ته خدای ستا.

**درویش وایي:** چې ما به د سبب د مکث پوښتنه کول په هیڅ روایت کې مې نه کړه پیدا هر څه روایات چې ما ذکر کړه د مظهري وه لکن په مقتضی جوینده یابنده بود، لکن سبب د مکث روح البیان بیان کړی دی: ان الوحي تأخر عن رسول الله ﷺ په سبب د استثناء یعني ان شاء الله، ولې چې مشرکینو د مکې ملایانو ته د مدینې یعني الیهود دوه کسه واستول چې دوی اهل کتاب دي په ښوونه د انبیاء دوی به خبر دي چې د محمد ﷺ په باره کې له دوی څخه پوښتنه وکړي او ټوله حال د محمد ﷺ ورته بیان کړي نو تاسي مورته د ده د امتحان کولو چې دی نبي دی او که دې علماؤ د مدینې یعني یهودانو چې د درو شیانو پوښتنه څني وکړئ چې اصحاب کهف څوک دي (ولهم قصة غریبة کما ذکرنا في سورة الکهف) وعن قصة ذی القرنین وعن الروح، نو که د اصحاب کهف قصه یې درته وکړه او د ذی القرنین قصه یې هم درته وکړه، او په امر کې د یې توقف، نو پوه سئ چې دی په دعوی کې د رسالت صادق دی، فجاء المشرکون فسألون عن ذالک. فقال علیه الصلوة والسلام ارجعوا، تاسو اوس ولاړ سئ سبا راسي (د علیه الصلوة والسلام خیال داؤ چې ما ښام به جبریلؑ راسي ما ته به بیان د دغو درو سوالو وکړي، زه به سهار دوی ته قصه وکړم، نو ان شاء الله یې نه وویل) فاحتبس الوحي، بعض مفسرین وایي چې پنځلس (۱۵) ورځې وحي وځنډېدې بعض وایي یو ویشت ورځې حتی تر څلوېښتو ورځو پورې، نو مشرکان چې سهار راغله علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ما ته وحي نه دي راغلي فقال المشرکون ان محمداً قد ودعه ربه وقلی، فجاء جبرئیل اول یې باعث او سبب د ځنډ ورته بیان کړی ولا تقولن لشيئ اني فاعل غداً الا ان یشاء الله، ونزل ما ودعک ربک وما قلی، وروسته یې



Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بیان د ماسئل عنه ورته وکړی، وقد سبق هذه القصة في سورة الکهف.

واخرج الطبراني عن حفص بن میسرة القرشي عن امه عن امها چي خدمت د علیه الصلوة والسلام یې کاوه چي د یو سپي کوچنی کوتری دخل البیت و دخل تحت السریر فمات، نو څلور ورځې وحي بندي وې، فقال یا خولة ما حدث في بیت رسول الله ﷺ چي جبرئیل د څلور ورځي وحي نه دي راوړي، خولهؓ وایي ما چي د علیه الصلوة والسلام خونه د پاکېدو لپاره تلاشي کړه هغه مړ کوتری مي پکښې پیدا کړی و مي غورځاوه جبرئیل راغلی وحي یې راوړه (یعني جبریلؑ و علیه الصلوة والسلام ته وویل چي موږ و هغه خوني ته نه ورځو چي په هغې کي سپی وي) دد ې قصې په باره کي حافظ ابن حجرؒ وایي چي دا قصه د ابطاء د جبرئیلؑ په سبب د .... خبرو که څه هم مشهوره ده لکن کونها سبب نزول الآیة یعني ما ودعک ربک وماقلی بل شاذ مردودة کما في الاحادیث الصحیحة.

**درویش وایي:** چي دا ؤ سورة د ابطاء د جبریلؑ چي مظهري په بیان کي د ابطاء د جبریلؑ له سبب څخه ځان یوې خوا او بلې خوا ته کاوه، والله اعلم بالصواب.

وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ﴿٤﴾

مراد له آخرت څخه قیامت دی او مراد له اولی څخه دنیا ده، لان الآخرة باقیة صافیة من الآلام والشوائب بخلاف الاولی ای الدنیا لانها خلقت قبل الاخرة (هذا وجه التسمیة للدنیا بالاولی) فانها مشوبة بالمصائب والآلام والفقر وغیر ذالک.

**فائده:** لام په للآخرة کي ابتدائیه مؤکد دی د مضمون د جمله مصدره بها، او یا مراد له آخرته وروستنی حالت دی ستا، او مراد له اولی څخه د مخني حالت، اولنی حالت د علیه الصلوة والسلام دا ؤ چي نبي نه ؤ، وروستنی حالت یې دا ؤ چي نبي سو، اولنی حالت د رسول الله ﷺ دا ؤ چي د مکې د قریشو څخه آزاربدی او وروستنی حالت یې دا ؤ چي فتح د مکې یې وکړه د هغه بار له ازاره د قریشو مکې سبک دوش سو، وعلی هذا فقس فی اول حالات المدینة، چي علیه الصلوة والسلام په مدینه منوره کي د مدینې له یهودانو څخه په آزار کي ؤ، وروسته خدای عزوجل بني نضیر و بني قریضه څوک فرار کړه له پدري تاتوبي څخه لکه بني النضیر او څوک له قتل سره مخامخ سوه لکه بني قریضه ای قتلاً عاماً او



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنځي يې د مسلمانانو مينځيانې سوې، بالآخره فدک او وادي خيبر ته ولاړه حتى چي خيبر خداى پاک مفتوح د اسلام وکړځاوه الى يومنا هذا، او داسي احتمال هم سته چي دا آيت دي متصل وي په سبق پوري، وجه د اتصال يې په د مخه آيت کي خداى عزوجل وعليه الصلوة والسلام ته وويل: ما ودعک ربک وما قلى، يتضمن ويدل على ان الله يواصلک بالوحي اليک وانک حبيب الله ولا کرامة اعظم من ذالک فاخبره بان حاله في الآخرة خير له واعظم من ذالک لتقدمه على الانبياء واختصاصه بالمقام المحمود چي مقام د شفاعت کبرى دى چي يو طويل حديث د بخاري راغلى دى چي اهل موقف د آخرت چي ډېره زمانه هوري دوى اتفاق پر دې وکړى چي راسئ چي آدم ابو البشر ﷺ ته ورسو چي له خداى عزوجل څخه غوښتنه او شفاعت وکړي، نو ابو البشر ورته ووايي چي زه د شفاعت توان نه لرم زه خداى عزوجل منع کړم په جنت کي له خوړک څخه د غنم د دانې يا د اينځر يعنى بقوله تعالى ولا تقربا هذه الشجرة فتکونا من الظالمين، نو ما هغه دانه وخوړل، نفسي نفسي د ځان لپاره د خداى څخه سوال کوم فاذهبوا الى غيري.

**درويش وايي:** چي حديث ډېر اوږد دى، نو بيا بل نبي ته ورسى هغه هم خپل عذر ورته ووايي او ورته ووايي فاذهبوا الى غيري دا عذرونه او د نفسي نفسي نارې وهل او حواله په بل پسي ورکول جاري وي حتى چي رسول اکرم ﷺ ته راسي، عليه الصلوة والسلام ورته ووايي نعم انا لهذا المقام نعم انا لهذا المقام او تر عرش لاندي خداى عزوجل ته پر سجده پرېوزي يو کړى يې خداى پرېږدي وروسته ورته ووايي: ارفع رأسک سئل تعطه واشفع تشفع وهذا هو المقام المحمود يغبطه الاولون والآخرون.

**درويش وايي:** چي دا اوږد حديث مي په ډېر اختصار سره راوړى. من شاء التفصيل فلير الى البخاري وغيره من کتب الاحاديث الشريفة.

او بل فضيلت د عليه الصلوة والسلام پر نورو انبياؤ عليهم السلام دا دى وشهادة امته على الکفر من کل امة حين انکروا من الکفر وغيرها من الفضائل المختصة به ﷺ ... بيت:

عمر تمام گشت و به پايان رسيد عمر ... ما همچنان در اول وصف تو مانده ايم



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى ﴿۵﴾

ژر دی چي خدای به درکړي و تاته یا محمد (ﷺ) او تا به راضي کړي یعني في یوم القیامة.

**پوه سه:** چي په دې جمله کي يې جمله مفعول ثاني حذف کړه (یعني چي څه شي درکړي) لیدل علی العموم و الشمول یعني تاته به درکړي عطاءً جزیلاً من النصر والتمکین في الارض او ډېروالی د مؤمنانو او شائع به کړي ستا دین په ټوله نړۍ کي و کثرة الثواب وغیر ذالک مما لایعلمه الا الله، قال النبي ﷺ فاذن لا ارضی و واجد من النار، وعن علي رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ اشفع لامتي حتی ینادی ربي ارضیت یا محمد فاقول رضیت یا ربي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اللَّهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي» ، وَبَكَى. فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: «يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ، إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ، وَلَا نَسُوءُكَ بِهِ (رواه مسلم)

شعر فارسي:

نماند بدوزخ کسی درگرو ....... که دارد چو تو سندی پیش رو

عطائی شفاعت چنان دهند ....... که امت تمامی زدوزخ رهند

وروی عن ابن ابی شریح قال سمعت ابا معمر محمد بن محمد علي چي تاسي ای اهل عراق وایاست چي لوی آیت د امید دا آیت دی په قرآن مبارک کي یا عبادی الذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوا من رحمة الله، او انا اهل البیت نقول ان آیة في کتاب الله قوله تعالی: ولسوف یعطیک ربک فترضی. واللام یعني في قوله ولسوف یعطیک لام الابتداء دخلت علی الخبر بعد حذف الخبر لتاکید مضمون الجملة ولیست للقسم بعد حرف المبتداء و التقدیر ولانت سوف یعطیک لا للقسم فانها لاتدخل علی المضارع الا مع نون مؤکدة، والله اعلم.

وروی ان رسول الله ﷺ دخل علی فاطمة رضي الله عنها چي د اوښ د وریو پوړنی یې پر سر وُ او دې په مېچن کي اوربشي اچولي وې مېچن یې ګرځول، په یوه لاس یې زوی ته شیدې ورکولې، نو علیه الصلوة والسلام وژړل چي خپله لور یې په داسي



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حالت زار کي ولیدل، نو یې ورته وویل یا بنتاه تعجلي مرارة الدنیا الحلاوة الآخرة وقد انزل الله تعالی ولسوف یعطیک ربک فترضی.

**درویش وایي:** چي په وروستو آیتو کي الله سبحانه وتعالی خپل نعم سابقه و علیه الصلوة والسلام ته ور پیادوي.

## اَلَمْ یَجِدْكَ یَتِیْمًا فَاٰوٰى ﴿۶﴾

د وجدان معنی علم ده. فالمعنی علمت نو یتیمًا مفعول ثاني دی، والاستفهام للتقریر ای حمل المخاطب علی الاقرار، روی ان اباه ای علیه الصلوة والسلام ای عبد الله بن عبد المطلب مات وهو ﷺ جنین في بطن امه شپږ میاشتي وروسته پیدا سو، نو چي له موره وزیږېدی یتیم ؤ، وماتت امه دی د اتو کالو ؤ د مور نوم یې آمنه ؤ، نو سرپرستي یې اکا ابو طالب پر غاړه واخستل او ابو طالب پر خپل وراره محمد (ﷺ) ډېر مهربانه ؤ، وذالک ایوائه (ای في قوله تعالی فآوی) والمعنی وجدتک یتیمًا یعني صغیرًا فقیرًا حین مات ابوک لم یخلف لک مالاً ولا مأوی (ځای د پناه) او بعض راویان وایي چي انه لما ولد رسول الله ﷺ کان مع جده عبد المطلب ومع امه، نو بیا یې مور مړه سوه علیه الصلوة والسلام د شپږو کالو ؤ، ثم مات جده بعد سنتین او علیه الصلوة والسلام د اتو کالو ؤ، نو کله چي عبد المطلب مرګ ته نژدې سو هغه وصیت وکړی و خپل زوی ابو طالب ته د حفاظت او د تربیه د علیه الصلوة والسلام لان عبد الله و ابو طالب کانا من ام واحدة فکان ابو طالب تکفل رسول الله ﷺ تر هغه وخته چي نبي کېدی. نو ابو طالب چي د بنو هاشم د قوم مشر سړی ؤ ډېره زمانه یې د علیه الصلوة والسلام حفاظت کاوه له ظلم څخه د مشرکانو حتی چي ابو طالب وروسته تر نبوت د علیه الصلوة والسلام خدیجة الکبری په نکاح ور وغوښتل واده یې ورو کړی چي ټول اولاد نر او ښځي د دې بي بي ﷺ له نسل څخه وه الا ابراهیمؑ، ثم مات ابو طالب نو مشرکانو د علیه الصلوة والسلام په قسم قسم آزار لاس پوري کړی، ولي چي په بني هاشمو کي دومره قوي څوک لکه ابو طالب بل نه ؤ، وکان رسول الله ﷺ یحب الایتام حتی روی عن رسول الله ﷺ من طعم یتیمًا و کفاه في نفقته وکان في مؤنته ای الطعام واللباس وغیر ذالک کان حجابًا له من النار.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(فاوی) ای اواک علی عمک ای ظمک الی عمک ابی طالب حتی کفلک،
روی الترمذي بسنده عن ابن عباسؓ قال قال رسول اللهﷺ چي ما له خدای عزوجل
ځنې يو سوال وکړی وروسته پښیمانه سوم چې کاشکي مي دا سوال نه وای کړی:
یا رب اعطیت سلیمان بن داؤد علیہ السلام ملکًا عظیمًا واعطیت ابه ایضًا قدرة
عظیمة واعطیت فلانًا. قال الله عزوجل یا محمد الم اجدک یتیمًا فاویتک؟ قلت
بلی یا ربي، وقال الله تعالی الم نشرح لک صدرک؟ قلت بلی یا رب قال ووضعنا
عنک وزرک؟ قلت بلی یا رب.

زعم اکثر الناس ان النبيﷺ سئال هذا السوال ای الغنی والمال حیث قالوا ان
النبيﷺ کان مفلسًا او کفار د قریشو ده ته پېغور ورکاوه په فقر حتی چي کفارو د
مکې ده ته وویل په طلب کي د غنٰی یعني چي ده مبارک دعوی د نبوت وکړه دوی
وویل: جمعنا لک مالاً تکون ایسر اهل مکة، فاغتم رسول اللهﷺ ان قوم قریش
انما کذبوه لفقره فسئال هذه المسئلة فوعد الله نعمه او وعده د غنٰی یې هم ورسره
وکړه، مظهري په نقل له بغوي ځنې وايي: وهذا لیس بشیئ بوجود احدها ان رفعة
شان النبيﷺ لا یقتضی ان یسئال ربه للدنیا...... بیت

ورادته الجبال الشم من ذهب...... من نفسه فاراها ایما شمم

واکدت وهذا فیه ضرورته...... ان الضرورة لاتعد واعلی العقم

وثانیها ان قوله تعالی ووجدک عائلاً فاغنٰی، یابی عنه فان صیغة الماضي
تدل علی الحصول وطلب الغنی بعد حصوله محال، وثالثها انه لو سئل ربه
فاعطاه وقد صح انه ما شبع آل محمد (ﷺ) یومین متتابعین من خبز الشعیر حتی
قبض رسول اللهﷺ کما في حدیث البخاري ومسلم عن عائشةؓ.

وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۝

عطف علی معنی الم یجدک یتیمًا فان معناه وجدک (ضآلاً فهدی) ناخبرد
معالم ځنې د ...... وغافلاً عن احکام الشریعة وکلما لا طریق الی ادراکه الا
المستمع نظیره قوله تعالی وان کنت من قبله من الغافلین، وقوله تعالی ماکنت
تدري ما الکتاب، کذا قال الحسن والضحاک وابن کیسانؒ، وقیل ووجدک في
شعاب مکة کنت صغیرًا، او د رضاع لپاره حلیمه سعدیهؓ چي ستا رضعي مور وه


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوستلې چي ستا جد عبد المطلب ته يې وسپارلې.

تفصيل ددې قصې دا دی چي څه وخت چي د عليه الصلوة والسلام د رضاع وخت پوره سو، نو حليمه سعد او ددې مېړه پر يوه خره باندې دی مکې معظمې ته راوستی چي و نيکه عبد المطلب ته يې وسپاري، نو په هغه وخت کي دا رواج ؤ لکه اوس هم ستهٔ دا رواج چي تر ټولو د مخه طواف کوي د مکې، نو حليمې دی مبارک په حطيم کي کښېناوه پر هر شوط به يې ورته کتل، پر يوه شوط چي راغله عليه الصلوة والسلام نه ؤ چابک يې طواف پرېښو ددې دا خيال ؤ چي مېړه ته به مي ورغلی وي راغله مېړه ته يې وويل چي محمد تا ته نه راغلی؟ هغه ورته وويل يا حليمې بغاري کړې چي څه فساد را وسو، نو دلته يو سپين ږيری د مکې چي نوم يې عبد العزی ؤ ناست ؤ هغه ورته وويل چي څه قصه ده، حليمې قصه ورته وکړه، نو عبد العزی ورته وويل چي مه ژاړه اوس به دې زموږ خدای عزی ته بوزم چي هغه پر ټولو پټو شيانو خبر دی ..... بيت:

بر اورا پيش عزی که اين صنم،، هست در اجابت غيبی معتصم،، پير کرد اورا سجود که ای خداوند عرب ای بحر جود،، که اين حليمه سعديه ازو طفلی گم شده، نام آن طفل محمد آمده است، راويان وايي چي د محمد نوم چي واخستل سو ټول بتان پر مخي پرېوتل، نو حليمه او مېړه چي يې له بتانو څخه نا اميده سوه نو اتفاق يې پر دې سو چي ور به سو نيکه به يې خبر کړو چي لمسی دې ورک سو، دوی چي ورغله عبد المطلب ته، محمد ﷺ د نيکه په غېږ کي ناست ؤ.

**پوښتنه:** دی چا هلته ور وستلی ؤ؟

**ځواب:** ملکو ور وستلی ؤ چي دې ته په عربي ژبه ارهاص وايي چي معجزه مانند شی د مخه تر نبي پيدا سي، وقال سعيد بن المسيب چي رسول الله ﷺ خرج مع عمه ابو طالب في قافلة ميسرة غلام خديجة فبينما هو (ای رسول الله ﷺ) راكب في ليلة ظلما على ناقة جاء ابليس فاخذ بزمام الناقة (مهار د اوښي يې و نيوی د لارې يې ګوښه کړی) فجاء جبرئيل نو ابليس يې پوه کړی حتی چي په حبشه کي وغورځاوه او د عليه الصلوة والسلام اوښ يې بيرته قافلې ته راوګرځاوه.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنٰى ۝

او ما ته پيدا كړى وې فقير بيا مې غني كړې په مال د خديجة الكبرى رضي الله عنها.

**پوهه سه:** چې خديجه يوه ښځه وه په مكه كې چې ډېره مالداره وه چې دې ته د مېړه له خوا او هم د پلار له خوا هم لوى ميراث ور پاته سوى ؤ، دې ډېر مريان او مزدوران درلوده، دا به پر كور ناسته وه او يوه خوا او بلې خوا ته به يې مزدوران د تجارت لپاره استول، نو ابو طالب چې د عليه الصلوة والسلام مهربان اكا ؤ دا اراده يې وكړه چې خپل وراره يعني محمد ﷺ ته واده وكړي. نو ورغلى خديجې ته چې زما وراره درسره مزدور كړه او تنخوا هم مياشت په مياشت مه وركوه، نو خديجې ورته لبيك ووايه، ولې چې عليه الصلوة والسلام قبل النبوة په امين مكه سره مشهور ؤ، خير هر څو تنخوا چې يې ورته مقرره كړه، نو خديجې دى مبارك په ډېرو تجارتي چارو كې خپل له خوا استاوه حتى چې څه مبلغ ته تنخوا ورسېده نو د ابو طالب دا خيال سو چې د نكاح او واده لپاره كافي دى، نو يې عليه الصلوة والسلام ته وويل چې خديجې ته ورسه چې زما ټوله تنخوا راكړه، خديجې ورته وويل چې ورسه ابو طالب را واستوه، ابو طالب چې ورغلى خديجې ورته وويل چې ته دا مجموع تنخوا څه كوې؟ ابو طالب ورته وويل چې زه خپل وراره ته نكاح په كوم، خديجې ورته وويل چې زما سره نكاح ور وكړه، ابو طالب ورته وويل چې ته يوه غني ښځه يې زما وراره تر او سه ستا سره مزدوري كوي، نو دا نكاح به بعيد كار نه وي؟ خديجې ورته وويل چې نه زه نكاح ورسره كوم، نو خديجې يوه لويه مېلمستيا جوړه كړه اشراف د قريشو يې ټوله مېلمانه كړه، وروسته تر مېلمستيا يې خلكو ته وويل چې دا مهماني ددې لپاره وه چې د ابو طالب د وراره محمد سره زه نكاح كوم، خير ټولو اشرافو د قريشو دا خبره ډېره خوښه كړه، نو د نكاح خطبه ابو طالب يوه ډېره بليغه خطبه وويل، عقد نكاح منعقد سو حتى چې خديجې خپل ټول تجارتي اختيارات و عليه الصلوة والسلام ته وسپارل.

**فائده:** لكه مو پر چې مخته وويل چې د رسول الله ﷺ ټوله اولاد د خديجة الكبرى رضي الله عنها له نسل څخه دي ماسوا له ابراهيم رضي الله عنه څخه چې هغه د ماريه قبطيه له نسل څخه ؤ، هذا بيان غناء عليه الصلوة والسلام په مال د خديجة الكبرى رضي الله عنها.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درویش وايي:** چي هيڅ مفسر دا قصه په تفصيل سره نه ده کړې البته اجمالاً يې داسي ويلي دي اغناک بمال خديجة او بما حصل لک في التجارة وبالغنائم. مقاتلؒ وايي اى اغنى قلبک بما اعطاک من الرزق واختاره الفراء، لکن دا دي سره سره د ټولو اصل د غنى غنى د زړه ده. عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: «قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ، وَرُزِقَ كَفَافًا، وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا آتَاهُ» (رواه مسلم)

فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝٩ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝١٠

پس ته پر يتيم (يعني که دي خپل وي که پردی) ولي چي پر تا دوره د يتيم تېره سوې ده.

**پوه سه:** چي قهر غلبه او تذليل ته وايي. په حديث شريف کي راغلي دي چي څوک يتيم چي وژاړي ساکت کړي يعني راضي يې کړي فله الجنة ... بيت:

الا تا نه کوبد يتيم که عرش عظيم ..... بلرزد همی چون بگريد يتيم

بلکي صلحاء د امت محمدي وايي چي يتيم ناست وي له خپل زوى څخه دي مچه نه اخلي، لکه د جاهليت د وخت کافرانو به د يتيم حق مالي نه ورکاوه، او بل په دې سبب پر يتيم قهر مه کوه مراعاتًا لحق نبيک فانه کان يتيمًا. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ، وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ» (يعني چي بد ور سره کېږي) عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هٰكَذَا» وَقَالَ بِإِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى.

(واما السائل فلا تنهر) يعني سائل که دي دروازې ته ودرېدی زجر او خوشکه مه ورته کوه چي ته فقير وې، ددې معنا دا نه ده چي عليه الصلوة والسلام د خلکو څخه فقر کاوه بلکي مراد مجرد اشتراک په فقر کي دی يعني چي حالات د مسکنت تاته معلوم دي. فاما ان تطعموه واما ان ترده ردًا برفق مثلاً په پښتو کي وايي خداى دې درکړي زما سره څو فعلاً شي نسته، او د الحسنؒ څخه روايت دی چي ددې آيت ترجمه دا ده چي سائل د علم کو مه خبره پوښتنه وپوښتل دره او قهر مه ورته کوه، وعن ابن مسعودؓ من کتم علمًا على اهله الجم يوم القيامة لجامًا من



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نار (که چا پټ کړی علم له یوه څخه د عالم یعني چي طالب علم د هغې مسئلې اهل وي، نو ملونه په خوله کي ورواچوي د اور د قیامت په ورځ)

وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

یعني اشکر ما انعم الله علیک ربک، وعن سنان بن سنیة عن ابیه قال قال رسول اللهﷺ الصائم الشاکر له (چي ډوډۍ وخوري د خدای عزوجل حمد او شکر ووایي، مثل اجر الصائم الصابر رواه احمد وابن ماجه والدارمي باسناد صحیح ورواه الترمذي عن ابی هریرةؓ وعن اشعث بن قیس اشکر الناس لله اشکرهم للناس، وفي روایة من لایشکر الناس لایشکر الله.

**فائده:** له دې حدیثو څخه دا معلومه سوه چي د مشائخو او استاذانو پر مریدانو او شاګردانو حسن ثناء او طلب د رضٰی د خدای لازمه ده، قال المجاهدؒ المراد بالنعمة النبوة دی، نو معنی د آیت دا ده بلغ ما ارسلت به وحدث بالنبوة اعطاک الله، او اللیث له مجاهدؒ څخه روایت کړی دی چي مراد له نعمت څخه قرآن دی یعني قرآني آیات و خلګو ته بیانوه، وعن جابر بن عبد اللهؓ ان رسول اللهﷺ من صنع الیه معروفًا (که چا دیو چا سره احسان وکړی) فلیجز به (دی هم یو احسان ورسره وکړي) وان لم یجد ما یجزء به فلیثن علیه دده ثناء او صفت دي خلګو کوي چي فلاني زما سره دومره احسان کړی دی فانه اذا اثنی فقد شکر، وعن النعمان بن بشیرؓ قال سمعت رسول اللهﷺ علی المنبر من لم یشکر علی القلیل لم یشکر الکثیر (که چا شکر د خدای عزوجل نه ووایه پر لږ نعمت الهی هغه شکر پر ډېر هم نه وایي) ومن لم یشکر الناس لم یشکر الله والتحدث بنعمة الله شکر وترکه کفر (چي څوک د خدای د نعمت بیان وکړي هغه شکر دی او تکریې کفر دی بالمعنی اللغوي، مثلاً څوک ووایي چي خدای لره دي حمد وي چي ماته یې ښه علم راکړی دی د تفسیر قرآن توفیق یې راکړی، یعني نه پروجه د تکبر بل لاجل التحدث بالنعمة، وفي الحدیث البخاري انما الاعمال بالنیات الی اخیره.

**فائده:** یجب الشکر علی کل نعمة او مبنٰی د شکر د نعمت دا ده چي صرف کي نعمت په رضٰی کي د منعم حقیقي فشکر نعمت المال صرفه بالاخلاص (یعني لا


Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

للرياء) في سبيل الحق وشكر نعمة البدن اتيان الفرائض والواجبات وترك المنهيات وشكر نعمة العلم التعليم الى من هو اهله تحديث بالنعمة شكر ومن هذا القبيل قوله ﷺ انا سيد ولد آدم ولا فخر انا حامل لواء الحمد ولا فخر الى اخيره، قال البغوي السنة في قرائة اهل مكة ان يكبر يعني الله اكبر من اول والضحى وعلى رأس كل سورة حتى يختم القرآن واخبره ابن عباس انه قرء على ابي بن كعب فامره بذالک ای التكبير واخبره انه قرء على النبي ﷺ فامره بذالك وذكر العلم او ان سبب دا دی چي څو ورځي وحي ونه شوه قال المشركون ان محمدًا ودعه وقلى كما مر قصته في سورة الكهف، نو عليه الصلوة والسلام ډېر غمجن ؤ فاول ما نزل بعد فتور الوحي والضحى الى اخيره فكبر رسول الله ﷺ فرحًا بنزول الوحي فجعله القراء سنة الى اخير القرآن.

**درويش وايي:** چي بحمد الله على توفيقه تفسير سورة والضحى، وكان ذالک في الاربعاء من شهر الله المحرم قريبًا الى طلوع الفجر الصادق، الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين محمد المصطفى وعلى آله واصحابه اجمعين برحمتک يا ارحم الراحمين، واغفر لي ذنوبي كلها واغفر لوالدي وارحمها كما ربياني صغيرًا و اغفر لاولادي ولاولاد اولادي واشفعني من جميع الامراض آمين يا رب العالمين.

سُورَةُ الانشراح مكية بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وهي ثماني ايات

أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾

**پوه سه:** چي همزه لپاره د استفهام انکاري دی، دخل علی حرف النفي فهي اثبات ای شرحنا لک صدرک حتی تسع فیه العلوم الحقة والمعارف الدینیة چي په نور سره د خدای معلومیږي یعني شرح الصدر حسبي شی نه دی بلکې معنوي شی دی کما ورد في الحدیث النبوي اذا دخل النور (ای النور الهي) انفسح له، یعني سینه یې ورته پراخه سي، وهذا الانفساح لا سبیل الیها لعقل العقلاء په دې حالت کي جمع توجه تام الی الله تعالی ده مع التوجه الی المخلوق لاجل الدعوة الی الاسلام وهذا لایوجد في مثل قلوبنا، ولهذا قال موسی رب اشرح لي صدري، چي اول ته مرتبه د عروج او دوهم ته مرتبه د نزول وایي. وفي مرتبة النزول للدعوة الی الاسلام لاینقطع المرتبة الاولی بالمرة وبالکلیة.

**درویش وایي:** چي دا خو معنی وه د شرح الصدر المعنوي د علیه الصلوة والسلام، واما شرح الصدر الصوري د علیه الصلوة والسلام فقد وقع مرتین، یو وار په کوچنیوالي کي کما روی مسلم:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ، فَأَخَذَهُ فَصَرَعَهُ، فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ، فَاسْتَخْرَجَ الْقَلْبَ، فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً، فَقَالَ: هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ، ثُمَّ غَسَلَهُ فِي طَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ لَأَمَهُ، ثُمَّ أَعَادَهُ فِي مَكَانِهِ، وَجَاءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلَى أُمِّهِ يَعْنِي ظِئْرَهُ فَقَالُوا: إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ، فَاسْتَقْبَلُوهُ وَهُوَ مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ". قَالَ أَنَسٌ: «وَقَدْ كُنْتُ أَرَى أَثَرَ ذَلِكَ الْمِخْيَطِ فِي صَدْرِهِ

دا هغه وخت چي رسول الله ﷺ په کور کي د حلیمة السعدیة وُ چي د ده رضعي مور وه، نو جبریل علیه السلام دی مبارک غخار کړی سینه یې ورچاک کړه یعني د زړه پر برابر، نو د ده د زړه مبارک ښخه یې ختمه وینه راوایستل. فقال جبریل هذا حظ الشیطان منک، وروسته یې زړه ور پرېولی په یوه کاسه کي چي د زمزم اوبه



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پکښې وي کښېښوی، ثم لامه واعاده في مکانه.

**فائده:** دا داسي افرېش ؤ چي نه يې رسول الله ﷺ بېهوشه کړی ؤ او نه درد پکښې ؤ بلکې دا قدرتي افرېښن ؤ، ولي چي د سړي زړي چي له خپل ځايه څخه قطع کړي نو طبعًا سړی مري او عليه الصلوٰة والسلام ژوندی ؤ په سترګو يې ورته کتل زړه يې ور چاک کړی وينه يې ځني و ايستل وقال جبريل هذا حظ الشيطان منک، له هم دې سببه عليه الصلوٰة والسلام د کوچنيانو سره په لهو و لعب کي برخه نه اخستل، نو د حليمه سعديه رض زامنو ميدان کره خپلي مور ته چي د عليه الصلوٰة والسلام شيردهنده ښځه وه، دوی مور ته وويل ان اخينا القريشي قد قتل. نو حليمه او مېړه يې سره د هلکانو راغله عليه الصلوٰة والسلام چي يې وليدی متغير اللون، نو دې په غېږ کي ونيوی او پوښتنه يې ځني وکړه چي دا څه قصه وه؟ عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل موري خير دی. قال انس رض فکنت ارى اثر المخيط في صدره، مرة ثانية ليلة المعراج کما في البخاري و مسلم.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. قَالَ: كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: "فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ. فَنَزَلَ جِبْرِيلُ عليه السلام. فَفَرَجَ صَدْرِي. ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ. ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا. فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي. ثُمَّ أَطْبَقَهُ. ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي. فَعَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا.

**نکته:** ددې وار د شق الصدر حکمت دا ؤ چي عليه الصلوٰة والسلام په سفر کي عجائب د عالم الملکوت ويني نو چي زړه يې قوي سي حتى چي په دې سفر کي صدرة المنتهیٰ ته ورسېدی چي د جبرئيل عليه السلام مقام ؤ.... ابيات:

چنان زود درراه قربت براند ...... که درسدره جبرئيل ازو باز ماند
بدو گفت سالار بيت الحرام ...... که ای حامل وحی برترم خرام
بگفتا فراتر مجالم نماند ...... بماندم که نيروی بالم نماند
اگر يک سری موی برترم پرم ...... فروغ تجلی بسوزد پرم

الی اخير قصة المعراج.

**فائده:** العلقة التي اخرجت من قلبه ﷺ هي رزائل العناصر الاربعة والنفس



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والقلب الداعية للنفس على كونها امارة بالسوء وباعثة للجوارح على المعاصي.

**پوه سه:** چي وزر په لغت كښي غره ته وايي، قال الله عزوجل: كلا لا وزر اى لا جبل هناك (يعني په ورځ د قيامت) چي سړی پناه وروړي، والمراد ههنا الثقل على سبيل الاستعارة وذالک الثقل غم الفراق وتوهم الفراق الذي احزنه النبي ﷺ.

**درویش وايي:** چي اشاره ده و هغې قصې ته چي كفار و د مكې به ويل ان محمداً قد ودعه ربه وقلی، چي وحي وځنډېدلې چي كفارو د مكې د عليه الصلوة والسلام ځنه پوښتنه د روح او د ذوالقرنين او اصحاب كهف په تعليم د ملايانو د يهودانو د مدينې وكړه، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي سبا راسئ زه به يې درته بيان كړم يعني جبرئيل به ما ښام راسي ماته به يې بيان كړي زه به يې دوی ته بيان كړم غداً لكن ان شاء الله يې هېره سول، لكن غداً جبريل نه راغلی په سبب د ترک د ان شاء الله. نو سبا چي كفار راغله و عليه الصلوة والسلام ته نو ده مبارک ورته وويل چي ماته وحي نه دي راغلي، نو كفارو د مكې وويل ان محمداً قد ودعه ربه وقلاه، له پنځو ورځو ځنځه نيولې تر څلوېښتو ورځو پورې دا انقطاع د وحي جاري وه په اختلاف د رواياتو او د كفارو د مكې له خوا هغه خپلې خبرې جاري وې ان محمداً قد ودعه ربه وقلاه. فرده الله عزوجل ذالک الغم والحزن بانزال سورة الضحى و الم نشرح حتى سكن النبي ﷺ جاشه (اى اضطرابه) او زړه يې پر قرار سو او دی په دې پوه سو ان ذالک الفراق ليس على سبيل الوداع والقلى لكه كفارو د مكې چي به ويل، بل لحكمة التنبيه على ترک الاستثناء كمامر، ومنفعة له ونزل قبل ذالک ولا تقولن بشئ اني فاعل ذالک غداً الا ان يشاء الله فعد الله سبحانه ازالة ذالک الغم من النعم عليه، وقد مرت تلک القصة في سورة الكهف، او يا مراد د آيت دا دی ثقل التكاليف الشرعية شاق اتيان جميعها كما يدل عليه قوله سبحانه وتعالى الم رى ان السموات والارض والجبال ابين ان يحملنها وقال الله سبحانه وتعالى وانها لكبيرة الا على الخاشعين الآية. فلما شرح الله صدره للايمان والحكمة صارت تلک التكاليف الشرعية طبعية ومرغوبة ومحبوبة له حتى قال وجعلت قرة عيني في الصلوة وهذه المرتبة التي عبر الله بوضع الوزر يسمونها اهل الله بالايمان الحقيقي الكامل، ولهذا قال يحيى بن عبد الله و ابو عبيدة يعني خففنا عنک اعباء الرسالة والنبوة والقيام بامرها.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

**درويش وايي:** چي دا دی تمام التفصيل في تفسير هذه الآية يعني ووضعنا عنک وزرک.

## الَّذِيٓ اَنۡقَضَ ظَهۡرَكَ ۝ وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ۝

ای چي ستا شا يې درنه کړې وه، حتی چي ستا د ملا هډوکو کړيې کاوه (ای صوت مثل صوت ظهر الرجل عند حمل الثقيل في الغاية) او موږ پورته کړی دی ستا ذکر، في البخاري عن ابی سعيد الخدري رضي الله عنه عن النبي ﷺ انه سئل جبرئيل عن هذه الآية ورفعنا لک ذکرک، قال اذا ذکرت چي زه ذکر کړه سم (على صيغة المجهول) ذکرت، يعني ته به هم راسره ذکر کېږې، مظهري وايي چي ددې آيات او حديث معنی داده چي ملاء اعلی يعني جماعة الملائكة چي ما ذکر کوي يذكرون محمداً معي محمد ﷺ، وروی البغوي بسنده عن ابن عباس رضي الله عنهما قال في صدر اللوح المحفوظ لآ اله الا الله وحده دينه الاسلام ومحمد عبده ورسوله الی اخير الحديث، وايضاً عن ابن عباس رضي الله عنه يريد الاذان والاقامة والتشهد والخطبة على المنابر ولو ان عبداً عبد الله وصدق في کل شيئ ولم يشهد ان محمداً ﷺ عبده ورسوله لم ينفع بشئ وکان کافراً، حسان بن ثابت رضي الله عنه په مدح کي د رسول الله ﷺ وايي:

اعز بالنبوة خاتم من الله مشهود ويشهد ... وصف الله باسمه اسم النبي
اذا قال في الخمس الاذان اشهد ... وشق له من اسمه احمد
فذو العرش محمود وذاک محمد ﷺ

## فَاِنَّ مَعَ الۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝ اِنَّ مَعَ الۡعُسۡرِ يُسۡرًا ۝

نو بېشکه چي له سختی سره اسانتيا ده، بېشکه چي له سختی سره اسانتيا ده.

وقيل المخاطب به رسول الله ﷺ، فالمعنى فان مع العسر الذي فيه يسراً يعني يسراً عظيماً فان تنکيره للتعظيم، لما روی عبد الرزاق في تفسيره والحاکم في المستدرک والبيهقي في شعب الايمان لما نزلت هذه الآية قال رسول الله ﷺ ابشروا انه قد جائکم اليسر فلن يغلب العسر يسرين (اليسر في الدنيا واليسر في الآخرة) وقال بعض المفسرين المراد بالعسر الفقر والشدة والبلاء من المشرکين چي عليه الصلوة والسلام ورسره مخامخ ؤ، والمراد باليسر الاول زوال تلک الحالة بنصر الله زوال تلک الحالة والغنی بعد الفقر.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ ۝ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ ۝

يعني چي ته فارغ سې من دعوة الخلق الى توحيد الله.

**پوه سه:** چې نصب النقب ته وايي، يعني ځان ستړى کړه په عبادت کې د خداى شكرًا لما عددنا عليك من النعم و وعدنا بالنعم الآتية، وقيل اذا فرغت من عبادة شروع په بل عبادت وکړه اوقات خپل ضائع او خالي له عبادته مه پرېږده، قال رسول اللهﷺ ليس يتحسر اهل الجنة (غم دي نه کوي اهل جنت) الا على ساعة لم يذكر الله فيها، وقال ابن عباس ﷺ وقتادة والضحاک ومقاتل والكلبي" اذا فرغت من الصلوة المكتوبة او مطلق الصلوة تا چې سنن او نوافلو ته هم شامل سي، فانصب الى ربک في الدعاء يعني قبل السلام بعد التشهد او بعد السلام فادع لدنياک واخرتک، وقال ابن مسعود" اذا فرغت من الفرائض فانصب في قيام الى التهجد کوه، وقال الحسن" و زيد بن اسلم" اذا فرغت من جهاد عدوک من الكفرة فاجهد في عبادة ربک لجهاد عدوک الاکر اى النفس والشيطان وهذا معنى قوله" حين فرغ من غزوة شديدة قيل هو غزوة احد رجعنا من الجهاد الاصغر الى الجهاد الاكبر، وقال منصور عن مجاهد" اذا فرغت عن امور الدنيا فاجهد في عبادة ربک وقال حبان" عن الكلبي" اذا فرغت من تبليغ الرسالة فاستغفر لربک والمؤمنين.

**درويش وايي:** هذه كلها توجيهات خطر على قلب صاحبها في الصراح چې د لغت يو معتبر کتاب دى نصب الشئ اى وضعه وضعًا ثابتًا كنصب الزرع بالمياه. (و الى ربک فارغب) عطف تفسير فانصب اى النصب الى السوال الى ربک دون غيره وقال عطاء الى الله راهبًا عن النار راغبًا في الجنة، وقيل فارجع اليه تعالى في جميع احوالک.

**درويش وايي:** وقد فرغت من تفسير سورة الانشراح بتوفيقه تعالى في قريب من ثلث الاخير يوم السبت ۱۲ شهر الله المحرم سنه (۱۴۳۴) ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على نبيه المصطفى وعلى آله وصحبه وسلم، وقد حان الشروع في تفسير والتين ان شاء الله تعالى.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة التين مكية بسم الله الرحمن الرحيم وهي ثماني آيات

وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ ﴿١﴾ وَطُورِ سِينِينَ ﴿٢﴾ وَهَٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ﴿٣﴾

**پوه سه:** چې مراد له تين څخه هغه مېوه ده چې خوړل کېږي چې په پښتو يې اينځر بولي، او د زيتون څخه مراد هغه دی چې له دانو څخه يې زيت غوړي ايستل کېږي، خدای عزوجل تخصيص وکړی د تين او زيتون په قسم اخستلو سره لاختصاصهما بفوائد جليلة.

**فائده:** تين فاکهه ده که لنده وي او که وچه وي کما في کتب الطب اليوناني، لا افضل منه لطيف سريع الهضم کثير النفع يلين. له معدې څخه بلغم فاسده باسي او پښتورګي پاکوي او که چېرې په مسانه کي د سړي ريګ غوندي شی وي هغه باسي، او بدن چاغوي يعني د ډنګر سړي لپاره. او سوري د هينې او د سپږې لېري کوي، وروی عن ابی ذر﷜ انه اهدی للنبي ﷺ يوه تبوکړی د اينځرو، ده مبارک هم وخوړل وقال لاصحابه﷡ کلوا فانه لو قلت فاکهة الجنة نزلت الآن لقلت. د اينځر سر تر پايه خوړل کېږي په منځ کي مند که نه لري وتقطع البواسير او د ملا درد هم جوړوي او علي بن موسی الرضي﷫ وايي چې تين له خولې څخه بد بويي لېري کوي. وفضول الشعر، وهو امان من الفالج، روايت دی چې آدم﷣ او حوا﷣ د شجره ممنوعه خورک وکړی، نو د دواړو کالي پر توی سوه وری کل واحد منهما سوئة الآخر يعني اعضاء مخصوصه، قال الله تعالی: فانطلقا يخصفان من ورق الجنة دا درخته د اينځروه، چونکه د اينځر د درختي بلګو د آدم﷣ او د حوا﷤ د عورت ستر وکړی خدای عزوجل اينځر ته دا کرامت ورکړی چې د هري مېوه داري درختي بلګو نه در مېوې دمخه ښکاره کېږي او د اينځر د درختي مېوه تر بلګو دمخه ښکاره کېږي، واما الزيتون فهو فاکهة وادام (د ادام معنی نان خورش يعني په غوړو يې ډوډی پوري کېږي لکه ښوروا وغيره) او دوا هم ده که نه وای زيتون د اختصاص په دې سره چې ددې غوړي کثير المنافع هم دي او سره ددې چې زيتون درخته په داسي ځايو کي شنه کېږي چې په هغو ځايو کي د دهنيت آثار هم نسته کالجبال واتاه الله فضلاً وهي الشجرة المبارکة المشهورة في القرآن.



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روی انه مر معاض بن جبل رضی الله عنه بشجرة الزيتون وقال سمعت رسول الله ﷺ نعم سواک الزيتون وهو سواکي و سواک الانبياء من قبل.

تاريخ پوهان وايي چې د زيتون په درخته چې څوک کارونه لري د رې زره (۳۰۰۰) کاله عمر لري، او دا خواص د زيتون دی چې ډېره زمانه لره او بو څخه صبر لري لکه د خورما درخته وغيرها من الخواص الغريبة يطول بذكر كلها ساحة التفسير الايوبي.

تا طبع نازکت نپذيرد ملالتی .... اين به که نامه را بدعا مختصر کنم

(وطور) او طور د هغه غره نوم دی چې الله عزوجل د موسیٰ علیه السلام سره خبرې کړې وې بين مصر و ايلة (سنين) بعض علماء وايي چې سنين په معنی د حسن دی، بعض علماء وايي چې كل جبل فيه اشجار مثمرة او بعض علماء وايي په ده مبارک دي ای جبل مبارک بعض وايي جبل حسن.

(وهذا البلد الامين) او په دې ښار چې امين دی يحفظ كل من دخل. لکه امين سړی چې څوک امانت ورته کښېږدي ورساتي يې. والمراد به مكة المكرمة. قال الله تعالى: من دخله آمنا.

**پوه سه**: چې مكة المكرمه ځای د امن ده في الجاهلية والاسلام. اقسم الله عزوجل بهذه الاشياء لانها منبت التين والزيتون ومهاجر ابراهيم و مقر الانبياء و محبط الوحي والمكان الذي نودي فيه موسیٰ و مكة بيت الحرام و مولد النبي ﷺ.

## لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴿٤﴾

ای جنس الانسان مع تفاوت افراده في الحسن (في احسن تقويم) يقال قام ای انتصب وقام الامر ای اعتدل وقومه، كذا في القاموس، والتقويم تصير الشئ على ما ينبغي انيكون عليه في التاليف يعني ماهيت د انسان او صورة د انسان على اختلاف افراده هغه ښه د ماهياتو او بهترين د صورت دی حتی چې يو اقبح صورت په انسانانو کې که څوک ووايي چې ته خپل صورت د خره په صورت بدلوې؟ وايي چېرې يې بدلوم، او دا غه رنګه اعضاء دده يعني سترګې د انسان يا غوږونه د انسان په مذکوره اعضاؤ سره د خره يا د غوايي بدلوې نه يې بدلوي، نو معلومه سوه چې انسان ماهيت في احسن تقويم دی، و من حسن تقويم الانسان لان كل حيوان خلق



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مكبًا على وجهه الا الانسان لانه خلق مستقيم القامة وبادى البشرة يعني اكثره حصه د بدن يې له وړېو څخه خلاصه ده بخلاف سائر الحيوانات چي بدنونه يې ټول په صوف، وبر او شعر سره پټ دي، او بل د احسن تقويم وجه يې داده چي ډوډی په لاس خوري بخلاف سائر الحيوانات چي هغه خپل غزا په خوله خوري.

ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۝

